# معاصره ليکوالي

Ketabton.com

پوهنوال احمد شاه زغم

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لــــوړو زده کـــړو وزارت
کــــابل پوهنتـــــــون
د ژبـــو او ادبيــاتو پوهنځی
پښــــــتو څـــانـــګه

# معاصره ليکوالي

ليکوال:
پوهنوال احمدشاه زغم

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: معاصره لیکوالي

لیکـــوال: پوهنوال احمدشاه زغم

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۶۳)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترځ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحريك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ خبرې

ماچې په ۱۳۸۸ کال په پښتو څانگه کې د (ليکوالۍ) مضمون تدريسي چارې په غاړه واخيستې، پښتو يوه پاڼه ليکنه او معلومات په دغه برخه کې نه وو.
تردې د مخه زموږ گران استاد حبيب الله جان پښتونزوی دغه مضمون تدريساوه.
ماله درانه استاد سره په واروار تماس ونيوه او مشورې مې ورسره وکولې که په دغه برخه کې مواد راکړي، ښاغلي استاد راسره د پوره همکارۍ وعده وکړه، خو تر ډېره بريده د مشورې په ډول وې؛ آخرمې يو ليک لړ (فهرست) برابر کړ، بيا مې استاد ته زحمت ورکړ، نو موږ ی له کم وزيات کولو وروسته راسره ومانه؛
د مضمون په برخه کې تل مې ترې پوښتنې کولې، چې په ورين تندی يې ځواب راکاوه، کتاب او چپترېې راپه لاس نه کړ. خط، کتاب، کتابت او ليکوالي هغه څه دي، چې د بشري تاريخ په اوږدو کې له بشر سره ملگری وو؛ دغه ملگرتيا يې د ژوند په بيلابيلو پړاوونو کې ورسره کړې او اوس اوس ليکوالي د بشري ژوند مختلفو برخو ته لارېرانيستې او په کلي ډول د بشري ژوند د کلتور د ټولو پراخو اړخونو انعکاسونکی د نده په غاړه لري.
د يو ملت او هيواد د خلکو تمدن او کلتوري ارزښتونه ښيرازۍ او غوړيدنې او په مجموعي ډول د (ښيگڼو او بديو) حد او اندازه د هغوي په فرهنگي انکشاف پورې اړه لري. څو مره چې يو فرد، خلک، ټولنه او هيواد د خپل برخليک په برخه کې ښه فکر کوي، بايد ليکوال او ليکوالي هغه انعکاس کړي. په دې کې شک نشته، چې ليکنه د ښه تفکر په لړ کې هويت مومي، خود ټولو پيښو هنري، علمي او... انعکاس د ليکوال د نده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دليکنــې اوليکــوالۍ بهيرتولوولســونواوپه تيــره زموږپــه پښــتوادب کــې هرومروموجــودو، خوپــه اوس کــې دژوند مضــمون لــه پراخيدوســره دامضــمون (ليکــوالي) لاپــه غوړيدوشــوه اوپــه فنــي ډول يــې دفرهنــګ پــالنې کارتــه منېــې راونغــاړلې. پــه شلمواوديرشــوکلونوکې، چــې زموږپــه هيــوادکې دلــوړوزده کړوعلمـي تابياوشوه، پـه تولنيزوپوهنځيـوکې بيلابيلومضمونونوتدريس پيـل شــو، ورســره ورســره د (ليکــوالي) يــا (نګــارش) تــدريس رامنځتــه شــو. دادبياتواوبشــري علوموپــوهنځی کــې ددرنوا ســتادانو (دوکتورعبــدالقيوم، دوکتورمحمدحســين يمــين، پوهاندصــابرخان خويشــکی، داکتــرې زرغــونې زيوراو... په ويناخدای بښلي ګل پاچاالفت اوبياددواړوڅانګو (دري اوپښــتو) لـه مسـتقل کيدووروسته نګهت سعيدي په دري اوخدای بښـلي پوهاندصديق الله رښتين په پښتوڅانګوکې تدريسی چارې په غاړه واخيستې.
استادګل پاچاالفت په هماغـه ديرشـموکلونوکې ليکوالي (املا اوانشأ) پـه نامـه يوکتاب وليکه، چې پـه حقـه سره پـه هماغـه وخت کې ډير غنيمت اثرواوتراوسه دپښـتوليکوالۍ دپاخه تهداب مثـال لـري. لـه هغـه راوروسـته ترکومـه ځايـه، چـې مادپښتوڅانګې له استادانواودمختلفودوروله فارغانوپوښتنې وکـولې بسـم الله ځيـرمن، اسـتادخاناباز (سـپلګين)، جـلال الـدين خـان اسـتاد حبيـب الله جاج او... تدريسي چارې په غاړه درلودې.
پـه اويـايموکلونوکې سيدمحی الـدين هاشـمي د (ليکـوالۍ فـن) پـه نامـه معتبـر کتاب وليکه اودده په وينا ښاغلی شپون هم په پخواوخت کې دليکوالۍ پـه نامـه يـوچپتر برابرکـړی و؛ دليکـوالۍ فـن کتـاب ترډيـره تدريسـي مـوادلري. پوهنـوال محمــدرفيق رفيــق دپوهنــوالۍ علمــي رتبــې تــه دلوړيــدولپاره د (دادبپــوهنې بنسټونه) په نامه کتاب ليکلی، چې مبتدي موادترې لاسته راځي. دیادولووړده چـې پـه (۷۰-۸۰) کلونـوکې دښـوونې اوروزنــې اسـتادښـاغلی محمدآقاشـيرزاد (ليکوالۍ) کتاب وليکه، چې درسي موادلري اوماهم ترې ډيره استفاده کړېده اوغوره ماخذ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه، چې اوس اوس فرهنګي پراختیاوې زیاتې شوې، پښتانه لیکوال د خدای احسان دی د پوهنې په مټ توانیدلي د خپل احساس او پوهې له مخې په پراخه برخو کې لیکنې وکړي، لازمه ده لیکوالی مضمون هم د پراختیا وزرونه پرانیزي. ترکومه ځایه، چې ما ته معلومه ده کابوله (پنځوسو...) کلونو راپه دې خوا زمونږ په ښاڅانګه کې د یو منظم کریکلم له مخې تدرسي کتاب نه و، چې د لیکنې د پراخه خواوو فني ډولونه د رنو محصلینو ته وړاندې کړي هماغسې، چې په فارسي دري څانګه کې د لیسانس په دوره کې (فن نګارش) او (اصول تحقیق) او نورا رخونه تدریسیږي، ما هم د خپلو درسي تجربو او د څانګې د کریکلم له مخې د پوهاندی علمي رتبې ته د لوړیدو لپاره تدریسي کتاب برابر کړی دی څو د لیسانس په دوره کې له او سنیو مروجو عصري لیکنیو صنفونو سره بلد او د ماستری په دوره کې په عملي ډول کار وکړي.

بایدوویل شي، چې لیکوالي اوس اوس یو فني مسلک دی، موږ په پښتو څانګه کې محصلین یوازې معلمۍ لپاره نه روزو، بلکې غواړو هغوی دژوند پراخو علمي او فرهنګي برخو کې فرهنګي پنځونې وکړي او زموږ د فرهنګ د غوړیدنې په کار کې ستره برخه واخلي.

کتابونه، علمي، ذوقي، معلوماتی مجلې، ورځپاڼې، او ونیزې انترنیت سایټونه، فیسبوک، یوټوب او... نور زموږ دادعا ښې بېلګې دي.

زما د غه اثر تالیفي بڼه لري، خو کله په برابرولو کې تحقیقي شوی هم دی، دا ځکه چې هیڅ مواد په لاس کې نه وو، د موضوع د نویوالی او غنا لپاره لازمه وه بیلابیلو کسانو ته ورغلی وای؛ ډول ډول (پښتو، دري، اردو، انګریزي، عربي...) منابعو ته مې مراجعه کړی وای. دا اثر په برابولو کې مې ( )آثار د څو کلونو په ترڅ لیدلی او د غه کتاب مې ترې برابر کړی دی، چې ممکن غنیمت اثر یې وګڼو، خو مکمل نه دی. د دې لپاره چې اجتماعي علوم د مشخصو تجربي علوم و له میچنې نه تېریږي، بلکې د وختونو او تجربو په بهیر کې پخیږي، له همدې امله په یو کتاب وارله واره د مکمل کتاب حکم نشو کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې په ځان الزمي بولم چاچې له ماسره ددغه اثردبرابرو په کارکې لږوزيات مرسته کړې؛ مننه وکړم.
له هرڅه مخکې زموږدڅانګې تولواستادانو په تېره پوهاندصابرخان، دوکتورزرغوني زيور، دوکتوراستاد حقپال، پوهانداستاد يزال، پوهنوال استاد رفيق، پوهندوی استادبريالي باجوړي، سرمحقق استاد زلمی هېوادمل، اجمل جان ښکلی، ښاغلی آزمون استاد، همدارنګه د دري څانګې ښاغلی استاد پوهاند دوکتورقيوم قويم، پوهانداستاد دوکتور يمين، پوهنوال استادبهبود، دروسي څانګې مشرښاغلی کوچي، دانګليسي څانګې استادان محمد کريم وصيل، خالدجان وزيری، د ژورناليزم پوهنځی رئيس غروال او درانه استادان جاويده جانې، استادفانوس. دغه راز دښوونې اوروزنې استادپوهنوال محمدآقاشيرزاد، په شکلي برخوکې دانجنيری پوهنځی رئيس استادښاغلی ليان، دساينس پوهنځی استاد پوهاند دوکتور قيوم شاه باور، دکمپيوټرساينس پوهنځی استاد اميرکروړ، په کمپيوټري چاروکې د ماسټری برخې محصل صفي الله اورياخېل، دليسانس دورې محصلين شفيق جان، خالدجان او اختيار احمد سليمانخيل او... ډېره مننه کوم، چې ددغه فرهنګي درانه کار په سرته رسولوکې يې له ماسره مرستې کړې دي؛ دوی ته له خدايه صحت غواړم اودهېواددفرهنګ دلاغوړېدوپه کارکې ددوی دمتهواوفکردلاقوت هيله کوم.

په درنښت

پوهنوال احمدشاه زغم

دکابل پوهنتون دژبواوادبياتوپوهنځی دپښتو څانګې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړليک

سرليک | ګڼه

سريزه(مقدمه):........................................................................................ ۱

لومړی څپرکی

۱- ليکوالي د بشري تمدن او فرهنګ ننبه ده !

پيليزه(مدخل):................................................................................................ ۷

۱-۱- د ليکوالۍ ګټه:............................................................................................ ۸

۱-۲-ليکوالي يو غوره((فن)) دی !.................................................. ۱۰

۱-۳- ليکوالي ميراثي ښکارنده(پديده) ده که کسبي ؟.............................. ۱۵

۱-۴- هغه ټکي چې بايد په ليکوالۍ کې په پام ونيول شي !.......................... ۱٦

۱-۵- څنګه يې بايد وليکو ؟............................................................................ ٤۲

۱-٦- د لومړي څپرکي لنډيز:................................................................ ٤٤

۱-۷- د لومړي څپرکي پوښتني.................................................................................. ۵۳

۱-۸- د لومړي څپرکي ماخذونه.................................................................................. ۵٦

دويم څپرکی

۲- د ليکوالۍ "ليکني" فني خواوي

پيليزه:.................................................................................................. ۵۹

۲-۱- په ليکنه کې له تېروتنو څان ساتل........................................................ ٦۰

۲-۲- څه ډول ليکنه وکړو ؟................................................................................. ٦۸

۲-۳- په ليکوالۍ کې د ښو کلمو او جملو کارول:................................ ۷۲

۲-۴- په ليکنه کې د شعر، متلونو او غوره ويناوو کارونه:........................... ۷۷

۲-۵- په هنري او ادبي نثر او شعر کې د هنري ترکيبونو د کاروني ارزښتونه:............ ۸۳

۲-٦- په ليکنه کې د سرليکنو عنوانونه د غوره کولو ارزښت..................... ۱۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-۷- پر نثر د نظم يا نظم پر نثر اړولو اړتياوې................................ ۱۲۳
۲-۸- د دويم څپرکي د مطالبو لنډيز:........................................ ۱۲۹
۲-۹- د دويم څپرکي پوښتنې:............................................. ۱۳۷
۲-۱۰- د دويم څپرکي ماخذونه................................................ ۱٤۱

دريم څپرکی (فصل)

۳-املا او انشاء

پيليزه (مدخل):............................................................. ۱٤٦
۳-۱- الف- املا:................................................................ ۱٤٦
۳-۲- املايي پرېکړې:........................................................ ۱٥٤
۱- لومړۍ پرېکړه (فيصله):.................................................. ۱٥٤
۲- دويمه پرېکړه (فيصله):................................................... ۱٥٦
۳- دريمه پرېکړه (فيصله):................................................... ۱٥٧
۴- د پښتو ژبې د متحد ليکدود او ليک لارلپاره.................................. ۱٦۱
۵- د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب لپاره منل شوی واحد ليکدود.... ۱٦٤
۳-۳- پښتو ژبې املا په پښتو کتابونو کې.............................................. ۱۷۰
۱- د تذکرة الاولیا املا:...................................................... ۱۷۱
۲- د محمد هوتک د پټې خزانې د املا بېلګه:...................................... ۱۷۲
۳- د خير البيان املاء............................................................ ۱۷۳
۴- د ميرزا خان انصاري د قلمي ديوان املا:........................................ ۱۷٤
۵- د دولت الله د قلمي ديوان املا:........................................ ۱۷٥
۶- د عبد الرحمن بابا د قلمي ديوان املا:.......................................... ...۱۷۷
۷- د احمد شا بابا د ديوان املا:....................................................... ۱۷۸
۸- د پښتو لومړي کتاب املا:................................................................ ۱۷۹
۹- د منشي احمد جان املا:................................................................ ۱۸۰
۱۰- د پښتو ادبي انجمن املا:................................................................ ۱۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- د الفت دلیکوالۍ املا: ........................................ ۱۸۲
۱۲- دغني خان غني د(کلیات ) املا: ........................................ ۱۸۲
۱۳- د پښتو پخوانۍ الفبې کتاب املا: ........................................ ۱۸۳
۳-۴- ب- انشاء: (COMPOSITION) ........................................ ۱۸٤
۱- انشاء کلمه په بیلا بیلو ژبو کې: ........................................ ۱۸٦
۲- دانشاء ډولونه: ........................................ ۱۸۸
۳- دانشاء اصطلاحات: ........................................ ۱۸۸
۴- دانشاء لومړنی مواد: ........................................ ۱۹۰
۵- دانشاء اصل او پس منظر: ........................................ ۱۹۰
٦- دانشاء جوړښت(اسکلیت ) ........................................ ۱۹٤
۷- دانشاء په لیکلو کې مهم رغانیزتوکي: ........................................ ۱۹۹
۸- د درنې یا ستونزورې انشاء لیکنې علتونه: ........................................ ۲۰۰
۹- په انشاء کې د بهرنیو کلمو د کارونې اړتیاوې: ........................................ ۲۰٦
۱۰- په انشاء کې له موضوع وتل: ........................................ ۲۰۹
۱۱- دانشاء د پرمختګ لپاره نوښتي لارې: ........................................ ۲۱۱
۱۲- دانشاء ډولونه او منظرنګاري: ........................................ ۲۲٥
۳-۵- د درېیم څپرکي د موضوعاتو لنډیز: ........................................ ۲۲۹
۳-٦- د درېیم څپرکي پوښتنې: ........................................ ۲۳٤
۳-۷- د درېیم څپرکی(فصل ) ماخذونه: ........................................ ۲۳۷

څلورم څپرکی(فصل)

۴-لیک نښې(علامات تنقط)

پیلیزه: ........................................ ۲٤۱
۴-۱- په لیکنه کې دلیک نښو د کارولو اړتیاوې او ارزښتونه: ........................................ ۲٤۲
الف-اړتیاوې: ........................................ ۲٤۲
ب-ارزښتونه: ........................................ ۲٤٦

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱- ټکی، نقطه، نشانه(.) يافول سټاف( POINT FULL STOP )........ ۲٤۹
۲- سرچپه واو (، )، کامه(LAVIRGULE CAMMA ) يا ويرګول..... ۲۵۷
۷- څنډنښه، ويرګول بانقطه(؛ ) SEMI COLUMN دزيات مکث نښه: ....... ۲٦۰
۹- وړه کرښی ( - ) نښلوونکی( HYPHEN ): ............................... ۲٦۳
۴-۲- د څلورم څپرکي لنډيز: ............................................................ ۲۷٤
۴-۳- دڅلورم څپرکي پوښتني................................................................ ۲۸۰
۴-۴- د څلورم څپرکي ماخذونه................................................................ ۲۸۲


پنځم څپرکی (فصل)

۵- د ليکوالی ډولونه


پيلېزه: ............................................................................................ ۲۸٤
۵-۱- لنډ ليک يا لنډه ليکنه: ............................................................ ۲۸۵
۵-۲- د لنډي ليکني لرغونتوب: ...................................................... ۲۸۷
۵-۳- د لنډي ليکني ډلبندي ( تصنيف ) : .................................. ۳۰۸
الف - تصنيف۔ TO WRITE.................................................................. ۳۰۸
۱- د تصنيف ډولونه: ......................................................................... ۳۱۱
۲- د تصنيف اړتياوي: ...................................................................... ۳۱۲
۵-۴- د تخليقي آثارو دوام د فرهنګ بډاينه ده ! ............................. ۳۱٦
۵-۵- د هنري –ادبي تخليقي آثارو توپير له غير تخليقي سره : ............ ۳۱۸
۵-٦- د پنځم څپرکي لنډيز: ............................................................. ۳۲۰
۵-۷- د پنځم څپرکي پوښتني: ........................................................... ۳۲۹
۵-۸- د پنځم څپرکي ماخذونه: ......................................................... ۳۳٤


شپږم څپرکی ( فصل)

٦- تاليف او څېړنه ( تحقيق)


پيلېزه: ............................................................................................ ۳۳٦
٦-۱- تاليف: ........................................................................................ ۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د تاليفي اثر ځانګړني: ........................................................ ۳٤۱
۲- د څېړنيزو او تاليفي آثارو د برابروالو ځيني مېتودونه: .............. ۳٤۳
۲-۲- څېړنه (تحقيق) ........................................................ ۳٤٦
۱- د څېړني (تحقيق) مېتودونه: .......................................... ۳٥۰
۲- د څېړني (تحقيق) مفهوم، ارزښتونه او موخي: ........................ ۳٥۱
۳- څېړونکی (محقق) څوک دی؟ ........................................... ۳٥٤
۴- څلورم: د څېړونکي (محقق) ځانګړتياوي: ............................. ۳٦۳
۵- د څېړنيزو علمي آثارو محتوايي ځانګړني: ............................ ۳۷۲
۶- د څېړني د ترسره کولو پړاوونه: ...................................... ۳۷۷
۷- د ماخذونو د کارولو او برابرولو ډولونه: ................................ ۳۸۲
۸- د څېړني (تحقيق) او تحليل ترمنځ توپير: ............................. ۳۸٤
۳-۶- د شپږم څپرکي د مطالبو لنډيز: ...................................... ۳۸٦
۴-۶- د شپږم څپرکي پوښتني: ................................................ ۳۹٥
۵-۶- د شپږم څپرکي ماخذونه: .............................................. ۳۹۸

## اووم څپـــرکی (فصل)

## ۷-مقاله يا مقاله ليکنه

پيليزه (مدخل): .................................................................. ٤۰۰
۱-۷- مقاله (MAQALA). ARTICLE.ESSAY ............................... ٤۰۱
۲-۷- مقاله او رساله څه توپير لري؟ ........................................... ٤۰٥
۳-۷- د مقالې ډولـــونه: ......................................................... ٤۱۱
۴-۷- د مطبوعاتو اړوند مقالې او د هغو ځانګړني: ........................... ٤۱۷
الف- ورځپاڼې او جريدې: .................................................... ٤۲٤
ب- انټرنيټ (INTERNET) .................................................... ٤۲٥
۱- علمي –څېړنيزې او تحليلي مقالې: ....................................... ٤۲۹
۲- ادبي –توصيفي ،تحقيقي او علمي مقالې او ځانګړني: ............... ٤۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- انتقادي مقالې او د هغو ځانګړنې: ........................................ ٤٤٤
۴- تبليغي مقالې او د هغو ځانګړنې: ........................................ ٤٥٤
۵- قضايي، حقوقي او جنايي مقالې او د هغو ځانګړنې: ................ ٤٥٧
۶- اخلاقي، ديني او روزنيزې مقالې او ځانګړنې: ........................ ٤٥٩
۷- طنزيه (فکاهيه) مقالې او د هغو ځانګړنې: ............................ ٤٦٤
۷-۵- د اووم څپرکي د مطالبو لنډيز: ........................................ ٤٧٢
۷-۶- د اووم څپرکي پوښتنې: ........................................ ٤٨٤
۷-۷- د اووم څپرکي (فصل) ماخذونه: ........................................ ٤٨٨
لغتونه او اصطلاحات ........................................ ٤٩٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سريزه(مقدمه):

ليکوالي يو غوره يا خلاق فن دی، د بشر ټولو معلوماتو او څرګندونو ته علم او فن وايي.

هر متمدن او پرمختللی انسان بايد د قلم ملګری وي او ټولنه قلموال، ليکوال او رونړ-آندو(روشنفکرانو ) ته اړتيا لري. له شک پرته د يوې ښېسا او هوسا ټولنې خپلول او جوړول د متمدن انسان او مومن سړي د فکر محصول دي.

څرګنده او ښکاره خبره ده، چې دمدني ټولنې په لور يون، څه ساده خبره هم نه ده. د ټولنې د ټولو لوړ فکره انسانانو پياوړي عزم او قوي هوډ غواړي. د قلم، کتاب او ليکنې مقام او منزلت ته لوی خدای(ج) او د هغه ستر پېغمبر حضرت محمد(ص) په وار، وار اشاره کړې او العليم خدای-(ج) آن قسم او سوګند هم ورباندې ياد کړی دی.

لوی او عليم خدای(ج) په خپل کلام کې فرمائي: (ن ،وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ (القلم/:١).

الله رب العزت (ج) په قلم او هغه څه چې په قلم سره ليکل کېږي، سوګند يادوي او فرمايي چې قسم په نون او قسم په قلم او هغه څه چې ليکل کېږي.

په قلم د الله(ج) سوګند يادول د دې معنا ورکوي، چې آن الله رب العزت خومره د قلم شان لوړ بولي او له بلې خوا دا هم څرګندوي چې قلم څومره د ارزښت وړ دی ! قلم او ليکنه د ټولنيز پاينښت او شخصيتونو د رابرسېره کولو، ښکاره کولو، د هويت شتون او د بقا ننبه ګڼل کېږي.

د تــاريخ شـــمله د هغه قوم شي هسکه
چې قـــلم يې د بقــا په خــاطر ښوري

يا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې قلـــمه، بې کـــتابه ژونـدون څه دی
هر ملت چې بې قلم وي شمېر په مړه دی

يا:

قـــلم زبهـــر هستي مــا است
قـــلم مــــا يه دوستي مـاست
زبهر قلم تمـدن و مستي شود
ورنه به قلم ذلت و نيستي بود

يا دا چې:

بې ليکواله بې قلـــمه خلک مړه دي
په دنيا کې د ژونديو په شمار نه دي

د ټــولنې د ټولو(اقتصــادي، سياســي، ټــولنيزو او فرهنګــي) موسســو متوازنه وده، يوه ټولنه له انحطاط او بد مرغيو څخه ژغورلای شي.

اسلامي او غيـر اسـلامي ټولنپوهـان پـه دې آند دي، چې بشـري لـوړ فکـره انسانان، د ټولنې د ژغورون پوره لامل کېدای شي.

هغـه وخت يـوه ټولنـه او ملت نيکمرغـه او باهويتـه ګڼل کېـدای شـي، چې خپل شتون(بقا ) د (فرهنګ ) په ګاڼه ښکلې کړي.

د ټولنيزې(اجتمــاعي ) ودې او ســمون اصــلي منبــع، فرهنګــي وده او پرمختګ دی. د ټولو ملتونو بقا د هماغه ټولنو د لوړفکره، بافرهنګه او قلموالو مېړونه پازه (دنده ) بلل کېږي او د همدغو قلموالو او متفکرينو برکت دی، چې نن په نړۍ کې ډېر پراخه مليتونه په خپلو جغرافيايي چاپيريالونو کې ژوند کوي. له نورو سره ګډه ټولنيزه او فرهنګي اړيکه پالي او لا ساتي يې څکه نو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ــــهغه ملتونه، ملیتونه، توکمونه او قومونه د ژوند هسک ننداره کولای شي او همدارنګه د بقا او شتنه والي حق ترلاسه کولای شي، چې خپل ځان په بشري ټولنه کې مطرح کړي او خپل حق ثابت کړي.

۲-د فرهنګ خوندیتوب د پراخه ولسونو په زړونو او سینو کې هم ممکن دي، دا ځکه چې فولکلور د ولس د یو ربښتني مال په توګه د دوی په سینو کې خوندي پاتي کېږي، مګر له دې څخه سترګې نشو پټولای، چې د حالاتو ترخه او تند توفانونه کله نا کله کولای شي، هماغه فرهنګي ببرۍ ډوبه کړي.

۳-له دې امله اړینه بریښي چې ټول ویښ او متفکر نسلونه خپل ټول ویاړونه د قلم په ژبه، د کاغذ پر مخ خوندي کړي او د زرینو کرښو په توګه یې نورو نسلونو ته وروليږدوي.

که قلم او لیکنه نه وای، تاریخ به مړ وو. د ملتونو د تاریخ ژوندون د قلم د بقا له چینې څخه اوبه څښي :لکه:

قلم بقـــا ده د ســـــــمون نښه ده

لکه روڼ لمر چې د ژوندون نښه ده

د لیکوالۍ د مضمون غوره موخه فرهنګ پالنه ده. فرهنګ پالنه ملي او نړیوال لوری لري، ملي فرهنګ پالنه په ملي روحیې سره ژوندۍ ساتل کېږي. ملي فرهنګ (دین پالنه او وطن دوستي) ځیني مشترکې ګټې جوړوي. د دغو مادي او معنوي ګټو ساتل لوړ همت او پوره حوصله غواړي، موږ کولای شو، چې د شعر په خوږه، نرمه خو غوځونکې ژبه د کېسې او داستان په تصویري، سمبولیکه او خوږو وړمو د خلکو ذهنونه روښانه کړو.

د دوستۍ مینه د زړه په مراندو کېږي

توره خـــاوره په باران سره ژودۍ شي

له دې امله د ملي هویت ساتنه په ټولو حالاتو کې ضروري بریښي. که موږ خپل فکر او قلم د خپلې تاریخي هستۍ لپاره ونه کاروو یا د نورو پردیو افکارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اغېزو لاندې راشو نو خپله هستي به مو له منځه وړې وي.
زموږ هدف ددغه کتاب (ليکوالۍ) له ليکلو څخه دادی ،چې څنګه کولای شو دغه سپېڅلي او مقدس مسلک په فني ډول لاباب کړو ، څو الهي سوګند ربښتيا ينه مو په غوره او درست ډول لاډاګيزه کړې وي.
ليکوالي ديو خلاق فن په توګه له ډېر پخوا په بشری ژوند کې باب شوې ده او په دې ډول بشر خپل فکري او فرهنګي يادګارونه خوندي کړي دي :په ژوند پورې اړوندې (اقتصادي ،سياسي ،ادبی ،ملي او فرهنګي ... ،طبعي ،اجتماعي )علوم او بلاخره دبشري ژوند اړوند ټول لوی او واړه آثار او افکار يې رانغاړلي هم دي.
پښتو ادب ،دعبدالحليم اثر کتاب په (۳۷ )مخ د(ليک او ليکنه )تر سرليک لاندې ليکي :څومره چې په دنيا کې ژبې ګڼې دي ،هغومره دليک رسمونه ګڼ دي .دا خبره چې بنياد مو اول سرکې کوم خط ايجاد کړی دی ،لاپوره يقيني نه ده .قياس دادی چې دټولونه اولنی خط هغه دی چې هغې ته خط اشکال (تصويري )ويلی شي او دخاورې په کلالي تختو او مهرونو باندې به ليکل کيده او دعراق په کنډوالو کې موندل شوي دي .او دبابل له يوه پخواني خاندان سيماطيقي (څلورزره کاله قبل الميلاد ) سره تعلق لري....
ديوهاند علامه استاد عبدالحی حبيبي په آندلومړنی خط هيروغليف او په مصريانو پورې اړه لری...عبدالحليم اثر دانظر هم لري ،چې دسوات په (تختنه )نومې ځای کې دخاورې په مهرونو باندې ليکلی خط موندل شوی دی او دا په (اووه زره قبل الميلاد ) دآسوري خاندان پورې مربوطيږي.
بابليانو ، فنقيانو ، آسوريانو ، يونانيانو عربو په بيلا بيلو وختونو کې ليکونه رامنځته کړی هم دي.
په( تاريخ خط ونوشتهای کهن افغانستان ازعصر قبل التاريخ تاکنون) ، تاليف پوهاند عبدالحی ،۱۳۵۰ه ش کال کې خط او کتابت په (قبل از اسلام وبعد از اسلام) دورو پورې اړه لري.او ابناد استادزياتوي :مساله خط ونګاشتن درتاريخ مدنيت وفرهنګ افغانستان ازمباحث بسيا رمهم است....

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چې د اسلامي دين د خپريدو په ابتدا کې ۱۵ يا ۱۷ تنه وو ، چې ليکنه کوله ؛ له دې راوروسته په ټولو اسلامي هيوادو کې خط ، ليکنه او کتابت د يوې علمي او عملي اړتيا په توګه را منځته شو او په وروستيو پيړيو او کلونو کې لا ډېر پرمختګ وکړ او دادی اوس اوس لله الحمد په نړيوال حتمي ، علمي او حقيقي حرکت او غورځنګ بدل شوی او الهي عليم او خبير ذات دا ارشاد (اقرا و ربک الاکرم الذی علم بالقلم ... ) پوره پوره تحقق وموند او لا د غوړيدو په حالت کې ده.
پوهنوال محمد اقا شيرزاد د پوهنوالۍ په کتاب ( ليکوالۍ ) کې راوړي (پوهان ليک د بشري ژوند د پرمختګ مهمه وسيله او د بشر ستره لاسته راوړنه ګڼي . د علم زيرمه او پانګه همدا د ليک نتيجه ده ، که ليک نه وای دا هومره کتابونه ، مجلې ، اخبارونه به نه وو . رښتيا هم که چېرې بشر ليک نه وای را منځته کړی ، نو بل پښت او راتلونکو نسلونو ته يې د تجربو او پوهې انتقال نا شونی وو . )نو موړی زيا تو ي:
خو ليک ( مکتوب ) ، ليکنه د ليکوالۍ او څه ليکلو د يوه ډول او يوې نوعې په توګه د خط له پيدا ښت سره سم را پيل شوي . يو چا بل چاته خپل مافي الضمير د ليک په وسيله ليکلی او ليږي . ليږې ځايو پورې ليږل شوی او رسېدلی دی .
که څوک غواړي خپل فکر او خپل هويت ژوندی وساتي نو نورو او راتلونکو نسلونو ته د لېږد ډېره ښه وسيله (ليکوالي )ده . نن سبا بشري ټولنې د يوه کلي مثال لري ، د دغو مثالونو هويت مونږ په بېلابېلو وسايلو کې د ليکوال او ليکنو له برکته پيدا کوو .
د ليکوالۍ لپاره ضروري شيان ( ژبه ، ليک او انساني فکر دی ) له دې امله ليکوالي هغه وخت ارزښت پيدا کوي ، چې په انسانانو پورې اړوند مختلف مسايل انعکاس کړي .
زما د دې تاليفي او لږ تر لږه تحقيقي اثر غوره هدف دادی ، چې اوس اوس ليکوالي ډېره پراخه شوې ده . په ښوونځيو ، پوهنتونونو او په تېره د ادبياتو په پوهنځيو کې د ليکوالۍ او د ليکوالۍ د ارزښت په برخه کې ، مسلکي درسونه ورکول کېږي او عملي کارونه ترسره کېږي ؛ د ادبياتو مضمون چې هراړخيزه ليکوالي راپېژني ، همدا رنګه د هغه مضمون د لا عموميت ورکولو او مسلکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو په برخه کې ډېره هڅه او هاند کوي. موږ دلته په پښتو ښانګه د چاخبره معلمان نه روزوو ، دهیواد د پراخه فرهنګ بډای کوونکي لیکوال هم روزو.
د لیکوالۍ او بیا پښتو لیکوالۍ په برخه کې خدای پښلي استاد ګل پاچا الفت په دیرشمو کلونو کې د (لیکوالۍ ـ املا انشاء ) په نامه یو ډېر غنیمت کتاب ولیکه چې تر اوسه پورې ذ تدریس په بهیر کې ترې کار اخیستل کېږي او نن سبا بیاهم په دغه برخه کې ډیر ښه ماخذ او ممد درسي مواد په لاس راکوي ؛ له هغه راوروسته خدای ښلي بینوا هم خورې ورې لیکنې وکړې ، خو په منظمه توګه چې د تدریس په برخه کې ترې ډېر کار اخیستل شوی ، هغه د پیاوړي استاد محمد اقا شیرزاد د لیکوالۍ اثر دی چې په عملي تدریس کې برخه لرلې ده.
غواړم دا ووایم چې نن سبا د لیکوالۍ لمنه له کتاب او کتابونو څخه انټرنټ او د هغه اړوند نټونو ، فسبوکونو ، یوټیوبونو ، ټویټر... ورغځېدلې او دا د دې معنا لري چې لیکوالي یوازې په ( املا او انشاء ) پورې نه محدود ېږي ، بلکې تخلیق ، تحقیق ، تصنیف او تالیف... رانغاړي ؛ له همدې امله او سنۍ لیکوالي د انساني ژوند د پراخو اړخونو ارزښمندي ښکاره کوي.
زما دغه کتاب ( معاصره لیکوالي او د لیکوالۍ ارزښت ) په اوو فصلونو کې راوړل شوې چې هر فصل د تالیف پر معیار تر ډېره بریده برابر دی. دا کتاب منظم فهرست ،د فصل په پای کې لنډیز ، سوالونه او ماخذونه راغلي او د اوسنیو پوهنتوني معیارونو د اصل له مخې برابر شوي دي ؛ په دغه کتاب کې ټولټال له (۲۲)ماخذو څخه کار اخیستل شوی دی. دغه کار کابو نوی دی او لیکوالي مضمون مو له ارزښتونو سره په پراخه ډول د تالیف په ګانه پسوللی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## ۱– لیکوالي د بشري تمدن او فرهنګ نښه ده!

**پیلیزه (مدخل):**

د بشریت او سنې مدني لوړتیا د هغو د نیک او غوره فکر محصول ده؛ او فکر د ښې وینا او لیکوالۍ له برکته وده او پرمختګ ترلاسه کوي. هغه هېواد او هغه خلک متمدن ګڼل کېږي، چې په خپله ټولنه او فرهنګ پورې اړوند شیان خوندي کړای شي.

همدارنګه د بشریت د فرهنګ او تمدن د بنسټ پیاوړتیا د هغو د ناپایه او ډېرو کړاوونو او فرهنګي هڅو نتیجه ده، چې په اوږدو کلنو کې د پرله پسې تجربو په بڼه کې پخه شوې وي.

د فرهنګي غنا او بډاینې د نورو عواملو او موادو تر څنګ ((ژبه)) مهمه وسیله ده. د هر ملت ژبه په درې برخو (ویي پوهنې، نثر او نظم) کې وده او تکامل مومي او دغه درې برخې د هر قوم ((ادبیات)) جوړوي. ویي پوهنه د هر قوم د ژبې موجوده لغتونو رانغاړي، چې هغه قوم د خپل ټولنیز ژوند د لانبه تر سره کولو لپاره ځینې ویېونه (لفظونه) لري، چې شیانو ته نومونه ټاکي؛ د شیانو د نومونو ټاکل د یو ټولنیز ناخوداګاه او آګاه قرارداد په لړ کې رامنځته کېږي.

نثر: د ټولو شیانو د نومونو او ورپورې اړوندو توکو پیبیل دی، چې د ویي پانګې غیر موزونه خو منطقي بڼه وي؛ نثر د کلمو لړول دي.

نظم د لفظونو موزونه مجموعه ده، چې د یو چا او قوم په ژبه کې رامنځته کېږي؛ یعنې په مجموعي ډول (د ویېونو منثوره او منظومه شتمنۍ د یو قوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبیات جوړوي ) یا په بله وینا (څه چې ویل کېږي، یا یې وایو ، څه چې لیکو ، یا لیکل کېږي، یا یې لولو او یا یې نوروته ورښیو هم ادبیات دي.

غږ پوهنه(Phonology ) ، ګړپوهنه(Morphology ) ، غونډله پوهنه، نحو (Syntax ) او همدارازلغت پېژندنه او کلمې د نړۍ ادبیات هم جوړوي؛ لنډه دا چې (د وییونو او په مجموعي ډول د ژبې له موجودیته پرته ویاندی یا د متن لوستل ممکن نه دي او نثر او نظم د کلمو له ترتیب او تنظیم څخه پرته موجودیت نشي درلودلای ) ؛(په حقیقت کې لیکوالي دژبې هنداره ده. )

توري او کلمې د ادبیاتو بنیاد او ستنه ګڼلای شو ، دا ځکه چې الفاظ د شعر په کالب کې رانغاړل کېږي او یا په نثر کې کارول کېږي. د یادولو وړه ده، ترڅو څه ونه وایو ، یا ونه ویل شي، یا یې ونه لیکو یاونه لیکل شي، خبرې اترې نه جوړیږي، ښوونه او روزنه هم مفهوم نه پیدا کوي.

که څوک یوشی زده کوي، یا یې ورزده کوي، ښوونه کوي او ښوونځي ته درومي او یا کتاب په لاس کې لري، دا ټول د وینا او لیکلو له برکته دي؛ له شک پرته په پر مختللي ټولنه کې له ویلو او خبرو څخه د لیکلو برخه لوړه ده، ځکه انساني ټولنه هغه وخت د تمدن پوړونو ته لارپرانستی شي، چې د خلکو قلم په لاس کې وي؛ په څه چې پوهېږي هغه ولیکي.

قلموال د تفکر په قوت، د الفاظو له ترکیب نه د ټولنیزو پیښو جاج باسي. دا کار هغه وخت ممکن دی، چې موږ لیکنه وکړو ، خپل او ټولنیز هویت د قلم په واسطه وځلوو ؛ او په دې ډول د فرهنګ رڼاوي وکړو.

## ۱–۱– د لیکوالۍ ګټه:

په لنډه توګه د لیکنې او لیکوالۍ ګټه داسې ګڼلای شو:

۱– په فرد او ټولنې پورې اړوندې مسالې له ورکېدو او ژوغول کېږي. کلتوري پانګه خوندي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په ټولنه او ټولنې پورې اړوند معلومات راټوليداى شي، خوندي کېږي او په دې ډول فرهنګي زيرمه پيدا کېږي، ځکه نو ليکوال د ټولنې د فرهنګ او کلتور محافظ هم ګڼل کېږي.

۳- د ليکوالۍ له برکته ليکوال او ټولنه لاښه هويت پيدا کوي.

٤- د قلم ښورولو (ليکوالۍ) له برکته زموږ (ماضي) خوندي کېږي او د دوباره تحقيق پر مهال لا خوندوره کېږي.

٥- حال(اوسمهال) ته رنګ، خوند او ښکلا ورکول کېږي او د تمدن لوړتيا ته مو هڅوي.

٦- ليکوالي اوسمهال ته له راتلونکي سره پيوند ورکوي او نسلونو ته د زمانې تړاو پر منطق ديالکتيکي بافت (غوټه) ورکول کېږي.(۱: ۱۱۲ )

يادونه:

د مسلمانانو يو له وياړونو څخه دادى، چې د همدې قلم او ليکنې له برکته يې الهي کلام د کاغذ پرمخ خوندي کړ. او له دې وروسته د مسلمانانو په زړونو او ذهنونو کې ځاى پر ځاى (حک ) شو.

د اسلام په لومړيو کې ايله د مسلمانانو شمېره(۱۷) تنو ته رسيده؛ همدغو مسلمانانو په خپلو هلوځلو او طباعتي تجربي پوهې سره وکولاى شواى، الهي کلام (قران مجيد ) را ټول او تدوين کړي.

تر ټولو ستره مساله دا ده چې الله(ج) يو ځل بيا د قلم عظمت، ښکلا او اهميت په خپله ستايي او سوګند وربانـدې يادوي؛ لکه:( ن وَالْقَلَمِ وَمَا يسْطُرُونَ(القلم/۱) (۲: )

او کله چې پر جناب حضرت رسول اکرم (ص) د حُرا په غار کې د حضرت جبرائيل امين له خوا وحي راتله، نو بيا هم د قلم په اهميت، ارزښت او حکمت خبرې وشوې؛ لکه: الذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ(۴ ) عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يعْلَمْ(العلق/۵ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې (لیکوالي د انسان د فکر او ژبې حکمیانه پنځونه ده، چې د قلم په واسطه شکل پیدا کوي او د هغې په وسیله د بشر او بشري ټولنې هویت خوندي کېږي او د تمدن او پرمختګ لوری خپلوي.) هغه څوک قلم چلولی شي، فکر یې په قابو کې وي؛ د چا خبره امپراطور کېدل آسان دي، خو قلموال کېدل سخت!!!

**۱–۲– لیکوالي یو غوره ((فن)) دی!**

لیکوالي د انساني مدني هویت لومړی قدم او د تمدن زرین اصل دی، له همدې امله [(د بشریت ټول ویاړونه په قلم او لیکوالۍ پورې اړه لري او د دغه کار د یو فن او منظم تمرین په نتیجه کې خپلېدلای شي؛ یعنې لیکوالي یو فني عمل دی، چې کلتوري تفکر او هڅو ته اړتیا لري.)] (۱۹:۳)

د بشر ټولو معلوماتو او پوهنو ته علم او فن وایي. علم او پوهه هغه پوهنه او شتمني ده، چې د انسان له فکر سره کار لري، فکر یې رازده کوي او د عقل په آزمایش ځای کې یې تجزیه او تحلیلوي او د فرضیې یا نظریې په بڼه یې وړاندې کوي، دې ته علم او پوهه وایي؛ لکه: د فلسفې علم، د ډاکترۍ علم، د اقتصاد، د حدیث، د فقې، د تفسیر، د تاریخ او نورو...علم. (۴: ۴۸۲)

کله نا کله ځینې اصطلاحات سره مغالطه او ګډوډ کېږي، یعنې (داسې ویل کېږي، چې لیکنه او لیکوالي هنر دی!)، خو دا خبره یادول ضروري دي، چې (لیکنه د ممارثت او تمرین په وسیله شکل پیدا کوي او دغه شکل هغه وخت بشپړېږي، چې فني هویت ومومي.) یعنې لیکوالي مخکې له دې، چې ((هنر)) وي، ((فن)) ګڼل کېږي؛ د لیکوالۍ او د هغې د بهیر او اهمیت په برخه کې فکر درلودل ((هنر)) ګڼلای شو.

لومړی به د ((هنر)) او ((فن)) توپیر وکړو او بیا به څرګنده کړو، چې لیکوالي (هنر دی او که فن؟).

(c) ketabton.com: The Digital Library



فن او هنر توپير او ورتوالی:

الف:- فن؛

۱: د انسان د بدني غړو په وسيله شکل مومي؛ څومره چې په يوه کسب او کار کې په منطقي ډول او پوهې سره مهارت تر لاسه کوو، په هماغه اندازه فني پوهه مو زياتيږي.

۲: د يوه فني کار د تر سره کولو لپاره (فکر او د بدن نور غړي) لکه لاسونه، پښې... په کار لويږي؛ لکه: د نقاشۍ، ترکاڼۍ، غالۍ اوبدلو، موسيقي زده کولو، موټر چلولو او...) نورو کارونو د ترسره کولو لپاره لازمه ده، د بدن غړي بيابيا او په وار، وار فعاليت وکړي، څو زموږ له غوښتنو سره سم کار تر سره شي.

۳: که وغواړو د غالۍ اوبدلو په کار کې مهارت تر لاسه کړو او يا د موسيقي د يوې آلې غږ له خپلې خوښې سره سم وباسو، لازمه ده، پر له پسې تمرين وکړو، (تمرين او ممارثت د عملي پوهې او کاميابۍ لنډه لاره ده.)

۴: د نورو کارونو تر څنګ د ليکوالۍ په کار کې برياليتوب هغه مهال شوني دی، چې د لکينې ماهرانه خيال و فکر په عملي او علمي ډګر کې خپل کړو.

۵: فن؛ د انسان د فکر او بدني غړو ګډه برېا ده، چې عمده رول په کې د بدن غړي لري او د فکر په حکم خو له فکره د باندې شکل مومي.)

۶: فن؛ د تمرين او تکرار په لړ کې هويت مومي؛ د کنت آپل په نظر: ((د حرکي او بيا ځلي احساس له امله زموږ غړي وړتيا مومي) ځکه نو فن هم زموږ په ذهن کې تجسم پيدا کوي؛ فن د طبعيت(د انسان له ذهن څخه د باندې نړۍ) او ژوندي موجود، د بدن د غړو د بيا بيا تماس له امله هويت مومي او پخېږي؛ نه يوازې د انسانانو، بلکې د ټولو ژويو په برخه کې مطالعې وړ دي؛ لکه: مارغه څنګه ځاله جوړوي؟ اړتيا د مهارت او فني عمل اساس ګڼلای شو)). (۵ : ۳۱۷)

۷: پښتو- انګليسي قاموس کې راځي:فن((art ته fan) ويلای شو.)) (۸ : ۲۰۰۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸: فن (fan) نرم (ج- فنون، صنعت، د تخنيکو وړتيا او قاعدو مجموعه ده. (۱۲: ۷۳۸)

۹: په فن کې مواد او شيان (توکي) د انسان د غړو په واسطه تغير شکل مومي او خام مواد په پخو بدليږي؛ لکه: لرګی چې د بخار د مهارت له وجهې په دروازه بدليږي، خو انتظام يې د انسان شعوري لړۍ ده. (۲۷ : ۱۷۱)

۱۰: د (فن) او (هنر) بېلول ستونزور کار دی، خو ګډول يې هم انصاف نه دی؛ فن او هنر دواړه له فکر او انديشې او تعقل څخه بې نيازه نه دي، مګر فن د فزيکي وړتيا له لارې خپلېږي.

ب: هنر (Art):

۱: هنر (hunar) = Art.skill) هم ويلی شو، يعنې هنر فکري (skell)(مهارت) دی.

۲: هنر فطري او غريزوي شتمني ده، يعنې د بشر په ختَه کې اخښل شوې ښکارنده(پديده) ده.

۳: هنر؛ د ټولنيز شعور يو ډول دی، چې د (هنر) په ټولو ډولونو (رسامۍ، مجسمه جوړنې، حکاکۍ، معمارۍ، موسيقۍ، خطاطۍ، نڅا او شعر) کې ځان په بېل بېل ډول ځرګندوي.

۴: هنر (hunar) نرـمـ فن، کمال–جوهر، کسب (پښتو، پښتو سيند) ۱۰۷۲

۵: د حسن عميد فرهنګ کې راځي: ((هنر(ه،ن) پيشه، صنعت، فن، کاربرجسته.)) (۲۳: ۱۹۸)

۶: هنر؛ د دراک ذهن او طبعيت د امتزاج په لړ کې هويت پيدا کوي؛ کله شعر، چې پر شاعر د ماحول اغېزې وي، خو د ماحول اغېزې لومړی بايد د انسان له فکر او مزاج سره امتزاج وکړي او بيا هغه اغېزې په پاخه، ښکلي، خيالي او متغير شوي او فني ډول د الفاظو او هنر د نورو ډولونو له لورې ميدان ته راووځي.

۷: د ارسطو ( ۳۳۲ ق م ) په نظر، د انسان پر ذهن د ماحول اغېزې د هنري مدرک

(c) ketabton.com: The Digital Library



او موادو مدلول په لاس راکوي، د ماحول اغېزې د احساس تولید کوي او د هنر خیال احیاء کوي او له هغه وروسته د مهارت د تر لاسه کولو لپاره لار برابرېږي. (۱: ۲۹۹)

۸: د ارسطو غوندې د نابغه او متفکر هنر پوه انسان له خبرو دا نتیجه په لاس راځي، چې د (هنري موادو د تولید مرکز د هنرمند انسان ذهن دی او د فن خبره د مهارت او پلټنې په بهیر کې موندل کېږي او ترلاسه کېږي.) دلته به د دغې خبرې د توضیح لپاره څو عملي مثالونه راوړو:

سپوږمیه سر وهه راخېژه          یار مې د ګلو لو کوي ګوتې ریبینه
پرون دنیا وه، نن قیامت دی          چې زه ولاړه لالی اخلي رخصتونه
ته په مخ ځه مه ایساریږه          تر شاه دې ناوې پښتنه ولاړه یمه
له زړه مې شین لوګي راخېږي          لکه د شنو لښتو تنور چې لمبه شینه
یا: په مازدیګر ګودر ته راغله          لکه په کور د چا چې بل شي سره اورونه
(۱۸: ۲۱۰، ۱۱۲، ۴۳۵)

په پورته لنډیو کې (هنري انځورونه) په طبیعي ډول داسې ځان راڅرګندوي، چې (د شاعر عواطف، احساسات او د ماحول اړوندې پېښې سره لاس ورکوي او یو منظوم او منثور انځور جوړوي، خو د الفاظو ترتیب او تنظیم د اندورني اګاهانه مهارت باکیفیته ښوونه کوي). هنري برخه یې ذهني تصویر جوړونه او فن یې ماهرانه بیا ځلونه ده.

دلنډیو رامنځته کېدل او هویت پیدا کول یې فني برخه ده او له همدغو لنډیو مفهوم او خوند اخیستل یې فن جوړوي.

۹: محمد نواز طاهر ادب هم فن بولي او هم هنر، نوموړی زیاتوي: ((فن او ادب خصوصاً ((شعر)) د خپلو عصري تقاضو هنداره وي. د یوه شاعر په کلام کې د خپل ولس د معاش او معاشرت عکس ډېر واضح او نمایان لیدلی شي، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عکس د محلي پېښو تصویر وي او شعر يې هنري برخه جوړولای شي. )) (۲۲: ۲۵۳، ۲۵۴ )

۱۰: هنر او فن دواړه له فکر او اندېښنې او تعقل څخه بې نیازه نه دي، ددې لپاره څو فکر يوه مساله درک نه کړي، نشي کیدای د فن یا هنر په توګه عملي تحقق ومومي. همدارنګه په علم کې که څينې غړي په کار ونه لوېږي، د انسان علمي او پوهنیز مطلب نه رامنځته کېږي او په اصطلاح نوموړی شی له (قوې) په (فعل ) نه اوړي، همداسې فن هم در واخله. ۱۱: د يادولو وړ ده، د علم او هنر ځای (فکر او ذهن) دی او د فن د ځرګندولو ځای د بدن غړي دي.

۱۲: ددې لپاره، چې: (( علم، فن او هنر پر انسان د ماحول اغېزې او د عقل، ذهن، خیال او عاطفې درک زیږنده دي؛ لیکوالي هم د انسان د لوړ فکر محصول ده. )) ماهرانه قلم چلونه او لیکوالي ددې لپاره غوره فن ګڼلای شو، چې د احساسي تعقل او شعور له ځانګړو سرچینو راټوکیږي، خو حیوانات دغه صلاحیت نه لري او دغه واک په اصل کې له نورو واکمنیو سره سره انسان ته د الله(ج) له خوا ورکړ شوی دی. ممکن بیزو (شادي) یا ځینې نور حیوانات هم څه ټاپې کړي او ولیکلای شي، خو لیکنې ته احساسي رنګ نشي ورکولای؛ د ذهني رنګونو طبیعي تبارز او رامنځته کیدو ته ((هنر)) او رنګونو ته بیا رنګ ورکول او پر داس ورکونه ((فن)) ګڼلای شو او لیکوالي د فکري هڅونو زیږنده او د عملي کار علمي مهارت او هویت ټاکلی شي. )) (۱۳: ۱۷ )

۱۳: هنر؛ طبیعي سرچینې لري او فن مصنوعي؛ او ددې خبرې دلیل (الهامي او تمریني شاعري کول) هم کېدای شي.

لنډه دا چې: [لیکوالي د انسان د ماهرانه، باهدفه پوهې او بیا بیا تمرین فني شکل دی.] او دغه عظمت ددې لپاره چې انسان ته رسیدلی دی؛ نو ځکه يې الله رب الجلیل داسې يادونه کوي: (الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ(۴) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ(العلق/۵ ).(۲ : )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱–۳– لیکوالي میراثي ښکارنده (پدیده) ده که کسبي ؟

د تیر بحث نتیجه دا شوه، چې (لیکوالي فن او مهارت دی؛ دغه فني مهارت د بدن د غړو په وسیله بشپړیږي.)

اوس اوس پدې خبره غږیږو، چې لیکوالي موږ ته له مور او پلار او نورو مخکې اسلافو (نیکونو) په میراث رارسیدلې او رارسیږي او که یې موږ کسبوو؟ له ادبي پلوه په وینا او لیکنه کې د (علم) کلمه نه کارول کیږي؛ مثلاً وایو چې علم خبرې کول یا هم لیکل دي، بلکې وایو، چې د خطابې یا خبرې کولو فن، لیکوالي یا دغه عملیې ته هم د فن کلمه کاروي.

موږ ګورو چې په بازارونو کې په لسګونو، زرګونو، لکونو او آن میلیونو خلک شته او یا هم ډېر شمېر خلک په ښوونځیو، پوهنځیو او نورو زده کړییز ځایونو کې درسونه وایي، خو ټول لیکوال نه وي؛ د لیکوالۍ د کسب لپاره لازمه ده(ذوق، تمرین، مطالعې، پوهې او حرفوي کار) ته ارزښت ورکړو.

ډېر لیدل شوي دي، چې زیات شمېر باسواده خلک آن استادان هم لیکنه نشي کولای او که لیکوالي کولای شي، خو فني لیکنه نشي کولا ی؛ له فني لیکنې څخه مطلب (خلک په لنډ او واضح ډول په یوه موضوع پوهول دي). بې سواده خلک شاعران وي، مګر لیکوالان نه! پورته موضوع په ډاګه کوي، چې د ښې او غوره لیکنې لپاره باید ډېر مشق او تمرین وکړو او خپلې لیکنې د فن استادانو ته وروښییو. لکه څنګه، چې د (خط) د حسن خط د ښه کېدو لپاره لازمه ده ډېر مشق وکړو او د ورځې په تېریدو سره پرمختګ وکړو او د کمال پوړۍ ته ورسیږو، همداسې لیکوالي هم ده.

لیکوالي د انسان د علمي او تجربې ژوند محصول شوی فن دی؛ له همدې امله کسبي بهیر دی، نه مورثي عملیه، جنتکي (وراثتي) مثلې د انسان د شخصیت او علمي هویت په جوړولو کې ډېر رول لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنه کول استعداد او پوهه غواړي، خو کسب کول یې تمرین غواړي او همېشنی هویت لوړوي؛ لکه بوټي او ګلان چې پرخې او اوبو ته اړتیا لري، د لیکنې او لیکوالۍ د مسلک پیاوړتیا هم په کسب او تمرین پورې اړه لري. لیکوالي ماهرانه، پوهه ده، چې د تمرین او کسب د سحر له لارې غنامندي ترلاسه کوي؛ لیکوالي کسبي پدیده ده، چې د مهارت په سین او دریاب کې د غوټو وهلو له لارې ښکلا ترلاسه کوي.

چې غوټې پسې وهي په لاس به درشي
چا ویل چې په دریاب کې ګوهر نشته...

د ذوق خبره لا موږ هدف ته نږدې کوي:

آن ځینې خلک فلانکي یا بستانکي ته الهامي شاعر وايي؛ په... د خدای (ج) فضل شوی. شعر یې روان شو، دا درسته ده، خو له دې سره سره د ښه شعر ویلو لپاره لا ډېر تمرین ته اړتیا لري او شعر د لیکوالۍ د فن له دایرې بهر مهارت دی!!!

همدا دلیل دی، چې د متخصص لیکوال او فني لیکوالۍ درنښت او ارزښت د لیکنې په دنیا کې اهمیت پیدا کوي.

## ۱-۴- هغه ټکي چې باید په لیکوالۍ کې په پام ونیول شي!

که وغواړو چې فني او ښه لیکنه وکولای شو، لازمه ده، ددغه کار لپاره وړتیاوې پیدا کړو او د لیکنې غوره چلندونه په پام کې ونیسو.( مسلکي کار، تمرین او لیکنه وکړو.)

لیکنه په لومړي سر کې ((املا)) ده. اوا ملاء په لغت کې مهلت ورکولو او ډکولو ته وايي. او په اصطلاح کې:( خپلې یا د بل خبرې په صحیح ډول لیکل دي؛ که څوک له ځانه څه نشي لیکلی او د بل د لیکنې له مخې څه وايي، دې ته املاء نشو ویلای.) (۲: ۱۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا لامل دی، چې مورږ د آسانه او فني ليکنې لپاره اصولو او لارښوونو ته اړتيا لرو، ځکه له فني لارې (د ليکنې تشې ډکې کړو؛ د ښې او فني ليکنې لپاره بايد لاندې ټکو ته پاملرنه وکړو:

۱: د څه په باره کې ليکنه کوو؟

وار له واره بايد له ځان سره فکر وکړو (د سياست، ادب، هنر، اقتصاد، ورځنيو داخلي او خارجي پېښو، تخليقي پنځونو يا کومې بلې موضوع په برخه کې ليکنه کوم؟ په خپله بايد د غې پوښتنې ته ځواب پيدا کړو. له څه تمرکز وروسته يا (اړتيا احساسوو اصلي مورد او ځای پيدا کوو او يا هم لږ تر لږه د تخليق کولو لپاره فکري خوځون ته لاره اوارولای شو.)

۲: د کومې اړتيا له مخې يې ليکم، يا ليکنه کوم؟

د انسان د فکري خوځون او جسمي تحرک لپاره تر ټولو مهمه (انګيزه) اړتيا ده. اړتيا د حرکت عمده لامل جوړوي. حرکت؛ د فلسفي په حُکم (د ژونديو موجوداتو د پايښت اصل ګڼل کېږي.) (۳۱: ۲)

اړتيا، د خوځښت، حرکت، لټولو بالاخره موندنې او کاميابۍ اساسي شرط بلل کېږي. که مورږ ليکنه (د يو فرهنګي غوره او برجسته اصل په توګه ومنو، نو لکه د ژوند اساسي توکي به ورته اړتيا احساس کړو.) چې کله مو د ليکنې اړتيا احساس کړه، ورسره سم يې د موضوع د ليکلو تابيا کوو، په ليکنه پيل کوو او په ليکنه کې کاميابي ترلاسه کوو. (په دغه کار کې د موضوع تشخيص له مخې اړين دی.)

۳: ليکنه مې څېړنيزه (تحقيقي) بڼه لري، که ذوقي؟

له اړتيا وروسته دغه درک او پوهه ډېره مهمه ده، چې د خپل کار لوری ته تمرکز وکړو. (زه څېړنه کوم او که هنري نثر ليکم؟).

الف: څېړنه، زمورږ له ذهن څخه د باندې پلټنې او کار توکي غواړي، خو هنري نثر (ذهني) پلټنې (تخليق) ته ډېره ځانګړې کېږي. ((د څېړنې لپاره د څېړنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلا بیل میتودونه په پام کې لرلای شو او په تخلیق کې د طبیعي ښکلاوو لمن لټول مناسب او مسلکي کار دی، ځکه په پنځونو (ایجادونو) کې الهام د ښایست معتبر ځېرکی جوړوي.)) (۱۷ : ۲۸)

ب: که مو څېړنه کوله (موضوع باید کره کړو او له هغې سره برابر مواد کتابتون او نورو منابعو کې ولټوو او که ذوقي وه نو ادبي ټوټې او ورسره اړوند شیان یا ځانګړی تفکر او مهال ته ارزښت ورکړو.)

ج: څېړنه د یو وخت کار نه دی؛ مثلاً: څېړنېزه مقاله ډېر وخت او ډېره پلټنه غواړي، خو ذوقي لیکنه محدود او مشخص وخت غواړي. او تخلیقي اثر ښه دی، چې په یو وخت کې بشپړ شي، کنه لومړنی درک او ذوق بیا تغییر کوي.

د: ذوق؛ د ادب په اصطلاح هغه قوه ده، چې د لطافت (نازکوالي) او ښکلا درک کوي او د هنر خاوندان ورته ډېر اړ دي.

د خدای بښلی ګل پاچا الفت په وینا لکه: (څنګه چې د انسان په خوله کې د څکلو قوت موجود دی، چې هغه (ذایقه) ده، همدارنګه په انسانانو کې بله قوه هم موجوده ده، چې د کلام په خوند هم پوهېږي او نور ورباندې پوهولای شي.)

نو ذوقي لیکنې له فطري استعداد څخه قوت اخلي، په دغو لیکنو کې د تفکر، خیال، پوهې او انساني درک قوت ډېر موجود وي. دا ډول رامنځته شوي آثار هنري ښایست ډېر لري؛ د سلیم ذوق قوت د تخلیقي آثارو بنسټ جوړوي. همدغه سبب دی، چې (ادبي پوهه یوازې په زده کړه کولو نه حاصلېږي، بلکې ذوقي برخه یې قوت زیاتوي.) څېړنه د لټونې د مهارت له امله پیاوړې کېږي او تخلیق فردي خیال او ذوق پرمټ وده مومي.

۴: ذهني جمتوالی (اماده ګي):

دغه اصل نه یوازې په لیکوالۍ او لیکنه کې مهم دی، بلکې د ټول ژوند په چارو کې مهم اصل جوړوي؛ په تخلیقي او تخقیقي ډګرونو کې د تخییل او پلټنې مهارتونه لیکنه پاوړي کوي. په علمي، ورزشي، سیاسي او د ژوند ګڼ شمیر نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخونو کې د کارونو په کولو یا ترسره کېدلو کې آسانتیاوې رامنځته کوي. یوه کار ته مخکې له مخکې تیاری او چمتوالی دا معنا لري، لکه نیمایي کار مو، چې له مخکې کړی وي؛ په تېره په تخقیقي او ادبي ډګرونو کې چمتوالی، موږ ژر هدف ته رسولای شي. د دغه کار ګټه دا ده چې:

الف: موږ د تفکر لپاره وخت او موقع په لاس راوړو.

ب: په دغه بهیر کې کولای شو، د تحقیق د کارتوکي هم برابر کړو.

ج: آن په تخلیق کې له مخکې(عنوان) موندل او فکري فضاء جوړول د لیکنې قوت زیاتوي او د ادبي او علمي نړۍ خیالي استمرار پیاوړی کوي.

د: ذهني چمتوالی، د ژوند په پراخه ډګر کې، د راتلونکو کامیابه فعالیتونو د ترسره کولو زیری ورکوي.

په ادبي ډګر کې لیکوال له (ماضي، حال او راتلونکي) سره تړي او د کامیابۍ لوړو پوړیو ته یې له ځانه سره لېږدوي.

هـ: له مخکې چمتوالی د راتلونکي سترو تحقیقي کارونو په ترسره کولو او یا نه ترسره کولو کې (د کاري وړتیا او اټکل) اندازه په لاس راکوي او کېدای شي موږ کامیابه شو.

**۵**: د لیکنې لپاره د موادو برابرول:

د لیکنې په کار کې د موادو برابرول په دوه ډوله دي:

الف: ذهني مواد، لکه: د تحقیق په کار کې چې یو ښه عنوان د مناسب مضمون لپاره لټوي، همداسې په ادبي نړۍ کې (تخیل) د (تفکر) په لړ کې انځوریزه بڼه پیدا کوي، خو خیالي تخیل د مضمون مفهوم کمزوری کوي؛ د لیکنې لپاره (ذهني چمتوالی) د لیکنې د موادو په برابرولو کې مرسته کوي.

په ذهن کې د موادو او مضمون ژوندي کول، نه یوازې د لیکوال د تخلیق او لیکنې په کار کې مرسته کوي، بلکې پدغه کار سره لیکوال پراخه مضمون آفریني هم کولای شي، چې بیا وروسته د سترو لیکوالو په لیکه کې دریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب:محيطي مواد ؛ هغه آسانيتاوې برابرول دي، چې موږ په تحقيقي ډګر کې پياوړي کولای شي، (له قلم، کمپيوټر او کتاب څخه نيولي بيا تر ټولو مهمو موادو چې د خبرني پر مهال پکاريږي؛ تر لاسه کوو او د يو وړ تحقيق لپاره جوګه کيږو. ) په ليکنه کې (زموږ پياوړتيا په ذهني او مادي موادو برابرولو پورې اړه لري. )

ج: (ذهني فاکتونه ) او (مادي کارولو ) له مخکې برابرول په موضوع کې د تمرکز او د قيقې ليکنې واک په موږ کې پياوړی کوي. آن د تخليق اراده پياوړې کوي او د رنګين تخيل واکمني رابښي.

۲: درست او پرځای تلفظ:

الف: په پښتو ژبه کې د (وينا ) او (ليکنې ) تر منځ د تل لپاره ستونزې او توپيرونه موجود دي، آن په دې وروستيو وختونو کې خو دغه اصل د ځينو ليکوال له خوا په لاسي ډول لا پسې ګډوډ دی او ښه دليل يې دادی، چې (څه ډول غږيږو ، بايد هغسې يې وليکو. ) پر ځای خبره ده، مګر نمګړتياوې هم لري او هغه دا چې د عمومې کره پښتو ليکنې معيار کمزوری کوي؛ د بېلګې په ډول:

۱: دا هلک ده.(مرکزي پښتو او لهجه )

۲: دا هلک دی.( جنوب غربي لهجه )

۳: دا الک دو. (جنوبي، مسودو لهجه )

۴: دا لک ده. ( لويديځه لهجه )

پورته ډول ټولې جملې د وينګ له پلوه درستې دي؛ زموږ د ټولو خلکو لهجې په زړه پورې دي، مګر د معياري ليکنې پر تله او ترازو دغه جمله چې (دا هلک دی ) درسته بريښي ( دريم شخص (دا ) ضمير مفرد مذکر، نوم (خلک ) هم مذکر او (دی )صرفي لاحقه هم د مذکر په بڼه ګردانيږي.

ب: څه چې وايو بايد هغه هماغسې يې وليکو ، خو ( داستان او هنري نثر ) له دې خبرې مستثنی دی. داستان او هنري ليکنه (نه يوازې د فردي احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږدونکي وي، بلکې تولنيز احساسات هم رانغاړي او ټولنيز احساس پالل او خپله ژبه او خپل چاپيريال غواړي.)

۷:- ګرامري اصولو په پام کې درلودل ضروري دي.

ګرامر د ژبې قواعد او اصول دي؛ دغه قواعد نه د خلکو په خبرو کې مراعاتېږي او نه په هنري او داستاني ليکنو کې....

همدارنګه په ورځينې ژوند کې هم څوک ناچار نه دي، چې په لوی لاس دغه قواعد پرځان ومني، يوازې او يوازې ګرامري قواعد په ښوونځيو، کورسونو، پوهنتونونو کې لوستل کېږي او په ليکلو کې مراعاتېږي.

د ګرامري قواعدو او اصولو د (مراعتيدو او په پام کې درلودلو تر ټولو ښه بستر او ځای "ليکنه يا ليکوالی" ده، چې ډېر ژر د دغو اصولو په وسيله مفهومونه لېږدولای شو او د بېلابېلو ژبو او لهجو ويونکو ته کار آسانولی شو.)

په تېره د څېړنې (تحقيق) په برخه کې د ژبنيو او ګرامري قواعدو په پام کې درلودل د معياري ليکنو پوهاوی زياتوي؛ لکه:

الف: ګرامر چې په عمومي ډول دري برخې (غږ پوهنه(فونولوژي "Phonology" ګړپوهنه(مورفولوژي"Morphology" يا صرفي او نحوي يا سنټکس"Syntax" ساختماني نظامونه) رانغاړي، په ليکني نظام يا د ليکوالی په کار کې ډېر مهم رول لري، په تېره خو د مسلکي ليکوالو لپاره دغه قواعدو په پام کې درلودل، يو اړين امر دی.

ب: پښتو ګرامر او ژبه د نورو ګرامرونو او ژبو په پرتله ځينې فونولوژيکي، مورفولوژيکي او نحوي توپيرونه لري، چې هرومرو يې زموږ پښتانه ليکوال بايد په پام کې ولري؛ د بېلګې په ډول، درانه يا ځانګړي توري(ټ، څ، ځ،ډ، ړ، ښ، ڼ،ږ)، د زورکي(Ə) واول او ياګاني؛ لکه: (نرمه (ی)(ay)؛ زورکې واله(ۍ) (Əy)؛ زوروالە(ئ)(Ə y) چې دري واړه غبرګغږونه (ديفتانګونه) دي، اوږده (ې)(e)، لنډه (ي)(i)، چې واولونه دي، له بلې خوا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مذکر او مؤنث) مسله او د نومونو مغیره حالتونه په پام کې درلودل، د پښتو لیکونو او لیکوالی برجستګي هم زیاتوي؛ باید په پام کې ونیول شي.

ج: له دودیز وینګ (تلفظ) سره زموږ د لیکوال لیکنه په تېره په مورفولوژي برخه کې ښکاره توپیر ولري؛ لکه په کلیوالي او ساده خبرو کې کلمې یا جملې لنډوي؛ د بېلګې په ډول: (ځیکې)، (نه کم) چې باید (څه یې کوي) او (نه یې کوم) ولیکل شي، همداسې ډېر مثالونه نور هم لرو.

د: لکه چې مخکې وویل شول په پښتو ژبه کې د اکر(حالت) موضوع د پام وړ ده. ((له حالت څخه مراد دادی، چې یو نوم په جمله کې د خپل چاپیریال په لحاظ څه حالت لري.)) د بېلګې په توګه لاندې مثالونو ته توجه وکړئ:

۱: زرمینه راغله.

۲: زرمینې ډوډۍ پخه کړه.

۳: ما زرمینې ته ډوډۍ پخه کړه.

۴: ما زرمینه وتړله.

۵: د زرمینې ژوند خراب دی... که چېرې پورته مثالونو ته ځیر شو وینو، چې (په لومړۍ جمله کې زرمینه په اصلي بڼه او په دویمه جمله کې په غیر اصلي (زرمینې) به بڼه راغلې ده.

په لومړۍ جمله کې د جملې فعل لازمي دی، د لازمي فعل فاعل په اصلي حالت راځي، په دویمه جمله کې د جملې فعل متعدي دی؛ په تیرمهال کې د متعدي فعل فاعل په غیراصلي بڼه استعمالیږي....)) (۱۱ : ۴۵-۴۶)

هـ- په پښتو ژبه کې له نورو ژبو سره(عدد او معدود) توپیر هم شته؛ لکه، د بېلګې په ډول کله چې عدد جمع کېږي نو معدود هم بدلون مومي.

| مفرد | جمع |
|---|---|
| یو هلک | دوه هلکان |

او ورسره کومکي فعل یې هم بدلون کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



| مفرد | جمع |
|---|---|
| يو هلک راغی | دوه هلکان راغلل |
| يوه نجلۍ راغله | دوه نجونې راغلې |
| يو سړی راغی | دوه سړي راغلل |
| يوه ښځه راغله | دوې ښځې راغلې |
| يو سړی ووت | دوه سړي ووتل.... دزياتو معلوماتو لپاره |

وګورئ.(۱۴ : ۸۸ )

ي:- په پښتو ژبه کې د جملو جوړښت په ځينو برخو کې توپير لري. (جملې ته د متن د اندازه کولو واحد هم وايي. ) په پښتو ژبه کې: (( د يوې بشپړې جملې عمومي ځانګړنې دا سې بيانوو:

۱:د بشپړې جملې ښخه مطلب هغه خپلواک ګرامري شکل دی، چې د جوړښت او معنا له مخې بشپړ مطلب وي.

۲: د جملې په جوړښت کې د جملې اصلي ارکان(مبتداء او خبر ) وي.

۳:جمله( نحوي واحد ) وي...

۴: جمله نه تجزيه کيدونکي واحد دی او .... )(۱۲ : ۳۶ )

۸:- دوه بېلې کلمې سره جلا ليکل:

ليکوالو ته لازمه ده، په خپله ليکنه کې (دوه بېلې کلمې يو له بله يو ځای ونه ليکي يا ونه نښلوي. ) نن سبا دغې خبرې ته ډېره پاملرنه نه ساتل کېږي؛ لکه:

| درست | نا درست |
|---|---|
| لوی کور | لويکور |
| ټول سړي | ټولسړي |
| برګ چرګ | برګچرګ |
| ځوان سړی | ځوانسړی |
| خپل وطن | خپلوطن |

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل سر                                   خپلسر

پورته کلمې چې بشپړ مفهوم لېږدوي، که جلا له نورو کلمو وليکل شي درسته ده؛ کلمه معمولاً (ډېرځله) ساده او ترکيبي وي، کېدای شي يوه کلمه له دوو مورفيمونو هم جوړه وي؛ لکه:

کتاب + چه= کتابچه، ترکيبي کلمې لکه پوهنتون ، درملتون، ميړتون او ....

۹:کوم ګړونه يو ځای او کوم جلا ليکل کېږي؟

مقيد مورفيمونه کله جلا ، کله هم يو ځای ليکل کېږي، خو دا هم د يوې قاعدې له مخې وي.

د پښتو ژبې د پياوړي ليکوال، زبردست محقق او ښه استاد د پوهاند ډوکتورمجاوراحمد زيار په نظر: ((د ژبپوهنيزي قاعدې له مخې ټول ژبني توکي يا ويوونونه (واحدونه) سره بيل بيل ليکل ، يا په بله وينا د اړوند ليک سيستم له شونتيا سره سم، تر وسې وسې جوليز يووالی له مانيزيووالي سره غاړه غړی کول په کار دي که هغه آزاد وييکي وي، لکه سربلونه (سرينه) ، وستربلونه(پسينه) او اړوييکي (په، پر، تر، د ، له، سره، کې، پورې، ته، چې، که ، او ، هم) که ساده وييونه وي، لکه نومونه (کور، لوی، زه، ته ، دی، دا ، هغه، يو ، دوه) يا ګړونه(تلل، خوړل، ځي، خوري) او يا تړښتي ، ترکيبي او بيلښتي (اشتقاقي) وييونه وي، لکه: ګټل، پوهمل، پوهنتون، مرستون، تلپاتي، ولسمشر ، لاسليک... ))(۱۵: ۷۷)

ځينې کلمې چې له دوو مورفيمونو څخه جوړې شوې وي، لکه: نيکي، مستي، سستي، ټوليمشر او ...بيلول يې درست نه دي.

۱۰:- سربلونه د کومو نومونو تر مخ او وستربلونه د کومو نومونو تر شا ليکل کېږي؟ سربلونه (پيشنه ها، Prepositions ) او وستربلونه(پسينه ها، Post positions ) تړلي ګړونه (مورفيمونه) دي، په جملو کې (وړې، وړې) توتې دي، چې خپلواکه معنا نه لري، خو د نورو خپلواکو کلمو سره او يا د جملو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه مـنځ کـې سـتـر رول لوبـولـی شـي؛ د فیشـاغـورث پـه وینا:((مقیـد مورفیمونـه) د خپلواکو او په مجموعي ډول د کلمو د ستري کورنۍ په جوړښتي نظام کې ډېر مهم او د اول سر غـړي نـه دي، خو ددغـې کـورنۍ پـه غنـي کولـو، ټولولـو، نـږدې کولـو، تړلـو او پیوسـتون کـې مهـم رول لوبـولی شـي؛ مقیـد مورفیمونـه د جملـو د جوړولو او پوره کولو غوره ممد او مددګار توکي ګڼل کېږي.)) (۳۰ : ۱۹۲)

هغه سربلونه چې د خپلواکو کلمو څخه د مخه او وروسته راځي او مناسب تړاو پیدا کوي، پـه لاندې ډول پـه عملي توګه د یو لښـتلیک (جدول) پـه توګـه راوړو:

| ګڼه | سربل | اوستربل | مثالونه |
|---|---|---|---|
| ۱ | په | کې | په کور کې |
| ۲ | په | سره | په زیار او زحمت سره |
| ۳ | په | پورې | په چا پورې |
| ۴ | په | پسې | په تا پسې نه ځم |
| ۵ | پر | باندې | پر څوکۍ باندې ناست یم |
| ۶ | پر | سربېره | پر دې کار سربېره نور کار هم کوم |
| ۷ | د | لپاره | د خبرو لپاره وخت نه لرم |
| ۸ | د | غوندې | د مزدور غوندې یې وګڼه |
| ۹ | د | کره | د احمد کره نه ځم |
| ۱۰ | تر | لاندې | تر میز لاندې پروت دی |
| ۱۱ | تر | پورې | تر ښوونځي پورې ځم |
| ۱۲ | له | سره | له ځلمي سره ځم |
| ۱۳ | بې | څخه | بې له اوبو څخه ژوند ګران دی |
| ۱۴ | و | ته | و تا ته مې ووې. (۱۱ : ۴۲) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته جملو کې ګورو ، چې ځينې جملې بې سربل او اوستربل هم جوړېدلای شي؛ لکه: ( په کور کې يم ) چې په ځينو پښتو مرکزي لهجو کې(کوريم ) هم وايي. زمور موخه دا ده چې مقيد مورفيمونه اصلي کلمې او جملې نه دي، خو د فيثاغورث په وينا د کلمو د کورنۍ په لامظبوط ـ والي کې غوره رول لوبوي.

۱۱:-يوه کلمه د بلې په شان ونه ليکو: کېدای شي دوه کلمې چې د وينګ (تلفظ ) له مخې نږدې وي او يا په ليکلو کې سره يو شي وي، خو په معنا کې سره توپير لري، يو د بل په ډول ونه ليکو. او يا يې هغسې تلفظ نه کړو ؛ آسانه خبره داده ، چې پښتو هره کلمه جلا ليکل او بېله معنا لري؛لکه:

| لغت | معنا |
|---|---|
| ۱: ګوډ | لنګ |
| ۲: ګډ | مشترک |
| ۳: پوښتنه | تپوس (سوال) |
| ۴: پښتنه | زن پشتو زبان (اسم فاعل)(زن پشتون) |
| ۵: نوی | جديد |
| ۶: نه وي | نباشد |
| ۷: توروي | سياه مي کند |
| ۸: توروي | سياه باشد |

دغه ستونزې په نورو ژبو کې د هغو له جملې(عربي او دري ) ژبو کې شته، چې د معنا له پلوه دوه سره بېلې کلمې دي، خو ليکل يې سره يو شی دی ؛ لاندې کلمې وګورئ:

۱: شير(šir ) شودې

۲: شير(šer ) حيوان (زمری )

په پښتو ژبه کې (غړی ) عضواوغړی صدقه – خيرات.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲:- د (نه او مه) (نفې او نهې) توري دي له افعالو جلا ولیکل شي.
توضیح: (نه) لومړی شخص (اسم فاعل) یا (زه) ته منسوبېږي، (نه خورم، نه ځم، نه کوم) د لومړی شخص په اراده پورې اړه لري، ځکه نویې (نفې) یا رد کوم. او (مه) په امریه جملو کې هغه هم پداسې حال کې راځي، چې د دویم شخص لاس له یو کار څخه نیسي؛ که مطلق امر نه کوي یا امر نه کوي یا امریه جملو کې نه استعمالېږي نو ممانعت یې کوو. لنډه دا چې: ((د (نه) او (مه) توري چې د (نفې) او (نهې) لپاره راځي، باید له کړونو(فعلونو) جلا ولیکل شي، مګر په (نشي او نشته) کې یو ځای لیکل کېږي.)) (۲۰ : ۹)
او دا چې (نشي، نشته، نکړي، مشه، ناخلي) ډېر ځله یو ځای لیکل کېږي، د پوهاند زیار په وینا (خپلواک وییونه؛ قیدونه او فعلونه نه دي.)

۱۳:- د پښتو ژبې د ځانګړو تورو د کارونې ځانګړنې له پامه نه غورزول.
پښتانه لیکوال باید دا خبره ډېره په پام کې ولري او هغه دا چې ډېر داسې توري او آن کلمې په (پښتو) کې شته، چې په نورو ژبو په تېره دري او عربي ژبو کې نشته؛ دا توري په پښتو لیکنو او لیکنه کې ځانګړی اهمیت لري، چې باید په خپل ځای کې ولیکل شي؛ لکه: (ښ) چې ځینې پښتانه یې په (خ) سره وایې او یا یې په (خ) تلفظوي او ځینې نور یې د (ش) په ډول وایي؛ د بېلګې په ډول: (نښه(نشاني)، که (نشه) ولیکل شي، کیدای شي له پتې پرته د (naša) (سکرآور) مشروبو معنا هم ورکړي.
همدارنګه (لوښي، اوښ، ښېګڼه، ښه) او نور کیدای شي په(لوشي، اوش، شېګڼه، شه یا لوخي، اوخ، خېګڼه او خه) ولیکل شي له(لوښي، اوښ، ښېګڼه او ښه) سره هم معناوې، چې څه ستونزه نه پیښوي، خو زه یې د لیکلو جواز نه شم ورکولای، مګر په وینګ (تلفظ) کې خو د هر چا واک خپل دی.
په یاد ولرو (په پښتو غني ژبه کې) ډول ډول وینګونه شته، چې هر یو یې د ولس له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا اختیاري استعمال لري، او دا واک الله(ج) ورکړی دی. خو په (خ) یا (ش) پیل کلمې باید په (ښ) ونه لیکو ؛ لکه: ختېه(ښتېه) خاوره(ښاوره)، شګه (ښګه)، شولې(شالې، ښولې) یا خولې ونه لیکل شي.

۱۴:- پور وییونه (له نورو ژبو راغلي لغتونه) په لیکلو کې باید توجه وکړو، چې د خپلې ژبې تر قاعدې لاندې راشي او ولیکل شي. او آن په جمعه کولو کې یې د خپلې ژبې د جمع کولو لاره ونیسو ؛ لکه: موضوع= موضوعګانې

معنی= معناوې؛ یا هغو کلمو ته چې نوم لرو، پښتو نوم ورکړو. معصوم(ماشوم)، شمع (شمه)، طمع، تمه، قصه (کېسه)، فوج (پوځ)، صباح (سبا)، میراث(میراث) قرار(کرار)، سحر(سهار) ، فیل(پیل)، طوفان (توپان)، کمیز یا قمیس (کمیس)، او نور لغتونه هم شته.

۱۵:-د (ځ) او (ز) تورو توپیر: کله نا کله د (ځ) او (ز) تورو تر منځ څه په وینګ او څه په لیکنه کې توپیر نشي کېدلای؛ که څه هم (ځ) چې ځانګړی پښتو توری دی، دروند ویل کېږي او چې کله تلفظ کېږي، نو ژبه د پورته مخکې غاښونو سره تماس کوي، خو (ز) عربي توری دی. له پخوا زمونږ په ژبو کې مروج دی، عادي او لیک ویل کېږي، ژبه ډېره نرمه د لاندې او باندې مخکې غاښونو سره تماس هم نه کوي، تلفظ کېږي؛ لکه: (ځان) په پښتو ژبه کې د (ځه) امر فعل او (زه) لومړی شخص ضمیر تر منځ کله ن توپیریږي؛ یا ځوړ مخکښته که په (ز) ولیکل شي (زوړ) ترې جوړیږي.

آسانه لار داده؛ هغه کلمې چې په دري ژبه کې په (ج) ویل کېږي او لیکل کېږي په پښتو ژبه کې په (ځ) راځي؛ لکه: (جان، ځان، جنګل، ځنګل، جوان، ځوان...) خو دغه قاعده دومره علمي نه ده. دوکتور مجاوراحمد زیار په وینا: (( "ځ" د پښتو په څلورګونو ګړدودي ډلو کې د ((ښ،ځ،ږ،ژ) تر څنګه له شمال ختیزې هغې څخه ترې تم شوي او له همدې کبله یې اړوند لیکوال په لیکدود کې زیاتره ټکني کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغلته چې باید (ځ) ولیکل شي، (ز) لیکي او چېرې چې (ز) ته اړتیا وي، هلته (ځ) کارېږي، د (ځ) پر ځای (ز) لکه په غزیدل، ځوریدل...؛ د (ز) پر ځای (ځ) لکه په ځوي، ځوځات یا ځوځات، ځېږیدل، ځانګو، ځانګل یا ځنګل، ځنګلول، ځنګېدل، یواځې، ځما، ځمونږ یا ... هم ناکره دي. سلیمانځی، قتیل ځوی... که څه هم په یو لړ منځیو ګړدودونو، لکه و خروټو، اندړو او وردګو په هغو کې څه نا څه وینګ هم شته خو د لړه لیکوالي له کبله له آرو معیارونو غورځي.))

۱۶:- د (ث) د توري سم تلفظ وکړو؛ دغه توری د پښتو ژبې ځانګړی او دروند توری دی، په ځینو مرکزي او شرقي لهجو کې يې ځای (س) ته پرېښی دی، دا ځکه چې وینګ یې (س) ته نږدې دی؛ نه یوازې یې دري ژبې مراعات نشي کولای، بلکې زموږ د پام وړ شمیر پښتانه یې هم درست نه وایي؛ د (ثلورو) پر ځای (سلور) د (ثادر) پر ځای (سادر) د (ثلویښت) ته (سلویښت)، سپېثلي ته سپېسلي وایي.

دغه کار او دغه نیمګړي تلفظ د کلمو په معنا کې تغیر راولي. لکه: ثټ (ګردن) که (سټ) ووایو، نو د مړشوي یا قتل کړای شوي معنا ورکوي؛ یا ثوک (کی؟) (سوک) ولیکو (مشت) (موټی شوی لاس) ترې جوړېږي.

۱۷:- د پښتو ثلور توري (ټ،ډ ،ړ،ڼ) په ښه ډول تلفظ او ولیکو.

له ویناوال څخه لیکوال ته د بره اړینه ده، چې پوره یې په لیکنه کې مراعات کړي، ځکه دغه توري له یوې خوا د پښتو درانه او خاص دي؛ زموږ د ژبې بډاینه ورباندې ده او سم نه ویل او نه لیکل یې د کلمې په معنا کې تغیر هم راولي؛ لکه لاندې مثالونه:

۱: ټ- ټول (تمام)

۲: ت- تول( وزن، پیمانه)

۳: ټ- ټبر( قوم، کورنۍ)

۴: ت- تبر ( د لرګیو ماتولو وسیله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵: ډ- ډاډ ( اطمینان)
۶: د_ داد (بخشش)
۷: ړ- ړوند(کور)
۸: ر- روند(پروسه، بهیر)
۹: ڼ- ڼیری(شلخی) (بوټی) دی. (حبیب الله جاج پښتون زوی استاد ) ( ۹ : )
۱۰: ن- نری (نازک ،مهین باریک )
۱۱: ڼ- ڼیزی (مرز ته ورته مارغه دی)(۳۰: بغلان، نهیرین، تنګي تبقان-نعیم).
۱۲: ن- نری (باریک، مؤنث نوم)

یادونه: کله نا کله دغه توري مرکزي پښتانه هم درست نه وايي. او لیکل خو يې لا پرېږده. ددغو تورو درست تلفظ دا ګټه لري ،چې نه یوازې د خپلې ژبې توري ښه ویلای او لیکلی شو، بلکې د نورو ژبو لکه: انګلیسي دې ته ورته توری هم ښه ویلای او لیکلای شو؛ لکه: (Water) واټر، بریډ(Bride) او نور....

ټوکه: یوې غېرې پښتنې محصلې په ټولګي کې رانه وپوښتل؛ زه دودی وایم ،ډوډی نه وایم؛ ما ورته په ټوکه وویل: دودی د بازار نوم دی هغه چې نانوایان ورسره څنګ ، د لاسو او بشو خیرې پخوي او که سره شي نو نه خوړل کېږي، خو ډوډی د مور په لاس پخه شوي د تناره (نان) ته وايي چې خوړ بوی یې هم سړی مړوي او نشه کوي. (ناپښتو څانګه، دري صنف).

۱۸:- د "و " (o,u) توری، ډولونه او د هغو ښه تلفظ دی، پخوا او په پخوانیو ګرامرونو کې یې ډولونه ډیر وو ، خو اوس دوه ډوله واو مروج دی او هغه هم په لیکلو کې.

۱: اوږد واو(و) (o) ؛ موقعیت له پلوه (منځنی، ورستی،ټینګ او ګرد دی) لکه: اور(or)، کور(kor)، یا زانګور، درخو، ورشو...؛خو په زانګو ، درخو کې نسبت کور او (اور) ته څه لنډ ویل کېږي، مګر په (اور) ، کور، نور...کې بیا ټینګ ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲: لنډ واو(و ) (u ) ، موقعیت یې، پورتنی، وروستنی، ګرد او سست آواز دی؛ ) لکه: اوم(um ) ، زوم(zum ) ، ټټو(ṭaṭu ) ، یابو (yabu ).. خو په زوم او اوم کې نسبت ټټو او یابو یا سور ته لږ څه اوږد او په ټټو ... کې له زوم څخه لنډ ویل کېږي.

زموږ په لیکنو کې یو ډول (واو ) لیکل کېږي، مګر د مسلک خاوندان یې په تلفظ او کارولو باید ځان پوه کړي.

۱۹:- د یاګانو کارونه او سم تلفظ په پښتو ژبه او په تېره لیکوالۍ کې مهم اصل جوړوي.

په پښتو ژبه کې د نورو ژبو په توپیر څو ډوله یاګانې (ی،ي،ې،ۍ،ئ ) شته، چې هم یې پښتو ژبې ته ځانګړنه ورکړې او هم یې سخته کړې ده؛ لازمه ده دلته دوه خاطرې راوړم.

× × × × ×

x ×

خاطرې:

۱: یوه ورځ چې د مختلفو ژبو استادان سره ناست ول، په ټوکو وویل شول د پښتو ژبې دومره یاګانې څه پکار دي، یو تن ځواب ورکړ، د پښتو ژبې یاګانې د (نارینه او ښځینه ) نومونو ،صفتونو ، شیانو او ځایونو د پېژندلو او تصنیف کار آسانه کړی دی !، خو بیا هم دغو ټوکیزو خبرو دوام وکړ او وویل شول ( خوب است که برای اشیاء و اسمای مذکر و مؤنث یک (ی) مروج باشد !) په ځواب کې ورته وویل شول، په چا کې چې د ښځې او نر توپیر وي، نو په ژبه کې یې هم له ورایه ښکاري....

۲: د لوی استاد اروابناد پوهاند رښتین صاحب څویم تلین و په (۱۳۸۰) کال په ننګرهار کې لمانځل کېده، د لومړیو پرانستونکو وینا وو په لړ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونې او روزنې وزارت تدريسي معين ښاغلی پتمن د نورو خبرو تر څنګ په کابل ښار او نورو ښارونو کې د تدريسي نصاب په برخه کې خبرې وکړې؛ هغه وويل: زموږ درسي نصاب ښه دی، خو پښتنو او غير پښتنو ته پښتو ژبې په تېره(پښتو ياګانو د ېروالی) ژبه سخته کړې، چې موږ ورسره مخالف يو... دومره ياګانې څه پکار دي. نوموړي دا خبرې وکړې او له ستېيجه د سترګو په رپ کې ورک شو. لنډ ځواب دا دی، لکه څنګه، چې هر (مارغه په خپلو ښو ښايسته دی، هر قوم په خپله ژبه معزز او مکرم دی ! ستونزه دا ده، چې زموږ د ښوونې او روزنې تدريسي نظام ستونزه لري او هغه دا چې: شاګردانو ته بايد له اول ټولګي څخه په درست او مسلکي ډول د مسلکي او باتجربه ښوونکو له خوا د ژبو درس ورکړ شي. يو ماشوم هغه وخت ښې ژبې زده کولای شي، چې همزمان يې زده کړې.

د پښتو ياګانو، د کارونې ځايونه او مثالونه:

الف: واول: ې(e)، ناکش، اواز دی،.

۱:- هېر(her)

۲:- ډېر(ḍ er)

۳:- تېر(ter)

يا ادې(ade)، شودې(šode) شيدې(šide) دغه(ې) په ډېر ځله په مؤنث نومونو کې کارېږي.

ب: لنډه: ي(i) دا هم واول دی؛ په مذکر نومونو کې کاريږي؛ لکه: دوبي(dobi)، موچي(moči)، توپچي، ربابي، کبابي... البته په ځينو نسبتي او مفردو نومونو کې چې (اهل کسبه) وي؛ راځي. زياتره هه مفرد نارينه نومونه، چې په نرمه(ی) بې ټکو(ی ay) پای ته رسيدلي وي د هغه د جمع کلولو لپاره؛ لکه: سړی – سړي، منګی – منګي، پسرلی-پسرلي. زياتره هغه يوګړي(مفرد) نارينه نومونه، چې مفرده بڼه يې په (ی) پای ته رسيدلی وي. د هغو د ګردانيدونکي (مغيره) حالت لپاره؛ لکه: سړی وايي (اصلي حالت)، سړي ويل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اوښتی(مغیره ) حالت ) منګی اوبه دی (اصلي حالت ) منګي اوبه لرلي (مغیره حالت ) ، زمري غوښه وخوړه (اوښتي بڼه ) او داسي نور... د نورو معلوماتو لپاره وګورئ: (د پوهندوی ممحدآقا شیرزاد ، لیکوالي، ۱۲،۱۵مخونه).

ج: نیم واک (ی) (ay) ؛ دغه (ی) یا غږ د کلمو په پیل او منځ کې راځي او د کلمو په پای کې یوازې د غبرګغږ په توګه راتلای شي ؛ د کلمو په پای کې لکه: سړی، منګی، په سرکې؛ لکه: یور، یو، یووالي او ... یا ځای ، چا....

د: دیفتانګ (ی) (əy) زورکی، چې ډېر ځله ښځینه نومونو لپاره راځي؛ لکه: سېرلکۍ، سپوږمۍ، کړکۍ، څپلۍ او ....

هـ: دیفتانـګ(ئ)(əy) زوروالـه( ئ). دغـه(ئ) هـم دیفتانـګ (غبرګغږ)دی؛ په تلفظ کي کټ مټ لکه زورکي واله (ۍ) غوندې وي، خو په استعمال کې توپیر لري، ځکه دا (ئ) په فعلونو کې راځي یا کارول کېږي؛ لکه: خورئ، کښنئ، دوستئ،ځئ او ... لنډه دا چې یاګانې په پښتو لیکوالۍ کې ډېر ارزښت لري او په مفرد ، جمع او مغیره نومونو کې راتلای شي او خپله بڼه بدلوي او د چا خبره له (سړی)(سړي) او له کرزی(کرزي) جوړوي، نو که لیکوال او بیا ویاند په دغو خبرو پوه نشي (یاګانې) درستې تلفظ او نه شي لیکلای نو د پښتو ژبې حق به یې نه وي اداء کړی؛ (پښتو ګرامر که خلکو ته سخت ښکاري، خو زه وایم د یوې پیاوړې ژبې پیاوړی ګرامر وي او د پیاوړتیا یوه وجه یې همدا یاګانې هم دي. ) پر ځای ده چې د ارواښاد امیرحمزه غزل بول د غوره فکر د یاد پلوشې دلته څه وځلوو:

اغیار که وایي د دوزخ ژبه ده زه به پښتو سره جنت ته ځمه(۲۱: )

خدای ښنلی الفت هم (ی) پنځه ډوله بللې. (لیکوالي:۵ )

د ښې لیکنې لپاره لیکوالو ته لازمه ده لاندې روزنیز اصول (د ځاني روزنې لارې) هم په پام کې ولري؛ د شکلي کارونو سره سره تربیتي کارونه هم ضروري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰:- مطالعه – که څوک غواړي، چې ښه لیکوال شي لازمه ده، د سترو لیکوالو او استادانو بیلابیل آثار مطالعه کړي؛ په تېره د (تخلیقي او یا تخقیقي) نثر مینه وال لیکوال باید دغه کار ډېر په پام کې ونیسي، څو په فني او مسلکي ډول لیکوال شي. ښه لیکنه کول او ښه لیکوال کېدل د ډېرې مطالعې، عملي تمرین او مسلکي توب له برکته ترلاسه کېدای شي. ځکه تمرین وړتیا رامنځته کوي، لیکوال د فکر واک حاصلوي او څه چې غواړو په آسانه او کره ډول لیکلای شو ؛ له همدې کبله نه ټول خلک د لیکوال کېدو لپاره تمرین کوي او نه هم ټول خلک لیکوال دي. لیکوال په هره ټولنه کې د ګوتو په شمار وي. لیکوال با کلتوره انسان وي او د ټولنې جوهر وي؛ لکه:

جو داني قدرې يو لال په کې پیدا شي

نور همه واړه د تورو کــانړو غـــر دی..(۷ : )

۲۱:- صبر؛ په هر کار کې صبر، سینه او حوصیله کول لازمي خبره ده. لیکوال له الفاظو او کلمو څخه د معناوو ماڼۍ جوړوي، دغه ماڼۍ دایمي ماڼۍ ده، دا ماڼۍ د ټولو ده، خو دا ماڼۍ لکه د ډبرو او خټو ماڼۍ د ډېرو او عادي خلکو( مزدورانو، باشیانو او انجینرانو ) له خوا نه جوړېږي؛ ددې ماڼۍ او قصر جوړونکی، طراح او پورته کوونکی یوازې یو تن (پخپله لیکوال) وي. اروا ښاد الفت د پښتو ژبې معاصر لیکوال چې لکه لمر روښانه ځلېږي، نظر درلود ، ټوله شپه به مې لیکنه وکړه، خو پاڼې به مې وشکولې، مګر صبا(سهار) به مې بېرته ټولولې. همدارنګه د نړۍ ستر لیکوال (لف تولستوي) خپل نامتو اثر ((جګړه او سوله)) کابو شل واره ولیکه.

بالزاک ( ) چې د آلمان هېواد پیاوړی لیکوال و ، د لیکوال کېدو په لاره کې یې ډېرې سختۍ لیدلې دي، نوموړی په خپل یوه اثر چې داستاني بڼه لري او په فارسي ژبه ژباړل شوی او ((دختر زرین چشم))نومېږي؛ لیکي: ((دوه شیان له مورږ سره په لیکوال کېدو کې ډېره مرسته کوي، صبر او دوامداره کار، بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترتيب او نظم... کـه مـوږ غـواړو پـه رښـتني معنـا ليکـوال شـو او پـه دغـه خونـد وپـوهېږو لازمـه ده ( هره ورځ، پـه ډېر صـبر او ښـه ترتيب سـره ليکنـه وکـړو. ) ) (۲ : )

د ايران هېواد پياوړی محقق او ليکوال علي دواني پدغـه برخه کـې وايـي:

(( په ليکنه کې له صبر سره سره يوې موضوع ته پاملرنه او په هغه کې ښه فکر کول ضرور دي؛ له بلې خوا بايد د ليکنې مضمون مو دومره ښکلی او غوره انتخاب کړو ، چې خلک ورته پاملرنه وکړي او ويې لولي. ) )

(۱۷: )

۲۲:- (فصاحت، بلاغت، صراحت، ابتکار او...) بايد پـه ليکنـه کـې پـه نظر کې ونيول شي. تخليقي او تحقيقي ادب دواړه بايد د ښکاره (عنوان او مضمون) درلودونکي وي، که مضمون له مخکې موجود نه وي هره ليکنه، چې وي کمزورې به وي؛ آن په شعر کې ((نوی مضمون)) زموږه ليکنه پياوړي کوي، که څه هم شعر د انسان د ژوند احساس خو رانغاړي، خو مسلکي او تحقيقي ليکنې ژوندي او تحقيقي مضمون ته اړه لري.

۲۳:- ذوق: د ليکنـې لپـاره ((ذوق)) ((مينـه)) ډېـر ضـروري دي؛ ((ذوق محـرک قـوت دی، چـې هـدف تـه د رسـيدو لارې مـوږ تـه آواروي؛ ذوق د هيلـو او اميـدونو غـوټۍ زرغـونوي او مـوږ آرام تـه نـه پرېـږدي، احسـاس راکـې روزي او اندورني خوځښتونه (تحرکات) ژوندي ساتي؛ که مـوږ وغـواړو د غـه خوځښـتونو ته سازمان ورکړو. برياليتوبونـه بـه زمـوږ دروازې وټکـوي. ذوق او شـور پـه انسـان کې په طبيعي او مصنوعي ډول شتون لـري، ښـه داده چې د غـه ملائيکـه وروزو. ) )

(۲۸: ۱۲۴-۱۲۵)

(اروا پوه –شاتو بريان وايي: په هر سر کې يو شور يا ذوق شته، خوشبخته خلک دغه شور پيدا کولای شي. )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۴**:- احساس؛ متحرکه نيرو او قوت دی، چې موږ کار ته هڅوي. لشک کولافسکي (۱۹۳۰) چې دلهستان دی، د شلمي پېړۍ يو پياوړی متفکر دی، ډېرې ليکنې او څېړنې يې کړې دي؛ نوموړي د ليکنې او څېړنې په کار کې (احساس) ته ډېر ارزښت ورکوي او وايي: ((احساس او احساس درلودل نه يوازې موږ په ټولنيز ژوند کې له انفراديت څخه ژغوري، بلکې موږ ته انرژي او قوت هم راکوي او د څېړنې په کار کې خو دوه ګټې موږ ته لري او هغه دا چې يو مو پوره تفکر کولو ته هڅوي او بل دا چې د دندې (تحقيق) په قوي کولو او مسلکې کولو کې راسره مرسته کوي.))
(۲۲: ۹۲)

همدارنګه د پښتو ژبې پياوړی ليکوال، متفکر او نوښتګر شاعر خدای بښلی ګل پاچا الفت د شعر په ژبه د لوړو کارونو د ډېر ښه ترسره کولو لپاره ((احساس)) ډېر اړين او حتمي طاقت ګڼي او وايي:

يو پټ غلی احساس دی چې آرام مې نه پرېږدي
په اور مې سوزوي لکه چې خام مې نه پرېږدي .... )(۴: )

احساس درلودل، کارونو ته د هڅونې يو ښه او غوره وسيله کېدای شي.

**۲۵**:- حافظه؛ د ليکوال او ليکوالۍ لپاره د حافظې پياوړتيا ډېره اړينه ده، ويل کېږي انسان که په هرسن و سال (کلونو) کې وي؛ کولای شي د دوامداره رسک (تمرين) او (ژورتيا) له لارې خپله حافظه پياوړې کړې. پر حافظه واک درلودل د تفکر لړۍ پياوړې کوي او د ليکنې پرمهال د اصلي مطلب تل ته ورننوځي او هغه اصلي کليدي ټکی کولای شي، د قلم پر وسيله په ښه ډول وليکي.

د حافظې د پياوړتيا په برخه کې چې کومې نوي څېړنې شوي دي، راښيي، چې موږ په تېره (ليکوال) څنګه کولای شو خپله حافظه پياوړې کړو.

پاسکال حافظه (memory) داسې تعريفوي: ((د مغز يوه برخه ده، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه مغـز څخـه د بانـدې شـيانو سـره د تمـاس پـه صـورت کـې هغـه خپلـوي. ((memoriction)) د شـيانو هغـه مهـال ښـه تـر سـره کېـږي، چـې خپلـه حافظـه (زيرمتون) فعـال وساتو؛ د حـافظې فعاليت د وړ تمرينونو لـه لارې انسـجام پيـدا کوي.

هـوش او حافظـه سـره نـږدې شـيان دي؛ لـه فکـر او معـزو څخـه عبـارت دي. هـوش حـافظې تـه لاره اواروي څـو د بانـدې شـيانو، آوازونـو او نـورو ښـکارندو (پديـدو) پـه برخـه کـې فکـر وکـړو او بيـا يـې د مغـز د محرکـه او محـافظوي قـوت (حافظې) په قوت خپل کړو.

د حافظې د پياوړتيا لپاره لازمه ده له ځينو تکنيکونو څخه کار واخلو:

الف: ټول خلک حافظه لري، چې کـار تـه د ځيرتيـا (دقت) لـه امله پيـاوړې کېږي.

ب: حافظه د مغز لاس لاندې ده، مغز د تحرک له امله وړتيا ترلاسه کوي.

ج: مغز لکه نورو اندامونو په څېر عمل کوي، د مغزو د پياوړي کولو لپاره هم لازمه ده، ځينې تمرينونه وشي.

د: ښـه تکنيکونـه او ښـه عمـل، ښـه حافظـه رامنځتـه کـولای شـي. د مغـز او حـافظې د فعـال او قـوي سـاتلو لپـاره پاسـکال، ولتـر، ريـوارول، افلاتـون، ژرژدو هامل او پلاشن ډېر نظرونه ورکړي،

بله مهمه خبره داده، چـې لـه مطـالعې يـو سـاعت وروسـته، بيـا پنځـه او اتـه ساعته وروسته لومړی موضوع تکرار کړو.)) (۲۴: ۳۱، ۳۲، ۳۳)

۲۲:- نوښـت (ابتکـار): د الفـاظو د اداء کولـو طـرز نويـوالي تـه نوښـت يـا ابتکار وايي.

نوښت د تخليـق قـوت زيـاتوي؛ د الفـاظو د وړانـدې کولـو لارې-چارې پـه ټولو متونو، خو په ادبي او هنري متونو کې عمده رول لرلی شي، نوښت (ابتکار) نـه يـوازې پـه الفـاظو پـورې اړه لـري، بلکـې پـه مضـمون پـورې هـم مربـوطيږي. کـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال د نوښت هڅه ونه کړي، نو پرمختګ يې ناشونی دی؛ دغه پرمختګ پرله پسې کار غواړي؛ په څېړنيزو يا تخليقي کارونو کې نوښت، د کار محصول زياتوي، هغه وخت به مو په ليکوالۍ کې نوښت تر سره کړی وي، چې باهدفه او مسلکي کار وکړو؛ تخصصي او مسلکي هڅې د کاميابۍ پراخه لارې او ګودرې راپه ګوتو کوي، په ځانګړي ډول ادبي او تحقيقي کارونه ډېره پوهه، مطالعه، لوړ تخيل او مضمون غواړي.

مضمون او شکل (جوله او بڼه) هغه مهال غني کېدلی شي، چې ليکوال پدغه برخه کې ژور مسلکي تخيل او فکر وکړي، نوې بڼه او نوی مضمون ومومي. کاظم خان شيدا وايي:

مضمون د شعر لکه پيکر دی
رنګين الفاظ يې رخت و زيور دی
ورته ضرور دي دا دواړه څېزه
مضمون که هر څو دلرباتر دی (۱۹:   )

د نوی مضمون موندل سره له دې، چې زموږ وخت اخلي، زموږ خوبونه هم اخلي. د خوشحال خان عليه الرحمة په وينا (ښه لفظ) او (ښه مضمون) لټول کېږي؛ لکه:

لټې په لټې وبله اوړم تر صباحه
د ښه لفظ د ښه مضمون په اتصال (۱۰:   )

۲۷:- تخيل؛ د انسان ملګرى معنوي قوت دی، له ترخه مادي ژوند څخه د تېښتې په خاطر هغه قوت او طاقت دی، چې له ذهن څخه تومنه اخلي. خيال او فکر د ژوند په پراخه ډګرونو کې د(انځورکارۍ يا تصوير جوړولو) يو پراخه فصل پرانيزي. د ژوند ټول تصويرونه ا انسان د خيال او فکر محصول وي. اوسني انساني، تخنيکي ژوند د خيال له برکته رامنځته شوی دی. ټولې انساني برياوې د هغو د خيال او عقل د امتزاج (يو ځای کېدو) لړۍ ګڼل کېږي. لکه هر شعر، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر د مخیله قوت وریښمین تارونه جوړوي، مهندسي نقشې هم د انجینر د تخیل زیبنده دي، لیکوالي هم پراخه تخیل او تفکر پواسطه پیاوړتیا پیدا کوي. خیال، وهم او ډار نه دی، بلکې د تفکر رنګونه دي، هغه رنګونه، چې د ټولنيز ژوند تراونو ته ښکلا وربښي.

په پښتو، انګلیسي(۲۰۱۰ Pashto, English Directory) کې راځي: ((تخیل magination یا Fancy) هغه قوت دی، چې ادبي پیدیې ښکلي کوي.)) (۸: ۱۰۴) وایې چې دا قوت د ابتکار تومنه جوړوي، څومره چې دا قوت پیاوړی وي، هومره ابتکار هم ژر رامنځته کېږي او د ادبي اثر لپاره نوی شکل او مضمون برابرېږي.

**۲۸**:- مناسب ځای(خلوت)؛ لیکوال د لیکنې پر مهال هوسا او آرامه ځای ته اړتیا لري، ځکه د تفکر قوت د آرامۍ پر مهال پوره غوړېږي؛ څومره چې یو لیکوال غواړي مسلکي لیکنه وکړي، د نورو مادي او معنوي اړتیاوو تر څنګ مناسب ځای ته ضرورت لري. د انسان د تفکر قوت د پیاوړي تمرکز له لارې پراختیا پیدا کوي او تمرکز هغه وخت کېدای شي، چې د تفکر لپاره مناسب ځای موجود وي.

لیکوال او شاعر د خلوت پرمهال، ځانته دویم محیط( تفکري چاپیریال) جوړوي، چې همدغه چاپېریال شاعر او لیکوال په غېږ کې اخلي، الاهو او اللو ورته وایې او یا عاطفي استر کې یې رانغاړي؛ په مقابل کې شاعر او لیکوال د خپل ارضا شوي او یا تسکین شوي طبعیت له امله شعر وایې او په ښه ډول لیکنه کوي؛ هغه لیکنه پیاوړې او هر اخېزه وي، چې لیکوال په (مناسب ځای کې په پوره آرامۍ او بشپړ نورمال احساس او هوش سره رامنځته کړې وي.)

نیومن (Niumen)؛ باور درلود کله چې لیکوال د آرامۍ احساس وکړ، فکر له پلوه د پیاوړتیا واکمني پیدا کوي، دغه واکمني د (تفکر له لارې له الفاظو سره تړاو پیدا کوي، له همدې امله ښې جملې او عبارتونه اوبدلی شي.)

نوموړی باور درلود: ((تفکر او خبرې یو له بله نه جلاکېدونکې توکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر او خبرې د يو واحد شي برخي ګڼل کېږي، سبک هغه فکري شتمني ده، چې د ژبې په وسيله څرګندېږي. هغه فکري يون پياوړی او شايسته هار جوړولای شي.

چې په ارامه فضا کې د تفکر په قوت د الفاظو له پيوستون څخه رامنځته شي؛ ليکوال هغه وخت برلاسی بلل کېږي، چې د يو شي د ليکلو پر مهال پر کلمو او وينګونو واکمني ولري، دغه واکمني د خلوت او مناسب ځای غوښتنه کوي. ))

۲۹:- تفريح: مناسب ځای که ليکوال ته د ښه تفکر کولو لاري چارې برابرو، نو له هغه وروسته ((تفريح Relaxation) هم د ليکوال او شاعر لپاره ضروري دی. پر يوه وخت د ډېرو شيانو زده کړه ښه نه ده. پروفيسور باطن شاه (صافی) له ليکلو، لوست او مطالعې وروسته، تفريح او آرامي د ليکوال لپاره لازمي ګڼي او وايي پر يوه موضوع د تفکر کولو لپاره ښه ځای او له هغه وروسته ساه اخيستل او تفريح اړين کار ګڼل کېږي. هغه زياتوي: (( پر يو وخت ډېر شيان نه زده کېږي او حافظه کې ځای نه نيسي، هغه کسان چې په يو ځل د ډېرو موضوعاتو يادول غواړي، په پای کې هېڅ شی هم نشي يادولای، تر ډېرې زده کړې او کار وروسته تفريح کول د کار ګټورې برخې جوړوي... د تفريح لپاره ځينې مقررې داسې په ګوتو کوي:

۱: د تفريح وخت، د کار وخت په سمه توګه ويشل په کار دي.
۲: غوره به وي، چې د يوې اوږدې تفريح پر ځای څو وړې تفريح ګانې وشي.
۳: يوه پنځه دقيقه يي تفريح تر هرو (۳۰) او (۴۰) د قيقو کار او مطالعې وروسته ګټوره وي.
۴: تر يو نيم يا دوه ساعته کار وروسته په کار ده، چې يوه اوږده تفريح وشي او ځان آرام او د کار له زور څخه ځان وژغوري.
۵: د تفريح وخت مخکې وټاکئ او بيا هغه په خپل وخت پوره عملي کړئ.

تجربو ښوولې ده، دوه ډلې (بزګرو کاريګرو او ليکوالان) ډېر د هڼوکو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دردونو گرفتاريږي؛ تل د ښځو او ملا هډوکو له دردونو شکايت کوي او ددې کار لامل د مناسب ځای، ميزو څوکيو نه درلودل و يا لازمه تفريح نه کول دي.

۳۰:- پاکه ليکنه کول؛ کله چې ليکنه کوو ، لازمه ده ، د خپل کار ميز او ځای پاک وساتو ؛ د کار ميز او يا ځای داسې تنظيم کړو ، چې له ترکار لاندې موضوع پرته نور کتابونه، مواد او مدارک هلته نه وي؛ له دې سره سره کله چې ليکوال څه ليکي بايد وضاحت ولري او ددې ترڅنګ بايد خپله ليکنه پاکه او په ځرګندو الفاظو سره وکړي او دوباره يې په وار ، وار ووايي.

که چېرې يو ليکوال غواړي يو کتاب تآليف کړي، لازمه ده، لومړی خپل هدف وټاکي ، هغه کره کړي، ليکنه وربانديې پيل کړي او له هغه وروسته د خپلې ليکنې هره کلمه، هره جمله، پاراګراف او مقاله په ښکاره تورو وليکي او ددې لپاره چې د غه ليکنه مو لاباهدفه شوې وي، په وار، وار يې ولولي.

امريکائي معاصر ليکوال ((آرنست هيمنګوي))

د کاميابه ليکوال د نورو صفتونو تر څنګ، پاکه ليکنه کول او نظم د ليکوالۍ په کار کې اړين بريا ليتوب ګڼي؛ نوموړی څرګندوي: ((که غواړو يوه کلمه هم وليکو ، بايد په واضحو تورو يې وليکو ؛ خپله پوهه نوروته د ښکاره وينګونو له لارې لېږدولای شو ؛ لکه چې په مخامخ خبرو کولو کې د خبرو وضاحت اهميت لري او په ليکنه کې څرګندتيا څو واره د اهميت وړ خبره ده.

هر څه، چې ليکو يو پيغام لري؛ پيغام د ګوندونو ، سازمانونو ، خلکو ، ټولنيزو ټولونو او افرادو د زړه وينا او مرام دی. نو لازمه ده (د زړونو غږ) په مجهولو تورو او کلمو کې ونه نغاړو ؛ په رسا ډول يې وليکو ، بيا يې په وار ، وار له سترګو تېره کړو او که غواړو نور خلک زموږ په ليکنو او غوښتنو پوه شي. د تورو له پاکۍ او متانت سره سره صميميت او صراحت هم ولري.))

پاکي د نظافت (باطني او ظاهري) ښکلا علمبرداره کلتور او فرهنګ دی؛ د لکينې په دينا کې هم اهميت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱-۵- څنګه یې باید ولیکو؟

رسا او ښکاره لیکنه کول، د لیکوال د کامیابۍ لارې برابروي؛ په لیکنه کې له ابهامه ځان ساتل لیکنه او د لیکنې مسلک له حتمي او احتمالي مرګه ژغورل دي.

هره علمي، ادبي او څېړنیزه لیکنه یوه موخه (هدف) لري؛ د موخې څرګندول او بیا خلکو ته فکر ورکول که په څرګندو تورو کې وي، کامیابي ده. د دغې کامیابۍ د پایښت لپاره لازمه ګڼل کېږي لیکوال ځینې مسلکي مهارتونه ترلاسه کړي او لاندې ټکي هم په پام کې ونیسي:

الف: کله چې لیکنه کوو، نه یوازې په خپله ژبه پوه شو، بلکې لازمه ده، د مورنۍ ژبې تر څنګ دري، اردو او عربي ژبو هم وپوهېږو؛ که پوره وربانديې نه پوهېږو په عمومي ګرامري قاعدو پوهېدل خو ضروري دي.

ب: تر هر څه د مخه د خپلې ژبې (غږپوهنه، ګړپوهنه او غونډله پوهنه) باندې پوهېدل اړین دي. دغه کار موږ ته واک راکوي، څو د نورو ژبو د ځانګړو تورو، ګړونو، کلمو، خپلواکو او ناخپلواکو مورفیمونو، غونډونو او جملو او نورو ځانګړنو په برخه کې آسانتیاوې رامنځته کړي. د نورو ژبو د زده کړې ګټورې لارې په نښه کول او خپلول د خپلې ژبې په قاعدو پوهېدل دي.

نن سبا زموږ په هېواد کې د ژبو په تېره د انګلیسي ژبې د زده کړې او عاملو لپاره په ډېرو ځایونو، آن کلیو او کوڅو کې کورسونه جوړ شوي، چې هغوی ته په انتقادي کتنې سره دومره ګټور کارونه خلکو او ځوانانو ته د انګلیسي ژبې د زده کړې په برخه کې نشي ترسره کولای، دا ځکه لومړی خو د هغو کورسونو ډېر استادان مسلکي نه دي او بل هغسې چې لازمه ده، د استادۍ مهارتونه هم نه لري. د دغو کورسونو شاګردان هم مخکې له دې، چې د خپلو ژبو په قواعدو پوه شي، د نورو او بیا د انګلیسي ژبې په زده کړه پیل کوي، چې په ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلونو کې بله ژبه نشي زده کولای.

ج: د پښتو ژبې د ليکوال لپاره لازمه ده، په فارسي، دري او عربي ژبو تر ډېره بريده پوه شي؛ عربي د دين، قرآن او قراني پوهې او باورونو لپاره او همدا رنګه زموږ د ژبو د ګرامرونو استخراج هم تر ډېره بريده تري شوی دی او زموږ د ژبې اکثريت الفباء هم له عربي ژبې دي، ښه بېلګه يې (قاعده بغدادي) ده، فارسي دري خو زموږ دفتري او ديواني ژبه ده او کلتور تري اغېزمن دی؛ د ډېرو فارسي کلمو کارونه زموم په ورځينې، پښتو بازاري ګړدود کې دود لري. څو توري(چ،پ، ګ، ژ) هم سره شريک دي.

دا سې ښکاري، چې زموږ او زموږ د ژبې تري نه رغېږي؛ هغه متل چې:

((تري نه دې رغېږي، نو شل ځله ورته سلام اچوه.))

د: که د نورو ژبو کلمې مو په ژبه کې کارولې(مفرده او جمعه) ښه بايد د خپلې ژبې د تورو د تلفظ تر اغېز لاندې يې وکارو؛ کله: بانډ( Banḍ) باند (Band) ډايرکت( ḍ ayrict ) دايرکت، موټر( moṭ ar) موتر(motar) ټيچر (ṭ racher) تيچر او ډېر نور شمير انګليسي کلمې شته چې د دري ژبې تلفظ تر اغېز لاندې يې ونه وايو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱–۶– د لومړي څپرکي لنډيز:

- د بشريت او سنی مدني لوړتيا د هغو د نيک او عالي فکر محصول ده.
- د انسان د فکر عالي ډول د ليکوالی او قلم له برکته برجسته کېږي.
- هغه هېواد او خلک متمدن ګڼل کېږي، چې په خپله تولنه او فرهنګ پوري اړوند ويارونه د قلم په واسطه خوندي کړي.
- د فرهنګي غنا او بډاينې د نورو عواملو او موادو تر څنګ (ژبه) د ېره مهمه وسيله ده.
- د هر ملت ژبه په دري برخو (لغت پوهنې، نظم او نثر) کالبونو کې وده او بشپړتيا پيدا کوي او دغه دري برخې د نوموړی ملت ادبيات جوړوي.
- وييونه (لغتونه)؛ د شيانو او اشخاصو نومونه او هويتونه ټاکي؛ د شيانو، ځايونو او اشخاصو د نومونو ټاکل د نا خود اګا و خود اګا (بې هوښی او هوښياری) قرارداد په لړ کې رامنځته کېږي.
- نثر؛ د مرغلرو او يا کلمو پېيل دي، چې د بشريت تولي غوښتنې، پوښتنې او ټولنيزې اړتياوې د خبرو (بې نظمه) کلمو په تار کې اميلوي.
- نظم؛ د کلمو او وينګونو (تلفظونو) موزونه ټولګه (مجموعه) ده، چې د يو چا او يو قوم په ژبه کې رامنځته کېږي، يعنې په مجموعي ډول (د کلمو منثوره او منظومه شتمنې د يو قوم ادبيات جوړوي )
- د ليکوالی ګټه داده، چې په فرد او ټولنې پورې اړوندې مسالې له ورکېدو ژغوري، کلتوري پانګه خوندي کوي.
- .
- د قلم او ليکنې له برکته د تولنې (ماضي، حال او راتلونکي) خوندي کېږي.
- ليکوال او ليکوالي او سمهال ته له راتلونکي سره پيوند او تړاو ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نسلونو ته د زماني پيوستون پر منطق د ديالکتيکي غوټه ورکول کېږي.

- مسلمانانو د قلم او کتابت له برکته الهي کلام د کاغذ پر مخ خوندي کړ؛ د اسلام په لومړيو کې د ليکوالو مسلمانانو شمېر (۱۷) تنو ته رسيده.
- الله(ج) د قلم او ليکنې ستروالي او عظمت ته اشاره کوي او وايي: (ن- والقلم وما يسطرون...... )
- د قلم او علم اهميت لا هغه وخت په ډاګه شو، چې الله(ج) پر خپل معظم استازي حضرت محمد(ص) د علم زيری وکړ (الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ(۴)عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ(العلق ۵) ...
- ليکوالي د انسان د فکر او ژبې حکيمانه پنځونه ده، چې د قلم په واسطه شکل پيدا کوي او د هغه په وسيله د بشر او بشري تولنې هويت خوندي کېږي، د تمدن او پرمختګ لوری خپلوي.
- ليکوالي يو غوره فن دی، چې د منظم تمرين له لارې لا ښه هويت پيدا کوي.
- ليکوالي يو فني عمل دی، چې کلتوري هڅو او تفکر ته اړتيا لري او د بشر ټولو معلوماتو او پوهنو ته علم وايي.
- ليکوالي د انساني مدني هويت لومړی قدم او د تمدن زرين اصل دی.
- د بشريت ټول وياړونه په قلم او ليکوالۍ پورې اړه لري.
- ليکوالي د انسان يو خلاق فن دی.
- ليکوالي د ممارثت او تمرين له لارې پخېږي، ځکه نو ((فن)) ګڼل کېږي.
- د ليکنې هر ډول او صنف د فن په دايرهٔ کې راتلای شي، خو د يو مضمون په برخه کې فکر کول او چې کله په هنري پيرايه سنبال بيا هنرتري جوړېږي.
- .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- فن د انسان د بدني او فزیکي غړو په وسیله شکل مومي.
- څومره چې په یوه کسب او کار کې په منطقي ډول او پوهې سره مهارت ترلاسه کوو، په هماغه اندازه مو ((فني پوه)) زیاتیږي.
- د یو ((فني کار)) د تر سره کولو لپاره (فکر او د بدن غړي لکه: لاسونه، ملا، پښې او ...) په کار لویږي.
- فن؛ د انسان د فکر او بدن د غړو ګډه بریا ده، چې عمده رول په کې د بدن اعضاء لري او د فکر په حکم خو له فکره د باندې شکل مومي.
- فن د تمرین او تکرار په لړ کې هویت مومي. فن د طبعیت او ژوندي موجود (انسان) د بدن د غړو د بیا بیا تماس له امله هویت مومي او پخېږي.
- فن ته آرت ویل کېږي؛فن جمع یې فنون،صنعت د تکنیکو وړتیا او قاعدو مجموعه ده.
- په فن کې مواد او شیان د انسان د غړو په واسطه تغیر شکل مومي او خام مواد په پخو بدلیږي.
- د فن او هنر بېلول ستونزور کار دی، خو ګډول یې هم انصاف نه دی؛ فن او هنر دواړه له فکر او اندیشې او تعقل څخه بې نیازه نه دي، مګر فن د فزیکي وړتیا له لارې خپلیږي.
- هنر؛ فکري مهارت دی.(Skill) او (art) هم ورته ویل شوی.
- هنر فطري او غرزوي شتمني ده.
- هنر، د ټولنیز شعور یو ډول دی، چې د هنر په ټولو ډولونو (رسامۍ، مجسمه جوړونې، حکاکي، معمارۍ، موسیقي، خطاطي، نڅا او شعر) کې ځان په بېلابېلو ډولونو کې څرګند وي.
- هنر (hunar) نرم-فن-کمال، جوهر، کسب ته ویل کېږي.
- هنر (هـ،ن) پیشه، صنعت، فن، کار برجستګي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هنر د دراک ذهن او طبعيت د امتزاج په لړ کې هويت پيدا کوي.
- د ارسطو په نظر، د انسان پر ذهن د ماحول اغېزې د هنري مدرک او موادو مدلول په لاس راکوي، د ماحول اغېزې د احساس توليد کوي او د هنر خيال احياء کوي. او له هغه را وروسته د مهارت د ترلاسه کولو لپاره لار برابرېږي.
- .
- فن او ادب خصوصاً ((شعر)) د خپلو عصري تقاضاؤ هنداره وي.
- هنر او فن د واړه له فکر، انديښنې او تعقل څخه بې نيازه نه وي، ددې لپاره چې فکر يوه مساله درک نه کړي، نشي کيدای د فن يا هنر په توګه عملي تحقق ومومي.
- د علم او هنر ځای (فکر او ذهن) دی او د فن د ځرګندولو ځای د بدن غړي دي.
- علم، فن او هنر پر انسان د ماحول اغېزې کوي او د عقل، ذهن، خيال او عاطفې درک زيږنده دي؛ ليکوالي هم د انسان د لوړ فکر محصول ده.
- ماهرانه قلم چلونه او ليکوالي ددې لپاره غوره فن ګڼلای شو، چې د انسان د احساسي تعقل او شعور له ځانګړو سرچينو راټوکېږي، خو حيوانات دغه صلاحيت نه لري.
- هنر طبيعي سرچينې لري او فن مصنوعي او ددې خبرې دليل (الهامي او تمريني) شاعري هم کېدای شي.
- ليکوالي کسبي ښکارنده(پديده) ده، نه ميراثي.
- د ليکوالۍ يا ليکوال کېدو لپاره لازمه ده (ذوق، تمرين، مطالعې، پوهې او حرفوي پوهې او کار) ته اړتيا لېدل کېږي.
- .
- ليکوالي د انسان د علمي او تجربي ((ژوند محصول شوی فن)) دی، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې امله کسبي بهير دی، نه مورثي عمليه.
- ليکنه کول استعداد او پوهه غواړي، خو کسب کول يې تمرين ته اړتيا لري. او د انسان همېشنی هويت لوړوي؛ لکه بوټي او ګلان چې پرخې او اوبو ته اړتيا لري؛ د ليکنې او ليکوالۍ د مسلک پياوړتيا هم په کسب او تمرين پورې اړه لري.
- ليکوالي ماهران پوهه ده، چې د تمرين او کسب د سحر له لارې غنامندي ترلاسه کوي؛ ليکوالي کسبي پديده ده، چې د مهارت په سين کې د غوټو وهلو له لارې ښکلا ترلاسه کوي.
- .
- ليکنه په لومړۍ سر کې املاء ده؛ املاء په لغت کې مهلت ورکولو او ډکولو ته وايي او په اصطلاح کې خپلې يا د بل خبرې په صحيح ډول ليکل دي، که څوک له ځانه څه نشي ليکلای او د بل ليکنې له مخې څه ليکي دې ته املاء نه شو ويلای.
- ليکنه يوه اړتيا ده، بايد ليکوال پوه شي، چې دغه ليکنه د کومې اړتيا له مخې تر سره کېږي.
- ليکنه د ليکوال د فرهنګي درک له مخې هويت پيدا کوي.
- ليکنه د فورم (بڼې) او معنا له مخې ډېر ډولونه لري؛ هنري او څېړنيز نثرونه تر نورو غوره والی لري، ځکه (هر تخليق او تحقيق) يوه کلتوري او فرهنګي پنځونه ده.
- د تخليقي اثر په رامنځته کولو کې طبعيت او طبيعي ښکلاوې مناسب او ور محل او ځای ګڼل کېږي او د څېړنې لپاره د څېړنې بېلابېل ميتودونه په پام کې لرلای شو.
- څېړنيز کار لنډ مهاله کار نه دی؛ وخت او پلټنه غواړي، دغه پلټنه د لازمي او مسلکي پوهې پر اساس تر سره کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ذهني چمتوالی (آماده ګي) په لیکنه کې مهم رول لري، بلکې په ټولو ژوند چارو کې مهم اصل جوړوي؛ په تخلیقي او تحقیقي ډګرونو کې د تخیل او پلټنې مهارتونه لیکنه پیاوړې کوي.
- د تخلیق او تحقیق پر مهال لیکوال ته لازمه ده لومړی په عنوان ښاکلو فکر وکړي، بیا یې وټاکي، دغه کار د لیکنې لاره مشخصوي.
- چاپیریال (محیط) او محیطي مواد هغه اسانتیاوې برابروي، چې مورږ د څېړنې په کار کې پیاوړي کوي. دغه مواد له قلم، کمپیوټر، کتاب د څېړنې پرمهال ضروري دي.
- ذهني فاکتونه او مادي کار لوښي له مخکې برابرول، په موضوع کې د تمرکز او دقیقي لیکنې واک په مورږ کې پیاوړی کوي،آن د تخلیق اراده قوي کوي او د رنګین تخیل واکمني رابښي.
- درست او پر ځای وینګ (تلفظ) د لیکنې پر مهال اړین بریښي؛ د بېلګې په ډول: که مورږ وایو، دا الک ده، نو درسته نه ده. باید ووایو (دا هلک دی.)
- په لیکنه کې ګرامري قواعد او اصول په پام کې درلودل حمتي دي؛ په تېره (غړپوهنه، ګړپوهنه، غونډله پوهنه) د ګرامر عمده برخې دي، چې له لیکنه کې یې باید په پام کې ونیسو او لیکنه د ګرامري قواعدو په پام کې درلودلو وړ بستر دی.
- که څوک غواړي ښه لیکوال شي ورته لازمه ده، ډېره مطالعه وکړي او د سترو لیکوالو آثار او نظرې وپلټل شي د تخلیقي او تحقیقي نثر لیکوال ته ښايي دغه اصل ته ارزښت په دې کې دی، چې لیکوال ډېره مطالعه وکړي.
- له مطالعې وروسته د لیکنې په کار کې تمرین او بیا لیکنه د لیکوالۍ زرین بنسټ جوړوي. د لیکنې او لیکوالۍ دا څېرکې هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګينېدای شي، چې د ليکنې ليکوال بيا بيا او په وار، وار تمرين وکړي.

- صبر او حوصيله هم د ليکوال لپاره حتمي دي؛ ددې لپاره، چې ليکوال له الفاظو څخه علمي او ادبي مانې جوړوي او دغه مانې دايمي وي، نو خورا زياتې ظرافت کارۍ ته اړتيا لېدل کېږي.
- په ليکنه کې بايد (فصاحت، بلاغت، صراحت، ابتکار او ذوق) په نظر کې ونيول شي.
- تخليقي او تحقيقي ادب دواړه بايد د ښکاره عنوان او مضمون درلودونکي وي؛ که د ليکنې لپاره عنوان او مضمون(تازه مضمون) ونه لرو، نو ليکنه به هرومرو کمزوري وي.
- د ليکنې لپاره(( ذوق او مينه )) ډېره ضروري خبره ده.
- ذوق محرکه قوه ده، چې هدفه ته د رسيدلو لارې موږ ته آواروي. ذوق د چا خبره د هيلو او اميدونو غوټې زرغونوي، احساس راکې روزي او په موږ کې اندروني خوځښتونه ژوندي ساتي. ذوق او شور په انسان کې په طبيعي ډول شتون لري او په مصنوعي ډول هم ورکې روزل کېږي.
- احساس او د مسووليت احساس، متحرکه نيرو او قوت دی، چې موږ کار ته هڅوي.
- حافظه درلودل او حافظه جوړول د ليکوالۍ په کار کې مهم دي؛ پر حافظه تسلط درلودل د تفکر لړۍ پياوړي کول دي.
- نوښت، هم په ليکنه کې ضروري خبره ده، نوښت په شکل او معنا کې دليکنې نظام منظموي. که ليکوال په ليکنه کې نوښت ته لاس وانه اچوي، نو ليکنه يې پر ځای ټپ دريږي، ليکنه يې خوک نه خوښوي او يکنواخته يې بولي.
- تخيل د ليکوالۍ او په تېره ادبي او هنري ليکنو ډېر په کارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مناسب ځای، د لکيوال او ليکوالۍ کار لپاره ځکه ضروري دی، چې د تفکر قوت د مناسب ځای او آرامۍ له برکته غوړېږي، په يوه موضوع کې د ښه تفکر کولو لپاره لازمه ده، مناسب ځای کې ليکنه وکړو، څو په آرامو اعصابو تفکر وکړو او په ليکنه کې د اړوندې موضوع په هکله ښه معلومات وړاندې کړو. د نيومن په وينا کله چې ليکوال د آرامۍ احساس وکړي، د فکر له پلوه د پياوړتيا واکمني پيدا کوي.
- تفريح،د ليکوالۍ(ليکنې) په منځ او يا له هغه وروسته حتمي ده. تر ليکنې،کره او زده کړې، شاته تفريح ته موږ اړتيا پيدا کوو ؛که وغواړو ډېره ليکنه او کار وکړو لازمه ده، په منځ منځ کې يې وقفه يا دمه ونيسو ؛ تر هر(۳۰ او ۴۰ ) دقيقو وروسته پنځه دقيقې نوې ساه اخيستل ښه دي. او له دوه، درې ساعته ليکنې او کار شاته لويه دمه هم موږ ته ګټه رسوي.که د تفريح او دمې کولو وخت له ليکنې مخکې وټاکو ښه به وي.
- پاکه ليکنه او د ليکنې پر مهال ښه انتظام له موږ سره د ليکنې په کار کې ډېره مرسته کولای شي.
- رسا او ښکاره ليکنه کول د ليکوال موفقيت او د ليکنې پوخوالی ښيي. په ليکنه کې له ابهامه ځان ساتل او ليکنه او ليکوال له حتمي مرګه ژغورل دي. هره علمي، ادبي او څېړنيزه ليکنه يوه موخه(هدف ) لري؛ موخې څرګندول او خلکو ته فکر ورکول. که په څرګندو تورو او کلمو کې وي د ليکنې او ليکوال د کاميابۍ ښوونه کوي.
- هر ليکوال ته ښايي په خپله ژبه پوه شي، پر ګرامري قواعدو پوهېدنه د ليکوال علميت او د ليکنې هويت لوړوي. که په بله ژبه هم ليکنه کوو، موږ ته بويه له قواعدو يې پوره خبرتيا ولرو.
- د نورو ژبو د زده کړې ګټورې لارې په ننبه کولو او خپلول د خپلې ژبې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاعدو (ګرامر) پوهېدل دي.

- د پښتو ژبې لیکوال ته لازمه ده، په فارسي، دري، عربي او نورو خارجي ژبو پوه وي؛ عربي د قران ژبه ده او الفبا مو هم ترې را اخیستې ده. او فارسي سره ګډې تړاو، کلتور او ګډې پولې لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱–۷– د لومړي څپرکي پوښتنې

۱:- ولې ليکوالي د بشري تمدن او فرهنګ نښه ګڼلای شو؟
۲:- د بشريت د فرهنګ او تمدن د بنسټ پياوړتيا د هغه ملت د څه شي نتيجه ګڼل کېږي؟
۳:- د هر ملت ژبه له څو برخو جوړه شوې ده؟
۴:- په يوه ژبه کې د نثر، نظم او ويېونو موجوديت د څه شي څرګندونه کوي؟
۵:- ژبه په عام او خاص ډول څنګه تعريفولای شئ؟۶- ليکوالۍ څه ګټه لري؟۷:- د ليکنې او د ليکوالۍ ګټه په څه کې ده؟
۱۰:- د ليکنې او ليکوالۍ له برکته څۀ شی هويت پيدا کوي؟
۱۱:- د ليکوالۍ د فن په واسطه څه شی خوندي کولای شو؟
۱۲:- ليکوال او ليکوالي په ټولنه کې کومو تړاوونو ته پيوند ورکولای شي؟
۱۳:- مسلمانانو د ليکوالۍ له برکته کوم شيان خوندي کړل او په لومړيو کې د ليکوالو مسلمانانو شمېر څو تنو ته رسيده؟
۱۴:- الله (ج) د قلم ستروالی څه ډول راپېژني؟
۱۵:- د قلم او علم فضليت او اهميت څه وخت لا روښانه شو؟
۱۶:- ليکوالي فن دي، که هنر؟
۱۷:- د ليکنې او فني ليکنې د لاښه کولو لپاره څه پکار دي؟
۱۸:- ليکوالي يو..................دی، چې.....................او ..................اړتيا لري.
۱۹:- ليکوالي..................لومړی قدم او د تمدن..............................دی.
۲۰:- د بشريت ټول وياړونه په..............او ...............پورې اړه لري.
۲۱:- ليکوالي د انسان يو خلاق فن دی؟ په څه معنا (!)
۲۲:- د ليکوالۍ فن څنګه پخېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴:- د ليکوالۍ او د هغه د بهير او اهميت په برخه کې فکر درلودل څه ګټه کېږي؟
۲۵:- فن د انسان د فزيکي که فکري عړو په وسيله شکل مومي؟
۲۶:- د ليکوالي په کار کې فني پوهه څنګه ترلاسه کولای شو؟
۲۷:- فن او هنر تعريفولای شئ؟
۲۸:- فن..............او .............په لړ کې هويت مومي.
۲۹:- فن ته............او جمع ته..........وايي.
۳۰:- په فن کې مواد او شيان د انسان د کوم شي په وسيله تغير شکل مومي؟
۳۱:- آيا فن او هنر سره بېلول انصاف دی، پوره دلايل وړاندې کړئ؟
۳۲:- د هنر يو جامع تعريف را واخلئ؟
۳۳:- هنر د ادراک......او ...... د امتزاج په صورت کې هويت پيدا کوي.
۳۴:- ارسطو د ((هنري مدرک او مُدل)) په برخه کې کوم نظر درلود؟
۳۵:-
۳۶:- ولې وايو، ليکوالي فن دی، ولې نه وايو چې هنر دی؟
۳۷:- ماهرانه قلم چلونه او ليکوالي د څه لپاره فن ګڼلای شو؟
۳۸:- د هنر او فن سرچينې له کوم ځايه وي، واضح يې کړئ؟
۳۹:- ليکوالي کوم وخت ماهرانه هويت پيدا کوي؟
۴۰:- که موږ و وايو، چې ليکوالي فن او مهارت، دغه فني مهارت د څه شي په وسيله بشپړېدای شي؟
۴۱:- ليکوالي ارثي پديده ده، که کسبي؟ په څرګنده توګه يې توضيح کړئ؟
۴۲:- ولې وايو، چې ليکوالي ماهرانه پوهه ده، توضيح يې کړئ؟
۴۳:- که وغواړو ښه او فني ليکنه وکړو، ددې کار لپاره څه لازم دي؟
۴۴:- ليکنه په لومړي سر کې څه ته ويل کېږي؟
۴۵:- آيا هر څوک، په يوه ځانګړې برخه کې، فني ليکنه کولای شي؟
۴۶:- ليکنه د بڼې (فورم) له مخې يو ډول ده، که مختلف شکلونه او بڼې لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۷**:- د تخليقي او تحقيقي ليکنو په برخه کې څومره پوهېږئ خپل معلومات وليکئ؟
**۴۸**:- د يو ليکوال سليم ذوق په تخليقي ليکنو کې ډېر رول لري او که په تحقيقي کې؟
**۴۹**:- چاپېريال (محيط) ليکوال ته کوم امکانات په لاس ورکوي. او د ليکنې په مهارت او بهير څه ډول اغېزه کوي؟
**۵۰**:- له مخکې د ليکنې په کار کې ذهني فاکتونه درلودل له ليکوال سره څه مرسته کوي؟
**۵۱**:- درست او پر ځای وينګ د ليکنې په کار کې ضروري دی او کنه؟
**۵۲**:- په کومو ليکنو د ګرامري قواعدو په پام کې درلودل ضروري خبره ده؟
**۵۳**:- که د ليکنې پرمهال د يو فونيم پر ځای بل وکارو او يا يو غږ(فونيم) د يوې لهجې ليکوال له پام وغورځوي، نو موږ به خپلې ژبې ته ګټه رسولې وي که تاوان؟
**۵۴**:- مطالعه کول د ليکنې په کار کې له ليکوال سره څه مرسته کولای شي؟
**۵۵**:- پښتو ژبه د نورو ، په تېره فارسي دري ژبې پر خلاف د ليکنې قواعد لري کنه او د ياګانو په برخه کې څه توپير لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱–۸– د لومړي څپرکي ماخذونه**

۱- قرآنکريم. سوره بقره
۲- ارسطو. ۱۹۴۷. فن شعر. (اتم چاپ). تهران: خيابان شهر. پيام چاپخانه.
۳- الفت، ګل پاچا. ۱۳۸۲. ليکوالي (املاء او انشاء) (دويم چاپ). پېښور: بورډ. ناصرباغ. رفعت کتابخانه.
۴- الفت، ګل پاچا. ۱۳۳۸کال. غوره اشعار. کابل: پښتو ټولنه .دژبو او ادبياتو څانګه.
۵- آپل کنت، آپل جون. ۱۳۸۸. روانشناسي براى همه. (څوارلسم چاپ). ايران: تهران. چاپ جماران.
۶- بالزاک. ۱۹۸۲. دختر زرين چشم. (ليکنه او بالزاک). (څلورم چاپ). ايران: تهران: قم. مرکزي چاپخانه.
۷- بابا. عبدالرحمن. ۱۳۹۱. ديوان (اتلسم چاپ). پېښور: اداره اشاعت سرحد.
۸- پښتو، انګليسي. ۱۳۸۸. قاموس (اول چاپ). کابل: د علومو اکاډمي. د پښتو څېړونو رياست.
۹- جاج. پښتون زوى، حبيب الله. ۱۳۹۱. کابل: کابل پوهنتون (مرکز)
۱۰- خوشحال. ۱۳۸۵. ديوان. (ديارلسم چاپ). پېښور: قصه خوانۍ.
۱۱- خويشکى. محمد صابر. ۱۳۹۰. پښتو فونولوژي- مورفولوژي. (دويم چاپ). کابل: د ساپي څېړونو مرکز.
۱۲- زاهد. ۱۳۸۵. پښتو – پښتو سيند. کابل: د علومو اکاډيمي. د نشراتو مرکز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- زغـم، احمد شـاه. ۱۳۸۷. د لیکـوالي لارې چـارې (ګستـسـنر) کابـل: کابـل پوهنتون. ادبیاتو پوهنځی. پښتو څانګه.
۱۴- زیار، دوکتور مجاوراحمد. ۱۳۷۲. پښتو پښویه. (لومړی چاپ). کابل: کابل پوهنتون نشراتو ریاست.
۱۵- زیار، دوکتور مجاوراحمد. ۱۳۸۲. لیکلاربود . پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۱۶- زیـور، دوکتـور زرغونـه. ۱۳۸۲. پښتـو نحوه. کابـل: کابـل پوهنتـون. د نشـراتو ریاست چاپ.
۱۷- دواني، علي. ۱۳۸۴. هنر نویسنده ګي ونامه نګاری. ایران: تهران: انتشارات کتاب. خیابان شهر.
۱۸- شاهین، سلمی. ۱۹۸۴. روهي سندرې. پېښور: پښتو اکاډمی. جي، ټي پریس. ۲۴۷ پرله پسې نمبر.
۱۹- شـیدا، کـاظم خـان. ۱۳۸۴. دیـوان. (حنیـف خلیـل سـریزه). پېښـور: دانـش خپرندویه ټولنه.
۲۰- شیرزاد، محمدآقا. ۱۳۹۰. لیکوالي. کابل: ښوونې او روزنې وزارت. تعلیمي نصاب.
۲۱- شینواری، حمزه. ۱۳۸۰. کلیات. کابل: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت. د بیهقي کتاب خپرولو ریاست.
۲۲- طایر، محمد نواز. ۱۹۷۸. روهي ادب (متقدمین). پېښور: پښتو اکاډمي. پرله پسې (   ) نمبر.
۲۳- عمید، حسن. ۱۳۸۱. قاموس. دویم ټوک (۲۵ چاپ). ایران: تهران. چاپخانه سپهر.
۲۴- قریب، عبدالکریم. ۱۳۸۲. ۵۷ درس برای تقویت حافظه. (شپږم چاپ). کابل: سعید د خپرونو مرکز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵- کارنگي، دل. ۱۳۸۱. رمز موفقيت. ايران: تهران. خيابان شهر.
۲۶- کولافسکي، شک. ۱۹۷۹. مقالات بزرگ. پيک فرهنگ. ايران: تهران. خيابان انقلاب. خرم شهر. انشارات طرح نو.
۲۷- مفتون، اشرف. ۱۹۷۸. ځريکي. پېښور: اکاډيمي. قصه خوانی.
۲۸- مهربان، ايرج. ۱۳۸۸. قدرت اراده. (چاپ دهم). ايران: تهران: خيابان انقلاب. چاپ شمشاد.
۲۹- فرخاری، محمد ياسين. ۱۳۸۷. درست بنويسيم. کابل: هنر و ادبيات افغانستان. انشارات سعيد.
۳۰- Rahimullah, Qazi. ۱۹۶۲. The modern Pashtu instractor. Peshawar University. Khyber Bazar.
۳۱- Foustar, Narman J. M Sfidman. ۱۹۸۱. Composition: A short Pice of writing.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم څپرکی

## ۲– د ليکوالۍ "ليکنې" فني خواوې

**پيليزه:**

ليکوالي په خپله فني فن او عملي کړنلاره ده؛ هغه ليکوال مسلکي او ليکوالي فني ګڼلای شو، چې ليکنه يې د حرفي په توګه منلي وي، په همدې کار پسې وي، پوهه يې ولري او شوق....

د ليکوال او ليکنې لپاره فني خواوې او اصول تاکل تصادفي او بايېزه خبره نه ده، بلکې ليکوال ته فني خواوې ور په ګوتو کول، ليکوال له اشتباه او خطاوو څخه راګرځول او منع کول دي او له بلې خوا د ليکوال د وخت نه ضايع کېدل او له خپل کاره ښه ثمره او ګټه پورته کول دي، ځکه ليکوال د فرهنګ ساتونکی دی.

که ليکوال په فني ډول ليکنه ونه کړي، وخت يې بې ځايه لګېږي، پوهه يې نورو ته نه لېږدول کېږي او د چا خبره په کار يې مينه نه ماتېږي او د مسؤليت د درکولو او غوره هدف لوري ترې ورکېږي.

پدې فصل کې هڅه کېږي، چې وار له وار اصول په ګوتو شي؛ هغه اصول چې ښوونه او حتی د ليکنې په برخه کې عملي لارې– چارې په ګوته کړي. په دې څپرکي کې له تيورک بحث سره سره عملي لارې او ګودرې هم په ښه کېږي.

د فني ليکنې لارې ليکوال ته دا په ګوته کوي، چې څنګه د ليکنې آسانه لارې غوره کړي؛ او په هنري نثر کې نوې ترکيبونه وکاروي، عنوانونه څنګه غوره کړي او په مجموع کې د نثر کارلو او ليکلو ښې چارې خپلې کړي. هنري نثر په لا خواږه او زړه راکښوونکي ډول وکاري او دغه اړتياوې په تعليمي توګه خپلې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲–۱– په لیکنه کې له تېروتنو ځان ساتل**

د اشتباه ګانو، خطاوو، ګناهونو، تېروتنو، ملامیتو او آن جنایاتو موجودیت په انساني ټولنیز نظام کې د پام، لمس، حس کېدو او درکېدلو وړ دي او له همدې امله حساب او محاسبه په دنیا او آخرت کې له انسان سره کېږي او دغه حساب او بخشش د انسان په حق کې ضروري دی. الله (ج) په خپل معتبر کلام، دریشمه سپاره، د (القارعة) سورت کې په څرګندو کلمو کې د مؤمن انسان او مسلمان سرې مسولیتونو او خطاو، ښېګڼو او نیکو ته د انصاف تله اېښې او خبر یې ورکړی دی، چې په زره ګناه نیول کېږي او په زره بخښل کېږي؛ لکه: ((فَمَنْ يعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيراً يرَهُ(۷) وَمَنْ يعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يرَهُ(الزلزلة/۸)) (د یو مثقال د یوې زرې په اندازه د خیر او بدۍ معامله له انسان سره کېږي.)

د ټولنیز ژوند په لویه دایرهٔ او د کائیناتو په ارته او پراخه لمنه کې د مسؤلیت بار، واک او اختیار یوازې د انسان په غاړه دی او دا نور ټول طبعیت او د هغه شتمنۍ په انسان پورې اړه لري، ځکه نو انسان د ځمکې د مخ واکمن او کله هم مجبور مخلوق ګڼل شوی دی.

کله چې انسان کار کوي، ورسره، ورسره ښايي چې اشتباه ګانې او خطاوې هم وکړي؛ په تېره د لیکنې په کار کې، چې یو فني عمل او مسلکي کړنلاره ده، لازمه ده، موږ په وار، وار ټکنې، دوه زړې او له ستونزو سره مخامخ شو، له همدې امله باید فني لارې خپلې کړو، لوی، لوی هدفونه او درسونه په مسلکي ډول رالنډ او آسانه کړو او په ښه او هوښیارانه توګه دغه کار ترسره کړو؛ له همدې امله د لیکنې په کار کې ضرور ده، چې لیکنه مسلکي کړو؛ له مسلکي لیکنې او لیکوالۍ څخه زموږ موخه (هدف) دا دی، چې د یو مسؤلیت ټولنیز درک له مخې خپلې ژبې او کلتور ته څه وروبښو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار هله امکان لري، چې ژوند دغه کارته وقف کړو ، هره ژبه د تخليق او تحقيق په لړ کې پياوړې کېږي. که وغواړو مسلکي ليکوالي وکړو لازمه ده لاندې ټکو ته پاملرنه وکړو:

۱:- تفکر کول- په مسلک فکر کول او مثبت عمل ته لاس ور اوږدول لازمي دي.

هر تخليق کوونکی د ټولنيز ژوند په اوږدو او د طبيعت په ارته غېږ کې يو نوښتګر، مبتکر او بديع انسان ګڼل کېږي، ورته بويه خپل سپېڅلی او رواکار (ليکنې) په فني ګانه سمبال او له بېځايه وخت تېرونې او خطاوو ځان وساتي؛ دغه کار هله ترسره کېږي، چې ليکنه يو مسلک او يو کسب وګڼي.

۲:- سواد؛ پوهه او سواد د ليکنې په کار کې حتمي دي؛ که ليکوال د خپل مسلک اړوند ډېره مطالعه ونه کړي، له طبيعت او ماحول څخه متاثره نه شي، نه تخليق کولای شي او نه هم تخقيق؛ دا دواړه اصله د ليکنې په کار کې حتمي او ضروري توکي دي.

که ليکوال غواړي هنري نثر وليکي او يا څېړنه وکړي، لازمه ده، له تکراري کلمو ځان وساتي، يعنې خپلواک او مقيد مورفيمونه او کلمې پر ځای وکاروي.

۳:- شرطيه توري؛ دغه توري په پښتو ژبه کې ډېر کارول کېږي، يعنې تکراري او بيا ،بيا کارول کېږي، چې تکرار يې ضرور نه دی. (۲۳: ۱۷)

د بديعي نثر ليکوال او محقق ته ښايي خپله ليکنه د دغو تورو له بيا ، بيا تکراره وساتي؛ لکه: (که، همدارنګه) محمود ډېردرس ولولي، نو کامیابه به شي. په پورته جمله کې ګورو ، چې نه يوازې (شرطيه) توري، بلکې صفت ته هم پدې جمله کې اړتيا نه ليدل کېږي؛ لکه: ( که محمود درس ولولي، کاميابه به شي. ) پدې جمله کې (به) د تاکيد او ټينګار لپاره راغلی، چې يوه لنډه، ساده او بشپړه جمله ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- ترښتي ضميرونه: - يا (چېرې، ترڅو چې، لکه څنګه چې، څو چې... ) ترښتي ارتباطي نومځري هم بايد پوره او پر ځای وکاروو، نو ليکوالي به مو د مسلکي کېدو لور ته نه وي روا کړي او د جنجال لور ته به مو خوځولي وي؛ لکه: ( که چېرې، ترڅو چې تاسو موږ کره رانه شئ، نو زه به همدا رنګه تر هغو د تاسو کره هېڅ در نه شم. ) بايد په لنډ ډول وليکو (څو تاسو موږ کره رانشئ، زه به هم درنشم. )

۵- اشاري (نغوتنومځري) او پوښتنيز (استفهامي) ضميرونه هم پر ځای کارول ورېږ خبره ده او کله نا کله يو مفهوم هم لري؛ لکه: ( که ته کله تر څو چې زيار ونه باسې، نو تر هغو پورې به بريالي نشئ! ) پورته جمله په وييکو (اداتو) پرسېدلي ده، ژر مفهوم هم ترې نه اخيستل کېږي، بايد لنډه او بامفهومه وليکل شي؛ لکه: (څو زيار ونه کاږې، بريالی به نه شئ. )

۶:- د (زه، ته، دی، دا، هغه، هغه، هغې او ... ) څوک (چا) پر ځای کارول حتمي دي؛ لکه: د ((تلل)) فعل په ناتېره (اوسمهال) او ماضي(تېرمهال) وختونو کې پرځای وکاروي او تصريفي بڼه يې په دواړو زمانو کې په پام کې ولري.

د لازمي او متعدي فعلونو په اوسني تعريف، ګردان او تصريفي لايحو کارولو هم پوه شي؛ د بېلګې په ډول (تلل) فعل په ناتېره او تېره زمانه کې:

| ناتېره(حال)زمانه | | تېره زمانه | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| زه ځم | موږ ځو | زه لاړم | موږ لاړو |
| ته ځې | تاسو ځئ | ته لاړې | تاسو لاړئ |
| دی ځي | دوی ځي | دی لاړ | دوی لاړل |
| دا ځي | دوی ځي | دا لاړه (له) | دوی لاړې (لې) |

په پورته جملو کې ګورو چې: (زه) لومړی شخص مفرد متکلم، (موږ) لومړي شخص جمع متکلم، (ته) دويم شخص، مفرد مخاطب، (تاسو) دويم شخص جمع مخاطب، (دی) درېيم شخص، مفرد غايب خو (مفرد مذکر غايب) او

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دوی) درېيم شخص (جمع غايب) او همدارنګه (دا) درېيم شخص مفرد مؤنث غايب، چې د درېيم شخص، جمع مذکر او مؤنث جمع په يو ډول راغلي دي.

د لومړی شخص (زه) (مفرد مذکر او مؤنث) لپاره فعلي خاتمه يا تصريفي لاحقه د (ام am)، د لومړی شخص جمع مذکر او مؤنث لپاره فعلي خاتمه د (و، o,wa) دويم شخص مفرد مذکر او مؤنث لپاره فعلي خاتمې د (ې) او دويم شخص جمع مذکر او مؤنث لپاره فعلي خاتمې(ئ) په توګه او د درېيم شخص مفرد مذکر (دی) لپاره فعلي خاتمه (ي)، د جمع لپاره يې(ي) او دغه راز درېيم شخص د مفرد مؤنث او جمع مؤنث لپاره تصريفي لاحقې د لنډې (ي) (i) په ډول راغلی دی.

همدارنګه (تلل) په ماضي زمانه کې دا ډول تصريف لري.

| مفرد | جمع |
|---|---|
| زه لاړم | موږ لاړو |
| ته لاړې | تاسو لاړئ |
| دی لاړ | دوی لاړل |
| دا لاړه | دوی لاړې (لې) |

په پورته جمله کې ګورو چې: د (زه) لومړی شخص مفرد مذکر او مؤنث، لومړی شخص جمع مذکر او مؤنث، دويم شخص مفرد مذکر او مؤنث، دويم شخص جمع مذکر او مؤنث، درېيم شخص مفرد مذکر، درېيم شخص جمع مذکر او درېيم شخص (دا) مفرد مؤنث او جمع مؤنث لپاره فعلي خاتمې د (ام، و ،ې، ئ، ə، ال،ه، ې، لې) په ډول راغلي دي. نو (تلل) په تېره او ناتېره زمانو کې (فعل او فاعل) لپاره تصريفيږي په لنډ ډول ويلای شو چې د:

| ناتېره زمانه کې فعلي خاتمې | په تېره زمانه کې فعلي خاتمې |
|---|---|
| زه لپاره ام(am) | زه لپاره ام(am) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| موږ - و (ow) | موږ - و (ow) |
| ته - ې (e) | ته - ې (e) |
| تاسو – ئ (Əy) | تاسو – ئ (Əy) |
| دی – ي (i) | دی |
| - Ə( څرګندهٔ) | |
| دوی – ي (i) | دوی |
| – ال (al) | |
| دا - ي (i) | دا - |
| ه (a) | |
| دوی - ي (i) | دوی |
| – ې (e) (۱۵: ) | |

۷:- ليکوال ته لازمه ده، ( د نوم او فعل په تصريف، لازمي، متعدي او حکمي متعدي ) افعالو ضميرونو، نومونو، صفتونو او قيدونو په ګردان وپوهېږي، څکه پښتو ژبه يوه تصريفي ژبه ده ( لازمي او متعدي ) لکه:

الف:- لازمي افعال په تېره او ناتېرو زمانو کې (فعل د فاعل لپاره ګردانېږي) يا مفعول ته اړتيا نه لري ؛ لکه:

زه مقاله ليکم موږ مقاله ليکو دی مقاله ليکي دوی مقاله ليکي

ته مقاله ليکې تاسو مقاله ليکئ دا مقاله ليکي دوی مقاله ليکي

ب:- متعدي افعال په ناتېره زمانه لکه د لازمي فعل او په تېره زمانه کې (فعل د مفعول) لپاره ګردانېږي. لکه: (ليکل)

تېره زمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| ما مقاله وليکله | موږ مقاله وليکله |
| تا مقاله وليکله | تاسو مقاله وليکله |
| ده مقاله وليکله | دوی مقاله وليکله |
| دي مقاله وليکله | دو مقاله وليکله |

په پورته جملو کې ګورو چې (وليکله) د (مقاله) لپاره چې مفعول دي، ګردانېږي. که ووايو چې (کتاب) نو بيا ليکو (ما کتاب وليکه، موږ کتاب وليکه) په هر صورت تر آخره (فعل د مفعول لپاره تصريفېږي يا ګردانېږي.) که د (مقاله) پر ځای (مقالې) هم وليکو مفعول ورسره بدلون مومي.

ج:- حکمي متعدي افعال، هېڅ تصريف نه لري؛ لکه: (نخل) فعل

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| ما ونخل | موږ ونخل |
| تا ونخل | تاسو ونخل |
| ده ونخل | دوی ونخل |
| دي ونخل | دوی ونخل (۳۵: ۷۹) |

يادونه: ټول فعلونه په حال زمانه کې د لازمي فعل تر قاعدې لاندې تصريفېږي، يعني (فعل د فاعل) لپاره ګردانېږي.

۱: لازمي فعل (په تېره او ناتېره زمانه) کې د فاعل لپاره ګردانېږي.

۲: متعدي افعال (په تېره او ناتېره زمانه) کې د لازمي فعل غوندې او په (تېره ماضي) زمانه کې د مفعول لپاره ګردانېږي يا تصريفېږي.

۳: حکمي متعدي فعلونه، په (حال) زمانه کې بيا هم د لازمي فعل تر قاعدې لاندې راځي او په ماضي زمانه کې هېڅ تصريف نه مني او مفعول ته اړتيا نه لري.

۸:- ځينې پښتنو چې فارسي دري ژبه وروسته يا په لوی عمر کې لږ و زياته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړې، ضميرونه او کومکي فعلونه درست نه شي ويلای، نو کېدای شي، د ليکنې پرمهال هم هغه تکرار کړي؛ لکه: د (من) (زه) پر ځای (ما) نو مځرى کاروي، چې دا ښکاره تېروتنه ده؛ ويناندان او د خپرنيزو رپوټونو ليکوال بايد دغه خبره په پوره ډول په پام کې ونيسي؛ لکه: (رفتن) پر ځای چې ووايي: من ميروم (د لومړي شخص مفرد مذکر يا مؤنث د ضمير پر ځای) د لومړي شخص جمع مذکر او مؤنث ضمير(ما) استعمالوي او فعلي خاتمې هم غلطي کاروي. (۲۱: ۱۱۲)

۹- ((په)) او ((پر)) او نورو سربلونو په کارولو کې زموږ د بېلابېلو حوزو پښتانه ليکوال اشتباه کوي، په تېره د مرکزي او شرقي خوزو پښتانه ډېر ځله زموږ په ويناوو او خبرو کې لا څه چې آن په رسنيو (تلويزنونو، راډيوگانو او ....) دغو خبرو ته د مسلکي خلکو له خوا هم توجه نه کېږي.

دا لا څه کوي، چې يو د بل پر وړاندې زموږ د ليکوالو بې پروايي، د ليکنې او ليکوالۍ په ډکر کې هم ستونزې راپيدا کوي؛ کوم شی چې زموږ له طبعي (طبعيت) سره سم نه و، آن د ليکوالۍ په ارت ډگر هم د هغه پروا نه ساتو.

(په) او (پر) په لوديځه حوزه کې پر ځای کارول کېږي؛ په لاندې جملو کې: زلمي د خپل پلار پر وړاندې خبرې وکړې.(زلمی برضد (عليه) پدر خود سخن گفت)، نو که زلمی د ادب له دايرې وتلی وي، هغه جمله درسته ده او که زلمی غواړي د پلار تر مخې څه ووايي، دا بيا بله خبره ده! بايد داسې ووايو: (زلمي د پلار تر مخې خبرې وکړې) زلمی در حضور پدر سخن (چيزی) گفت، چې پدې ډول هم ويلای شو: (زلمي د پلار په مخکې خبرې وکړي، پدې ډول به مو هم سمه جمله کارولې وې او هم به مو د ادب موارد د پلار په مخکې مراعات کړي وي.

يا: پردل پر کابل اوسي (پردل در اطراف کابل زنده گي می کند.) پردل په کابل کې اوسي. (پردل در کابل زنده گي می کند.)

که پردل د کابل پر شاه او خوا اوسي خو د (پر) کارول پر ځای دی او که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل منځ کې اوسي، نو د (په) استعمال پدې جمله کې ښه دی.(پښويه: ۸۷ )

۱۰:- د پردو کلمو له لاسي کاروني مخنيوي؛ په اوسني ژوند کې د بيلابيلو پرمختګونو تر څنګ لازمه ده، د ليکوالي په ډګر کې يو شمېر ډېرې کلمې له نورو ژبو او کلتورونو څخه راخپلې کړوي، خو داسې نه، چې خپله ژبه هېره کړو او يا ځان د ( چا خبره لوی وښيو ) او په لاسي ډول د خپلې ژبې کلمې لېرې کړو او پر ځای يې (اردو )،(فارسي )،(انګليسي ) او (عربي ) کلمې وکارو ؛ لکه: ډايرکټ ورشه، ولې نه وايو يا نه لکيو ؛ مخامخ ورشه !

۱۱:- دوه سره هم معنا کلمې په يوه جمله يا يوه ليکنه کې راوړل د جملې او ليکنې ښايست نه زياتوي. آن په تحقيقي او ادبي ليکنو کې هم دغه کار په زړه پروي نه دی، لکه: ( زما ارزو ، هيله او اميد دادی او زړه مې کېږي، چې نن که وشي ښار ته لاړ شم او غواړم، هيله لرم او زړه مې غواړي له ځينو او بعضي دوستانو سره وګورم. )

ښه، لنډه او په زړه پورې يې داسې ده: ( زما هيله داده، نن ښاره ته لاړ شم او هلته له ځينو دوستانو سره وګورم. )

۱۲:- له عربي ژبې راغلې کلمې د خپلو ژبو تر قاعدو لاندې وليکو. د ځينو خو خوښېږي چې غتې، غتې عربي کلمې ووايي او آن په ليکنه کې يې هم وکاروي.

زما مطلب دا دی، چې دغه کلمو څخه (الف او لام ) وغورځول شي ؛ لکه:

| عربي | پښتو |
| --- | --- |
| المنجد | مُنجد |
| البلخي | بلخي |
| العربي | عربي |
| المسعودي | مسعودي |

(۱۲: )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲-۲- څه ډول ليکنه وکړو؟

پخوانۍ ليکنې اوس نه خوښوي، دا ځکه خلک اوس د سهولت (آسانۍ) خواته درومي، مګر دا ددې معنا نه لري، چې د (آسانۍ) په پلمه هر اصل له منځه يوسو، بې له تشبې خدای مه کړه: ((کارغه د زرکې چم کاوه، خپل يې هم له ياده ووت.)) (۱۴: ۱۷)

پدې خبره ټينګار لازم دی، چې ووايو، ليکنه يو ډول اصول دي، چې د تمرين له لارې پياوړي کېږي او ښکلا مومي، خو دا ددې معنا نه لري، چې (ليکنه يوازې يو يا يو ډول ضوابط دي، چې ګواکې هېڅ تغير نه کوي. که داسې وای، نو د اسلام په لومړيو کې چې کومو مسلمانانو هغه ابتدائي ليکنې او راغونډونې کړې، دوباره بېرته پرمختګونه او انکشافات نه راتلل. يا بله بېلګه (فولکلوريک داستان، کيسې به له معاصر داستان او کيسې سره د شکل او معنا له پلوه څه توپير نه درلود.

يادونه: کومه قاعده چې آسانه ده او اوس ورته اهميت ورکول، کېږي، بايد ځينې توري(مقيد مورفيمونه) له نومونو دمخه او وروسته وليکل شي.

الف: استمراري ماضي او فعل سره جلا وليکل شي؛ لکه:

| نا درست | درست |
|---|---|
| لکوره | له کوره |
| لموره | له موره |
| لتاسره | له تاسره |
| لکتابه | له کتابه |
| پکورکې | په کورکې |
| پتاپه سې | په تا پسې |

| يا: نادرست | درست |
|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library



استمراري ماضي:

| | |
|---|---|
| ۱:- ما به پکور کې کار کولو. | ۱:- ما به په کور کې کار کاوه. |
| ۲:- ما بهره غرمه پلوړه تېروله. | ۲:- ما بـه هره غرمـه پـه لوړه تېروله |

(فاعل+ مفعول+ فعل)

ب:- او سنی ليکنه هم يو لړ اصول او منظم قواعد دي؛ د بېلګې پـه ډول اوس داسې ليکنه کوو، چې د ترکيب او جوړښت لـه پلوه آسانه وليکل شي؛ نـه يوازې په ليکنه کې، بلکې آسانه ليکنه لوستل کېږي هم؛ لاندې مثالونه:

| ناردست | درست |
|---|---|
| ما تې ويلی | ما ته يې ويلي |
| آسمانتې کتل | آسمان ته يې کتل |
| عليخان صادقته ليکل | علي خان صادق ته ليکل |

ج:- په پښتو ژبه کې له نيکمرغه ليکنه کول آسانه کار هم دی او هغه دا چې: (( هره ليکنه د درست وينګ (تلفظ ) له مخې بايد وشي، ښه تلفظ د ښې ليکنې زيری ورکوي. ښه تلفظ د ليکنې لارې اواروي او متن پـه ښـه ډول لوستل کېږي. ) ) (**۲۵** **۲۵**:)

پورته خبرې عمومي کليه ده، خو په پښتو ژبه کې ( د ښه تلفظ له مخې ليکنه د فصاحت او وضاحت لاره هم آواروي. )

د مثال پـه ډول يوازې (کې، کښې، کشې، کخې) تلفظ کېږي، خـو د مرکزي لهجې ويونکي او ليکونکي يې (کې ) او جنوب لويديزه لهجه کـې (کشې ) ، کښې او همدارنګه نورې بڼې لري. دا منو چې ليکنه او وينا سره توپير لري، خو اساسي خبره داده، چې (ليکنه) او (وينا ) سره څنګه نږدې کولای شو ؟

د ليکنې او وينا تر منځه تل توپير موجود وي، دا ځکه ډېر خلک غږيږي، خو ليکنه کولای نشي. ليکنه کول او ليکوالي مسلکي خبري دي، لکه ويناوې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې کول چې طبيعي او تلپاتې انساني بهير دی، ليکوالي يو مدني او مسلکي کار دی او ډېرو وختونو ته اړتيا لري، چې د (وينا او ليکنې) تر منځ توپير له منځه لاړ شي.

په وينا او خبرې کولو کې هېڅ مصنوعيت نشته، خو په ليکنه کې دغه مصنوعيت ډېر تر سترګو کېږي؛ لکه: ((الک)) چې ((هلک)) ليکو، سمبله، سنبله، کلپ، قلف او يا خو دا کلمه (اهميت) په (امنيت) وايو، چې ښېخې معنا د کلمې تغيروي؛ ما ته امنيت نه لري؛ پداسې حال کې چې بايد (ما ته اهميت نه لري) وليکو.

د:- په پښتو اوسني ليکنی بهير کې يو لړ کموني او زياتوني هم کېږي، چې ليکنی بهير شخصي، سمتي او سلقه وي خواته وړي؛ لکه: ډېر خلک فکر کوي، ډېری خلک فکر کوي. ډېر کا ربه وکړم، ډېری کار به وکړم. ځينې کلمې په مغيره يا صرفي صورت کې بدلون مومي او يو توري له لاسه ورکوي او يا هېڅ بدلون نه مومي؛ لکه پسه څري، پسه راوستل شو.

همدارنګه دا جملې (د کورونو خبره، د کور يو خبره، د شيدو خوند، د توکو (اداتو) په وسيله څرګنديږي، د توکيو (اداتو) چې د جاپان پلازمېنې سره توپير نه لري، په لوی لاس ليکل کېږي.

هـ:- د اوسني ليکدود په برخه کې بله غټه ستونزه د هر فونيم لپاره يو مشخص(ګرافيم) نه درلودل خورا زياته ستونزه رامنځته کوي، د واول تورو په معرفۍ کې داسې وايي چې: ((له واول پر ته کلمه نه تړل کېږي.)) (د الهام ژباړه....)

که پورته خبره ومنو نو داسې کلمې په پښتو او دري ژبو کې لرو، چې زموږ د رسم الخط له مخې (واول) ورکې نشته ؛ لکه: (بد) (ب او د) توري دي. چې د واول پورته معرفي کې نه راځي، ځکه خو له دوو تورو (ب او د) څخه د (بد) کلمه رغېدلې ده. مګر که په فونيمکي الفبې يې وليکو نو بيا پورته تعريف وربانديې صدق کوي؛ لکه:(bad) دلته ده ، چې وايو (کلمه د واول له موجوديته پرته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رغول کېږي.

د پښتو ژبې استاد پوهندوی محمد قسيم چمتو په وينا: ((زموږ په اوسني ليکدودو کې ډېرې ستونزې شته، هغه داسې چې موږ د هر فونيم لپاره يو ګرافيم نه لرو، څو فونيمونه په يوه ګرافيم وليکو.

نو په دې توګه هېڅ نشو کولای چې په مجرده توګه د دغو درېواړه آوازونو تر منځ د ګرافيم له مخې توپير وکړو حتی موږ نشو کولای په کلمو کې هم د ګرافيم له مخې په آسانۍ سره د دغو آوازونو د تلفظ توپير وکړو. بل دا چې په کلمو کې ډېر آوازونه موږ تلفظ کوو، خو نه يې ليکو، لکه په (هڅه acah) کې چې يو دوه سيلابيک ويی دی، په لومړی سيلاب کې زور (a) تلفظ کوو، خو نه يې ليکو. همدا راز موږ په خپل اوسني ليکدود کې د کلمو په ځينو برخو کې غږ لرو، خو ګرافيم ورته نه لرو؛ لکه: د (منه-man̩ a او ترخه tərxa) د کلمو په منځ کې د زرو(a) او زورکي توري شته خو نه ليکل کېږي.))

و:- پښتو ژبه يو اوښتونکي (تصريفي) ژبه ده، د صرف يا تصريف مساله ډېره مهمه ده. په پښتو ژبه کې د (نوم او فعل) صرف شته، يعنې نومونه او فعلونه (د جنس، ګڼې او اکر (حالت) له مخې تصريفېږي؛ د بېلګې په توګه:

الف: د نوم صرف (پلوشه راغله –پلوشه فاعل دی، اصلي حالت لري، خو چې کله پلوشه په پلوشې بدلېږي نو د نوم صرف يا ګردان رامنځته کېږي.

ب: د فعل صرف، هم په پښتو ژبه کې د نارينه او ښځينه لپاره په جلا جلا او واضح ډول تر سره کېږي؛ لکه: هلک راغی (بچه آمد) –نجلۍ راغله (دختر آمد) يا

يو هلک راغی –يوه نجلۍ راغله.

په پورته جملو کې په ښکاره ډول د فعل او د فعل تصريف ګڼې (عدد) له پلوه هم ګورو. هلک راغی- نجلۍ راغله. دلته ښکاره مطابقت د فاعل او فعل تر منځ راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج: د ګڼې (عدد ) صرف؛ باید ووایو چې ( کله په پښتو ژبه کې عدد بدلون مومي ورسره (فعل او فاعل ) هم بدلون مومي. ) توره نجلۍ راغله- تور هلک راغی.
یو هلک راغی- یوه نجلۍ راغله.

**۲-۳- په لیکوالۍ کې د ښو کلمو او جملو کارول:**

هره لیکنه د (وییونو "لفظونو " مجموعه ده؛ لکه کلمه چې بې تورو ، جمله بې کلمو او ....رغېږي، همدا شان (هېڅ لیکنه او اثر بې له کلمو نشي رامنځته کېدلی. ) ((کلمې د خښتو مثال لري، لکه دیوار (دیوال ) چې له خښتو جوړېږي او هره خښته پر ځای کېښودل د پاخه معمار کار دی. همدارنګه که معمار(بناء) په فني ډول په معمارۍ ونه پوهېږي، نو هېڅکله سمه معماري نشي کولای، که معمارفني شخص وي، د هغه لپاره(ختې، خښتې او د معمارۍ نور لوازم ځانګړې اهمیت لري. او که څوک معمار نه وي نو د دیوار(دیوال ) له جوړولو خوند نشي اخیستلی؛ په لیکنه کې د کلمو او هغه هم په هنري لیکنو کې د ښو کلمو کارول یو فني کار او زیرکانه عمل دی. ))(۴۸: ۱۲۸)

د امریکا د معاصر او مدرن داستان پلار اندرسن(Anderson) د الفاظو د جادویي اغېزو او موقعیتونو په برخه کې نظر درلود: ((الفاظ او مادي توکي کابو یو ډول اغېز ښندي؛ که یو څوک په کور کې مېلمه کوو او یا د هغه د ښېګڼو بیان نورو ته کوو، دواړه پر نوموړي او د هغه پر شخصت اغېزې لري، همداسې د چا په رټلو کې هم خبرې کولای شو. نو لازمه ده، د کلمو د کاورنې ځایونه او د هغو هر اړخېزو او اغېزو ته ډېر پام وساتو، په تېره په داستان کې د ښو کلمو کارول نه یوازې د لیکوال او داستان ارزښت زیاتوي، بلکې د داستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرسوناژو (کارکوونکو) پر شخصیت نېغې اغېزې لري.
نوموړې زیاتوي، د مدرنو او هنري داستانونو او لیکنو استعمال د مضمون برجستګي زیاتوي، باید په لیکنو او په تېره هنري لیکنو کې د غوره او ښایسته کلمو کارونه د لیکوال د کاري صلاحیتونو اندازه زیاته کړي.
که له یوې خوا په لیکنه کې د ښو کلمو کارونه اړینه ده، له بلې خوا لیکوال ته لازمه ده، په خپله لیکنه کې د ښو او نوښتي الفاظو په کارونه قناعت ونه کړي، لیکوال باید د ښه او کره مضمون پلټنه هم وکړي. (ښایسته الفاظ او کره مضمون) د لیکوال او لیکوالۍ دنیا غني کوي، نو لازمه ده، یو کره مضمون د الفاظو په ښکلو زربفتو کې راونغاړو.

چې دې طمع د مخلوق له دره پرېکړه
پادشاهي دې مبارک شه که ګدایي

یا:

څودې توان رسي په لوی دریاب کې ګرزه
په ویاله کې دې زوال وینم نهنګه

یا:

مینه دخوبانو نامو ننګ لرې کوي
تش د دیدن د ښکلو دزړه زنګ لرې کوي
بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مینې
عشق یو هسې رنګ دی چې بل رنګ لرې کوي

په لیکوالۍ کې د ښو کلمو او جملو کارول، نه یوازې د لیکوالۍ د مسلک مزیت زیاتوي، بلکې د لیکوال د هویت لپاره هم په زړه پورې کار دی.
لیکوالي یو سپېڅلی مسلک دی، لیکوال ته ښایي دغه سپېڅلتیا په ښه ډول وروزي، له دې سره، سره د لیکوالۍ عمل یو پر له پسې ریاضت او کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي، ډېر، ډېر او مسلکي تمرین ته اړتیا لري.
مایکوفسکي د روسي معاصر لیکوال د (مسلکي لیکوالۍ او مسلکي لیکوال) په برخه کې نظر درلود: (( د لیکوالۍ کار ډېر ستونزور عمل دی؛ که د طب د علم ټول اصطلاحات زده کړو، نو ستونزې به مو حل شوې وي، خو لیکوالي داسې عمل نه دی، په لیکوالۍ کې هره شیبه بدلون راځي، پرمختګونه هم راځي، لیکوالي د لغتونو او اصطلاحاتو یوازینۍ مجموعه نه ده، بلکې د فعال تفکر او هراړخیزو پدیدو زېږنده ده.
لیکوال ته ښايي له ټولو ټولنیزو بدلونونو سره، سره آشنا شي؛ له همدې امله لیکوال باید نوی فکر په نویو الفاظو کې د وخت له بدلون سره وړاندې کړي.)) (۴۹: ۹۹)
لیکوال باید هره شیبه له خپل مسلک سره مینه وکړي؛ ددې کار لپاره لازمه ده، لاندې ټکو ته پاملرنه وشي:
۱:- لیکوال ته ښايي هر څه ته په ژور نظر وګوري او له ټولو ټولنیزو پېښو څخه ژوره ذهني عکاسي وکړي. لیکوال او د ټولنې عادي خلک سره توپیر لري؛ هغه وخت زموږ د لیکوالۍ ډګر غني او مسلکي کېږي، چې مسؤل او له مسلک سره مینه ناک خلک ولرو او ويې روزو.
۲:- د لیکنې لپاره لازمه ده، هر لیکوال د لیکنې کولو لپاره ځانګړی وخت، منظم پلان وړ فکر او د یاداشت کتابچه ولري او په منظم وخت کې لیکنه وکړي.
منظم پلان لیکوال هدف ته رسوي؛ (پلان) د ژوند اصلي مسیر او لاره په ښه کوي او (هدف) موږ مقصد ته رسوي.
په کتابچه کې باید نه یوازې په تحقیق پورې اړوند اصطلاحات او ویینه(لغتونه)، بلکې ورځیني یاداښتونه او ښکلې کلمې او جملې راټولې شي او بیا په لیکنو کې هغه په ښه ډول او پر ځای وکارول شي. د بېلګې په ډول که یو اجتماعي مضمون د (کبر یا غرور) په برخه کې لیکو لازمه ده، داسې وجېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصطلاحات او متلونه ورکي وکارو، چې له موضوع سره تړاو ولري.

همدارنګه ليکوال ته ښايي د مضمون مناسبې کلمې او جملې ولري؛ د تحقيقي مقالې کلمې او جملې له يو ادبي او هنري مضمون څخه توپير لري. د (خبر) او (رپوټ) کلمې، جملې او په مجموع کې د هغو ژبه توپير لري. آن د ليکنو په ډګر کې تر هر سرليک (عنوان) لاندې يو ډول ليکنه نه کېږي. د ادبي نثر عنوان تر تحقيقي نثر توپير لري.

۳: هغه اصطلاحات، وييونه، کلمې او جملې چې له بيلابيلو متونو څخه د تحقيق په نتيجه کې راباسو د ليکنې پر مهال يې له ځانه سره ولرو؛ لکه (د پېښو ګردابونه، د وخت څپېړې، د حالاتو ترخه يادونه، د اوښکو سيلاونه، د نامرديو ګنګې شپې او ...) کولای شو، په يو تراجدي ادبي ليکنه کې وکاروو. خو (د ګلانو نازکه او پسرلي وږمه، د ښکلا وو کاروان، نيازبين او مالګين کاته، د هوس او تخيل الماسي ځلاوې او ...) کلمې کولای شو په هنري او ادبي نثر کې راوړو.

همدارنګه د علمي، تخنيکي، کرنيزو، سياسي او ادبي څېړنيزو ليکنو وييونه او اصطلاحګانې سره توپير لري، چې د (هرې برخې ليکوال ته ښايي د خپل مسلک اړوند ياد شوي اصطلاحات په خپله ځانګړې کتابچه کې له ځانه سره ولري او د ليکنې پرمهال يې پر ځای او په دقت سره وکاروي.)

۴: ليکوال بايد له وخت او طبيعت څخه خوند واخلي؛ لکه له سهاره، لمر له ختلو، له ځانښت، د لمر له غروب، سپوږمۍ له هلال، بدر، سپوږميزو شپو او شپېو، له غرونو، د طبيعت له پراخې غېږ د خپلو او ملګرو له خاطرو د ژوند او حالاتو له بدلونونو او نورو پېښو او پلو څخه خوند او درس واخلي او مخکې له ليکنې هغه له ځان سره زيرمه کړي.

۵: که ليکوال غواړي ليکنه يې لا قوت پيدا کړي او قوت ولري، ورته بويه په وار، وار د سترو لکيوالو او شاعرانو کتابونه، مقالې او ليکنې په کراتو مراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطالعه کړي او د خپلو ليکنو د قوت لپاره الهام ترې واخلي.

که ځيني ليکوال د ليکوالۍ په کې تقليد (پېښې) کوي، تر يوه سرحده (بريده) ښه ده، خو داسې نه، چې د نورو په پلونو پلونه واخلي او د نورو له پلونو ځخه بهر پل کېښودلای شي.

يو ليکوال نظر لري تقليد په دوه ډوله دی: ((يو ړوند تقليد دی او بل روا؛ ړوند تقليد، مقليد ړوند وي، نه يوازې مقلد پرمختګ نشي کولای، بلکې د لومړي کار ريښې هم وچوي. دويم ډول تقليد ښه دی، خو چې د سبک وي، نه د اصلي مطلب....))

۶: که ليکوال غواړي ليکنه يې مسلکي، پخه او درنه وي، لازمه ده، له خپل کار سره مينه ولري. ليکوالۍ سره مينه کول د ټولني له عمومي فرهنګ سره مينه کول دي. لکه له خدای(ج)، مور، پلار، معشوقې، اولاد او دندې سره مينه او محبت د کاميابۍ اساس دی.

له مسلک او په تېره ليکوالۍ سره مينه کول د انرژۍ او قوت خپلول دي او دا کار ليکوال ته حوصله هم ورکوي.

۷: سينه او حوصيله کول، د ليکوالۍ د دوام او ليکوالۍ ته د عموميت ورکولو ښه وسيله ده. د هر کار د پياوړتيا عمده او غوره لاسوند (سينه، حوصيله او صبر کول دي) صبر او سينه کول موږ له مسلک سره نژدې کوي او د مسلک په ټولو رموز مو پوهوي. هغه خلک په يو مسلک کې پرمختګ کولای شي او په يوه مسلک کې پياوړي وي، چې يو مسلک کې په صبر، سينې او حوصيلې سره کار وکړي؛ نو ليکوالي چې يو دومداره او پر له پسې عمل دی، لازمه ده، په پوره صبر، پوهې، مسلکې والي او مينې سره دغې لارې ته دوام ورکړو، څو مو د هېواد د غني فرهنګ د لا بډاينې په برخه کې کار کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲-۴- په ليکنه کې دشعر، متلونو او غوره ويناوو کارونه:**

هنري نثر په انځور، هنري ترکيب، شعر، تمثيل، غوره ويناوو، متلونو، محاکاتو او محاسنو ښکلا مومي.

هر څومره چې په هنري نثر کې شعر وکارول شي، ښکلا يې لا زياتيږي. په ليکنه کې د شعر کارول د ليکنې روح پياوړي کوي او ښکلا وربښي.

په هنري نثر کې د تصوير مثاله ډېره مهمه ده؛ هغه نثر ښکلی وي چې د پېښو تسلسل ورکې مراعات شوی وي؛ د پېښو هنري تړاو، په هنري نثر کې د شعر د کارونې له لړ کې امکان پيدا کوي؛ لکه:

هغه زړه به له طـــوفانه په امــــــان وي
چې کشتۍ غوندې د خلکو باربردار شي (۱۱: ۱۲۲
)

يو اجتماعي مطلب هله (ټولنيز مضمون) جوړيږي يا جوړولای شي، چې ټولنيز دردونه ورکې نغښتي وي. (کشتۍ غوندې د خلکو باربردار کېدل)، يو ټولنيز مفهوم دی. که داسې او داسې نور ټولنيز مضمونونه د يو اجتماعي مفهوم د درکولو لپاره په ليکنه کې وکارول شي، ليکنه يو پيغام پيدا کوي.

په ليکنه کې شعر د وړتيا او اړتيا له مخې کار ځای پيدا کوي او په لاندې توګه امکان لري:

اول: شعر د هنر د يو فعال ډول په توګه تل ټولنيز پيغام لري او ټولنيز پيغام لېږدوي. د هنر ټول ډولونه (انځورګري، شعر، حکاکي، معماري، رسامي، نڅا(رقص) سينما او ...) يو انساني ټولنيز پيغام لېږدوي، د پيغام لېږد د بېلابېلو توکو وسايلو او الفاظو په ذريعه وي( د هنر هر ډول د مختلفو وسيلو او ذريعو پواسطه، ټولنيز پيغامونه لېږدوي او انعکاسوي؛ د بېلګې په ډول شعر يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوالۍ ټولنیز واقعیتونه د ویینو (الفاظو) په واسطه لېږدوي، شکل ورکوي او آن انځوریز پیغام لېږدوي.)

که څه هم لیکوالي، انځورګري، شاعري او ویناوالي له یوې کورنۍ دي او ډېر ځله سره تړلي دي، خو کېدای شي لیکوال د انځورګر او انځورګر د شاعر او شاعر د ویناوال (ویاند) له کاره بې خبره وي. دا کار محال نه بریښي؛ ډېر لېدل شوي، چې شاعر لیکوال نه وي، ډېر بنه مثال یې نالوستي شاعران دي، چې هېڅ د لیکوالۍ په رموزو نه پوهېږي. په تېره د اقتصادي، سیاسي او ګڼو ټولنیزو برخو لیکوال شته، چې شعرونه یې له یاده نه دي زده او یا شعر نشي ویلای او د کلمه کولای یې هم نشي.

دوهم: دا چې څنګه په لیکنه کې شعر کارولي شو، اساسي مثاله د (احساس) ده. انساني درک او احساس د هنر له بل هر ډول څخه په شعر کې زیات دی.

اکاډیمسن اروابناد محمدصدیق روهي د شعر د مهم والي او په شعر کې د احساس په برخه کې د مولانا خادم، ګل پادشاه الفت او نورو ادبپوهانو د نظریاتو د تلفیق په برخه کې نظر درلود: ((له قریني څخه ښکاري، چې په شعر کې د احساس مثاله د شعر له اصالت سره اړه نه لري. دلته د احساس خاوند هغه څوک دی، چې په رموزو او باریکیو وپوهېږي او د موضوع له قشر څخه د موضوع ماهیت او ژوروته ورننوځي. الفت کولي شي په ساده طبیعي پدیدو کې د ژوند اسرار کشف کړي.)) (۳۰: ۹۴)

دریم: په لیکنه کې د شعر استعمال پدې پورې هم اړه لري، چې د لیکوال ذوق تحریکوي؛ لیکوال په آسانۍ سره کولای شي، خپل ذوق او د ټولنې ذوق له دغې لارې خړوب کړي، دا ډول هنرمندان کېدای شي، په یو مسلک او یا ډېرو کې پوهه او لوی لاس ولري. ځینې لیکوال او هنرمندان متعددو هنرونو ته لاس اچوي، چې کار یې په ټولو برخو کې نیمګړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ويلو وړ ده، چې د محقق کار تر نورو هنرمندانو ستونزور وي. هغه څوک ډېر پياوړي وي، چې په يو مسلک کې کار کوي. که د محقق فطري ذوق له ليکنې سره نه يادوي، لازمه ده، د خپل ذوق او ليکنې لاره لا مشخصه کړي. او هغه دا چې فطري ذوق ته پياوړتيا ورکړي، پدې معنا (ليکوال چې په کومه برخه کې خپل استعداد ځلولی شي، هغه خوا بايد پياوړې کړي.)

بايد ووايو هغه ليکوال، چې شعر په خپلو ليکنو کې راوړلای او تفسيرولای شي؛ هغه پياوړي ليکولان وي، ځکه ګڼ شمېر اجتماعي افکار په شعر کې تبارز(ځرګندتيا) مومي.

څلورم: شعر او نور برجسته افکار په ليکنه کې، ليکوال د شاهد په توګه هم راوړلای شي، دا ځکه شعر د ژوند ټول ټولنيز مهم اړخونه رانغاړي.

لنډه دا چې د شعر کارول د ليکوال له خوا يو شعوري او فکري بهير دی او د ليکنې روح هم جوړوي؛ له يوې خوا لوستونکي ته ځانګړی احساس ورکوي او له بلې خوا د ليکنې خوند هم زياتوي.

پنځم: متلونه او غوره ويناوې، په کنډه برابرې، پخې او تجربه شوي پوهنې او خبرې دي، نه يوازې په عادي (شفاهي) خبرو کې برجستګي او فوق العادګي لري، بلکې په تحريري ادب کې يې استعمال او کارول هم له ښکلا خالي نه دي.

د خدای ښېلي استاد حضرت عبدالروف بېنوا په وينا: ((متلونه لنډې، د جامع مفهوم لرونکي، په کنډه برابري وېناوې دي، چې يې نسل په نسل د استدلال د تائيد لپاره، د خبرواترو په ترڅ کې ويل جاري دي. د لفظ او معنا له مخې غزېږي د زمانې د تجربو څخه راوتلې او مثبته بڼه يې غوره کړې وي.)) (۱۰: الف مخ)

متل د پاخه فکر، پوهې، تجربې او ولسي ناخوداګاه مهارت او ضرورت زېږنده وي، کوم په اوږدو کې رامنځته کېږي.

د پښتو ژبې پياوړی ليکوال او محقق او د پېښور پښتو اکاډمۍ غړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر راج ولي شاه خټک د (پښتو متلونه) د (کاڼي کرښې) چې د افغانستان د اکاډمۍ د غړي نورمحمد نور زرمتي له خوا راټوله شوې مجموعې په سريزه کې ليکي: ((وئيلی شي، چې د پښتانه رومان ټول په پښتو ټپه کې ځای شوی دی او د پښتانه پوهه او دانايي په متل کې محفوظه ده. پښتو متل د دانش يو عجيبه رنګ لري. که هر څوک متل هر ځای او هر چېرته د ژوند د تجربونه جوړوي، خو د پښتانه د ژوند تجربه يو خاص اهليت او ځانګړيتوب لري. شايد ځکه چې ټول قام په يو شان جغرافيائي او فطري چوربښت کې پورت وي. د پښتو متل ته د کاڼي کرښې هم وايي؛ که څوک د پښتانه د ژوند رنګ لېدل غواړي د دوی د پوهې او تجربې اندازه کول غواړي، نو بايد د پښتو متلونو معنو(معنا) ته ځير شي.)) (۲۱:الف مخ)

د ويلو وړ ده، متلونه، غوره ويناوې دي، د ولسي پوهې ځانګړې حکمت پکې پروت وي، له همدې امله په لاندې مواردو کې د کارونې ځای لري:

الف: د ولسي جرګو د لا بااهميته کولو او با ارزښته کولو، د لويو خبرو د رالنډو او ... لپاره پکارېږي. که جرګه مار غواړي خبرې رالنډې کړي او جرګې ته نتيجه په لاس ورکړي، نو هغه متل، چې (ځای) ولري؛ استعمالوي.

۱-(غر په غره نه ورځي، سړی په سړي ورځي.)

۲-(د ډېرو قودې، د يوه ګېډۍ.)

۳-توره سره ښه ده، خو نه د ورور په وينو

۴-اوښان نه ژاړي، بارونه ژاړي...)

ب: متلونه د جامع مفهوم لرونکي دي؛ که څوک غواړي، جامع مفهوم په لنډه، رسا او سيده توګه چاته په يوه غونډه، ليکنه او خبرو نه بيان کړي نو همدا ډول متلونه ورته وايي، ليکي او ډالۍ کوي.

۱-که هوس دی، دومره بس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که غر لوړ دی، پر سرلار لري.
۳- ښه جالوان د طوفان په ورځ معلومېږي.
۴- سړی يو رنګ، جامه يې دوه رنګه.
۵- خبرې يې فيل نه شي وړی، په کور کې يې ګردا وړه نشته...

ج: متلونه، د ولسونو د نسلونو د ارتباطي پل په توګه د وختونو په درشل کې، خوله په خوله، سينه په سينه يو بل ته لاس ورکوي او په پوره پوهې او امانتدارۍ سره معناوې او مفهومونه لېږدوي.

که يو څوک له خپل هېواده ډېر د وخته وتلی وي، نو د چا خبره مړی خو بېرته خپل وطن ته رارسوي.

۱-چې ځي ځي، ابازو له به راځي.
۲- چې اوسي، په خوی به د هغو شي.
۳- چې ځان خفه نه کړې، بل نشي خوشحالولی.
۴- چې په کور کې بې اتفاقي شي، اوبه وچې د منګي شي.....

د:- متلونه، د عقل کل او عامه فکري او شعوري حاکميت په توګه د لفظ او معنا له پلوه مفهوم لېږدوي؛ لکه:

۱-توري دې لالا وهي، مړی د عبدالله
۲- خپل عمل لارې مل دی
۳- د مرد خواړه، د نامرد په ګېډه کې پاتې کېږي.
۴- د شپې بند اوبه وړي.
۵- مار ته په لستوڼي کې ځای مه ورکوه...

هـ:- د پښتنو د پېښو او پخواني ژوند داستان نه يوازې له ټېپې څخه ښکاريدلی شي، بلکې متل د دغه داستان بيان په ښه ډول کوي؛ د بېلګې په ډول:

۱-د توري زخم رغېږي، د خولې نه.
۲- بد به دې په زړه لرم، سلام به دې په خوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- اوبه په ډانګ، نه بېلېږي.

۲:- متلونه، د پوهې او عقل د ژورتیا ښکارندوی ده. پوهاند محمد طاهر بورګی، د پښتو متل د حکمت او اغېزو په برخه کې نظر لري او وايي: (( متلونه د يوې ټولنې د پېړيو ، پېړيو اړوند او ارزښتمند ميراث دی. په ډېرو داسې ټولنو کې هلته چې لا موضوعه قوانين مينځ ته نه دي راغلي، د ټولنې معضلات په معقولو منل شويو متلونو حل او فصل کېږي، دا حالت مو‌ږ د اروپا په هېوادونو کې خصوصاً د کنتي تنتال اروپا په قديمو جرمني ټولنو کې ليدلی شو، چې وړاندې له اوسنيو موضوعه قوانينو هلته همدا متلونه د دعواوو په حل او فصل کې کارول کېدل. ))(۱۳:هـ)

ی:- اوس، اوس هم چې يو ځل بيا ژوند قومي او ولسي ريفورم ته مخه کړې او د خلکو تر منځ چې لانجې په ولسي جرګو ، مرکو او سپين ږيرو حل او فصل کېږي، نو ليدل شوي، چې په ځينو مرکو کې مناسب متلونه راوړل شوي، له شک پرته د متل له ويلو سره سم لکه په اور چې اوبه واچوي، په غونډه کې بدلون ليدل شوی دی.

شپږم: غوره وينا وې؛ پخې او درنې خبرې دي، چې تر ډېره بريده ورباندې ستونزې حل کېږي. غوره وينا وو ته (پخې) يا لنډې خبرې هم وايي. غوره وينا وې له پوهې او حکمته ډکې دي، لوی مفهوم په (کره جمله کې راوړل له پوهې او حکمت څخه سرچينه اخلي.)

غوره وينا وې ځکه غوره ګڼل کېږي، چې په ژوند او ټولنيزو پيښو پورې اړوند مطلب په لنډ قالب کې ځايوي. غوره وينا وې، لنډې خو با مفهومه وي.

په عربي ژبه کې ورته(مقوله) هم وايي. په عربي ژبه کې وايي: (( بهترين کلام هغه دی چې لنډ ، خو مدلل وي. کره او په عاميانه ژبه وي، خو ستره معنا افاده کړي. ))( ۱۲: ۸ )

غوره وينا وې د انسان د عقلاني تفکر اساسي برخه ګڼل کېږي. خلک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسونه يې د غونډو او په خپلو منځو کې د لانجو د حل لپاره کاروي، نه يوازې د لانجو د حل، بلکې په ډېرو مواردو کې پکارېږي؛ د بېلګې په ډول:

۱-د ځان پېژندني او ښه مومن والي په برخه کې.

- ځان پېژندنه، الله پېژندنه ده.

يا په نورو برخو کې هم غوره ويناوې د پوره، پوره کارونې وړ دي.

- حيا نيمائي ايمان دی.
- آن د وړانده تر مخې هم ځان پتهوه.
- ژوند يو نفس دی.
- غوږ نيول هنر دی.
- تنبلي هم اندازه لري.
- مېړانه قيمته ده، او نامردي ارزانه.
- تور کالي واغونده، خو تور مخی مه اوسه.
- هر څوک په ښو خوشحاله او په بدو پښيمانه شي مومن دی. (۴۴: ۹-۱۱-۱۵)

**۲-۵- په هنري او ادبي نثر او شعر کې د هنري ترکيبونو د کارونې ارزښتونه:**

هنري او ادبي ترکيب د ليکنې او کلام ښکلا او ارزښت ټاکي؛ دغه ترکيبونه د ادبي نظم او ادبي نثر پر ادبي هويت دلالت کوي او په دوو برخو کې (نظم او نثر) کې راخلو.

الف: هنري او ادبي ترکيب په هنري نثر کې له نورو ليکنو زيات وي. د ادبي ليکنو اعجاز او ښکلا په هنري ترکيبونو پورې اړه لري. نثر، هغه وخت هنري ګڼل کېږي، چې هنري ترکيب ولري. هنري او ادبي ترکيب، په ليکنه کې هغه عاطفي او تخيلي غوټه ده، چې د نوموړي مضمون ماهيت ترې جوړېږي.

خو دغه ماهيت ډېر ځله شکلي او فزيکي بڼه احتوا کوي. هنري او ادبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکيب د خيالي پوهې د ايجاد او رامنځته کېدو په کار کې ګټور رول لوبوي.

خو هنري يا ادبي ترکيب (هنري انځور نه دی، بلکې د انځور هنري زمينه او يوه برخه جوړوي او توپير يې لکه متل او عبارت غوندې دی.)

يو شعر او يو نثر ته هغه وخت ښه شعر او ښه نثر ويلی شو، چې (هنري ترکيبونه) پکې زيات کاريدلي وي، هنري ترکيب که هنري انځور نه دی، خو ورنږدې دی؛ هنري انځور په ادبي ليکنو او شعر کې د خيالي او عاطفي پوهنې لوری ټاکي. هنري تصوير د موضوع او خيال تر منځ فکري تړاو ته ويل کېږي. هنري انځور د ښېښو عکاسي ده.

هنري تصوير لوی او د چا خبره فراګير دی؛ هنري تصوير د باندې نړۍ او شاعر د خيالي دنيا تر منځ رابطه جوړوي. په هنري تصوير کې د کلام معنوي او لفظي ښکلا راتلای شي، خو هنري او ادبي ترکيب يوازې د مشبه او مشبه به تر منځ تناسب رامنځته کولای شي؛ په حقيقت کې هنري ترکيب د ادبي مضمون محاکات او ښکلا زياتوي. (۴۱ : ۱۳۳)

د نړۍ او زمونږ د هېواد او بيا پښتو معاصر هنري نثر لمن له (هنري او ادبي ترکيبونه) مالامال ده، چې ادبي نثر او په ځانګړې توګه شعر ته يې ښکلا ښښلې ده. هنري نثر په پښتو ادب کې ډېره لرغونه لري.

پښتو معاصر هنري نثر په شلمه پېړۍ کې په پوره قوت او آن په نړيوالو هنري معيارونو راڅرګنديږي. د هنري نثر پيلامه د خدای ښښلي علامه عبدالحي حبيبي په وينا: ((په شمله پېړۍ کې هنري نثر هم په پښتو ادپ کې وينو، چې د برې کاکاخيل ځيني هنري ټوټې په خيبر مګزين کې خپريږي. ددغو نثرونو ښه ليکوال په افغانستان کې ښاغلي الفت دی، چې هره د نثر ټوټه يې لکه يو بيلغ او شيوا شعر داسې دی. داسې نثرونه ښاغلي بينوا، ښاغلي ډاکټر مجروح، حبيبي، خادم او ښاغلی لايق او نورو زلميو هم ليکلي. اروا ښاد محمد ايوب خان خو ځان ته خاص سبک درلود. په لره پښتونخوا کې هم د سيد رسول رسا، شيدا، برق،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجمل، سیدراحت، حمزه او روغ لیوني نثرونه کله دغسې دی، چې له یوې خوا هنري ظرافت او لطافت لري او کله دطنز او انتقاد رنګ هم مومي، چې د جعفر اڅکزي، جعفریات هم د لوستلو وړ دی. د مرحوم عبدالغفور خروټي مضامین، چې د کندهار په طلوع افغان یا پښتو مجله کې خپریدل هم کله، کله دغه رنګ لري.)) (۱۷: ۱۳۳)

که څه هم چې د معاصر هنري نثر عمر په پښتو ادب کې د شلمې پېړۍ خبره ده، خو دغه لنډ عمره ادبي نثر په کمه موده کې لرغوني، پراخه او د اهمیت وړ موضوعات په غېږ کې رانغاړلي دي.

د هنري نثر د پیدا ښت او بشپړتیايي یون په برخه کې د هېواد تکړه لیکوال او وتلی څېړونکی سر محقق زلمی هېوادمل نظر لري:((په پښتو ادبیاتو کې د نویو ادبي پدیدو د راپیدا کېدو او په ادب کې د معاصریت د زړیو د زرغونیدو او د نویو ښو د راڅرګندیدو موضوع په سیمه کې د شلمې پېړۍ له نویو علمي او هنري پرمختیاوو سره نیغه اړیکه لري او د شلمې پېړۍ سیاسي، اجتماعي عوامل هم ددې نویوالي په راڅرګندیدنه کې خپل مُوثریت لري.

د مسلطو سیاسي، اجتماعي او فرهنګي روابطو تر اغېز لاندې وده موندونکې پښتني فرهنګ هم د پښتنو په ټولو فرهنګي مراکزو کې د یون بیلابیلې لارې خپلې کړې. پښتو ادب او په نهایت کې د فرهنګ د ودې مسالې په ټولو فرهنګي حوزو کې یو شانوالی له لاسه ورکړ او د بیلتون همدغو عواملو ځیني ادبپوهان په دې معتقد کړي دي، چې پښتو ادب په معاصره دوره کې یو شان رشد نه کوي... نومورې په خپله لیکنه کې په ډېر دقت د معاصر نثر د پرمختګ او ښېرازۍ لپاره ډېر پراونه په ښه کوي، چې ورسره معاصر ادب هم وده کوي.)) (۵۴: ۷۹۷)

پښتو معاصر ادب (شعر او نثر) لکه د ژوند نورو پدیدو غوندې په شلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېړۍ کې د ودې او پرمختګ لوری وموند او خورا وځلید.

د حبیب الله رفیع په وینا: (( پښتو ادب له آره خوځنده او له ژوند سره مل ادب ؤ. او پدې دوره کې یې خپل رسالت په ښه توګه ترسره کړ؛ د ولسي شاعرانو له خوا ویښوونکې ترانې وغږول شوې او د افغان او انګریز په جګړو کې یې د افغانانو د مېړانې او سرښندنې کیسې په مستو(چاربیتو ) کې خوندي کړې....

د شلمې پېړۍ په رابرېدلو سره افغانستان د یوه تېږي مارغه په توګه د انګریزانو ښکیلاک د طلایي قفس پر ځای ددې استعمار په وریښمینه کڅوړه کې نغښتل شوی او د غیر محسوس استعمار په نامحسوسه لومه کې ښکیل و؛ دا وخت په افغانستان کې تعلیم یافته، جهان دیده... روښانفکره ځوانان هم پیدا شوي وو او په لره پښتونخوا کې هم دداسې وطن پرستو ځوانانو پټې او ښکاره ډلې جوړې شوې وې....

په افغانستان کې د پښتو د نوي ادب له رانښلوونکو څخه یو هم اروابناد غلام محي الدین افغان دی او په لره پښتونخوا کې د پښتو د زاړه او نوي ادب کړی اروابناد راحت زاخیلي سره وروستلي دي. په دې توګه د پشتو د ننني ادب پیل چې په شعوري توګه نوې نړیوالې ادبي پدیدې په کې د خوند او رنګ (مضمون او شکل) له پلوه خوندي شوې د شلمې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې شوی دی. ))(۲۹:۵۵-۲۵)

پیاوړی لیکوال او استاد څېړنوال سید محي الدین هاشمي د (نثري ادب ډولونه) په کتاب کې د هنري نثر لومړنۍ بېلګې د نورمحمد نوري او مولوی احمد(۱۳۲۱:۱۳۰۰) څخه را حسابوي. نوموړی وایي: (( ددغه ډول نثر لومړنۍ بېلګې موږ د نورمحمد نوري افغاني په اثر((غنچه روه)) کې په (۱۱۲۸هـ،ق) کال یې بشپړ کړی دی؛ لیدلی شو.

د همدغه پړاو یو بل لیکوال د هشنغر د تنګي او سیدونکی مولوی احمد، چې په منثورو آثارو کې یې د آدم خان درخانۍ کیسه (۱۸۷۲م)، ګنج

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو(۱۸۷۲م) او د تاريخ فرشته ژباړه د تاريخ سلطان محمود په نامه (۱۲۸۹م) کال شوي ده.

ګنج پښتو او آدم خان درخانۍ چې کيسه ييز آثار دي، موږ پکې د هنري نثر د پيلامې لومړني څرکونه وينو. په همدغه وختونو کې د هنري آثارو وده ژباړونکي پېژنو چې يو مياحسيب ګل کاکاخيل له اردو څخه د نقش نګين ناول په (۱۲۹۲هـق) او ميا محمد يوسف هم له اردو ژبې څخه د (توبة النصوح) ناول په (۱۳۲۳هـق) له ټولو هنري ځانګړنو سره پښتو ژبې ته را اړولی دی.)) (۵۲: ۴۸)

داسې ښکاري، چې دا مهال نه يوازې په ابتکاري توګه (ادبي هنري نثر د بيلابيلو ليکوالو له خوا رامنځته شو، بلکې دغه نثر (ادبي هنري) د ژباړو له لارې په معياري ډول راخپل شوی هم دی.)

که د هنري نثر د پيل او تاريخ په برخه کې وغږيږو، نظريات ډېر دي، مګر زموږ اصلي هدف د دغه نثر ځيني بېلګې او په دې بېلګو کې د (هنري ترکيبونه) ښوول او جوړول دي.

هغه هنري او ادبي نثر بېلګې چې موږ ورکې د هنري ترکيبونو نمونې کتلای شو په لاندې ډول راوړو:

.

ادبي - هنري نثر:

د نثر دغه ځانګه له ښکلا او معنا ډکه ده، چې زرينه ځانګه يې بللی شو؛ د نثر د دغې ځانګې ښکلا د دې لپاره ده، چې هم يې (شکل ښکلی دی او هم يې معنا...)؛ خو له دې سره سره دغه نثر(هنري ادبي) د يو ټولنيز فکر پيغام لېږدوي.

هنري او ادبي نثر، هغه نثر دی، چې د لفظي او معنايي ښکلاوو درلودونکی وي. د خدای بښلي ډاکتر زيور په وينا: ((هغه وينا چې د لفظ له پلوه ښکلې او د معنا له پلوه بېل بېل مضمونونه ولري، هنري نثر نومېږي.)) (۳۲: ۵)

هنري نثر، ښکلی، خو له مفهوم او مطلب نه ډک مطالب لري، يو فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږدوي او يوه موضوع څاري. د هنري نثر ليکوال په ټولنيز نظام کې د ټولنيز فکر القاء کوونکی دی. دغه ليکوال له يوې خوا دنده لري، خلکو ته فکر ورکړي، له بلې خوا خلک د ټولنيز ژوند او نظام په ارزښتمندۍ پوه کړي.

هنري نثر که له يوې خوا دلذت، خوند او ښکلا منبع او زيرمه ګڼل کېږي، له پلې خوا د پوهې، اعجاز او انساني ارمانونو لېږدونکی فکر هم بلل کېږي.

هنري نثر د علامه حبيبي په وينا: د لفظ له پلوه دومره ښکلی وي، چې: (( يو ډول منثور شعرته ورته وي؛ له عاطفې، احساسه او د انسان د لطيفو او ظريفو ادراکاتو څخه رابهېږي، نو ځکه د اجتماعي دردونو او آلامو څخه ځينې نازکې ټوټې رابرسېره کوي او د ټولنې د محرومو او خواشينۍ او بې وزلۍ حال راڅرګندوي. )) (۱۸: ۲۰)

هنري نثر ته تر سيمي او حکايوي نثر هم وايي. ددغې موضوع تائيد د پښتو ژبې پياوړي ليکوال او محقق (بريښ) د (افغان ياد) کتاب په (۷۳) مخ کې هم کړی دی.

د تر سيمي او حکايوي (هنري نثر) ښې بېلګې په لاندې ډول دي:

۱-لنډه کيسه ۲- ناول ۳- داستان ۴- رومان ۵- ډرامه ۶- طنز (سکوندنه) ۷-ادبي ټوټه، ۸- ادبي ليکونه، ۹- ادبي ځان پېښې، ۱۰- ادبي راپور تاژ، ۱۱- ادبي يونليک، ۱۲- ادبي خاطرې، ۱۳- تکل، ۱۴- ادبي انځور، ۱۵- فلمنامه، ۱۶- فني سناريو، ۱۷- ادبي نمايشنامه او ....

هنري نثر د هنري ښکلا وو او ارمانونو لرونکی دی او د شلمې پېړۍ همګامۍ او ملګری دی او اوس او س لا ښکلی شوی دی.

ددغه نثر ښايسته بېلګې په لاندې ډول راوړو:

۱: د پسرلي ګله:

(( ستا ښايسته او ګلالۍ څېره په جهان کې څومره قدر لري، آسمان له دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لويوالي سره هر سهار د شبنم په پاکو او رڼو څاڅکو ستا ښکلی مخ وينځي او ځمکه د خپل زړه له نمه اوبه درکوي.

د ځمکې مخ په تا ښايسته ده او هوا ستا په وږمو معطره شوه، د بلبل خوږه نغمه ستا د جلوې برکت دی، شاعران ستا په ستاينه په جامعه کې مقبول شوه، ښکلو پېغلو تا ته په خپل اوربل باندې ځای درکړ، بورا ستا په مينه په غزلو کې وستايل شو.

په شعر او ادب کې ستا برخه زياته ده، مينې او محبت ډېر ښه سوغات ته يې. مګر ګوره چې په خپل جمال او کمال مغرور نشې او له باغه ونه اوزې، تاغوندې ډېر ښکلي او ښايسته ګلونه د هېواد په غرو رغونو کې پيدا شوه، چې نه چا وليدل او نه چا وستايل. که ته له دغه چمن نه ووتلې او په غرونو کې دې ځای ونيو، نه به بلبل پيدا کړې او نه ماليار ته د خلکو له نظره مه لرې کېږه او ځان ته ماليار پيدا کړه!

د انسان دا عادت دی، چې مطلق ښه نه ستايي او هر ښه ځېز ښه نه ګڼي. هو! دی هماغه شی ښه بولي، چې ده ته نژدې وي او دده خپل وبلل شي.

دلته هر څوک خپل ښاغلي ګڼي او هر يو د خپل باغ ګلونه ستايي. ته هېڅکله د خلکو له نظره لرې کېږې مه!

ستا ښايست د خلکو د توجه او التفات نتيجه ده.

که ته غواړې، چې هر څوک دې قدر وکړي او په خپل سر د پاسه ځای درکي لکه نرګس هر چا ته په ښه سترګه ګوره او لکه د باغ غوټۍ هر سهار خلکو ته خانده!

په دغسې التفات او يوه خوله خندا سرې د خلکو زړونه خپلولی شې.

په يوازې ګلتوب او ګلاليتوب هېڅوک قدر او منزلت نه مومي او نه په تش ښايست دلبري او دلربائي کېږي.

راشه زما د باغچې ګل شه چې هر سهار دې په ديدن اوبه کومه.))(۳: ۸۲-۸۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتنه: په پورته ادبي ټوټه (هنري نثر) کې سره له دې، چې ښکلي هنري او ادبي ترکیبونه راغلي، ورسره، ورسره لیکوال د ګل په څېره کې د فعال او ښه معاشرتي انسان کرکټر هم انځور کړی؛ دا يې په ډاګه کړې، چې ترکار، فعالیت او ښېګنې بل څه پدې نړۍ کې په څه نه ارزي. او د عبدالرحمن بابا په وینا:

لاس په سر، په تندي ایښی و هر چاته
همـــدغه دی شــــــرافت په دا دینا...

او دغه لنډ ژوند، چې د شاعر خبره د الفت او محبت لپاره هم کم دی، نو انسان بیا نفرت کولو ته څنګه اوزګاریږي؟ قمرتا یزي ویلي:

دا ژوند خو زمونږ کم د محبت لپاره هم دی
حیران یم، چې نفرت ته اوزګاریږي خلک څنګه؟

هو ! دغه ټوټه سر ترپایه هنري نثر دی. (په زړه پورې مضمون او ښکلي ترکیبونه) پکې راغلي دی؛.

۲- د پسرلي ارمان:

((هو ! د پسرلي په ارمان... خو ددغو تېرو درویشتو پسرلیو نه، چې د باروتو لوخوړو به يې د وریځو ځای ونیو او اوښکو به يې د باران او د ماشینګڼو، توپونو او توغندیو په ویشتلو به يې اتم آسمان راپیدا شو، نه زه... ددغو پسرلیو په ارمان نه، چې باغ او بڼ به يې د نه اوربښت له امله په وچو او سوځنده وپرویدل شول نه !نه ! هېڅکله....

د هغه پسرلي په ارمان، چې په راتلو به يې آسمان څک غرونو د وریځو له ګریوانه سرونه وویستل او له شنه آسمان سره به يې د زړه خواله کوله او په خپلو پراخه لمنو به يې رنګارنګ ښکلي ګلان ټومبلي وو، چې معطرې وږمې به يې د ستړو زړونو او دماغونو د هوساینې او سوکالۍ لامل وي.

د هغه پسرلي په ارمان، چې د ونو په اوچتو څانګو او شنو کښتونو کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د خوش آوازه مرغانو په ترنم د روح جهان له خوښۍ نه په جامو کې نه ځايده او د بارانونو هر ځاځکی به يې په صدف کې بې بها مرغلره وه؛ سيندونو، ويالو او ځروبيو به يې د شنې هاتې د شنا پېښې کولې، له وچو کروندو او بوټو به يې د اسې غږ چاپير کړی و، تابه ويل، چې د دوو خوږو دوستانو د بېلتانه شپه د وصال په ورځ بدله شوې او کيسې يې پای ته نه رسي.

هو ! د هغه پسرلي په ارمان، چې د آسمان په لمن به يې د شيبه، شيبه باران پر له پسې ځاځکو د رباب تارونه جوړول او د نری،نری شمال په شهباز به يې د ژوند سندرې او خوږې نغمې غږولې او د ځمکې پر مخ به يې داسې بې پايه شين فرش وغوړاوه لکه پر مبلمه پال کوربه، چې قدرمن مېلمانه لارې، کوڅې په شنو قالينو فرشي کړي.

د هغه پسرلي په ارمان، چې هر څه به يې د منې او ژمي د سختې سيلۍ له ناخوالو ژغورل او په عطرو خوشبويه، نرمه او ملايمه هوا به يې د مړ ژواندو په بدن کې د روح په څېر ورپوه کړه، لغړو ځانګو او بوټو به يې پاڼې، ګلونه او ميوې وربښلې، د ورکړې او سخاوت جنډه به يې د هېواد پر هره لوړه، ژوره رپېدله، خوږو ورږمو به يې د ونو او بوټو ځانګې داسې سره غاړه غړۍ کړې لکه مسلمانان، چې د اختر په ورځ کې يو بل ته ترغاړې وځي.

هو کی ! د هغه پسرلي په ارمان چې نجونو او زلميانو به يې په ډاډه زړه د سولې او خپلواکۍ په فضا کې د هېواد پالنې په روحيه له خپلو ورونو او پلرونو سره اوږه په اوږه د ژوند چارې سرته رسولې. د همداسې پسرلي په هيله.))( ۱۹: ۳۳)

هو ! دغه ادبي او هنري نثر د ښکاره ارمانونو ځرګندونه کوي، چې نثر يې د ښکلو هنري او ذوقي الفاظو په زيور ښايسته شوي دي او خپل آرمان يې د لفظ او معنا په ګانه ښکلی کړی دی.

( د باروتو خړ رنګ، د وينو او اوښکو دوران، ملايمه هوا مړژواندی بدن،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روح ښکلا ، لغړې ځانګې، ګلونه او میوې ښنوونکې پسرلي، غاړه غړې ځانګې) دا او داسې نور هنري ترکیبونه شته، چې لیکوال خپل آرمان وربانديې ځلولی دی.

۳-ګرانه ملګریه !

(( ما خوستا سره د زړه خواله بس کړې و. او نورمې نه غوښته، چې پخپلو نا خوالو ستا خوا درشنه کړم، بله دا چې ( ستا څخه دې پټه نه وي) هغه وخت ما ته دخبرو ګوډی هم تش ښکاریده څه، چې دو یلو نه و، د هغو تعبیر مې نه مونده او څه چې د ویلو وه، هغه راته بې مزې غوندې بریښنده.

نو زما زړه و، چې نور نو د بې علمه نقاد په څیر د نښې منځ وولم او د شطرنج د میدان د بې طرفه نندا چې په شان د نورو پر لوبو خوند واخلم، خو لکه چې کله، کله د ګل سره اغزي او... سره نیشې ملګري وي، نو ځینې دا راز خوندونه هم له روحي عذاب سره ګډوي، په تېره بیا د شطرنج د بېطرفه نندارچي له اضطراب سره اغلی خوند ، چې د لوبې مستقماً واک و نه لري.

رښتیا هم تا خو به د شطرنج لوبه لیدلي وي، چې دوه لوبغاړي په خپله لوبه کې څنګه ډوب وي او پخپله خوښه څنګه، چې یې زړه غواړي پخپلو ګوټونو لوبې کولای شي. مثلاً که لازمه وګڼې پیاده په فیل او آس وژني او که یې زړه وغواړي له پیاده څخه وزیر جوړوي، خو بیوزلې نندارچي ته دا حق نشته، چې په ګوټونو ګوتې ووهي؛ که څه هم دا نندارچي ډېر ښه شطرنج بازوي.

ګرانه ملګریه ! که ته د شطرنج د لوبې سره د زړه علاقه ولري، نو د شطرنج د میدان نندارچي روحي عذاب او اضطراب ښه درکولای شي، چې نه د لوبې له نندارې څخه ځان ژغورلای شي، ځکه چې دا یې د ذوق د وژلو حکم لري او نه په لوبو کې د مستقیمو ګوتو وهلو اجازه لري، ځکه چې نندارچي دی.

هو ! داده چې د لوبې له ننداري څخه خوند اخلي، خو دا چې په خپله د لوبې واک د ا اجازه نه لري، د خوند سره یې ډول روحي تشنج هم ګډوي....

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ته مه هو سېږه، چې دا راز د زړه خواله به څه اغېزه و تاثیر ولري، خو دومره ده، چې زما او ستا د زړه سوده په کېږي.
هو ! د زړه ناخوالي ځرګندول د زړه د غم بار سپکوي او د سړي دماغ او وجدان لږ آراموي ) ) ( ۹: ۵۵ )
کتنه:
که د خدای بښلي استاد عبدالروف بینوا د ((زړه خواله )) نثرونو ته پاملرنه وکړو ، د معنا او فورم له پلوه ځانګړی سبک لري؛ لیکوال په عملي، علمي، خو هنري ډول خپله مدعا مقابل لوری ته لېږدوي. لیکوال خپل ((ملګري )) په خطاب کې ټول حقیقتونه ځرګندوي او د یو ریالست مؤدب لیکوال په توګه زموږ د ټولنې دایمي ناخوالي راسپړي او په له منځه وړلو کې یې اقدام کوي.
لیکوال، په کلیوالي اصطلاحاتو سره مخاطب ته ګوته نیسي. په لیکنه کې ځانګړې ژبه او لهجه کاروي؛ لکه: ( د خبرو ګوډی، په خبرو خوا شنه کول، بې مزې مضمون، بې عمله نقاد ، د شطرنج بې طرفه نندارچي، روحي عذاب، په لوبه کې ډوبېدل، د زړه سوده (قوت) او نور.... )

۴- اوریا (تظاهر):
(( وګړي هر یو د خپل میل او دذوق په میچ د قدرت له تحایفو سره، چې د پسرلي په موسم کې یې د انسانانو له پاره ارمغان راوړی دی، مینه لري. څوک سحرنی خوشبویه وږمه خوښوي، ځینې د بلبل نارو او سندرو ته غوږ نیسي. څوک د ګل و نازکې خندا او د بورا وو نڅا ته منګ تللی دي؛ چا شنې سبزې ته اړخ لګولی دی، بعضې دربدې و پرهار او ها نور د نرګس د ملالو سترګو ته هیښ کوري؛ همدغسې نور....
اما زه... د هغه ګړی په هیله ناست یم، څو د رحمت د قدرت له هغه لوی دریاب څخه وما ته خپله ونډه (څو داني مرغلرې څڅواکي ) راورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتوی سئ اې د باران تر یو څاڅکو او چې په تاسې سره مې د خپلو تودو اوښکو لوند ګریوان یاد تازه کېږي؛ را اوریږئ !

په حقیقت کې ستاسې وجود پردې موسم د قدرت تر ډېرو ارمغانونو غنیمت دی، ځکه ستاسې عمر ډېر لنډ او وظیفه مو خورا درنه ده....

د سبا نسیم لا په شنه خړه د ګلشن پر خوا رارهي ده، ژر، ژر پخپلو پستو ګوتو سره د ګلانو له مخه ګرد و غبار پاکوي.

لمر لا د وخته خپلې ځلانده وړانګې رالېږلي او د بڼ پر اوسیدونکو یې توره شپه رڼا ورځ جوړه کړې ده.

بلبل له نیمې شپې په نارو سر دی، مطرب په زړه وړونکو نغمو ګوتې پورې کړي دي....)) (۴۰: ۲۳۲)

دغه ادبي او هنري ټوټه په ښاغلي سلیمي چې په ((اوسني لیکوال، دویم چاپ په ۲۳۰مخ کې معرفي شوي، اړه لري.

لیکوال نه یوازې هنري، ادبي ترکیبونه جوړوي، بلکې د پسرلی زړه ښوونکی فصل تصویر هم باسي. لیکوال د خپلې سیمې خوږې هنري اصطلاحګانې په خواږه انداز کې کاروي.

دده په نثر کې ښایسته ترکیبونه (دمیل او ذوق میچ، سحرنۍ خوشبویه وږمه، د ګل او بلبل نازکه خندا ، یوه چاشني سبزې ته اړخ لګول، د رحمت د قدرت لوی دریاب، تودې اوښکې، لوند ګریوان، د قدرت ارمغان، د سبانسیم او .... )

**۵**- ښایست:

د الله(ج) ځمکه او آسمانونه د یو ځانګړی (آند او علم) له مخې پیدا کړې دي.

کېدای شي خپل قدرت موږ ته راښيي، ځکه نو په ژوند مین شو.

(که مقصود یې د خپل مخ ننداره نه وه+ د انسان جامه یې څه لره کړه سازه)

او دا هم ممکنه ده، چې بشریت او ژوند سره بې ساري مینه لري، چې د ژوند تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګ يې بې شمېره ښايستونه ورباندې لورولي دي.

ما د الهي لويې دنيا په نه راټوليدونکي چين داره لمن کې د پياوړو تجربو پر مټو د ښکلاوو ډېرې، ډېرې تجربې وکړې، خو يوه ښايست او هېڅ ښکلا هم زما د زړه ملک تسخير نه کړ.

د لوی جهان ننداره مې له سترګو څو څو واره تېره کړه، خو د هغه ښايست ننداره مې نه په طبعيت، نه د چا مخ په پاڼه، نه د سينما او تلويزيون د يادګارونو په پردو او د کمپيوټر د نيټ د مزو د نری ليکې پر مخ ومونده، چې زړه زما ورباندې اوبه وڅښې.

پنځه حواسه مې په وار، وار د ښکلا او ښايستونو د دنيا خپلو لو ته وګمارل، خو زما د زړه قرار يې را ونه ښود او زړه مې سود ورباندې پيدا نه کړ. زما ذهن يې د سوکالۍ په بستر للو نه شو کړای. له خدايه مې د زړه د قرار د ښايسته ورشو ګلونو ته د باطني اشراق له سمندره غړپ، غړپ اوبه راوړې او د زړه د ابدې وينښيدو توان مې وغوښت.

د زړه دنيا ته ورښکته شوم، د جومات لارې مې د سترګو په کسيو په وار، وار پل کړې، خو چې له زړه سره مې د ښايستونو ننداري ته تم شوم، نو ايله مې د ښکلا او ښايست ننداره وکړه.... !

دغه ادبي او هنري نثر د معنوي ښکلا او ژوند د ډاډ د ترلاسه کولو په برخه کې دی.

انسان، مسلمان او مؤمن هغه مهال ډاډ او د زړه سود ترلاسه کولای شي، چې د الهي نورانيت له جماله تومنه او متره ترلاسه کړي. پدې نثر کې له معنوي جمال سره، سره هنري ترکيبونه ډېر راغلي دي؛ لکه( د الهي علم او پوهې واکونه، د الهي قدرت لويه دنيا ، د دنيا نه راټوليدونکي چين داره لمن، د ښکلا ډېرې، ډېرې تجربې، د زړه ملک تسخير، د زړه اوبه دزړه سود ، د ذهن د بستر سوکالي، د زړه قرار، د باطن اشراق..

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شعر کې د ترکیبونو استعمال:
شعر له شعور او شعور له زیره کی څخه اخیستل شوی دی. انساني شعور د پوهې، کیاست، خیال، او نوښت منبع ګڼل کیږي.
شعر له لرغونی یونان څخه رانیولې بیا تر اوسه پوری ډول، ډول تعریف شوی دی. چاورته موزون او قافیه وال کلام ویلی، ځینې له شوره ډک مفهوم، ځوګ لاتر اوسه وایي شعر هغه کلام دی، چی قافیه ولري؛ خو معاصرین ورته مخیل او موزون کلام وايي او نن سبایی موزون او هجایي کلام هم ګڼي.
په شعر کې ادبی او هنری ترکیبونه د شعر خوند او فن ته نوی تاب او آب ورکړ، د بیلګی په ډول:
وآسمان ته به د شعرزیني کیږدي
که حمید د غم سره زنګون وکیښ... ۳ :۱۰۰مخ
(دغم له سره دزنګانه پورته کول) او نور هغه ترکیبونه دی، چې نه یوازې الفاظ زرین ښکارکوي، بلکې معنا او مفهوم هم په ادبی زربفتو کې رانغاړي. معنوي او لفظی صنعتونه لکه طباق، مراعات النظیر، لف ونشر، عکس وتبدیل، ایهام، توریه، حسن تعلیل، رجوع، جمع او تفریق تقسیم، عارفانه تجاهل، تلمیع، اقتباس، حسن مطلع مبالغه، تبلیغ، اغراق، غلو، مقابله، تکرار حسن... او معنوي لکه تجنیس، قلب، سجع، تشبه، مشبه، مشبه به، کنایه، المشجر، مجاز، قرینه، استعاره علاقه او ...نور صفتونه په شعر کې خوآن په قصدي اولاسي توګه د شعر د هنر او معنوي زینت او ښایستونو په خاطر کارول کیږي. پاتې دې نه وي، چې دغه ښکلاوې د پښتو شعر په لرغوني، کلاسیکو دورو کې تر معاصرې، دورې اونوې پیرلا زیات شوي دي. دلته به د پښتو ادبیاتو د لرغوني، کلاسیکې، معاصرې او نویو دورو بېلګې را واخلو، چې هنري ترکیبونه او ښایستونه پکې راغلي او د پښتو شعر ښکلا یې زیاته کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: په لرغوني شعر کې د هنري ترکيب کاريدنه:
د پښتو ادبياتو لرغونې دورې شعر فوق العاده طبيعي رنګ لري، مضمون يې هم له کليوالي ژوند څخه خوند اخيستلی دی او فورم يې اصل پښتو دی. د کلي، کور، ځان ستاينې، لوړو او دنګو غرونو، پراخو دښتو، لوی سهار، نيمو شپو شپلکيو، ګلانو او ميرو او نورو انځورونو په دغه شعر کې سر راپورته کړی او د دغه شعر ښکلې خوا او مضمون يې هم غني کړي دي.
دهنری ترکيبونو کاريدنه دلرغوني ادب او شعريو له ځانګړنو ده؛ البته په طبيعي ډول ؛ پدغه دوره کې شعر، دولسې، طبيعي اوکليوالي فکرانځور دی . دزوراوزروفکرپکې نشته؛ روان، ساده، سليس، ښکلي اوله بې ځايه تقليدونو او سختيو لرې دی؛ تصويرونه اوهنري ترکيبونه اونور محاکات هنري ښکلاوې يې دوخت له فکري تړاو او پيښو سره پيوند لري؛ لکه:د شيخ متي قدس الله سره عرفاني سندري له همداسې هنري، طبيعي اسطورو څخه ۲۲۳ ق توليد ګڼلای شو .له الله ج سره د خپلې مينې پيوند پيداسې ويونو الفاظو سره کوي، چې هنری ترکيبونه پکی له ورايه ښکاري .دابيلګې په شعرکې وګورئ:

په غاړه ږغ او په شپيلکو کې
يادويرژليو په شپيلوکې
تول ستاد ياد ، نارې، سورې دي
د استاد مينې نندارې دي
جنډې زرغون که په بيد يادي
دبربڼ خواته په خندا دي...
که لمر رو ښانه مخ يې سپين دي
ياد سپوږمۍ تندی ورين دی...
...زړه مې د استاد مينې کوردی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوی دعشق په سوځنداوردی...
په غرو کې ستا د عشق شپلکۍ دي
د دې نړۍ په عشق سمۍ دي
دشیخ متي علیه الرحمه دشعرهره کلمه ، مصراع، اودور که له خدایي مینې اوانوارو مالامال دی، خوله بلې خوازمور د پام وړموضوع هنري ترکیبونه هم پکې پریمانه دی، وګورئ (په غاړه غر، دویرژلو شپیلۍ، دیادنارې سورې، دمینې نندارې، بربڼ، دسپوږمۍ ورین تندی، دمینې کور، دعشق سوځنداور، دعشق شپیلکۍ، دعشق سمۍ) اونورترکیبونه اوتصویرونه راغلي دي.
دهنري ترکیب اوهنري تصویر توپیرهمدادی ، چې ترکیب دموضوع یاد پېښو یوه برخه رنګینوي اوهنري انځورله یوې پیښې یوه ځای لومړی تصویر جوړوي اوبیایي مجموعي ځلونه کوی؛ لکه :په بیدیاکې دجنډوزرغونیدل یوژوندی تصویراو بربڼ، دمینې کور، دعشق سوځنداور، دسپوږمۍ تندی او ...هنري ترکیبونه جوړوي.
تصویر له الفاظو، کلمو، خیال، چاپیریال، هنري پوهې او ... څخه د شاعر خیالي او متاثره کوونکی درک دی، چې د الهام قوت پکې پروت وي. یا په بله وینا، انځور شاعرانه خیاله وره غوټه ده، چې یو یا څو چاپیریالو کې رامنځته شوي وي، خو هنري ترکیب ډېر ځکه د خیال لفظي ښکلاووې سینګاروي او په مرکبو کلمو کې ښکلا زیاتوي.
که د پښتو ادبیاتو لرغوني دورې شعر په غور او دقت سره وګورو ډېرو ښکلي او معنوي ښکلاوو ډک دی. که د شیخ اسعد سوري او د ښکارندوی غوري او شیخ تیمن او نورو ټول آثار هنري ترکیبونه لري.
ب: - منځنۍ دورې په شعر کې د هنري ترکیبونو کارول:
پښتو کلاسیک شعر د فورم او معنی له پلوه دومره غني او ښیرازه دی، چې د تېرو او راوروستیو دورو ښېګڼې هم له ځانه سره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مبالغې پرته که د پښتو ادب لرغوني او معاصره دوره هم زموږ شعر او نثر نه درلودلای نو د کلاسيکې دورې شعري او نثري پنځوني او ادبي هلې ځلې ورته بس وې. حضرت پير روښان، ميرزا خان، خوشحال خان، عبدالرحمن بابا، حميد مومند، کاظم خان شيدا، قادرخان خټک او د ګڼو نورو شاعرانو او ديبانو بې دريغه او مسلکي هلې ځلې د دې لامل شوې، څو نه فنا کېدونکي ادبيات، ادبي دوره، سبکونه او مکتبونه رامنځته شي او د پښتو ادب د نورو نړيوالو ادبياتو سيال کړي.

په دغه دوره کې د چا خبره په پښتو ادب د الله تعالی ډېره پيرزوينه شوې وه، چې آن د راتلونکو دورو لپاره د لوتيا ډاډ، وياړ او بالنده ګۍ سبب شول. په دغه دوره کې په مسلکي او شعوري ډول د شعر او ادب د ښېګڼې او ښېرازۍ لپاره کار پيل کېږي، لکه د خوشحال په شعر کې د ده په وينا د ژوند هرباب وينو.

د خوشحال خټک په ژبه برکته شه
چې ويل کا په پښتو له هره بابه
په هر ځای چې طمع خپل هنر څرګند کا
ډېر هوښيار ماهي، مرغونه طمع بند کا
(۴:۲۲)

په پورته بيت کې ګورو د طمع ترکيب دی، چې د احتياج د غندولو لپاره کنايه شوی دی. يا:

هنرونه يې عيبونه شي خوشحاله
د سړي چې چار د بخت شي سسته سسته... (۴۳ مخ)

د بخت چارې هنري ترکيب دی، د هيچا برخه دې سسته نشي.

په شعر کې د دې ترکيب په کارولو مخاطب ته د دې شعور او فکر پيدا کوي، چې هنر يې په عيب بدل نشي او که شي د سړي بخت به خوار او سست وي او د خپلې معشوقې له لاسه په ګردن توره قبلوي او دغه مطلب په ښه هنري انداز کې بيانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتل ستا له لاسه توره د ستم وي
ما خوشحال قبوله کړې و ګردن ته (۴۴ مخ)
د ستم توره یو رخ منطقي هنري ترکیب دی او توره له ستم سره تړاو لري،
خوشحال خان، د شعر د هنر شعوري مخکښ او بیرقدار په توګه وغوښتل په پښتو ادب او په تیره شعرکې نوې تجربې وکړي؛ نوموړي د دغه ارت او فني ډګر ماهر فنکار او اداکار سرلاری پاتې شو.
شعر ته یې د شکل او د محتوا له پلوه فني هویت ورپه برخه کړ او د ګڼو ښکلاوو ایجاد او زمینه سازئ تابیايي وکړه. دغه پیرزوینې یې د نثر او نظم په برخو کې ترقیامته دنه هیرولو دي. هغه مهال که د چا دغه ستر فني، فکري، هنري او ښکلا یز بدلون ته فکر نه و، نو د نوموړي له مرګ وروسته خو ټول هغه افکار او خیالات خپلول غواړي، چې د پښتون ژوند او ادب سره کار لري.
د خوشحال قدر که اوس په هیچا نشته
پس له مرګه به یې یاد کا ډېر عالم...
خوشحال په شعوري او عملي ډول د شعر د ښکلا لپاره متې را بډ وهلې، نوموړي د خپل دیوان په یو بیت کې داسې راوړي دي:

نازک خیال شاعر عبدالحمید مومند خو په دې کار کې سرلاری او هنرمند مبلغ ګڼل کیږي؛ لکه چې وايي:
چې د عشق هوسناکي ورته په خواشي
ډیرو یرژلی کاندې ګډه په تن تنا...
یا دا چې:
که مې زړه د عشق په تیغ سوری سوری شه
تریوه ونه دی نه کړه راته نا
که هر څو د بڼو غشی کاږه ولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو له نښې دزړه نه درومي خطا ( ۵۰ :۱۲... )
د عشق هوسناکي ، دعشق اومينې ويرژلي ياويرځپلي ، دعشق تيغ، دښوغشي او...
نورډېرهنري ترکيبونه دعبدالحميدمومند شعرهم ښکلى کوي اوهنري طاقت يې زياتوي.
کاظم خان شيدا ، چې په ميراثي اوفطري ډول دشعردفورم اومعنا ښکلااومحتواته ډيرارزښت ورکوي، پدغه برخه کې خورا ډيرښکلي شعرونه لري، چې دوه درې يې دموضوع دلاپياوړې کولو لپاره راوړو ؛ لکه:

دنرګس دسترګې ګل کله معيوب دي
سيم وزر کاندي زشتي دهرچاخونه
څه بيان دهغه نازکوم وچاته
لکه ګل دشمع نه خاندى سباته
چې په طاق دنسيان تل دزړه مينا ړدي
څه اميد کوي وهسې دلرباته ( ۴۳: ۲۲ :۲۲)

ياخودانوروعرفاني بيتونو کې هم داترکيبونه په پوره مهارت سره راوړي.دياد ولو وړده، چې هنري ترکيبونه دشعراسترجوړوي، نه يوازې ويونو لفظونو ته ښکلاوربښي، بلکې دمعنايي عميق والى اوژورتيالامل هم ګرځي؛ لکه:

الهي دمينې دردرا
ګرم دل، آهونه سردار
يادا چې:
عجب شاه دولايت دى
بلکې ماه دهدايت دى

په لاندې لوى څپيزشعرکې دغه ترکيبونه په ښه ډول راځي، وګورئ:

کدورت مې دصفاپه صيقل ورک شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا چا که سينه خوښ لکه سحريم
که شعله د سوزان اورګرم رويي کا
په محبت يې مين شوی سمندريم
دا ډول شعرونه، چې هنري ترکيبونه ښکلې کوي، د پښتو ادبياتو په کلاسيکه دوره کې ډېر دي.

ج:- په معاصره او نوې دوره کې:
په دغه دوره کې ګورو پښتو معاصر شعر له ډېرو ښايستونو برخمن دی، څومره چې نورو ټولنو زموږ ټولنه وپېژندله، اړيکي زيات شول، پېښې هم زياتې شوې، خلک له لانجو سره لاس او ګريوان شول، په سيمه او نړۍ کې نوی استعماري قوتونه را پيدا شول زموږ د ټولنې فکري نظام هم په بدلېدو شو، هماغه و، چې د ادبياتو ډګر هم ورسره پراختيا وموندله او ورسره ورسره پښتو معاصر شعر هم د پرمختګ او ښېرازۍ وزرونه ورپول او په نوې بڼه او ښايسته مضمون د ژوند ډګر ته راووت، دوام يې وکړ او له ابتذاله راووت.
د پښتو معاصر شعر د نورو معنوي بريالیتوبونو او ښکلاوو ترڅنګ د هنري انځورو او ترکيبونو امتيازهم ترلاسه کړاو داکار څه په شعوري ډول او څه هم د وختونو د تريخوالي او ترينګلتوب له امله لا پرمختګ او ترقي وکړه؛
لکه: خشک طينت چې د ساحل راته ونمايي
لکه موج سرګردان خوښ شمه په يم
ترکاکل دی پريشان يم په هجران کی
د شانی په صد پاره ځيګر قسم...
چې زخمونه د موج روغ شي، شي نابوده
په پرهار باندې يې مه ايږده مرهم...
دوزبان په عشق کی مه شه نورمحمده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيه روبه شی په طور د قلم ( ۳۷: ۳۲ )
(موج سرگردان ،د شاني صد پاره جيگر د موج زخمونه د پرهار مرهم او...دا ټول هنري ترکيبونه دي ،چې شعر ته ښکلا وربښي.
پښتو معاصر شعر کې چې څومره معنوي ارزښتونه خپل کړي دی، په سيمه او هيواد کی د خاصو شرايطو له امله و .زموږ د دغی د ادعاد سپيناوي لپاره د ادب تاريخ تګړه ليکوال اوپياوړی استاد اروا ښاد پوهاند دوکتور زيور وايی :
دانګريزانو د لومړی، دوهمی اودريیمی جګړی په نتيجه کی ديوې خوا د افغانستان د خلکو په ژوندانه باندي ډيرې درندې اغيزې راغلی دي، خو د بلې خوا څخه يې افغانان د خپلواکۍ اوآزادۍ سا تلو له پاره چمتو کړی دي او پښتو ادب يې د جنګې اورزمې لارې څخه بډای کړی دی، په دې معنا ،چې د کليواو باندو او مې او بې سواده شاعرانو د جنګ پيښې په حماسي شکل نظم کړی دي او پوهانو هم په دغه ملي نهظت کې ونډه اخيستې او يو شميرداسې کتابونه يې ليکلی دي، چې د غو کتابونو په هغه وخت کې خلکو ته د آزادۍ ډيرښه درس ورکړی دی ...
زموږ موخه او هد ف له دغې يادونې څخه داو ، چې پيښې او حالات که هرڅومره ترخه وي دادبياتو پرزمينه اغيزښندي ، ادب اوژوند متاثره کوي او ښايستونه رامنځته کوي.
دغه بيلګې لاډيرې په معاصر شعر کې پيدا کيږي:
د نصرت شمال به کوږشي
د دښمن خاطر به خوږشي...
+++++++++++++
د مستقبل په تارکييو کې زه
که لټوم فقط افغان لټوم...
+++++++++++++

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ملک د پاره مړشي
په سينه د چينو هار دي
د عزت نوم يې سور ګل شي
د ځلمو د سر دستار دی
په دې ښکلي، ښايسته سرکې
د ناموس او ننګ مسکن دی...

يا:

ستر ګو د جانان کې زما ښکلي جهانونه دي
وا دې خله د نيا زه وړی ستا د دنيانه يم
ګوره د فقير کچکول کې تاج د سکندر دی پروت
زه يم د سخيانو، د شو مانو ګدانه يم...
يو د سپوږمۍ څاڅکی درنه تيک د يار له غواړم
زه يم د خوبونو، دلالونو ګدانه يم...(۴۷: ۲۲۲)

هنري ترکيبونه نه يوازې په عشقي او غنايي شعر کې ځای لري، بلکې په ملي او حماسي نظمونو، شعرونو او ترانو کې هم مطلوبيت لرلای شي.

ميرمن الفت جانه ۱۳۴۲ هـ ق ختېکه چې د قام په درد دردمنه شاعره وه، په خپلو ملي او حماسي ترانو کې هنري ادبي ترکيب څومره ښه پيبيي:

ګوره قامونه ټول په بام د ترقۍ وختل
ته خله ګورې ترقۍ په لوري ګام پورته کړه
بيا په دنيا کې د قامونو انجمن جوړيږي
دې انجمن کې د ګمنام پښتنو نام پورته کړه...
د جهالت الزام په تاباندې په ځای لګيږي
د خپل تعليم انتظام وکړه دالزام پورته کړه (۴: ۱۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنري ترکیبونه که په نظم او غزل کې پریمانه دی، په آزاد شعر کې یې بیلګې هم ډیرې موندلای شو:

زماد ذهن په اوږده کوڅه کې
چې له ماضي ترمستقبله غزیدلې نیغه...
زمادفکرسترګولاروړکه کړه
اومادهوډ ډیرې قوي عینکې
دفکرسترګوته په سترګوکړلې
دزړه ډیوه مې دامید په تیلو
په یوه سوی اسویلی بله کړه...

یعنې د هنري ترکیب د شعر لپاره محاکات او توکي دي. دغه ترکیب د شاعر د خیال محصول دی. د دوو کلمو ښایسته او مظبوته غوټه ده، هغه غوټه ده، چې له لفظي ښلا سره معنوي ښایستونو لامل هم کېدای شي.

یوه ځوانه څیړونکی اودماسترۍ دورې فارغه د ددرویش درانی په شعرکی دسیاسي او اجتماعي افکاروانعکاس دتیزس په مجموعه کې د هنري ترکیب تعریف داسې راوړی دی: ((ترکیب دمعناله پلوه ددوو کلموترمنځ مناسبت اوتړون ته وایي، چې له امله یې نو ی انځوراوتصویر منځته راځي، شاعران ډیروختونه نوی نوی شاعرانه ترکیبونه هم کاروی، خوهغه ترکیبونه چې، پوره دتعزل او شریعت مالګه پکې ګډه وي، پرزړونوښه لګیږي، خوماهرشاعرهغه دی، چې شاعرانه ترکیبونه یې د شعر له روح، عاطفي اوله تخیل سره مستقیمه اوژوره اړیکه ولري. (۲: ۴۵)

هنري ترکیب که له یوخوادشعردوزن په پوره کولو کې هم ونډه لرلی شي.له بلې خوادشعرښکلا څوچنده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنري ترکیب په شعرکې د تخیل ماحول او فضا ښکلې کوي؛ لکه د کوټې په جوړښت کې چې، پوره او پخې خښتې ډېر رول لرلی شي. د شعر په جوړونه کې هنري ترکیب هم ښکاره ځای لري؛ د حسن اختتام لپاره لاندې شعر ګورو:

کمځوکې ستا د یاد چې مې نن خیال وزنګیده
زانګوکې مې د هیلو یو هلال وزنګیده
انځورمې شو د سترګو په پردوکې ستا تصویر
په هسک د خاطروکې مې مشال وزنګیده
په غیږ د امیدوکې مې سلګۍ وې سرګردانې
د هجر په څپوکې نن وصال وزینګیده
د طمعې تورې شپې کې ستا د حسن ستوری وخوت
د وخت د دار په څڼوکې یو کال وزنګیده
کوم سوز رغړی احمده ستا د شعر په لیمو کې
تندې باندې دیارچې مې سور خال وزنګیده (۳۴: ۴۳۸)

د لته ګورو ، چې د هیلو په زانګوکې هلال ، د سترګو په پردوکې تصویر ، د هسک په خاطروکې د مشال زنګېدل ، د امید په غېږکې سرګردانه سلګۍ ، د طمعې تورې شپې کې د حسن د ستوری ختل ، د وخت د دار په څڼوکې د کال زنګېدل او نور ترکیبونه او تصویرونه دي ، چې شعرکې ترکیب تصویر او د منظرنګارۍ قوت زیاتوي.

لنډه دا چې ترکیب د ژبپوهنې د علم له پلوه هم پوره اهمیت لري: (( ترکیب غونډ د دوو یا زیاتو خپلواکو او ناخپلوکلمو او مورفیمونو له یوځای کېدو څخه عبارت دی، چې اجزایې یو له بله سره ګرامري ارتباط لري.)) (۳۲: ۳۹)

که د جملې په جوړښت کې کلمې یوځای نشي نو نه ترکیب جوړېږي او نه جمله ! ترکیب د دوو کلمو غونډ او مجموعه ده، چې جمله په زغرده ترې جوړېدای شي. یو کلام په حقیقت کې نیمګړی بلل کېږي، چې ترکیب یې ناقص وي .په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو کلمو او بيا په شعرکې نيمګړي ترکيبونه .چې نحوي ترکيبونه بلل کيږي، راوړو :اضافي ترکيب، توصيفي ارتباطي، عطفي، ندايي، فعلي، تاکيدي ... باندې ويشل کيږي ( ۲۸ :۴۲۷ )

په شعراو بيا جملو کې ترکيب دانتظام او جوړښت مثال لري.

په شعرکې ترکيب د شعر د ښکلا ، خوزښت او معنوي او لفظي ښايستونو سبب هم کيږي .دغه معنوي اولفظي ښکلاوې چې دشعرپه ترکيب کې پرتې دي دهرشاعراو دهرې دورې دشعردښکلايي اړخونو ځلوونه کوي، هنري ترکيب دشعردښکلا ييزطاقت او پياوړتيا لامل کيدلای شي، پښتوشعرکې هنري ترکيب عاطفي او طبيعي استعمال خوراډير دی، چې پښتوشعريې دلوړتيا پوړۍ ته رسولی دی.

### ۲–۶– په ليکنه کې دسرليکنوعنوانونه دغوره کولو ارزښت

هره ليکنه عنوان او سرليک لري؛ بې عنوانه ليکنه بې نومه انسان او ځای ته ورته ده؛ لکه چې بې نومه انسان او ځای نشته او هرڅه نوم لري، همداسې ليکنه هم درواخله !...

که وغواړو ليکنه مو هويت ولري او مسلکي ليکنه وکړو ، بايد عنوان او سرليک ولري، ځکه نو عنوان ډيراړين دی. د نوم، عنوان، سرليک، هيډلن هويت او ارزښت لاهغه وخت ډيربرجسته شو ، چې پاک پروردګارحضرت آدم عليه السلام ته دشيانو اوانسانانو نومونه وروښودل .دغې خبرې د نوم، عنوان او سرليک قوت لازيات کړ؛ هرشی او هرڅه هويت پيدا کړاوله هغه راوروسته هرڅا ته او هرشي ته په نامه ورناري کړې .په کلام مجيدکې دنومونو اوعنوانو دارزښت اړوند څه ښه ارشادشوي دي :وعلم آدم الاسمأ کلهاثم عرضهم على الملکته فقال انبونی باسمأ هؤلاان کنتم صدقين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه :له هغه وروسته الله ج آدم علیه سلام ته د ټولو شیانو نومونه وښودل، بیا یې هغه پرښتو ته وړاندې کړل او ویې ویل، که ستاسې دا ګومان صحیح وي، چې د کوم خلیفه په ټاکنه کې به نظم وران شي، نو د دې شیانو نومونه وښاست. (۱ :۱۴)
عنوان او نوم که د شیانو په نومونه کې ارزښت لري او په ټولنیز ژوند کې یې ځای نیولی دی او اړتیا ورته لیدل کیږي، نو په تحقیقي او علمي څېړنو او پنځونو کې یې ضرورت او کارونه لازیاته ده.
عنوان او سرلیک د هرې مقالې او کتاب هویت ټاکي، خو شرط دا دی ، چې د هرې مقالې او کتاب لپاره لومړی مناسب عنوان وټاکل شي او بیا مقاله او کتاب تر هغه عنوان لاندې ولیکل شي؛ په څېړنیزو آثارو کې دیوه ښه عنوان ټاکل ځکه اړین دي، چې مقاله په ښکاره کلمو کې تر یوه عنوان لاندې راټولیدای شي.
لیکوال او څېړونکی استاد پوهاند محمد حسن رشیق د تألیفي کتاب او د څېړنیزو مقالو او تحقیق آثارو لپاره د عنوان ټاکلو ترتیب او تنظیم ته داسې اشاره کوي : (( کله چې مولف خپل اثر انتخابوي باید په یاد ولري، چې کیدای شي عنوان ډیر خلک ولولي، پداسی حال کې چې ټوله مقاله یا اثر لږ خلک لولي . له هرې کلمې ،چې د اثر په عنوان کې کارول کیږي، باید ډیر دقیق او په زړه پورې وي .له راتلونکی متن سره ورته والی ولري او د لوستونکي د ځانګړې پاملرنې وړ وګرځي...
عنوان کیدای شي له یوې کلمی، دوه او یا له دوه کلمو جوړ وي، خو که همدغه یوه یا کمې کلمې د متن د مضمون درسته معنا تشریح او افاده کړای شي، درسته ده او که ډیرې هم وي .د متن اصلی معنا تشریح نه کړي عنوان کامیاب نه دی.
هغه اثر چې درست او وړ مناسب عنوان ونه لري، نو پوره مفهوم نه وړاندې کوي، پیغام نشي لیږدولای او رسولای ( ۲۷ :۷)
که د طبیعت په اړه غیږ کې له وړې زرې را واخلو تر ډیرو غټو او سترو شیانو هرڅه نوم لري، چې د اصل شي مفهوم او مضمون وړاندې کوي، نو همداسې د تحقیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوعلمي اثرپه ليکلو او ارزښمندۍ کې عنوان ټاکل ډير رول لري .لکه یو ښه نوم، چې دانسان په راتلونکی شخصیت کې خورا رول لري، همدا ډول دعلمي تحقیقي اثر په وړاندې کولو او ليکلو کې ښه عنوان غوره بريښي.

په علمي او تحقیقي رساله، مقالو، تاليفي او تحقیقي آثاروکې دعنوان ټاکل اوغوره کول له هرڅه ضروري دي.

هرتحقیقي اثر له عنوانه پيل کيږي؛ عنوان دکارله پيل او شروع څخه عبارت دی .
عنوان ته سرليک دمضمون د محتوا يې ارزښت بيانوونکی پيغام ويل کيږي.

عنوان؛ مقالې، رسالې، اثراو رسنيو ته د پاملرنې اصلي لامل ګڼلای شو .عنوان په رساله کې دموضوع دتشريح اعلان ته ويلای شو .یا په بله وینا عنوان، د مقالې یا تحقیقي اثربيانونکی ګڼل کيږي.

دکابل پوهنتون دژورناليزم پوهنځی ليکوالانو اومحققينو پوهنوال عزيز احمد فانوس او پوهنمل جاويدي احمدي درسنيو اوخبردعنوان برخه کې ډيرښه تحقيق کړی، چې له مسلکي اوعلمي پلوه يادونه او رااخيستل يې ضروري دي؛ لکه:

عنوان دخبردرښتنی محتوا سپړونکی وي، دعنوان کارد خبري پيغام ليږدول دي .
د مخاطب ذهن ته د موضوع د الفبې و رسول دي، له همدې امله د خبرمحتوا باید له عنوان سره هم آهنګه وي.

عنوان، لوستونکی اصلي موضوع ته متوجه کوي او اصلي موضوع ته هدایت ورکوي .لوستونکی ځان ته راغواړي، ځکه نوعنوان ليکنه يوظريف اوبافکره کار دی اوله بلې خوا عنوان د ليد فشرده نخوړ بللی شو.

دعنوان په ټاکلو کې لاندې ټکو ته پاملرنه کيږي.

۱ -عنوان دمطلب خبر رښتنی څرګندونکی دی.

۲ -عنوان لوستونکی او مطلب ترمنځ دپيوستون ټکی دی.

۳ -عنوان مطلب ته د مخاطب د جذبيدو اصلي لامل دی ( ۵ :۲۰ -۲۱ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديوې خيرنيزې تحقيقي مقالې، رسالې او علمي ادبي اثر ټول قوت په عنوان پورې اړه لري.عنوان د ونې د تنې مثال لري.عنوان په جنګي لښکر کې د سر لښکر رول لوبولی شي؛ که سرلښکر مغلوب شو، لښکرناکام او که سرلښکر زوراو مخ پر وړاندې روان و، نولښکر هم ورسره کامياب وي او آن د هرسرتيري روحيه په سرلښکراوقوماندان پورې اړه لري.

خدای بښلی فيض محمد اخوند زاده ۱۲۵۰زوکړه، چې يو ستر عالم او مجاهد شاعر او ليکوال تير شوی دی. د امير شيرعلي خان په اوله پاچاهۍ کې ۱۲۹۲هـ د ( روضته المجاهدين ) په نامه په پښتو ژبه او نظم او د مثنوي شعر په قالب کې يو کتاب وليکه، چې د يو ښه سرلښکر او غوره افسر شخصيت ترې ښه ښکاري نوموړی نظر درلود:

په لښکرکې چې افسر وي
مې بايد چې دلاور وي
شجاعت لري قرار وي
په صفونو کې جرار وي
هم عاقل اوهم مدبر وي
ښه ديندار ه مذکر وي
دلسوزي لري ناصح وي
هم انصاف لري صالح وي
سخاوت لري ښه داد کا...
له لښکر سره امداد کا
له لښکره باخبر وي
په خپل کار کې باهنر وي)) ( ۳۸: ۲۲ - ۲۳ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنوان ، سرليک يا له اصلي موضوع سره د ارتباطي پله په معنا ده .دعنوان د اصلي پيغام د معنا ليږدول او ابلاغول دي؛ دموضوع د متن ليږد دعنوان اصلي دنده ګڼل کيږي له دې امله هرڅه ته يو ښه نوم اوعنوان ټاکل ضروري خبره بريښي.

د سرليک يا عنوان اهميت:

عنوان؛ د موضوع د متن ليږدونکي وسيله ده؛ عنوان هغه وخت هويت او اهميت پيدا کوي، چې متن ښه معرفي کړای شي .که غواړو يوشي، يو نوم، يوځای او يوه ليکنه باارزښته معلومه شي لازمه ده په زړه پورې او دقيق عنوان ولري .دعنوان اهميت ديوې موضوع دمنځپانګې ښه برجسته کول اوښکاره کولو پورې اړه لري.

په څيړنيزو اوعلمي ليکنو کې د عنوان اهميت، له بل هرڅه نه ډير ښکاره اوارزښتمن بريښي .نه يوازې په تحقيقي ليکنو او پلټنو کې، بلکې په خبري، اقتصادي، سياسي او ټولو ټولنيزو ليکنو کې ! هره خپرونه اوهرخبره د عنوان له مخې اهميت پيدا کوي، مړه او متروک خبري مواد له جالب او په زړه پورې عنوان سره اړخ نه لګوي، همداسې يوه زړه څيړنيزه ادبي موضوع هم درواخله ! ! !...

زما په نظر عنوان؛ د يوې ماڼۍ يا تعمير د بنسټ او بام مثال لري .له يوې خوا يوه ماڼۍ بايد يو ښه اساس، تهداب او بنسټ ولري، له بلې خوا کلک اومضبوط بام !...، که دا دواړه ونه لري او يا کلک نه وي، نو ماڼۍ، به کمزورې او يا کړه وي؛ له همدې امله عنوان يا سرليک يوه اثر ټول طبيعي حدود ټاکي او په دې شان ليکنو ته اهميت ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د يوځيړنيز اثرد عنوان ځانګړني:

عنوان ډير ډولونه لري، لازمه ده يواځې يې نومونه واخلو او بيا اصلي موضوع ته را شو ، يعنې له مسلک سره سم د تحقيقي اثرد سرليک په ځانګړنو او ارزښت پوه شو.

د سرليک عنوان ډولونه:

دهرې موضوع د تشريح کولو لپاره د مناسب عنوان ټاکل اړين دي .هره موضوع دماهيت له مخې بيله لار تعقيبوي؛ ځکه نوعنوان يې هم توپير لري لومړی بايد عنوان وټاکو او بيا موضوع ترهغه سرليک لاندې راوسپړو ؛ د موضوع سپړل د عنوان ماهيت ښکاره کوي که څوک داسې فکر کوي، چې خالي عنوان ټاکل ضروري دي، دا هم درسته نه ده؛ د موضوع موجوديت د عنوان اېښود او اړتيا رامنځته کوي، مهمه داده ، چې څنګه د اړوندې موضوع لپاره مناسب عنوان غوره کړو .عنوان د موضوعاتو د مناسبت له مخې ډول او ارزښت پيدا کوي او په لاندې ډول ويشل کيږي.

۱ -تشخيصي ژورناليستيکي عنوان

د ورځينۍ موضوع په اړه خبر ورکوي، تازه وي، نوې وي او اول لاس موضوعات اعلانوي؛ لکه :د کابل هوا دودجنه ده.

۲ –لنډ عنوان د سرمقالوعنوان(سرليک )

د مهمې ورځينۍ موضوع اويا ورځپاڼې پاليسي په برخه کې معلومات ورکوي؛ لکه:په ټولټاکنو کې درغلۍ

**۳ – فيشني (کشداره، تجارتي عنوانونه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو د زياتي توجه او پاملرنې لپاره کارول کېږي، دغه سرليکونه په ورځپاڼه، اوونيزه... او ذوقي مجلو کې ډېر تر سترګو کېږي؛ د ماهيت پر ځای يې فيشن او موضوع ته ډېره پاملرنه کېږي، د بازار موندنې لپاره وي.
دخط ډولونه يې ددې لپاره مختلف وي، چې د مشتريانو ذوقونه سره تړاو پيدا کړي.
دغه عنوانونه ډېر ځله د اعلان په خاطر کارول کېږي؛ لکه د خوراکه ، پوشاکه، شرکتونو دمشهورولو علانونه...

**۴ – متحد المال او تکراري عنوانونه:**
دغه عنوانونه له بده مرغه په سياست کې او هغه هم په دې ورستيو کلنو کې ډېر زموږ په هيواد کې مروج شول. د دغو عنوانونو استعمال د ليکنې په ټولو ډګرونو کې تر سترګو کېږي لکه: پاکستان په خپل سياست کې رښتنی نه دی !
دغه عنوانونه د شکل له پلوه ښه، خو د موضوع له اړخه خورا بدرنګه او بې خونده دي او يو ډول سولېدلي کلمې سره اړوي را اړوي؛ د مثال په ډول ( زموږ د حکومتي کارونو اولويتونه ( ! ) يو ډول شفاف نه دي ) دا او دغسې نور متحد المال عنوانونه پوره ډېر دي. له هغو عنوانونو عبارت دي، چې په اخبارونو او سوداګريزو اوونيزو او مجلو کې بيا بيا کارول کېږي.

**۵.**ادبي هنري عنوانونه:
له دغو عنوانونو څخه مطلب ( د ادبي او هنري ) موضوعاتو او ټوټو د ليکلو لپاره د ادبي او هنري عنوانونو غوره کول دي. دغه عنوانونه ښايسته، جذاب زړه راکښونکي او لنډ وي، تر دغه عنوان لاندې داسې موضوعات ليکل کېږي، چې پوره پوره ابتکاري بڼه لري، موضوعات يې پخپله د ليکوال نوښت وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختصاصي ا وفني عنوانونه يې هم بللای شو ؛ لکه: د سبا سترګه، درې ماموران، د لمر ښکالو.....
تر دغو عنوانونو لاندې کېدای شي د ليکوالو لخوا بېلابېل مضمونونه خپاره شي.

۶- پوښتنيز سرليکونه (عنوانونه)
ډير ځله دغه سرليکونه په ورځپاڼو او اخبارونو کې کارول کېږي. له هغو عنوانونو څخه عبارت دي، چې ژورنالستيکي مضمون ولري. د اقتصادي او تجارتي او پوځي موضوعاتو د مشخصولو او ارقامو معلومولو لپاره پکاريږي.
د موضوع له پلوه غير ادبي وي، خو د معلوماتو برخه يې پياوړې وي ؛ولې او سنی شعرپرونی خوندا وښکلا نه لري؟( نن د تيلو څو ټانکره هيوا ته راغلل؟ ! يا ( ولسمشر به کله د هيواد د خلکو په درد ، دردمند شي؟ دغه عنوانونه که څه هم لاس په لاس توضيحي بڼه نه لري، خو تشريحي او خبري برخه کې پوره د پاملرنې وړ ده.

۷ - څيړنيز(تحقيقي ) عنوانونه:
څيړنيز عنوان که څه هم پوښتنيز او انتقادي لوری نه لري، مګر د موضوع له پلوه ډير تاوده، د پام وړ او جالب وي. هغه مضمونونه، چې تردغو عنوانونو لاندې را سپړل کېږي د ټولو لپاره په زړه پورې وي. دغه عنوانونه يوه زړه موضوع په نوي ليدلوري سره توضيح او را سپړي؛ موضوع کېدای شي مختلفه وي، خو تحقيقي عنوان بايد لنډ سوچ پارونکی او وضاحت ورکوونکی وي لکه: ( د کابل د يخ ژمي اقتصادي حالت د اند ېښنې وړ دی)
تر دغه عنوانو لاندې د موضوع له پلوه مختلف موضوعات تشريح کيدای شي. تر دغو سر ليکنو لاندې هغه مضمونونه تر څيړنې لاندې نيول کېږي، چې يو ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخینه، یا لرغوني بډاینه لري او بایګرونډ (Byground) ولري او مواد مخکې له مخکې د تحقیق لپاره موجود وي. لنډه دا چې عنوانونه د ډول له پلوه ډیر دي، چې توضیح یې اړینه نه ده.
یو خیړنیز ادبي اثر له کومو برخو جوړیدلی شي؟
تر ټولو مهمه خبره د یوه اثر، مقالې، او رسالې جوړښت او ساختمان دی. د مسلکي لیکنو د لا ښه سمبالښت او تنظیم او غوره توضیح په خاطر لازمه ده هره برخه یوه لار او پروګرام ولري، څو لیکوال په ښه ډول وکولای شي د پام وړ موضوع ښه تشریح کړي؛ هغه وخت یوه موضوع مسلکي وړتیا پیدا کوي، چې تر مشخص عنوان لاندې را وسپړل شي.

یو خیړنیز ادبی اثر له لاندې برخو جوړېږي:
۱. سرلیک( عنوان): باید پر برجسته تورو ولیکل شي؛ عنوان د یو مضمون د ټولو معانیو ، ښېګڼو او بد ګڼیو بیانونکی سر خط دی.
د صفحې په منځ کې لیکل کېږي او نور ټول مطلب ورلاندې توضیح کېږي او د ژرنالېزم د پوهنځي د درانده استاد پوهندوی فانوس په وینا:
عنوان سر آغاز سخن همچو سلام است
عنوان کلام دل و سر لوحه و نام است
عنوان ستایشگر تعبیر معاني
بر صفحه سروصورت و بر متن مقام است (پښتي)
۲.سریزه(مقدمه)
سریزه یا مقدمه؛ د یو علمي ادبي او خیړنیز اثر لومړنی برخه ده. که عنوان په یو ماشوم د نوم اېښودو معنا لري، نو سریزه د ماشوم د سترګو معنا لري؛ لکه بې سترګو چې څه لیدلای نه شو ، بې سره تفکر کولای نه شو ، بې مقدمې یو خیړنیز اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيل کېدای نه شي. (مقدمه د موضوع پيل او د کار ابتدا ګڼل کېږي) دغه خبره د منلو او نه منلو وړ ده.
که د کار پيل ښه او مسلکي وي، نو څېړنيزه موضوع هم ښه تشريح کېږي؛ له همدې امله سريزه د موضوع او کتاب پيل او مسلکي بيان ته وايي. سريزه د موضوع د سپړلو لپاره يوه غوره ابتدا ده.
د يوه تحقيق ټول نوښت او ابتکار په مقدمه پورې اړه لري، نه يوازې نوښت بلکې د څېړنې او تحقيق اړتياوې هم په مقدمه کې را سپړل کېږي.
نو مقدمه داسې تعريفولای شو(( مقدمه د تحقيقي کار سرېل يا سريزې او يا پيل ته ويل کېږي؛ مقدمه د يوې موضوع تخنيکي خواوې وړاندې کول دي.مقدمه په اصله موضوع کې له يو تعريف نه شروع کېږي؛ اړتياوې په ګوته کوي او خپل اهداف بيانوي او همدا رنګه د کار د روش او چلند شېوه او ډول هم پکې وړاندې کېږي ))(۲۷-۵۵: ۱۲)
داسې فکر ونه شي، چې مقدمه د څېړنې او کار له نورو برخو بېل کار دی، بلکې مقدمه په موضوع کې د حقيقت را برسېره کول او ساده ښوول دي.
د يوې ښې مقدمې ښېګڼې په لاندې ډول راوړلای شو:
الف: د نومړې موضوع د تحقيق ځانګړنې پدې کې دي ،چې ستونزې په ډاګه کړي. دغه ستونزې بايد په ښکاره ډول بيان شي. (لوستونکی د اثر ټولې ستونزې په ښکاره ډول په مقدمه کې پيدا کړي. )
ب: لوستونکي ته د موضوع اړوند آثارو سره ارتباط ورکړل شي. لوستونکی له موضوع سره هغه وخت ارتباط او تړاو پيدا کولی شي، چې مقدمه مطالعه کړي او د ليکوال په هدفونو ځان وپوهوي.که هدفونه په سريزه کې په څرګند ډول بيان شوي وي، نو لوستونکی ترې ښه مطلب اخيستلای شي او د مقالې د متن له لوستلو سره هم علاقه ښيي او د متن لوستل هم ورته آسانه کېږي. سريزه د متن د انګړ دروازې ته ورته ده. ،که نه نو انګړ ته د ورننوتلو کار به ستونزمن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج.د تحقيقي کار چلند او هم لاملونه يې، چې د موضوع د تاکنې اصول توجيه کړي؛ بايد توضيح او ځرگند شي او په پوره وضاحت سره بيان شي، د څېړنې د کار عمده پايلې ښکاره شي. بايد ځرکنده کړو، چې د تحقيق کار د فيلم له موضوع سره توپير لري. فيلم د هنر يو خوږ ډول دی ،چې هدف په هنري انداز او هغه هم په پوره پوره انداز کې ښکاره کوي؛ په فيلم کې اصلي هدف د غوټو او بندونو تر شا را ښکاره کېږي، خو په تحقيق کې هدف نيغ په نيغ په لاس راځي، هېڅ ډول خيال او ابهام په کې نه ځايږي. تحقيقي اثر د ساعتيرۍ آله نه ده، بلکې پوهه او معلومات ورکوونکی دي.

د ـ مقدمه، د هدف معرفي کوونکي توکي او اساس دي، له دې امله ستونزه بايد په معقوله توگه په کې حل شي، که نه نو لوستونکی يې له حل سره بې مينې کېږي. د مقدمې دا څو اصله سره تړاو لري.

ځينې اصطلاحات هم بايد په مقدمه کې رانشي، ځکه مقدمه د دې کار د سپړلو ښه بستر دی.

يادونه: په حقيقت کې د انشا پيل او شروع درې ډول دي:

الف: ځينې څېړونکي او په تېره اروپايي ليکوال بې مقدمې په کار پيل کوي. دوی وايي (که مطلب ډېر لنډ وي يا په خپله اصل مطلب جذاب وي، نو مقدمې ليکلو ته اړتيا نشته.)

ب: له مطلب او موضوع نه د مخه يوه مقدمه ليکل هم رواج وي. دا يوه زړه او پخوانۍ طريقه ده او ډېر ليکوال په دغه لاره تللي دي

ج: دريیمه طريقه دا ده، چې مقدمه نه ليکي، مگر مضمون او موضوع هم له سره شروع کوي، بلکې د يوه داستان م داستان منځ يا آخر شروع لپاره غوره کوي او وروسته له نتيجې د داستان متن ليکي، يعنې اول يې جذابه برخه را اخلي او بيا نوره کيسه تماموي. دا طريقه ډېر مهارت غواړي، که څوک په دغه چل ښه پوه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په ښه ډول يې سرته ورسوي ډېره جالبه طريقه ده، مګر که په ماهرانه ډول نه وي او بې تناسبه وي نو نتيجه يې ښه نه ده.

د خدای بښلي استاد الفت په وينا(( د مقدمې ليکوال رواج پخوا دومره ډير وو، چې شخصي او رسمي مکتوبونه او فرمانونه هم ترينه خلاص نه وو او منظوم حکايتونه به هم په يوه مقدمه شروع کېدل؛ ليکوالو او شاعرانو به په مقدمه کې ډير زور لګاوه او په دې وسيله به يې د لوستونکو توجه خپل مضمون ته را ګرځوله. ( ۷: ۳۶ )

لنډه دا چې مقدمه ليکل اوس بيا مروج دي، خو له پخوا سره په دې توپير، چې لنډه وي د کار هدفونه او چلندونه د مقدمې اصلي چوکاټ جوړوي. بايد په مقدمه کې د مضمون د ليکول اسباب او علتونه بيان شي، څو هدفونه په لاس راشي؛ ښايسته ښکلې وي او له موضوع سره ښه ارتباط ولري، چې د لوستونکو پاملرنه مضمون او د ليکوال مطلب ته را وګرځوي؛ د يو مضمون لپاره ښه مقدمه د کار ښه پيل بلل کېږي.

**۳ – موضوع يا متن:**

موضوع او متن د مقالې اصلي مضمون جوړوي؛ يا د اصلي موادو ليکول ډول او کار له عمومي طرز څخه عبارت دی. موضوع د غوټو را سپړل او ښکاره کول دي يو عنوان او سر ليک را سپړل او د مضمون د متن د سپړلو پر مهال شوني کار دی .که په مقدمه کې هدفونه ذکر او يادونه کېږي، خو په متن کې دغه هدفونه را سپړل کېږي. کېدای شي دغه هدفونه تحقيقي وي او يا کره کتنيزه بڼه ولري، چې د هرې برخې سپړل يو څه توپير لري؛ د بېلګې په توګه:

په دې ډول ( که موضوع تحقيق او څېړنه وي، بايد را وسپړل شي؛ لکه يو بکس يا بوخچه او يا يو غوز (چارمغز ) چې را خلاص شي. دغه کار د تحقيق د مهارت پر مټ کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې معنې چې موضوع ښکاره او محققه شي باید موضوع په هکله د نظریاتو تل ته ورشو؛ د موضوع د لا ښکاره کولو لپاره پر نورو مفکورو ډه ډه لګول د قناعت کول دي (یو ښه تحقیق د لاس په ورغوي کې د اوبو د رڼو څاڅکو نیول دي.)

د تحقیق او لیکنې د مثالي سپړلو ډول (نحو) د موضوع د متن را سپړل او برجسته کول دي. په متن کې یوه موضوع (تحلیل، تفسیر، تفصیل او څېړل کېږي.)

که موضوع کره کتنه وي، نو باید د کره کتنې له اصولو کار واخیستل شي. مواد سره او ناسره، ښه او بد شي. دغه کار د یو ښه بزګر کارته پاتې کېږي ((په تحقیق کې خپل نظر نه شو شاملولای، خو په کره کتنه کې خپل نظر راوړلای شو، په دې شرط، چې طرف او لوری واقع نشو؛ یعنې هره موضوع او متن داسې را وسپړو، لکه لمر چې دورځې په غېږ کې نړۍ ښکلې کوي. (۲۰: -۵۷: ۱۰۵-۱۰۶)

د تحقیق د موضوع او متن په سپړلو کې یوازې:((د لیکوال مطالعه، تجربه، پوهه او د کار چلند او روش ګټوره نه تمامېږي، بلکې د متن د لا ښه څېړلو لپاره کله ناکله او د اتیا له مخې باید (د مرکې، لیدنې، د خلکو تجربې کتابتونونه ته ورتګ، نېټې، ځانګړو لارو چارو او نورو ګټورو چلندو څخه کار واخلو او د متن څېړل د یو ښه تحقیق له لارې غني کړو.)) (۴۲: ۵۸- ۷۴)

۴- پایله(نتیجه):

په مقاله یا تحقیق کې د ټولنیزو (مجموعې) موندنو لاسته راوړلو ته پایله یا نتیجه وایي. نتیجه د یو تېزس د حل کلي؛ له تیزس څخه نچوړ را ویستل دي.

پایله په ادبي او علمي متن کې دومره ضروري ده لکه د بزګر لپاره له خپل کښت نه حاصل تر لاسه کول. پایله د اثر مهمه برخه ده او مهموالی یې په دې کې دی، چې له پورته شوي تحقیق څخه یو عمومي لنډیز یا مهم اجمال وړاندې کېږي، خو دغه لنډیز باید کره او شمارلي کلیمې وي. د تحقیق یا اثر ټول تیزس ښایست په لنډیز او نتیجه کې نغښتی دی؛ نتیجه دوه برخې لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله برخه؛ په دغه برخه کې (تحقیق یا وړاندې شویو کلي تجربو انځور وړاندې کېږي؛ خو کوم جزیات، چې د متن یا د موضوع په څېړنه کې وړاندې شوې ول، نه وړاندې کېږي) پایله له متن څخه په ګوته راټولو شویو مهمو برخو ته وایي.
دویمه برخه؛ هغه ارقام او د قناعت وړتوکي، چې په تحقیق کې لاسته راغلي، وړاندې کېږي. په نتیجه کې تکراري خبرې نه راوړل کېږي. د تحقیق لنډیز او نتیجه دلیکوال او محقق د ښه کار کولو قدرت او توانایي ښيي. پایله باید لنډه وي هره پایله د محقق د کار د بریالیتوبونو خبرتیا ده.

**۵.** ماخذونه:
د فهرست جوړول ضروري او ماهرانه کار دي؛ په لیکوالۍ او تحقیقي آثارو، کتابونو او مجلو کې د ماخذونو استعمال او کارول ضروري کار دي. هغه اثر غوره تحقیقي او علمي ګڼل کېږي، چې (دقیق، کره، نوي، اول لاس او په موضوع پورې پوره اړوند ماخذونه پکې راوړل شوي وي.)
یو تحقیق، یوه تحقیقي مقاله د لیکوال یا څېړونکي د تدریسي او اوږدو تجربو مطالعو پوهنو مجموعه وي. دغه مجموعه هغه وخت غني وي، چې له پوره یادو شویو مطالبو سره د نورو پوهې او تجربې را واخلي، خو دا ددې معنا نه لري، چې یو اثر دې د نورو له موادو جوړ شوی، اقتباس او را اخیستنه دې وي.
په تحقیقي اثر کې مهمه خبره دا ده، چې موږ و پوهېږو څومره د یوې موضوع د لا ښه کره کولو او غني کولو په خاطر له بل چا کتاب او اثر څخه را اخیستنه کوو.
دغه ماخذ پرځای کارول پرځای دی او کنه؟
په نوموړي تحقیق کې د ماخذ کارول دویم تحقیق غني کوي او کنه؟
ددلیکوالۍ او تحقیق موضوع له ماخذ سره رابطه او اړیکه لري او که څنګه؟ که خپل تحقیق یا مقاله د ماخذونو په راوړلو پر سوو دا کار بې ضرورته دی (مهمه مساله د یوې موضوع ښه کره کول، سوچه کول او محقق کول دي. د همدې اړتیا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې په خپل اثر کې ماخذونه کاروو. په اکاډیمکو څېړنو، لیکنو، مقالو او کتاب لیکلو کې لازمه ده. علمي کتابي او اکاډمیک ماخذونه وکارول شي.
له اخبار، ذوقي مجلو او غیر معیاري او اکاډمیکو موادو څخه په علمي څېړنو کې د ماخذ راوړل د وخت ضایع کول دي.
زموږ په هېواد کې د خپګان وړ خبره ده، چې تراوسه لیکوالي د یو کلتوري ارزښت په توګه نه ده منل شوې، معمول او استعمال خو یې لا لري خبره ده. علمي او اکاډمیک مرکزونه، اکاډمۍ او پوهنتونونو دغو مواردو فني لیکوالۍ سره سرو کار لري.
هر څومره چې ټولنه د مدنیت په لور ګامونه اوچتوي په هماغه اندازه کلتوري ارزښتونه هم هویت پیدا کوي؛ له بده مرغه لا تراوسه په علمي مؤسسو کې د مقالو او کتابونو او نورو څېړنو او تحقیقاتو کې له یو ډول ماخذونو ګټه نه پورته کېږي.
د افغانستان د علومو اکاډمۍ کې د ماخذونو د کارولو پخوانی سیستم دود لري او په پوهنتونونو کې بل ډول. په اجتماعي او طبیعي علومو څېړنو کې هم بله لار تعقیبېږي. د تحقیقي مقالو، کتابونو او مجلو متن هم د ماخذونو کارول بېل بېل ډولونه لري او په مختلفو ډولونو کارول کېږي.
د ماخذونو د فهرست د برابرولو لارې-چارې هم بېلې دي او په لاندې درې ډولونو ترسره کېږي. (نوم او وخت د شمارې په ډول، د الفبا په ډول، د شمارې طریقه....)
اوس اوس په پوهنتونونو کې له علمي او ادبي منابعو څخه ماخذ را اخیستل یو ډول او په اکاډیمۍ کې بل ډول دی.

پوهنتونونو کې د مثال په ډول:
(موضوع لویه یا وړه له نورو منابعو را اخلي، چې کله اخیستنه یا ماخذ پای ته ورسید، ټکی ږدي، لیندۍ بندوي، وروسته یو قوس پرانیزي، شارحه ورکوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ راوړي او قوس بندوي: ((ادب د ملتونو د فطرت او فکري غنا څرګندونه کوي. ادب په یوه ټولنه کې د علمي، کلتوري سوله ښوونکي وسیله ده.))
پاورقي کې بیا ماخذ راوړي، د کتاب یا مقالې په پای کې ماخذونه د الفبا په ترتیب راوړي.
په اکاډمۍ کې د پخوا په ډول تشریح کیږي
د اوس لپاره په پوهنتونونو او علمي کارونو کې دغه روش په پام کې نیول کیږي.

ماخذونه:
۱- قرآنکریم. سوره بقره. کابل: اطلاعاتو او فرهنګ وزارت بیهقي خپرونه.
۲- الفت، ګل پاچا الفت. ۱۳۳۸. لیکوالي. (املاء او انشاء) پېښور: رفعت کتابخانه. ناصرباغ.
۳- بابا، عبدالرحمن. ۱۳۸۰. دیوان. پېښور: حیات آباد، صبا خپرندویه ټولنه.
۴- بخاري، ډاکټر. سید عظیم شاه خیال. ۱۳۹۳. رحمان پوهنه. پېښور: بابو حیدر روډ. رحمن ادبي جرګه.
۵- دواني، علي. ۱۳۷۷. هنر نویسنده ګي و نامه نګاري. ایران: تهران. دانشګاه دولتي خیابان شعر. مطبعه سهام.
۶- رشیق، پوهاند محمد حسن. ۱۳۸۴. طرز نګارش اثر علمي تحقیقي. کابل: کابل پوهنتون د نشراتو ریاست.
۷- زیور، دوکتور زیور. ۱۳۹۰. د پښتو ادبیاتو تاریخ. او سنۍ دوره. پېښور: ارباب روډ. د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.
۸- عثماني، پوهنوال حشمت الله. ۱۳۸۹. روش تحقیق در علوم اجتماعي. کابل: انتشارات فرهنګ. کتاب فروشي فرهنګ.
۹- فانوس، پوهندوی عزیز او احمدي جاویده. ۱۳۸۸. عنوان نویسي. کابل: انتشارات رسالت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰- نیا ، محمد رضا حافظ. ۱۳۸۷. مقدمه ای بر روش تحقیق در علوم انسانی. ایران. تهران: سازمان مطالعه. مرکز تحقیق و توسعه علوم انساني.

**۲-۷- پر نثر د نظم یا نظم پر نثر اړولو اړتیاوې:**

نثر پر نظم یا نظم پر نثر اړول په مسلکي لیکوالی کې یوه اړتیا ده؛ لیکوال او شاعران په تیره هغه لیکوال، چې شاعران مبلغین، سیاستوال، ورځپاڼه چلوونکي او لیکونکي او یا استادادن دې ته اړتیا لري، چې مسلکي مضمون آفریني وکړي، او (نثر پرنظم او نظم پر نثر واړوي)

په تېره نظم خو ډیر پر نثر اوښتی، تفسیر شوی، کره کتنه وربانديې شوې او د تحقیق ډګر وربانديې په وار وار تود شوی دی) د نثر د لا قوت لپاره نظم د سند په توګه را خیستل شوی او دغه کار په تحریر او شفاهي لیکنو کې په کراتو مراتو تر سره شوی دی.

کله کله داسې هم کېدای شي چې لیکوال یو لوی مطلب او مفهوم د شعر یا متل په ژبه لنډ بیان کړي ځکه شعر خو سوچه کلمې دي یو ډول دي ؛متل او وجېزې هم همداسې دروا خله !

د بېلګې په ډول عبدالرحمن بابا خپلې مینې له ترخو شکایت نه کوي او یادا چې د مینې سوزنده حالات په عادي او اوږدو خبرو کې نه بیانوي، خو خپله دغه ناکراره حالت د شعر په آهنګینه او اغیزمنه ژبه داسې راوړي:

زه دا هسې دیوانه او مجنون چا کړم
له رواجه له رسومه بېرون چا کړم
نه پوهېږم چې دا چارې په ماڅوک کا
لیونی د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومې سترګې کوم باڼه کومه غمزه ده
ډوب شهید غوندې په خاک و په خون چا کړم... ( ۸: ۱۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې شعر په نثر او نثر په شعر اړوو په ادبیاتو کې ضروري او طبعي خبره ده.
نظم او نثر د ټولنیزو حقایقو د راسپړلو یو وړ بستر دی که نظم دی او که نثر دی تحقیق په کار کې په درد خوري، ځکه نو اړینه ده، چې نظم پر نثر او نثر په نظم واړولی شي.
په ادبیاتو کې که ( تخلیقي برخه ده او که تحقیقي ) په تېره تخلیقي ( مضمون آفریني ) یا مضمون پیدا کول یو ضروري اصل دی. تخلیقي او تحقیقي مواد له طبیعت یا په طبیعت پورې اړوند خبرو څخه تر لاسه کوي.
که غواړو د تحقیق کره کتنې او نور علومو په برخه کې یوه خبره ثبوت ته ورسوو لازمه ده( له قرآن، حدیث، شعر، نثر تجربو، پوهنو، متلونو او وجیزو ) څخه مرسته وغواړو؛ د تحقیق په بهیر کې شعر او ورته مطالب را سپړل او تفسیرول د موضوع د حل لاره ده.
نظم او نثر دواړه په حقیقت کې د لیکنې دوه مهم شکلونه دي، چې بشر له لرغونو زمانو ورسره بلد دی.
د انساني ژوند د پراخې برخې تفسیر د دواړو فورمونو( نثر او نظم) له لارې تر سره کېږي او نثر خو لا ډېر پراخ میدان لري، خو دلته زموږ مطلب له هغه هنري نثر دی؛ په هر ډول په لاندې (موارد و ) کې نظم پر نثر او نثر پر نظم اړوو:

۱ـ د مسلکي اړتیاوو له مخې:
د تحقیي لیکوالي او څېړنې بهیر دا ایجابوي، چې یوه مفکوره په یو لوی شاعر(ناظم) یاو نثرنګار(نثرلکوال) پورې اړه ولري هغه را واخیستل شي تحقیق ورکې وشي، کره کتنه یې وړاندې کړې لکه: کله چې د روښانیانو ،خوشحال خان او دده د ادبي کوررنۍ او پلویانو او د عبدالرحمن بابا او د هغه د ملګرو په شعري سبک غږېږو لازمه ده د هغو د مفکورو تل ته ور ننوځو د شعرونو او نثرو پخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځي ښېلګې یې رااخلو، قضاوت وربانديې وکړو د سبک او اغېزې یې بیان کړو او داسې نور...
همداسې که وغواړو د یو لیکوال او شاعر د لیکوالۍ او د شاعرۍ د ښېګڼو او بدګڼو او نورو اړخونو په برخه کې معلومات وړاندې کړو، لازمه ده د مسلکې اړتیا له مخې یې تفسیر کړو او دغه کار تر ډېره بریده د هنر په برخه کې په پام کې نیول کېږي.

**۲ـ د ذوقي پوهې د زیاتولو لپاره:**

د لیکوالۍ اصول ایجابوي چې هر لیکوال او شاعر د ابتدایي شعرونو او نثرونو په تفسیر لاس پورې کړي او دا کار په وار وار او بیا بیا وکړي څو د لکوالۍ د ډګر ته رووځي د لیکوال پوه په دې پورې اړه لري، چې څومره شعرونه د څو شاعرانو او څومره نثرونو د څومره ناثرانو زموږ زده دي او یادا چې له یو کتاب او یا بل ځای څخه یو متل، شعر او نثر را اخلو پر هغه له ذوق سره سمه تحلیل او تفسیر کوو. ذوقي لیکنې د تحقیق پنځونو لپاره ښه مقدمه ده.

**۳ـ د موضوع د اختصار او یا اوږدیدو په خاطر:**

که داسې هم پیښېږي یوه غټه تحقیقي موضوع په یوه یا دوو بیتونو یا یوه متل کې را ونغاړو او یا یو شعر چې تغیر قوت پکې موجود وي ورو ورو او ټوټه ټوټه پر نثر واړوو؛ د مثال په ډول: د یو کتاب یا تحقیق د بشپړولو لپاره په پیل کې (بسم الله الرحمن الرحیم) وایو او بیا خدای ته التجا کوو او په خپل کار ښه پیل کوو او غوره پای ته د رسیدو لپاره د شعر په ژبه تمنا کوو؛
عبدالرحمن بابا د خپل کار د ښه والي لپاره الله ج ته د حضرت پیغمبر ص حضور شفیع وړاندې کوي:

الهي د خپل حبیب له برکته
دا ساده انشا رنیګینه د رحمن کړې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا رنګه د دنيا(نړۍ) د پيدا کېدلو د کيفيت علتونه توضيح او تشريح کوو او د عرفاني ديد(مفکورې) او عقيدتي باورونو له مخې يې بيانوو، د يو شاعر شعر را اخلو:

د دانيا ده خداى له عشقه پيدا کړې
د همه وو مخلوقاتو پلار دى دا ...

د روزنې او روزنيز فکر په برخه کې د خپل اولاد، د وطن اولاد او اهل د معارف ته د زيار ويستلو روحيه ورکوو، هغوى په لنډه ډول د يوې لنډۍ يا شعر په واسطه ترغيب او تشويقوو؛ لکه:

چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چا ويل چې په درياب کې ګوهر نشته

يا:

بې زحمته راحت نشته زما وروره
که عزت غواړې زحمت درلره بويه...

همدارنګه د حقيقي يا مجازي مينې مينانو ته لازمه ده د شعر په ژبه روحيه ورکړو او ورته وواېو:

که د عشق لاره اغزنه ده هر ګوره
دعاشق په پښو خپلې دي د اور
که ديدن د ګلعذار په انتظار شي
زما ستر ګې دي شبنم غوندې څلور

حقيقي يا مجازي مينه:

تيغ د اوسپني محتاج د نرم آب دى
قرب وحلم يو په سل دى زيات تر زور

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لوېي له سرکښۍ زما توبه ده
خدای څوک مه کړه د آسمان په څېر نسکور
خدای زده څه سودا به پېښه په بازار شي
د بازار خبري نشي په خپل کور
دا همه واړه عاشق لره پیدا شول
که تهمت، که ملامت دی که پېغور
جفا، جور، ناز و کبر د خوبانو
ما په ځان دي قبول کړي لکه پور
(( راحت بې زحمته نه دی چا موندلی ))
غم، ښادي دي، د دې دهر خور و ورور
رحمان هسې په خپل یار پسې غوخ غوخ یم
لکه غوخ په خپل اولاد وي پلار و مور (۲۴: ۳۴۰ )

یا کله، چې د پادشاهې زلیخا د ناسوري عشق د ګدایی تصویر یو شاعر باسي، نو په لنډو ټکو کې د سوز او ساز څېره داسې وړاندې کوي:
عشق د عقل په تدبیر چلاوه نه شي
په دې ناوې نه جوړېږي پسول د چا
چې پادشاهه زلیخا یې کړه ګدایه
پرې به نږدي په ځای مینه قول د چا...
له وهلو به یې شرم څوک په څه کا
چې په غاړه شي د مینې ډول د چا...

یا د قناعت په برخه کې لنډ مطلب وړاندې کوو:
قناعت هسې دولت و حمید ورکـــــړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پــادشاه ګنې تــــــــر ځا نه بینوا
چې په سوال اوږدوي لاس چا ته حمیده !
ښه یې وړی لاس تـــــــــــــر زني بې نوا (**۵۱**: **۲۱**: **۱۴-۱۲** )

کله هم ممکن یو ځوک یو قطعه شعر یا یو بیت لـه مـوزون حالت څخه غیـر مـوزون حالت ته راواړوي؛ په هرډول ( نثر پر نظم او نظم پر نثر ) اړول علمي و تخیلي، ذوقي او هنري مهارت او تمرین غواړي.

د سـعدي شـیرازي (   ) دا قطعـه شعر مـورد انسـان د شـکر ویسـتلو فضـیلت تـه رابولي؛ یو لیکوال غواړي نور خلک د نعمتو پر مصرف پوه کړي، خبره په څومره هنري انداز، حکمت او عارفانه هوښیارۍ کې کوي او بشر په دې پوهـوي، چـې تـه اشرف د مخلوقاتو یې، ځکه دغو خبرو او ټولنیزو نزاکتونو ته متوجه مه اصراف کوه او مه غافله کېږه؛ لکه:

ابرو ، بادومه و خورشید و فلک درکارند
تا توانی به کف آری و به غفلت نخوری
جمله از بهر تو سرګشته و فرمانــــبردار
شرط انصاف نباشد که تو فـرمان نبری. ( **۲۲**: **۵۹** )

لنډه دا چې (نظـم) او (نثـر) د اړتیـا او څېړنیـزو سـپړنو، تفسـیرونو، تحلیلونـو او نورو ارزښتونو لپاره یو پر بل اړول کېږي او د خدای ښښلي            سید رسول رسا د وینا له مخط نظم او نثـر د لیکنـې دوه لارې او دوه سـبکونه او روشـونه دي، چـې علمي او ټولنیز پراخه مفهوم له لارې تشریح او تفسیرېږي؛

لکه:

نظم دی که نثر طریقې دوه د لیکلو
نه دی انحصار د شاعرۍ په تش ویلو
نثر کې هم راشي شاعري ښکلي ښاغلي
نظم هم شي نثر شاعري په زړه داغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل ته د بلبل ژبه په کار ده خو بې ګله
تشه د الفاظو مــــاهري ده لا حاصله
خيال شاعر نه پيکر د شعر، شاعري ده
نور رخت و زيور دی د پيکر و چاکري ده
روح چې نه وي، ښکلی که کالبوت شي د دلبر
وايه يو مرده دی، د زربفت کفن په سر
نظم دي پيلي مــــــرغلري د خيالاتو
تش لفظونه څوک ګڼي معيار د کمالاتو ... ( ۳۹: ۲۵۱)

**۲-۸- د دويم څپرکي د مطالبو لنډيز:**

- ليکنه يوه فني ارتيا ده او د ليکوالۍ فن د زيات تمرين، اصولي لارو او علمي طريقو په واسطه ترلاسه کېدای شي.
- کله چې انسان کار کوي، ورسره ورسره ښايي، چې خطاوې هم وکړي، په تېره په ليکنه کې، ځکه ليکنه يو فني عمل او مسلکي کړنلاره ده؛ لارمه ده مـوږ پـه وار وار ټکنـي، دوه زړي او لـه سـتونزو سـره مخامخ شـو، لـه همدې امله بايد فني لارې خپلې کړو.
- د ليکنـې پـه کـار کـې دا اړينـه ده، چې ليکنـه مسـلکي کـړو؛ لـه مسـلکي ليکنـې او فنـي ليکـوالۍ څخـه زمـوږ موخـه (هـدف) دا دی، چـې د يـو ( مســوليت او تـولنيز درک لـه مخـې خپـل کلتـور او خپلـې ژبـې تـه ځـه وروبښو، دا کار هله امکان لري، چې ژوند دغه کار ته وقف کړو.
- هره ژبه د تخليق او تحقيق په لړ کې پياوړې کېږي، که وغواړو مسلکي ليکوالي وکړو لازمه ده لاندې ټکو ته پاملرنه وکړو:

أ. تفکر کول، په مسلک فکر کول او مثبت عمل ته لاس وراوږدول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب. هر تخلیق کوونکی د ټولنیز ژوند په اوږدو او د طبیعت په اړه غبرګې یو نوښتګر، مبتکر او بدیع انسان ګڼل کېږي، ورته بویه په خپل سپېڅلي او روا کار (د لیکنې) په فني ګانه ځان سمبال او له بېځایه وخت تېرونې او خطاوو ځان وساتي؛ دغه کار هله ترسره کېږي، چې لیکنه یو مسلک او یو کسب وګڼي.

ت. سواد، پوه د لیکنې په کار کې حتمي دی؛ که لیکوال د خپل مسلک اړوند ډېره مطالعه ونه کړي، له طبیعت او ماحول څخه متاثره نه شي، نه تخلیق کولای شي او نه تحقیق. که لیکوال غواړي هنري نثر ولیکي او یا څېړنه وکړي لازمه ده له تکراري کلمو ځان وساتي.

ث. د ژبې په دستور ځان پوه کړي، په تېره مقید او آزاد مورفیمونه، شرطیه توري او تکراري او ټینګاري کلمې او مورفیمونه بیا بیا ونه کاروي. ضمیرونه ټول وپېژني او پرځای یې وکاروي، نومونه، قیدونه او فعلونه په ګرداني توګه او ساده ډول استعمال او ګردان کړي.

ج. لنډه او ساده لیکنه وکړو او په لوی لاس د لیکنې ته خال او درې ورنه کړو، له نورو ژبو څخه خپلې ژبې ته راغلي لغتونه د خپلې ژبې تر قاعدې لاندې مفرده او جمعه بڼه یې وکاروو.

- مهمه دا ده، چې څه ډول لیکنه وکړو؛ اوس خلک ستونزوره لیکنه نه خوښوي، خو دا د دې معنی نه لري، چې د آسانۍ په پلمه هر اصل له منځه یوسو.
- که څوک وایي، چې لیکنه یو ډول اصول دي، چې هېڅ بدلون نه مومي، نو د اسلام په اوایلو کې، چې کومو مسلمانانو کومې ابتدایي لیکنې او راغونډونې کړې وې دوباره به ور کې انکشافات نه راتلل. د مثال په ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسي يا فولکلوريک داستان له اوسني سره اوس اسو څومره توپير لري.

- په پښتو اوسني ليکني بهير کې يو لړ کموني او زياتوني هم کېږي، چې ليکني بهير تشخصي، سمتي او سلقه يي کولو خوا ته وړي؛ لکه: ډېر خلک فکر کوي، ډېر خلک فکر کوي يا راغلي وو، راغلي ول يا د اداتو په کارولو کې دقت وشي.
- همدارنګه د اوسني ليکدود په برخه کې د هر فونيم لپاره د يو مشخص ګرافيم نه درلودل دي، لکه چې ويل کېږي، له (واول پرته کلمه نه تړل کېږي) که داسې وي په پښتو او دري ژبو کې ډېرې داسې کلمې شته، چې زموږ د رسم الخط له مخې واول ور کې نشته ؛ لکه: بد )، چې له دوو تورو رغېدلې کلمه ده، خو که په فونيمکي الفبې يې ونه ليکو، نو واول يا حرکت په کې نه ليدل کېږي. په داسې حال کې، چې بد (Bad) بايد داسې وليکو.
- د فعل صرف هم په پښتو ژبه کې د نارينه او ښځينه لپاره په جلا جلا او واضح ډول سره راغلي؛ لکه: هلک راغی، نجلۍ راغله. يو هلک راغی، يوه نجلۍ راغله. مطابقتونه بايد په نومونو، صفتونو، عدد او معدود او فعلونو کې په پام کې ولرو.
- په ليکوالۍ کې د ښې، کلمو، جملو او هنري ترکيبونو کارول په تېره په هنري نثر کې ضروري دي. لکه هېڅ ليکنه او اثر، بې کلمو او جملو نشي رامنځته کېدلای، نو يو هنري اثر هم پرته له ښو جملو، کلمو او ترکيبنو نشي رامنځته کېدلای. لکه ديوال، چې بې له خښتو نشي پورته کېدلای، ليکنه بې کلمو نه رغېږي. د يو ليکوال خبره الفاظ او مادي توکي کابو يو ډول اغيز ښندي، که څوک په کور کې ميلمه کوو او د هغه قدر کوو او يا د هغه د ښېګڼو بيان نورو ته کوو، دواړه د هغه پر روان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیت ستایلو او غندلو کې یو ډول رول لري، نو له همدې امله د کلمو د کارونې ځایونو ته باید هر اړخیزه پاملرنه وکړو.

- په لیکنه د شعر، متلونو او غوره ویناوو کارونه که له یوې خوا لیکوالي فني او ښکلې کوي، له بلې خوا د لیکوال هویت هم لوړوي.
- هرڅومره، چې په هنري نثر کې شعر وکارول شي، ښکلا یې لا زیاتېږي، په لیکنه کې د شعر کارول د لیکنې روح پیاوړی کوي او ښکلا وربښي. د پېښو هنري تړاو په هنري نثر کې د شعر د کارونې امکان پیدا کوي؛ لکه:

هغه زړه به له طوفانه په امان وي چې کشتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي

- په لیکنه کې شعر د وړتیا او اړتیا له مخې کار ځای پیدا کوي او ټولنیز پیغام لېږدوي. د پیغام لېږد د بېلابېلو توکو، وسایلو او الفاظو په ذریعه وي.
- لیکوالي ذوق تحریکوي؛ لیکوال په اسانۍ سره کولای شي خپل او د ټولنې ذوق له دغې لارې خړوب کړي. دا ډول هنرمند لیکوال کېدای شي په یوه یا ډېرو مسلکو کې پوهه او لوی لاس ولري.
- د محقق او لیکوال کار له نورو فرهنګپالو لا ستونزور دی، ځکه لیکوالان په ټولنو کې د ټولنیزو موضوعاتو رامنځته کوونکي او پالونکي دي.
- لیکوالان او محققین په بېلابېلو خبرو کې تحقیق او لیکنې کوي؛ دغه لیکنې سیاسي، اجتماعي، ادبي، علمي، فولکلوریکي او هر ډول ټولنیزه پوهه او شعور انعکاسوي؛ شعرونه، متلونه، وجېزې او ولسي پوهنې او تجربې او همدارنګه د وختونو په اوږدو کې په ټولو لیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شويو موضوعګانو ليکنې کوي او په دې ډول د خپلو ټولنو فرهنګ ژوندی ساتي.

- په ټولنيزو، ادبي او علمي موضوعګانو د ليکوالو لپاره د نورو خبرو تر څنګ د اجتماعي شعور قوت په شعر کې، متل، غوره وينااوو او نورو ولسي پوهنو کې ډېر انعکاس کوي.
- ليکوالان په دا ډول ليکنو کې ډېر ارزښتونه انعکاسوي، آن (په هنري او ادبي نثر او شعر کې هنري ترکيبونه کاروي، چې د ادبي او هنري ليکنو ارزښت ډېروي.)
- د ادبي ليکنو اعجاز او ښکلا په هنري ترکيبونو پورې اړه لري، نثر هغه وخت هنري ګڼل کېږي، چې هنري ترکيب ولري. هنري او ادبي ترکيب په ليکنه کې (هغه عاطفي او تخيلي غوټه ده، چې د نومورړي مضمون ماهيت ترې جوړېږي، خو دغه ماهيت ډېر ځله ښکلي او فزيکي بڼه احتوا کوي که څه هم چې ماهيت په مضمون کې پورټ وي.
- په نثر او په تېره شعر کې (هنري انځور) هر اړخيز دی؛ هنري تصوير د باندې نړۍ او شاعر د خيالي دنيا ترمنځ رابطه جوړوي. په هنري تصوير کې د کلام معنوي او لفظي ښکلا راتلای شي، خو هنري او ادبي ترکيب يوازې د مشبه او مشبه به ترمنځ تناسب رامنځته کولای شي؛ په حقيقت کې هنري ترکيب د ادبي مضمون محاکات او ښکلا زياتوي.
- هنري نثر ښکلی، خو له مفهوم او مطلب نه ډک مطالب لري، يو فکر لېږدوي او يوه موضوع څاري. هغه وينا چې د لفظ له پلوه ښکلې او د معنی له اړخه بېل بېل مضمونونه ولري، هنري نثر نومېږي.
- د هنري نثر ليکوال په ټولنيز نظام کې د ټولنيز فکر القا کوي. د غه نثر ته ترسيمي او حکايوي نثر هم وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د هنري نثر ترخنګ (هنري ترکیبونه) په شعرونو کې ډېر کاریدلي دي؛ د پښتو ادبیاتو د لرغوني، منځنۍ، معاصرې او نوې دورو کې ډېر ډېر کاریدلي دي، چې بېلګې یې خورا ډېرې دي.

که مې زړه د عشق په تیغ سوری سوری شه
تـــــــر یـــــــــوه ونه دې نه کړه راته نا ...

یا:

کدورت مې د صفا په صیقل ورک شو
په دا چاکه سیــــنه خوښ لکه سحر یم...

- په لیکنه کې د سرلیکونو (عنوانونو) غوره کول یو با ارزښته کار دی. هره لیکنه عنوان لري، لکه هر سړی، چې نوم لري، همدا شان تحقیقي، علمي او ادبي لیکنې خو بې عنوانه نه وي؛ عنوان د مضمون او مطلب د حتوا لارښود دی.
- عنوان او سرلیک د هرې مقالې او کتاب هویت ټاکي، خو شرط دا دی، چې د هرې مقالې او کتاب لپاره لومړی مناسب عنوان وټاکل شي، بیا مقاله او کتاب تر هغه سرلیک لاندې ولیکل شي. ښه عنوان د غوره کتاب معرفي کوونکی دی. د هرې لیکنې او کتاب هویت که له عنوانه ښکاري، مطالعه یې هم له سرلیک څخه پېلیدونکې ده.
- عنوان د هر مطلب که لوی وي یا وړوکی د مطلب (خبر) رښتینی څرګندونکی دی. عنوان د لوستونکي او مطلب ترمنځ د پیوستون ټکی دی. عنوان یا سرلیک مخاطب ته د جذبېدو اصلي لامل دی. د یوې تحقیقي مقالې عنوان د ټول اثر د قوت بیانوونکی دی. یو تحقیق په عنوان برجسته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د عنوان اهمیت په دې کې دی، چې د موضوع د متن لېږدونکی پیغام وسیله ده. که غواړو یو شی، یو نوم، یو ځای او یوه لیکنه با ارزښته معلومه شي لازمه ده په زړه پورې او دقیق عنوان ولرې.
- د عنوان اهمیت د یوې موضوع د منځپانګې د برجسته کولو ښه لاره ده. په ټولنیزو او تحقیقي لیکنو کې د عنوان اهمیت له بل هر څه نه ښکاره او ارزښت لري.
- عنوان ډېر ډولونه لري؛ لکه: لنډ عنوان، فیشني یا کشداره (تجارتي)، متحدالمال او تکراري، ادبي او هنري، پوښتنیز، څېړنیز، ذوقي او نور ...
- د یوې څېړنیزې مقالې عنوان له ټولو مقالو با ارزښته وي، ځکه ځانګړنې لري، برجسته وي، معرفی کوونکی د موضوع وي، متمرکز او پیاوړی وي، پوهه لېږدوي، اول لاس موضوع معرفي کوي.
- په عمومي ډول یو څېړنیز اثر (مقاله)، آن کتاب له لاندې برخو جوړېدلای شي:
  (عنوان، مقدمه، مت (موضوع سپړنه)، نتیجه او ماخذونه)
- سریزه (مقدمه) هم د تحقیقي اثر یا مقالې عمده برخه ده؛ له ډېره پخوا په تحقیقي مقالو کې مروجې وې، خو کله نه دي لیکل شوي. په مقدمه کې لیکوال باید د خپل کار هدفونه معرفي کړي، ستونزې باید په معقوله توګه په کې حل شي، آن ځینې اصطلاحات هم په مقدمه کې تشریح شي. مقدمه د عنوان او موضوع ترمنځ ارتباطي پل دی. په مقدمه کې د پاتې کار شیوه، میتود، برخې او د حل لارې په ګوته کېږي.
- موضوع یا متن؛ د څېړنیزې مقالې عمده برخه ده. موضوع او متن د مقالې اصلي مضمون جوړوي. مضمون باید راوسپړل شي؛ د لیکوال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحقیق کار د مقالې د مضمون په سپړلو پورې اړوند دی، ټوله خواري د لیکوال د یوې موضوع غوره سپړل او را الوځول دي.

- په مقاله یا تحقیق کې عمومي موندنو ته نتیجه وایي. نتیجه د مقالې یا تېزس د حل کیلي ده. په نتیجه کې ټوله متن څېړنه د ارقامو له مخې حسابېږي. نتیجه هنري لمنه ده، چې د اصلي پیغام په کې راټول شوی وي.
- ماخذونه هم په معاصرو څېړنو کې اهمیت لري، هغه ماخد د اهمیت وړ دی، چې زموږ د کار موضوع لا برجسته او غوره کړي. تحقیقي مقالې بې ماخذونو نه وي. ماخذونه مختلف ډولونو باندې کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲–۹– د دويم څپرکي پوښتنې:

۱) ليکوالي څه ډول فن دی او دغه فن ته څنګه د ليکنې عملي کړنلاره وايي؟

۲) څنګه په ليکنه کې له تېروتنو ځان ژغورلای شو؟

۳) هنري نثر، تحقيق او تخليق څه ته وايي؟

٤) که وغواړو مسلکي ليکنه وکړو لازمه ده کومو ټکو ته پاملرنه وکړو؟

۵) د ضميرونو، نومونو، صفتونو، قيدونو او فعلونو پرځای کارول زموږ د ليکوالۍ په فني کېدو او نه کېدو کې څه رول لري؟

٦) له خپلې ژبې ته له نورو ژبو راغلي لغتونه له کومې قاعدې لاندې جمع کېږي؟

۷) د وينا او ليک ترمنځ ولې توپير شته؟

۸) د لاندې لغتونو درست او نادرست صورت وليکئ.

لکوره، لموره پکور کې، لکتابه مې لاس واخيست.

له تاسره، لتاسره، په تاپسې، پتا په سې، ما بهره غرمه پلوړه تېروله، آسمانتې کتل...

۹) په يوه علمي ليکنه کې (کښې، کښې، کې، کخې... کوم ډول ته ترجيح ورکوئ او ولې؟

۱۰) د اوسني ليکدود په برخه کې غټه ستونزه د هر فونيم لپاره د ګرافيم نشتوالی دی او که نور څه؟

۱۱) د منه او ترخه د کلمو په منځ کې د زور او که د زورکي تفاوت شته او ليکل کېږي کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲) وايي، چې پښتو ژبه يوه تصريفي ژبه ده، د غه خبره زموږ په ژبه کې ولې ډېره مهمه ده؟
۱۳) د نوم او د فعل په صرف څومره پوهېږئ؟
۱٤) په ليکوالۍ کې د ښو کلمو او ښايسته جملو کارول څه اهميت لري؟
۱٥) که يو ليکوال غواړي هره شيبه له خپل مسلک سره مينه وکړي ورته لازمه ده څه وکړي؟ او څو شيان په نظر کې ولري؟
۱٦) په ليکنه کې د شعر، متلونو او غوره ويناوو کارول څه اهميت لري؟
۱۷) په يوه ليکنه کې د شعر د وړتيا او اړتيا له مخې ځنګه کار ځای پيدا کوي او ځنګه امکان لري؟
۱۸) لاندې يو بيت په يوه لنډه هنري ليکنه کې تفسير کړئ.

د ځوانۍ عمر دې تېر کړ په غفلت کې    په پيرۍ کې به څه زېرمې د محشر کړې...

۱۹) متل ځنګه او د څه لپاره په ليکنه کې کارولی شو؟
۲۰) که غر لوړ دی، پر سر لار لري؛ د دغه متل کارول په کوم ځای کې مناسبت لري؟
۲۱) په ليکنه کې د (غوره ويناوو) راوړل څه اهميت لري؟
۲۲) هنري ترکيب څه ته وايي؛ تعريف يې کړئ؟
۲۳) هنري ترکيب د شعر او نثر په لفظي برخه کې ډېر کارول کېږي، که په معنوي؟
۲٤) آيا تاسو په يو نثر کې څو هنري ترکيبونه کارولی شئ؟
۲٥) يو، دوه، درې بيتونه چې هنري ترکيبونه په کې راغلي وي، راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲٦) په معاصر ادب کې د هنري نثر لیکوال څوک دی؟
۲۷) (غنچه روه)، ګنج پښتو، آدم خان او درخانۍ کیسه، توبة النصوح په کوم لیکوالو پورې اړه لري؟
۲۸) د هنري (ترسیمي او حکایوي) نثر بېلګې کومې دي؟ نومونه یې واخلئ.
۲۹) آیا طنز یا سکوندنه د شکل له پلوه د هنري نثر یو ډول دی؟
۳۰) د پښتو شعر په بېلابېلو دورو کې د هنري ترکیب استعمال په کومه دوره کې ډېر شوی دی، یوه یوه بېلګه یې له هرې دورې را واخلئ.
۳۱) په یوه لیکنه کې سرلیک راوړل څه ارزښت لري؟
۳۲) سرلیک (عنوان) څه ته وايي؟
۳۳) د یو عنوان په ټاکلو کې کومو ټکو ته ارزښت ورکول کېږي؟
۳٤) د عنوان یا سرلیک د اهمیت په برخه کې څومره پوهېږئ؟
۳۵) عنوان څومره ډولونه لري؟
۳٦) څېړنیز عنوان کومې ځانګړنې لري؟
۳۷) یو څېړنیز اثر له څو برخو جوړېږي؟
۳۸) د یو عنوان څو تعریفونه را واخلئ.
۳۹) سریزه څه ته وايي، د اثر کومه برخه ده؟
٤۰) د یوې ښې مقدمې ښېګنې په څو ډوله دي؟
٤۱) متن څېړنه یا راسپړنه د یو تحقیقي اثر کومه برخه ده؟
٤۲) د متن یا موضوع سپړل او څېړل کومې لارې لري؟
٤۳) په متن کې د تحقیق موضوع څه ډول او په څو ډوله تفسیرېږي؟
٤٤) د یو تحقیقي اثر نتیجه څنګه لیکلای شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۵ ) نتيجه معمولاً څو برخې لري؟
۴۶ ) ولې د يوې تحقيقي مقالې په پای کې نتيجه ليکو ؟
۴۷ ) ماخذونه څه ته وايي؟
۴۸ ) د خبرنيزو مقالو او کتابونو ماخذونه په څو ډوله ليکل کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲–۱۰– د دويم ځېرکي ماخذونه


۱- قرآنکريم. ۱۳۸۰. الم سپاره. سوره بقره. کابل: اطلاعاتو او فرهنګ وزارت. بيهقي خپرونه. آزادي مطبعه.

۲- ارسطو. ۱۳۶۰. فن شعر. تهران: طوسي خيابان فردوسي.

۳- الفت، ګل پاچا. ۱۳۶۰. غوره نثرونه. کابل: پښتو ټولنه. د مطبوعاتو مستقل رياست. دولتي مطبعه.

۴- الف جانه، مېرمن. ۱۳۸۸. اوسني ليکوال. کندهار: د علامه رشاد خپرندويه ټولنه.

۵- احمدی، فانوس، عزيزاحمد و جاويده. ۱۳۸۸. عنوان نويسی. کابل: انتشارات رسالت.

۶- اميري، فرزانه. ۱۳۹۱. د درويش دراني په شعر کې د سياسي او اجتماعي افکارو هنري انعکاس. کابل: کابل پوهنتون ماسټري تيزس.

۷- الفت، ګل پاچا. ۱۳۳۸. ليکوالي. املا او انشا. پېښور: رفعت کتابخانه. ناصرباغ روډ.

۸- بابا ، عبدالرحمن. ۱۳۸۰. ديوان. پېښور: حيات اباد. صبا خپرندويه ټولنه.

۹- بينوا ، عبدالروف. ۱۳۸۹. د زړه خواله ( دويم چاپ ) کندهار: روهيال کمپيوټر اداره.

۱۰- بينوا ، عبدالروف. پښتو متلونه. ۱۳۵۸. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمی. دولتي مطبعه.

۱۱- بابا ، عبدالرحمن.۱۳۵۲ديوان کابل:پښتو ټولنه.دولتي مطبه.

۱۲- بيتاب، استاد عبدالحق ، ملک الشعرا. ۱۳۴۵ انشا مقالات. کابل: د ماليې وزارت خپرونه. دولتي مطبعه. ۱۳۰ پرله پسې ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- بورګی، پوهاند محمد طاهر. ۱۳۸۰. د کاڼي کرښې (مقاله). پېښور: هوتک کمپیوټري مطبعه.
۱۴- پنزل ،هربرت (د الهام ژباړه ).۱۳۸۹.د پښتو ګرامر. کابل:صدیقي خپرندویه ټولنه.
۱۵- تړی، ډاکټر. ۱۳۴۹ کال. پښتو فعلونه. کابل: کابل پوهنتون نشرات.
۱۶- تازوی، عبدالله. ۱۳۸۱. هزارګفتار: عربستان. چاپ مطبعه مکه مکرمه.
۱۷- حبیبي، پوهاند عبدالحی. ۱۳۵۷ . پښتو چاپي آثار په دوو تېرو پېړیو کې. کابل: د اطلاعاتو او کلتور وزارت. دولتي مطبعه.
۱۸- حبیبي، عبدالحی. ۱۳۷۵. پښتو چاپي آثار په دوو تېرو پیړیو کې. کابل: د اطلاعاتو او کلتور وزارت. د پښتو پرمختیا او پیاوړتیا مرکز
۱۹- حقپال، محمدآجان ۱۳۸۰. مستقبل (مجله) دویم کال. ۱۳ او ۱۴ کلسیکسون. پېښور: جهانګیر آباد ، جمرود.
۲۰- حافظ نیا ، ډاکټر محمدرضا. ۱۳۸۷. مقدمه ای بر روش تحقیق در علوم انسانی. ایران. تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی. دانشګاه سمت. مرکز تحقیق و توسعه علوم انسانی.
۲۱- خټک، ډاکټر راج ولي شاه. ۱۳۸۰. د کاڼي کرښې. هوتک کمپیوټري.
۲۲- خټک، خوشحال. ۱۹۵۲. دیوان (لومړی چاپ). پېښور: قصه خوانی.
۲۳- خویشکی محمدصابر. فونولوژي – مورفولوژي.۱۳۹۲.ننګرهار:ختیځ خپرندویه ټولنه.جلال کوټ .
۲۴- خیال بخاری، ډاکټر سید عظیم شاه. ۱۳۹۳. رحمان پوهنه. پېښور: بابو حیدر روډ. رحمن ادبي جرګه.
۲۵- چمتو ، محمد قسیم. د ۱۳۸۷. د پښتو لیکدود او فونیمکي لیکنې ترمنځ توپیرونه. کابل: کابل پوهنتون علمي مجله، دویمه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۶- دوانـی، علـي. ۱۳۷۷. هنـر نويســنده گـی و نامـه نگـاری. ايـران: تهـران. دانشگاه دولتی. خيابان شهر. مطبعه سهام.
۲۷- رشـيق، پوهانـد محمـد حسـن. ۱۳۸۲. طـرز نگـارش اثـر علمـی-تحقيقـی. کابل: کابل پوهنتون. د نشراتو رياست.
۲۸- رښـتين، پوهانـد صـديق الله. ۱۳۷۲. پښـتو ګرامـر. پېښـور: خيبربـازار. يونيورستي بک ايجنسي.
۲۹- رفيع، حبيب الله. ۱۳۶۰. افغان ياد. کابل: کابل پوهنتـون د ژبـو او ادبيـاتو پوهنځی
۳۰- روهي، صديق. ۱۳۶۰. ادبي څېړنې. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی.
۳۱- روهـي، کانديـد اکاډيمسـن محمـد صـديق. ۱۳۸۵. شـعر پېژندنـه. کابـل: صميم ادبي ټولنه.
۳۲- زرغونه، پوهندوی دوکتور. ۱۳۸۲. پښتو نحوه. پېښور: ساپي څېړنـو او پراختيا مرکز.
۳۳- زغم، احمد شاه. ۱۳۹۰. هنري نثر. کابل: کابل پوهنتون، ناچاپ اثر.
۳۴- زغم، احمد شاه. ۱۳۶۶. دا ليکوال او دا څېړنې. کابل: د نشراتو رياست. د چاپ او خپرونو دولتي کميټه.
۳۵- زيـار، ډاکټرمجاوراحمـد. ۱۳۶۵ کـال. پښــتو پښــويه. ننګرهـارپوهنتون خپرونه.
۳۶- زيور، پوهاند زيورالدين. ۱۳۹۰. پښتو ادبياتو تـاريخ (اوسنی دوره ). جلال آباد. ساپي نشرات. د مخابراتو څلورلاري.
۳۷- زيـور، ډاکټـر زيورالـدين. ۱۳۹۰. د پښــتو ادبيـاتو تـاريخ اوسنۍ دوره. پېښور: پښتونخوا. د ساپي څېړنو او پراختيا مرکز. ارباب روډ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۸- زيور، پوهاند دوکتور زيورالدين. ۱۳۹۰. د پښتو ادبياتو تاريخ ( اوسنۍ دوره ). پېښور: ارباب روډ. د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز.
۳۹- زيور، پوهاند ډاکټر زيورالدين. ۱۳۹۰. پښتو ادبياتو تاريخ اوسنی دوره (درېيم چاپ). پېښور: ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز.
۴۰- سليمي. ۱۳۸۸. اوسنی ليکوال ( دويم چاپ ). کندهار: صحاف نشراتي مؤسسه.
۴۱- شميسا ، دکتر سيروس. ۱۳۸۳. انواع ادبي. درېيم چاپ. تهران: طوسي خيابان فردوسي.
۴۲- شيرزاد ، پوهنمل محمدآقا. ۱۳۸۴. ادبي فنون. کابل: ښوونې او روزنې پوهنتون. سيد جمال ادبين کمپيوټري خدمتونو چاپخونه.
۴۳- شيدا ، کاظم خان. ۱۳۸۴. ديوان . پېښور: دانش خپرندويه ټولنه .
۴۴- فريدونفر ، محمدرضا. ۱۳۸۷. گل واژه های سخن. ايران: مشهد. مطبعه ملي ايران.
۴۵- قويم، پوهاند دوکتور عبدالقيوم. ۱۳۸۹. شعر چيبست. کابل: انتشارات سعيد.
۴۶- عشمانی، پوهنوال عشمت الله. ۱۳۸۹. روش تحقيق در علوم اجتماعی. کابل: انتشارات فرهنگ. کتاب فروشي فرهنگ.
۴۷- غني، غني خان. ۱۳۶۴. کليات. کابل: د قومونو او قبايلو وزارت. نشراتو رياست.
۴۸- ماندګار روزنامه ۱۳۹۱ کال. ۱۲ گڼه.
۴۹- مايکوفسکی. ۱۳۶۳ کال. درباره ادبيات.
۵۰- مومند ، عبدالحميد. ۱۳۸۳. کليات. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
۵۱- مومند ، عبدالحميد. ۱۳۸۳. ديوان. پېښور: د قصه خوانۍ. دانش خپرندويه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۲**- هاشمي، څېړنوال سيد محی الدين. **۱۳۸۹**. د نثري ادب ډولونه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمی. د بشري علومو معاونيت. د پښتو څېړنو نړيوال مرکز.

**۵۳**- هوتک، محمد. **۱۳۵۲**. پټه خزانه (څلورم چاپ) کابل: کابل پوهنتون. ادبياتو او بشري علومو پوهنځی.

**۵۴**- هېوادمل، سرمحقق زلمی. ۱۳۹۰. د پښتو نثر اته سوه کاله. دويم چاپ. کابل: کلوله پشته، دانش خپرندويه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

## ۳– املااو انشاء

**پیلیزه ( مدخل):**

د لیکوالۍ آره او اساسي خبره، د ( املاء او انشاء ) په بحث پورې اړه لري.

ټولې لیکنې که ادبي یا غیر ادبي دي په املاء او انشاء کې راخي؛ یعنې لیکني آثار له یوه سره د املاء او انشاءله دایرې نشي وتلای؛ هرومرو به یا په املاء او یا انشاء پورې تړاو لري.

په دغه فصل کې ( د املاء لغوي او اصطلاحي پېژندنه ) چې د ( کلمو سم تلفظ، د کلمو په لیکنه کې ګرامري قواعدو مراعاتول، د کلمو او ترکیبونو سم لیکل، د کلمو په لیکنه کې د امکان تر حده د اشتبا مخه نیول، په پښتو ژبه کې د نفي او نهې کلمو جلا لیکل، د پښتو ژبې خانګړو تورو پرځای کارول او ... )

د انشاء اصل، د انشاء په لیکلو کې رغاونیز توکي، د انشاء جوړښت، د درنې او ستونزورې انشاء د لیکلو علتونه، په انشاء کې د بهرنیو کلمو دکارونې اړتیاوې، ډولونه او ...

انشاء پورې اړوند شیانو باندې په وړ او مناسب ډول خبرې کېږي او لکه نورو څپرکو غوندې لنډیز، پوښتنې او ماخذونه به هم که خدای کول ښکاره شي.

### ۳–۱– الف– املا: Dictation

پښتو- انګلیسي قاموس، د علومو اکاډمۍ نوي چاپ په (۳۴ ) م کې راغي: (( املاء (imla ) ښځ-م. Dictation-Spelling ته وآیي. )) (۹ : ۳۴ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتو ژبه کې د نورې(جنس) له پلوه مؤنث (ښځينه) نومونو ډله کې راخي؛ لکه: ليلا ، امريکا ، املاء او .... سره له دې، چې املاء عربي کلمه ده، په پای کې همزه هم لري، خو په پښتو ژبه کې په الف تلفظ کېږي.

په خينو نورو قاموسونو کې وايي: ((املاء(imla) ښځ-م-ډکول ۲-ليک دود ، د کلمو د ليکلو قواعد.)) (۱۲: ۳۷ )

د کلمو د ليکلو قواعد نه، بلکې د جملو د ليکلو قواعد او لارې دي، ځکه ( Dictation ) د جملو د ليکلو قواعد دي.

فرهنګ فارسي عميد ، جلد اول ، په (۲۳۲) مخ کې راخي:. ((املاء- مص. [ع] (ا) ډکول، بل چاته د يو مطلب تقديرول (ويل) چې هغه يې وليکي او هغه مطب چې معلم يې ووايي او شاګرد يې وليکي او هم د کلمو د درستې ليکنې لار.)) (۲۲: ۲۳۳)

کله د (مهلت ورکولو ، ديکته کولو په معنا هم راغلي، خو چې د اله املاء سره څومره سر لګوي د تامل (سوچ) وړه خبره ده.

په (عربي-فارسي) نومې د عيسی متقي زاده تاليفي قاموس کې راځي: ((الاملاء: مهلت دادن، ديکته کردن يا امکی-ديکته کرد. املی له-مهلت داد-)) (۲۹: ۳۸)

املاء: د تا ، دما د معلم، همدارنګه د دويم شخص له لوري موږ يا هغوی ته په درست ډول څه ويل او د نورو له خوا ليکل دي، خو مهمه دا ده، چې نورو ته څه وايو او يا نورې يې موږ ته وايي د ښه تلفظ، ګرامري اصولو او ليکنۍ پوهې له مخې وي.

لغتاً مهلت ورکولو او ډکولو ته وايي او اصطلاحاً (خپلې يا د بل خبرې په ښه ډول ليکل دي.)

د يو ليکوال په وينا: ((املاء په لغت کې مهلت ورکولو ، ځنډولو او ډکولو ته وايي او په اصطلاح کې دې ته وايي، چې يو سړی يو ليک بل ته وايي او هغه يې ليکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کله پر هغه ليک هم اطلاقېږي، چې يو سړی يو څه وايي او بل هغه ويل وينا ليکي. ) (۲:۷)

ډېر ځله داسې فکر کېږي، چې املاء د (لومړي شخص ) له خوا (دويم شخص ) يا اشخاصو ته څه ويل او آن ديکته کول دي. دا چې لومړی شخص(متکلم ) به د موضوع په برخه کې معلومات لري او کنه ؟ دا هم يوه خبره ده، خو که دا ومنو ( چې خپلې يا د بل خبرې نورو ته ويل او يا ليکل دي ) بيا دا موضوع روښانه کېږي، چې (متکلم ) د املاء د موضوع په برخه کې معلومات لري. دويم او درېيم شخص مطرح کېږي، ځکه ( خپلې يا دبل خبرې، نورو ته ويل کوم ،چې د درست تلفظ له مخې وي؛ املاء ده. )

دلته لومړی، دويم او درېيم شخص مطرح دی او اول او دويم هم. حقيقت دا دی، چې املاء په ليکنه کې يو مهم اصل دی. په املاء کې مهمه خبره د (ليکلو ) ده، يعنې هغه څه چې ونه ليکل شي املاء نه ده؛ نورو ته ديکته کول د املاء اصل جوړوي، خو په دې شرط چې نور يې وليکي.

داسې ويل کېږي، که څوک له ځانه څه نشی ليکلی، مګر د بل چا د ليک له مخې يې نقلولی شي، دغه نقل قول يا کاپي کولو ته املاء نه ويل کېږي.

املاء څه ليکل دي، خو د درست تلفظ له مخې. د املاء د ليکلو په وخت کې ګرامري قواعد په نظر کې نيول ضرور دي. د املاء ليکلو پر مهال ( فونولوژيکي، مورفولوژيکي او نحوي ) اصول په پام کې درلود ضروري دي؛ له دې څرګندېږي، چې ( املاء د ليکنې د قواعدو له مخې ترسره کېږي، که څه هم د ليکنې اصول نه دي، خو بې اصولو ليکنه هم نه ده. )

په پښتو ژبه کې د ( ښه ليکلو او ښه ويلو ) معاصرې ليکوالۍ په برخه کې وتلي او نامتو ليکوال او استاد اروانښاد حضرت ګل پاچا الفت ( **۳۵۲** کال مړ ) يو په زړه پورې تحقيق کړی دی، چې راوړل يې دلته اړين دی.

(( املاء او ملاء په لغت کې مهلت ورکولو(۱) او ډکولو(۲) ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ادبي اصطلاح کې خپلې خبرې يا د بل خبرې په صحيح ډول ليکل دي، که څوک له ځانه څه نشي ليکلی، مګر د بل د ليک له مخې يې نقل قول کولای شي، دغسې نقل قول ته املاء نشو ويلای.))(۳:۱)

هغه څوک چې املاء ليکي بايد لاندې ټکي په نظر کې ونيسي:

۱) څه چې ليکي بايد د صحيح تلفظ له مخې يې وليکي او په غلط تلفظ پسې لاړ نشي. په هره ژبه کې د عوامو تلفظ او صحيح تلفظ يو څه فرق لري، ځيني الفاظ شته، چې په ويلو کې يو راز او په ليکلو کې بل راز دی، لکه په فارسي ژبه کې چې (او) ويل کېږي او (آب) ليکل کېږي. په پښتو ژبه کې (الک) وايي او (هلک) ليکل کېږي.

۲) د الفاظو په ليکلو کې د ګرامر (صرف، نحو) مراعات ډېر په کار دی. ځيني جملې په وينا کې دومره لنډې شوې دي، چې يوې کلمې غوندې وي؛ لکه (څيکې) چې بايد د ګرامر له مخې (څه يې کوې) وليکل شي...

۳) دوه بېلې کلمې به يو له بله په ليکلو کې نه نښلوو يعنې دا راز کلمات (ټول سړي) (لوی کور) بايد داسې و نه ليکو (ټولسړي) او (لويکور).

٤) که له دوو کلمو يوه کلمه جوړې شوې وي لکه (ټوليمشر)، نو بايد سره جلا ونه ليکل شي.

٥) همدغه شان (ټولواک) هم دوه کلمې دي، خو بايد بېلې نشي. يا د (بېلتانه) کلمه د جدايي معنې ورکوي (بې له تا نه) ونه ليکو. د کلمو په ليکلو کې دا هم ضرور دي، چې يوه کلمه د بلې په شان ونه ليکو؛ لکه (پوښتنه) تپوس (پښتنه) د پښتون مؤنثه کلمه چې بايد په ليکلو کې فرق ولري.

٦) (ګوډ) لنګ او (ګډ) مشترک بايد يو شان ونه ليکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷) په عربي، فارسي او پښتو ليک داسې کلمې شته، چې د ليک له مخې له ځينو نورو کلمو سره فرق نشي کېدلی؛ لکه: (شير – شير) چې يوه کلمه د پيو (شودو) او بله د (زمري) په معنی ده، چې د مقام له مخې يې معنی معلومېږي، مګر په پښتو ليک کې د غسې تېروتنې لږ پېښېږي، ځکه په پښتو ژبه کې لنډه (معروفه) (ي) او اوږده (ې) فرق لري، يعنې تېر (ګذشته)، تير (کمان) نه ليکي.

۸) له بلې خوا غړی (عضو)، (غړۍ) حلقوم نه ليکل کېږي، ځکه چې مؤنثه (ۍ) چې د يفتانګ (ay) دی ځانګړی شکل لري.

۹) ځينې نورې کلمې شته، چې يو شکل کېږي، خو چې په جمله کې ونه کارول شي، په توپير يې څوک نه پوهېږي؛ لکه: (خوله (کلا). خوله (دهن)، خوله (عرق)؛ په لاندې جملو کې: ۱-خوله يې په سر وه. ۲-په خوله کې يې خبره نه درېږي. ۳-خوله يې وکړه.

۱۰) په پښتو کې د نفي او دنهې توري (نه او مه) له افعالو څه جدا ليکل کېږي؛ لکه: نه ځي، نه کوي، نه وينې. يا مه وايه، مه کوه، مه ځه، مه غواړه ...، خو په (نشي، نشته، نکړي، مشه، مکړه، ناخلي) کې زياتره يو ځای ليکي. علت يې دا دی، چې په (نه ځي، نه کوي ... مه وايه، مه کوه ... کې (نه، مه) مختاري يا وندونه دی، د کلمو مستقله برخه ده، خو په (نشي، نشته، نکړی، مشه، مکړه...) کې سربلونه دي او د کلمو اصلي برخه نه جوړوي.

۱۱) پښتو توري: ښکاره خبره ده هره ژبه ځانګړي توري لري، پښتو ژبه هم ځينې توري لري د (الفت) په عربي او فارسي ژبو کې نشته. د دغو تورو د کارولو ځای پېژندل ضروري دي او دا کار په املاء کې ډېر اهميت لري؛ چې زه به يې ترتيب سره راواخلم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- ټ (t)؛ لکه: ټول tol ، ټال tal، مټ mat، که (ټ) توری ( ت) ولیکل شي، د ټولو کلمو په معنی کې تعیر رامنځته کېږي؛ لکه: ټول (تمام)، ټال (ګاز) مټ (بازو) د (ت) په تغیر تول، تام موسیقي او مت لا بې معنی شی جوړېږي.

۲- ځ (J) ځمکه ، ورځ او ...

۳- څ (C) څادر ، څلور

٤- ډ (d) ډاډ ، ډډ ، هډ

٥- ړ (r) ړومبی ، ړنګ

٦- ږ (z) ږمنځ ، ږوی ، لوی، شاهد (۱۸: ۹۸)

۷- ښ (S) ښه ، وانښه ، ښنک \

۸- ڼ (n) پڼه ، کوڼ ... (۳۹: ۳۰)

که په دقت او ځیرتیا سره وګورو راته څرګنده به شي، چې د هرې کلمې په جوړولو کې د هر توري رول دومره دی لکه د انسان د وجود په جوړښت کې د هر غړي ... نوکه یو توری پر خپل اصلي ځای او اصلي بڼه ونه کارول شي، په لیکنه او شفاهي وینا کې تغیر راولي؛ د مثال په ډول (ښ) هم په (ش) او هم په (خ) ویل کېږی. د خدای ښنلي الفت په وینا ... یو توری په مختلفو غږونو ویل کېږي او دا د لهجې اختلاف دی. باید دا توری (ښ) په ( ښه–لوښي او اوښ) کې ولیکل شي. کومه کلمه، چې یوازې د (خ) یا یوازې د (ش) آواز لري، هلته دغه توری نه لیکل کېږي؛ لکه: ختته، خاوره، شګه، شولې) ، په دغه اساس باید ( خندل) په (خ) او شیندل په (ش) ولیکو او ښندل په (ښ) ولیکل شي.

اروا ښاد الفت زیاتوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږ- دا توری هم ځینې پښتانه لکه (ژ) او ځینې یې لکه (ګ) ادا کوي، او د لهجو د اختلاف په صورت کې ( ږلی، لږ، کوږ) دغو تورو د لهجو د اختلاف مخه نیولې ، خو د اختلاف وړ هم دي: لکه: (ژلی، لژ، کوژ) ، چې په لیکنه کې د پښتو پوهانو د غونډو مطابق ولیکو.

ځ- د دې توري آواز له (ز) لږ غونډې دروند دی، چې په ځینو پښتو کلمو کې یې لیکل ډېر اړین دي؛ لکه ځان، ځنډ ... او په پښتو ژبه کې ځینې کلمې شته لکه ( ځه) چې د (تللو )امر دی او په (ځ ) لیکل کېږي او که دا کلمه په (ز) ولیکو نو (زه) د متکلم (لومړی شخص) ضمیر ترې جوړېږي. همدارنګه (ځوړ) پايين ( مخ په ښکته) که په (ز) ولیکل شي نو د ( زوړ، سره مشابه کېږي.

د دې توري په برخه کې باید ووایو، چې هغه کلمې چې په فارسي کې په (ج) ویل کېږي او په پښتو کې په (ځ) لیکل کېږي؛ لکه: جوان ( ځوان)، جان ( ځان)، جنګل ( ځنګل).

څ- دا توری هم د پښتو ژبې ځانګړی دی، چې په فارسي او عربي ژبو کې نشته؛ که څه هم د فارسي ژبې په هزارګي لهجه کې په عنعنوي توګه ویل کېږي؛ لکه: ( څه مو کنی) ( چه می کنید )، خو دغه استثنايي خبره ده، کنه هغسې خو په ټولو ( شرقي آريايي) ژبو کې شته. په شغني ژبه کې ( څه رنګ ات) ( څرنګه یې؟) او نورو ...

زموږ موخه (هدف) د (ښ) له توري دا ده، چې وینګ (تلفظ) یې له (س) پر ځای هم کاروي. لکه (ښټ) ته (سټ)، ښوک (سوک)، ښرنګه پرځای (سرنګه) وایي. الفت زیاتوي، چې (ډ، ړ، ټ) توري په پښتو املاء کې ډېره برخه لري، باید پرځای وکارول شي. د ( ڼ، و...) او یاګانو پېژندل او پرځای کارول د تحریري املاء غوره برخه جوړوي.

( ڼ او و ) خو په ټولو پښتو لهجو کې شته؛ د (و) کاریدنګ په ځینو جنوبي او شرقي لهجو کې فرق لري؛ لکه: ( ورشه په ورشه)، کوز، کیز، نور، نیر...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یا ګانو تلفظ په ځینو لهجو کې توپیر پیدا کوي، چې په لیکنه کې اختلافي موارد رامنځته کوي؛ د بېلګې په ډول: اوږده (ي) په جنوب لویدیځه لهجه کې په مفرده توګه (ادي)، (ادي) ویل او د جمعې په ډول اوږده ویل کېږي؛ لکه: راغلې (هغوی راغلې).

پښتو املاء لکه د هرې بلې ژبې املاء په هر وخت او هره دوره کې ځینې بدلونونو ته غاړه ږدي؛ د ټولو علومو پرمختګ او تحول د وختونو په اوږدو کې د یو لړ بدلونونو شاهد دی.

په هر هېواد، هره ژبه کې ډېر وینګونه او لهجې شته؛ همدارنګه پښتو ژبه، چې لله الحمد ډېر ویونکي لري او مختلفو ځایونو کې خواره واره دي، نو هرو مرو د دوی په لیکونو کې د دوی د لهجو اغیز هم شته، دغه سیمه ایز او لهجوي اغیز د پښتو ژبې په عمومي لیک او آثارو کې ښکاري او اختلافات رامنځته کوي او (دچا خبره، چې د رسم الخط یووالي ته زیان رسوي)

د دې لپاره چې په یوه ژبه، په تېره پښتو ژبه کې یو رسم الخط مراعات شوی وي، خو ژبه د لیک، تحریر او تحقیق پیاوړې شوې وي، نو له ډېر پخوا د لیک د یووالي په برخه کې هلته او دلته، کله ناکله ځینې پرېکړې شوي، چې لنډه یادونه ترې ضروري ده.

د پښتو ژبې د فاضل استاد او حقدار لیکوال اروانباد عبدالشکور رشاد د څېړنې له مخې: ((په پښتو لیک کې، چې اوس کوم توری (Graphemes) کارېږي، زیاتره یې له عربي الفبې څخه اخیستل سوي دي، د پاته خالصه عجمي ږغونو (Phonemes) له پاره ټاکلي توری هم د عربي الفبې د نخښو (Symboles) او دا نه ده معلومه، چې تر دغو تورو پخوا د پښتو لیک څنګه وه؟

... د پښتو په باب چې تراوسه پورې کوم کښلي آثار لیدل شوي دي، د هغو له لوسته څخه دا راوزي، چې د پښتو اوسنۍ الفبې د غزني د ستر ټولواک سلطان محمود غزنوي رحمت الله (۳۸۷ – ۴۲۱ ه ق) په زمانه کې جوړه سوې ده...

(c) ketabton.com: The Digital Library



. مګر د دغو روایتونو په ځنګ کې دا خبره هم د یادولو وړ ده، چې پیر روښان بایزید اورمړ (۹۲۲ – ۹۸۰ ه ق) پر قرآني (عربي) الفبې باندې د پښتو تورو زیاتول د خدای ج په امر او الهام سره د ځان کار بولي... او بایزیده ! او کښه هغه حرفونه، چې په هغو ژبه کې سازېږي د فایدې له پاره د آدمیان...

... د بایزید اورمړ (پیرروښان) پیر و، دولت خان لوانی د خپل بومیا(مقتدا) خبره داسې نظم کړې ده:

افغاني لفظ مشکل و، لوست، کویښ نه شه

ورته وشوه کنــــــــــــنده دیارلس حرفونه...

ځیني کسان داسې شته، چې د پښتو خاص توري د اخوند درویزه ( ۹۳۹ – ۱۰۴۸ ) کار بولي... ) )(۱۴: ۷-۲۱ )

که د الفبې له پس منظر څخه را تېر شو په پښتو ژبه کې ځیني اختلافي کلمې له پخوا موجودې وې، چې د دوباره اصلاح او سمون لپاره په مختلفو وختونو کې غونډې او پرېکړې شوې دي. دغه پرېکړې د کلمو د سمون په خاطر وې؛ موږ به دلته پښتو املاء په برخه مختلفو پریکړې را واخلو:

### ۳-۲- املايي پرېکړې:

**۱- لومړۍ پرېکړه ( فیصله):**

د هغه وخت د پښتو ټولنې په غوښتنه، د (۲۵) تنو لیکوالو او پوهانو په ګډون په ۱۳۲۱ هـ ل کال د جوزا په دویمه وشوه او پر (۳۲) اختلافي موادو باندې داسې پرېکړې وشوې:

| ګڼه | اختلافي بڼې | منل شوې بڼې |
|---|---|---|
| ۱ | شونډې – شونډان | شونډې |
| ۲ | کښیناست – کښینوست | کښیناست |
| ۳ | ټول خلق – ټوله خلق | ټول خلق ؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۴ | ټولي خبرې–ټوله خبرې | ټولې خبرې |
| ۵ | پاته–پاتې | پاته |
| ۶ | که راغلی وای–که راغلی وای | که راغلی وای |
| ۷ | لويه–لو | لويه |
| ۸ | توبه–تو | توبه |
| ۹ | ميږونه–مږونه | مېږونه |
| ۱۰ | وليد–وليدو–وليدی | وليد |
| ۱۱ | لخ–لوخ | لخ |
| ۱ | وشو–وشوې | وشو |
| ۱۲ | شوی–سوی | شوې |
| ۱۳ | شته–سته | شته |
| ۱۴ | شي–سي | شي |
| ۱۵ | لړه ډوډۍ–لږې اوبه | لږه ډوډۍ–لږې اوبه |
| ۱۶ | ښې خبرې–ښه خبرې | ښې خبرې |
| ۱۷ | غږ–ژغ–غګ–غاګ | غږ–ژغ |
| ۱۸ | ځينې وايي–ځني وايي | ځينې وايي |
| ۱۹ | له ده ځنی–له ده ځينې | له ده ځني |
| ۲۰ | چلوونکی–چلونکی | چلوونکی |
| ۲۱ | ښوونکی–ښونکی | ښوونکی |
| ۲۲ | ښوونځی- ښونځی | ښوونځی |
| ۲۳ | کښې–کښ–کې | کښې |
| ۲۴ | پرې | پرې |
| ۲۵ | ويل–ويله | ويل |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲۶ | وکړ–وکی–وکه | وکړ |
| ۲۷ | وکړئ–وکئ | وکړئ |
| ۲۸ | مونږ–موږ | مونږ |
| ۲۹ | زما–زمونږ–ځما–ځمونږ | زما–زمونږ |
| ۳۰ | زه–ځه | زه |

يادونه: يو ځل بيا پښتو ټولنې په (۱۳۰۷ هـ ل) د سنبلې په (۲۵) لر او بر پښتانه ليکوال سره کښينول او لومړی فيصله کې يې تعديل راوست؛ لکه:

| ګڼه | د لومړی فيصلې منل شوې بڼه | دريمه پريکړه (تعديل) |
|---|---|---|
| ۱ | پاته | پاتې |
| ۲ | مونږ | مونږ–موږ |
| ۳ | ولاړ | ولاړ–لاړ |
| ۴ | لځ | لوخ |

يادښت: البته په ځلورو کلمو کې تعديل راغلی و، نور په پخوانۍ او اوله بڼه ومنل شوې.

**۲– دويمه پرېکړه (فيصله):**

د (۱۳۲۷ هـ ل) د سنبلې په (۸) د پښتو ټولنې په غوښتنه کوز او بر (۱۹) تنو ليکوالو او پوهانو د پښتو ليک د ځينو اختلافي موضوعاتو په باب داسې پرېکړې کړې وې:

| ګڼه | اختلافي صورتونه | فيصله شوي صورتونه |
|---|---|---|
| ۱ | ڼ–نړ | ڼ |
| ۲ | زه، ته، ده–زهٔ، تهٔ، دهٔ | زه، ته، ده (بې همزې) |
| ۳ | اوريدل، اخيستل، آوريد – | اوريدل–اخيستل (بې مده) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| | آخيستل | |
| ۴ | وليد ،وګوره –اوليد ، اوګوره ( ... ) | وليد ، وګوره ( بې الفه ) |
| ۵ | مې، دې، پرې، لاندې، باندې، لاند ، باند او نور... | مې، دې، پرې، لاندې باندې |
| ۶ | لومړی، کوچنی، ګوډ ، ګوته، بوخت، لمړی، ګړی، چهاپ، ګهړی | لومړی، کوچنی، ګوډ ، ګوته، بوخت، چاپ، ګړی |
| ۷ | (ښ، ږ، ځ ) توري به (ش، خ ) نه ليکو او له (ږ) به (ژ) او همدارنګه (ځ ) به (ز ) نه ليکو. | (ژوند ، جوند ، ژوند ) به په (ژوند ) ليکو او له (ژ) به کار اخلو |
| ۸ | ځيني | د بعضي په معنی او (ځني) د (از) په معنا راځي |
| ۹ | ويل-وي | ويل درست دی ( يوازې په شعر کې (وي ) جايز دي. |
| ۱۰ | کښې –کښ | کښې |
| ۱۱ | د ليرې ماضي ضميرونه | م، وو ، وې، وی، و ، وه، وې يعنې د مفرد دغايب او جمع غايب لپاره يو (و ) ليکل کيږي... |

**۳– دريېمه پرېکړه ( فيصله):**

د ( ۱۳۳۷ هـ ل ) کال د پښتو ټولنې په بلنه د پېښور او بلوچستان پښتانه ليکوال او پوهان کابل ته د خپلواکۍ د جشن په ورځو کې راغلي و او د سنبلې په پنځمه د اګست په ۲۷ مه د پښتو ليک په باب مجلسونه او ادبي بحثونه شروع شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له څو غونډو او ډېرو څېړنو د ليک د ځينو اختلافي موادو په باب دا راز پرېکړې صادرې شوې وې:

| ګڼه | مختلفي بڼې | فيصله شوې بڼې |
|---|---|---|
| ۱ | څمکه–مځکه، زمکه | ځمکه |
| ۲ | زمرى، مزرى-ځمرى | زمرى |
| ۳ | کښته، ښکته، خکته | کښته |
| ۴ | پښه، ښپه، خپه | پښه |
| ۵ | کښل، ښکل | کښل |
| ۶ | کښلى، ښکلى | ښکلى |
| ۷ | ماسخوتن–ماخوستن | ماسخوتن |
| ۸ | ورځ–روځ | ورځ |
| ۹ | موږى–ميږوى | موږى |
| ۱۰ | لوښت، لوښت، لوېشت | لوېشت–لوېښت |
| ۱۱ | ورک–روک | ورک |
| ۱۲ | خسر–سخر | خسر |
| ۱۳ | خوسا–سخا | خوسا |
| ۱۴ | سکروټه–سروټکه، سکوروټه | سکروټه |
| ۱۵ | ورور–رور | ورور |
| ۱۶ | وروڼه–رونه | وروڼه |
| ۱۷ | ورورولي–رورولي | وروروليِ |
| ۱۸ | وروسته، روسته ، روستو | وروسته |
| ۱۹ | وروستى–روستى | وروستى |
| ۲۰ | سيورى–سورى | سيورى |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲۱ | اخلم، اخلي، اخم، اخی–الم، الي | اخلم، اخلي |
| ۲۲ | ښنل، ښننه، بخشل، بخشنه | ښنلو ښننه |
| ۲۳ | ماسپښـــــين، مازپښـــــين، ماپښين | ماسپښين |
| ۲۴ | کوم–کم | کوم |
| ۲۵ | اغږل، اخښل–اغل | اغږل |
| ۲۶ | نمړۍ–مړۍ–نوړۍ | نمړۍ |
| ۲۷ | زوی، زامن–ځوی، ځامن | زوی، زامن |
| ۲۸ | زيږېدل، ځيږېدل | زيږېدل |
| ۲۹ | زغستل، ځغستل | زغستل |
| ۳۰ | ځلمی–زلمی | ځلمی |
| ۳۱ | سوځل، سيځل، سوزل، سيزل | سوځل، سيځل |
| ۳۲ | خوځېدل، خوزيدل | خوځيدل |
| ۳۳ | غورځنګ، غورزنګ | غورځنګ |
| ۳۴ | زغمل، ځغمل | زغمل |
| ۳۵ | ژرنده، زرنده، جرنده | ژرنده |
| ۳۶ | ژبه–زبه، جبه | ژبه |
| ۳۷ | ژړا، زړا، جړا | ژړا |
| ۳۸ | ژوند، زوند، جوند | ژوند |
| ۳۹ | ژمی، زمی، جمی | ژمی |
| ۴۰ | ژوبل، زوبل، جوبل | ژوبل |
| ۴۱ | خېژي، خېزي، خيجي، خېزي | خېژي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۴۲ | ژی، زی، جی | ژۍ |
| ۴۳ | ژور، زور، جور | ژور |
| ۴۴ | نژدي، نزدي، نږدي | نژدي |
| ۴۵ | لم، نمر، نور، مر، میر | لمر – نمر |
| ۴۶ | نمسی، لمسی، نوسی | لمسی، نمسی |
| ۴۷ | لمونځ، نمونځ، مونځ | لمونځ، نمونځ |
| ۴۸ | پسرلی، سپرلی | پسرلی، سپرلی |
| ۴۹ | ږغ، غږ | ږغ، غږ |
| ۵۰ | کنځل، ښکنځ | کنځل، ښکنځل |
| ۵۱ | مینځل، وینځل | مینځل، وینځل |
| ۵۲ | مینځه، وینځه | مینځه، وینځه |
| ۵۳ | لامده، لانده | لامده، لانده |
| ۵۴ | جینۍ، نجلۍ، جلۍ، جیلۍ | جینۍ، نجلۍ |
| ۵۵ | لمبر، نمبر | لمبر |
| ۵۶ | نولس، نونس | نونس |
| ۵۷ | وبره، ببره، ایره | ویره |
| ۵۸ | ویده، بیده، اوده | ویده |
| ۵۹ | ویاله، بیاله، واله | ویاله |
| ۶۰ | اوبدل، اودل، اوبل | اوبدل، اودل |
| ۶۱ | وزه، بره، بیزه | وزه |
| ۶۲ | نښتل، منبتل | نښتل |
| ۶۳ | بزرګـان، ملکـان، بزرګانـان، ملکانان | بزرګان، ملکان |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۶۴ | کارغه، قارغه، کارګه | قارغه |
| ۶۵ | ڼ–نړ | ڼ |
| ۶۶ | کجير، قجير | کجير |
| ۶۷ | ټوکه، پرک، چکړي، ټوقه، پړق، چقړي | ټوکه، پړک، چکړي |
| ۶۸ | زړه، ته، زه، زړهء، تهء، زهء | زړه، ته، زه |
| ۶۹ | لوی، دوی، هغوی، لوی، دوئ، هغوئ | لوی، دوی، هغوی |
| ۷۰ | لويديز، وويل، لوئيديز، اووئيل | لويديز، وويل |
| ۷۱ | يو، اينده، يؤ، آئينده | يو، اينده |
| ۷۲ | ې | اوږده (ې) بايد د لنډې د (ي) پرځای استعمال نشي |

خو له دې څخه وروسته هم د ليک او پښتو کلمو د ليکلې متحد املايي صورت لپاره کار شوی، چې لنډيز يې وړاندې کوم. وګورئ (ليکوالي. ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶ مخونه).

**۴– د پښتو ژبې د متحد ليکدود او ليک لار لپاره د (باړه ګلی )د غونډې متفقه پرېکړې:**

د ( ۱۳۶۹ هـ ل ) کال چې د ۱۹۹۰ م کال د جولای مياشتې سره سمون لري (۲۳) کاله وروسته يو ځل بيا د پېښور پوهنتون او پښتو اکاډمۍ په نوښت په (باړه ګلی) (سوات) کې درې ورځينی سيمينار جوړ شوی و ، چې له مختلفو ځايونو څخه کابو سلو تنو اديبوهانو او ژبپوهانو ګډون کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروفیسور سید محمد تقویم کاکاخېل – پروفیسور جهانزیت نیاز، پروفیسور نصیرالدین، حبیب الله رفیع، منتظر بیټني، عبدالکریم بریالی، همیش خلیل، ډاکټر محمد اعظم اعظم، ډاکټر خالد ختک، پروفیسور افضل رضا او ګڼ شمېر نور د دې غونډې برخه وال ول.

دغې غونډې خپل کارونه په درې کمېټو کې تنظیم کړل او په لاندې ډول یې پرېکړې وکړې:

۱) هغه کلمې چې د عربي او فارسي او ترکي نه پښتو ته راغلي دي، په دې شرط چې معنا یې په اصلي شکل کې تغیر نه کوي په هماغه بڼه لیکل کېږي؛ لکه: قصه (کیسه) قمیس (کمیس)، ضعیف.. خو کومې کلمې چې پښتو ژبې خپلې کړې دي، معنا او شکل یې بدل شوی دی، هغه به په پښتو ژبه کې په اوښتي بڼه لیکل کېږي؛ د بېلګې په ډول: تپوس (پرسان)، پام (فکر، سوچ) او د عربي ژبې مخصوص توکي به د پښتو په کلمو کې نه لیکو؛ مثلاً (تورخم) به په (ت) لیکو، نه په (ط).

۲) (ڼ) به د (ن) نه وروسته لیکلی شي او نوم به یې (نوڼ) وي، خو په دغه بڼه (ڼ) به لیکل کېږي.

۳) هغه کلمې، چې په پای کې (زور، زبر) لري، هغه به په څرګنده (ه) لیکل کېږي؛ لکه: خوشحاله (مذکر، مونث) لپاره راځي؛ خوشحاله هلک، خوشحاله نجلۍ...

٤) (مد) ( ) په پښتو ژبه کې نشته، خو تلفظ کېږي؛ لکه: آس، آسره (آ) چې څومره ښه سرې یې!

٥) مجهوله ( ي ) چې د پښتونخوا په ډېرو ځایونو کې پرته لیکل کېږي؛ لکه سړی، خو په افغانستان او جنوبي پښتونخوا کې به د دوی په خپل لیک دود سره لیکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦) اوږده (ې) د کلمې په منځ او آخر کې راشي؛ لکه: سړې او به، خوږې منې... مجهوله یا لنډه (ې) هم د کلمې په منځ کې راځي؛ لکه راځي، کیني.

٧) د معروفي (ي) لپاره به دوه ټکي په ځنګ په ځنګ لیکلی شي؛ لکه: سړي، زمري(جمع)، دوبي(مفرد).

٨) تانیث (ۍ) به په آخر کې د کش سره لیکلی شي؛ لکه: کړکۍ، جنۍ... (اسمونو کې راځي)

٩) د فعلونو لپاره زور لرونکي (ئ) لیکو؛ لکه: وخورئ، وکړئ...

١٠) په (کمزوي یا متصل ضمیر) کې وروستی ئ په (ٔ) شکل لیکل کېږي، ښهٔ، زړهٔ.

١١) (ګ) به په کونډ لیکلی شي.؟؟

١٢) کښېږي، کښېناستل، نخښه، بخښل او داسې نور ټکي به هم په هماغه بڼه لیکل کېږي.

١٣) معدوله (واو) به د ټکو نه نشي غورځولی؛ لکه: خولهٔ، خوارهٔ، ګوند، غوندې وغیره.

١٤) له عربي ځینې راغلي کلمې، چې په (پېښ) یا (ضمه) تلفظ کېږي، د لیکلو پر مهال به پېښ نه ورکول کېږي؛ لکه: ګل، بلبل... او هغه پښتو کلمې چې پېښ لري هغه به په مجهوله (واو) لیکلی شي؛ لکه: پوښتنه، مور او نور...

١٥) معروف (واو) لنډ واو به د کلمې نه غورځل کېږي او د پاسه څلور مخصوص توري (څ، ځ، ښ، ږ) به همدغسې لیکلی شي. (١١ : ٣٨)

له دې وروسته په ١٣٨٧ هـ ل کال د افغانستان د پوهنې وزارت د خپل تعلیمي نصاب د لا آسانولو لپاره یو منل شوی واحد لیکدود د کابل پوهنتون، ښوونې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



روزني پوهنتونونو، علومو اکاډيمۍ، تعليمي نصاب د غړو او ګڼ شمېر ديني عالمانو او مسلکي اشخاصو په ګډون جوړ کړی و، چې راوړل يې اړين بولم:

**۵– د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب لپاره منل شوی واحد ليکدود**

| ګڼه | بېلابېلې ليکنۍ بڼې | | منل شوې صورت |
|---|---|---|---|
| | لومړۍ | دويمه | درېيمه |
| ۱ | اوويشتم | اوه ويشتم | اوويشتم |
| ۲ | اغزی | ازغی | اغزی |
| ۳ | ايستلی | ويستلی | ايستلی |
| ۴ | اواره | هواره | هواره |
| ۵ | اوسپنه | وسپنه | اوسپنه |
| ۶ | اولس | ولس | ولس |
| ۷ | انځورولای | انځورکولای | انځورولای |
| ۸ | وولسم | اولسم | اوولسم |
| ۹ | اولسمشر | ولسمشر، ولس مشر | ولسمشر |
| ۱۰ | پرانيزي | پرانستل، پرانيستل | پرانيستل |
| ۱۱ | برښنا | برېښنا | برېښنا |
| ۱۲ | برخوال، برخليک | برخمن، برخمن | برخمن |
| ۱۳ | بوزي | بوځي | بوځي |
| ۱۴ | بېځايه | بېځايه، بې ځايه | بېځايه |
| ۱۵ | بې درنګه | بېدرنګه | بې درنګه |
| ۱۶ | برخه وال | برخوال | برخوال |
| ۱۷ | تېلفون، تيلفون | تيليفون | تليفون |
| ۱۸ | تشبه، تشبه | تشبې | تشبيه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۹ | تغیر | تغییر | تغییر |
| ۲۰ | تعین | تعیین | تعیین |
| ۲۱ | تللی | تلی | تلل |
| ۲۲ | تېرونکی | تېروونکی | تېروونکی |
| ۲۳ | تمباکو | تماکو ، تناکو | تنباکو |
| ۲۴ | پسرلی | سپرلی | پسرلی |
| ۲۵ | پنځلس | پینځلس | پنځلس |
| ۲۶ | په تولنه کې | په ټولنې کې | په ټولنه کې |
| ۲۷ | پاتې وو | پاته وو | پاتې وو |
| ۲۸ | پدغه | په دغه | په دغه |
| ۲۹ | په درناوي | په درناوي، پدرناوي | په درناوي |
| ۳۰ | پاچایان | پاچاهان، بادشاهان | پاچایان |
| ۳۱ | په واسطه | پواسطه | په واسطه |
| ۳۲ | پطرول | پترول، پټرول | پترول |
| ۳۳ | پل | پول | پول |
| ۳۴ | په کې | پکي | پکي |
| ۳۵ | پاسنی | پاسینی | پاسنی |
| ۳۶ | ښوونکو | ښوونکیو | ښوونکو |
| ۳۷ | خوشحال | خوشال (نوم) | خوشحال (مرکب صفت)<br>خوشال (نوم) |
| ۳۸ | ښوونکو | ښوونکیو | ښوونکو |
| ۳۹ | ختیځ (شرق) | ختیز (شرقي) | ختیځ – ختیز |
| ۴۰ | خپل منځي | خپلمنځي | خپلمنځي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۱ | ځبيښل | زبيښل | ځبيښل |
| ۴۲ | ځايداى | ځائيداى | ځاييداى |
| ۴۳ | ځلېريشت | ځلورويشـــــــــت- ځلرويشت | ځلرويشت |
| ۴۴ | ځښل | ځکل، ځښاک | ځښل، ځښاک |
| ۴۵ | ځېړونکو | ځېړونکيو | ځېړونکو |
| ۴۶ | چلم | چيلم | چيلم |
| ۴۷ | چورت | چروت، چروت | چورت |
| ۴۸ | دوه ځله يي | دوه ځلي يي | دوه ځله يي |
| ۴۹ | درانه | درانده | درانه |
| ۵۰ | دوکان | دکان | دوکان |
| ۵۱ | دعا | دوعا | دعا |
| ۵۲ | دوولسم | دولسم | دولسم |
| ۵۳ | دويم | دوهم | دويم |
| ۵۴ | دريم | دريم ، دربيم | دريم |
| ۵۵ | رغاونه | رغونه | رغاونه |
| ۵۶ | رامينځئته | رامنځئته، رامنځ ته | رامنځئته |
| ۵۷ | ريښتيا | رښتيا | ريښتيا |
| ۵۸ | راکښل | راښکل | راکښل |
| ۵۹ | زانګو | ځانګو | زانګو |
| ۶۰ | زنګل | ځانګل | زنګل |
| ۶ | زلمی | ځلمی | زلمی |
| ۱۲۲ | زوی | ځوی | زوی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶۳ | زنځير | ځنځير | زنځير |
| ۶۴ | زوز | ځوځ، ځوز | ځوز |
| ۶۵ | ژبدود | ژب دود | ژبدود |
| ۶۶ | ژبارنه | ژباړه | ژباړه |
| ۶۷ | راکړشو | راکـړای شـو، راکـړل شوی | راکړشو |
| ۶۸ | سوزي | سوځي | سوځي |
| ۶۹ | سون | سونګ | سونګ |
| ۷۰ | سکه | سيکه | سيکه |
| ۷۱ | ساه | سا، ساء | سا |
| ۷۲ | سهيل | سويل | سويل |
| ۷۳ | سيمه ايز | سيمه ييز | سيمه ييز |
| ۷۴ | شوری | شورا | شورا |
| ۷۵ | شات | شهد | شات |
| ۷۶ | شوده | شيده ، شودي | شيدي |
| ۷۷ | طوفان | طوپان، توپان | توپان |
| ۷۸ | طوطي | توتي | توتي |
| ۷۹ | عاشوری | عاشورا | عاشورا |
| ۸۰ | غوصه | غصه، غوسه | غوسه |
| ۸۱ | غنچه | غونچه | غونچه |
| ۸۲ | کيلي | کلي | کيلي |
| ۸۳ | کنبيوت | کبووت | کبووت |
| ۸۴ | کلتور | کولتور | کلتور |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸۵ | کندز | کندوز | کندوز |
| ۸۶ | کندهار | قندهار | کندهار |
| ۸۷ | کونړ | کنړ | کونړ |
| ۸۸ | کرنه | کرهنه | کرنه |
| ۸۹ | کلمه | کليمه | کلمه |
| ۹۰ | کومک | کمک | کومک |
| ۹۱ | کنځل | ښکنځل | کنځل |
| ۹۲ | کږي دي | کږيدي | کږي دي |
| ۹۳ | نه لري | نلري | نه لري |
| ۹۴ | لپاره | له پاره | لپاره |
| ۹۵ | ليمخی | لمخی | ليمخی |
| ۹۶ | ليرې | ليرې، لرې | لېرې |
| ۹۷ | لعل | لال | لال |
| ۹۸ | لار | ليار | لار |
| ۹۹ | له پاسه | لپاسه، دپاسه | له پاسه |
| ۱۰۰ | مسوول | مسؤول، مسؤل | مسؤول |
| ۱۰۱ | مونږ | موږ | موږ |
| ۱۰۲ | مؤلف | مولف | مؤلف |
| ۱۰۳ | مسئله | مساله، مسله | مساله |
| ۱۰۴ | منځ | مينځ | منځ |
| ۱۰۵ | معنی | معنا ، مانا | مانا |
| ۱۰۶ | مليون | ميليون، ميلون | ميليون |
| ۱۰۷ | نهه | نه | نهه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۰۸ | نحوه | نحو ، نحؤ | نحو |
| ۱۰۹ | نرينه | نارينه | نرينه(صـــــــــفت) نارينه(نوم) |
| ۱۱۰ | نصوار | نسوار | نسوار |
| ۱۱۱ | نشتـه | نه شتـه، نيشتـه | نشتـه |
| ۱۱۲ | نژدي | نږدي، نيږدي | نژدي |
| ۱۱۳ | نړيوال | نړی وال | نړيوال |
| ۱۱۴ | نږور | انږور، نږور | نږور |
| ۱۱۵ | نشه | نيشه | نشه |
| ۱۱۶ | نه شم کولی | نشـم کـولای، نـه شـم کولای | نه شم کولای |
| ۱۱۷ | نه کوي | نکوي | نه کوي |
| ۱۱۸ | نه لري | نلري | نه لري |
| ۱۱۹ | واخيست | واخسيت | واخيست |
| ۱۲۰ | ورميږ | اورميږ | ورميږ |
| ۱۲۱ | وربشي | اوربشي | وربښي |
| ۱۲۲ | ونبا يا ست | ونبياست | ونبا يا ست |
| ۱۲۳ | هندوانه | هيندوانه ، هندوانه | هندوانه |
| ۱۲۴ | هنداره | هينداره | هنداره |
| ۱۲۵ | هديره | اديره | هديره |
| ۱۲۶ | هستوګنه | استوګنه | استوګنه |
| ۱۲۷ | يادښت | ياداشت، يادداشت | (يادښـت) د(يادداشـت) پرځـای او (يادونـه) د (تـذکر) پرځـای کـارول |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | کېږي. |
| ۱۲۸ | راغلی و | راغلی وو، راغلی ؤ | راغلی و |
| ۱۲۹ | کيږدي | کيدی، کېږدي | کېږدي |
| ۱۳۰ | کښېينه | کينه، کېنه | کېنه |
| ۱۳۱ | ګوره | ګوره | ګـوره، د(ک) پرځـای (ګ) کره ومنل شو. |
| ۱۳۲ | علماو | علماوو | علماوو |
| ۱۳۳ | منع کوي | منعه کوي، منه وي | منع کوي |
| ۱۳۴ | معلومات | مالومات | معلومات |
| ۱۳۵ | مازغه | ماغزه | ماغزه |
| ۱۳۶ | منځګړی | منځ ګړی، منځه ګړی | منځګړی |
| ۱۳۷ | نجلۍ | جلۍ، جينۍ | نجلۍ |
| ۱۳۸ | اوبدل | اودل، اوبل | اوبـدل (۱۷: ۳-۴ مـخ ورکشاپ) |
| | | | |

د املاء او سمي ليکنې په برخه کې (پښتو ژبه هم د واحد ليدود) او ښې املاء لپاره په ښلا ښلو وختونو کې پورته غونډې کړې؛ د غه غونډې کېدای شي نورې هم دوام وکړي او زموږ د ژبې او ادب د ښېرازۍ په برخه کې ګامونه پورته کړي.

## ۳–۳– پښتو ژبې املا په پښتو کتابونو کې

پښتو ژبې په مختلفو برخو او دورو کې د ښلا ښلو ليکوالو املاوې را خپلې کړې دي، چې موږ به د هرې دورې (لرغونې، منځنۍ او معاصرو دورو) ځينې غوره بېلګې راواخلو او بيا د املاء لنډې ځانګړنې په ګوته کړو؛ د غه کار خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنبلي الفت په مقايسوي ډول کړې دی او د سليمان ماکو د تذکرة الاوليا نمونې يې راوړي دي:

**۱- دتذکرةالا وليا املا:**

د سليمان ماکو د تذکرة الاوليا املاء د سليمان ماکو په تذکره کې راځي:

۱- پښتو توري يې داسې ليکلي دي: (ټ، ځ، څ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ) که وګورو له اوسني ليکدود سره توپير يې همدا دی، چې د (ځ) له توري لاندې يو ټکی ږدي؛ ځ (d).

۲- کوم توري چې اوس د حرکاتو د اظهار لپاره په اوسنۍ املا کې ليکل کېږي، د تذکرة الاوليا په ليک کې نشته؛ يعني هلته (هـ، و، ی) د (زور، زير، او پېښ) د ښکاره کولو لپاره نه دي ليکل شوي؛ توپير يې له اوسنۍ (پنځوس کاله مخکې يعني د الفت صاحب وخت هم رانغاړي) سره داسې دی:

| ګڼه | د تذکرة الاولياء املا | اوسنۍ املاء |
|---|---|---|
| ۱ | م | مې |
| ۲ | د | دې |
| ۳ | پات | پاتې |
| ۴ | ک | که |
| ۵ | ل | له |
| ۶ | پ | په |
| ۷ | مزک | مزکه (ځمکه) |
| ۸ | لر | لرې |
| ۹ | مړ | موړ- موړ |
| ۱۰ | مين | مينه |
| ۱۱ | تناک | تناکې... |

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- سره له دې، چې د تذکرة الاوليا په املاء کې حروف (توري) د حرکتونو د ځرګندولو لپاره نه دي ليکل شوي؛ خو (چه) يې څو ځايه (چې) ليکلې ده.
۴- همدارنګه د (شي، شوی، شو، شوه، شول) په (ش) ليکل شوی دی او ډېر لږ په يوه دوه ځايونو کې (سو، سوه) په (س) وينو او بس. د (شو) او (سو) په آخر کې هم (و) ليکلی دی.
۵- ځينې نورې کلمې لکه: وياله، لوی، لوی) په همدغه ډول ليکلي دي، چې د الفت استاد په وينا: (د مؤلف د استوګنې د ځای او سنی محلي لهجې دغسې نه ده، ځکه چې هلته اوس (بياله لو) وايي، مګر يو ځای پکې (لو) هم ليکل شوی دی.
۶- د مطلقې ماضي صيغې داسې ليکلې: (نوميده، ولاړه، اوسيده، ګرځيده، وکړ) يعنې (نوميدې، ولاړې، وکړ، اوسيدې، ګرځيدې) نه ليکي؛ په داسې حال کې، چې بايد په خپله لهجه يې ليکلی وای.
۷- (کښې) په (کښ) ليکل شوې.
۸- د پښتونخوا کلمه (پښتنخا) ليکي او هېواد (ايواد)؛ خو (اوسېږم) (هوسيږم) او (ځرګند) (سرګند) ليکل شوی دی.

**۲- د محمدهوتک د پټې خزانې د املا بېلګه:**

پټه خزانه د شاه حسين په امر محمد هوتک په ۱۱۴۲ هـ کې ليکلې او بشپړه کړې ده، چې دلته د قلمي نسخې املاء را اخلو او ځانګړنې يې په ګوته کوو:
۱- پښتو درانه توري داسې ليکي: (ټ، څ، ځ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ) او (ڼ) هم په ساده او هم مرکب ډول ليکي؛ لکه: ټپې، ځې، ډال، ږې، ښين.
۲- (و، هـ، ی) د حرکتونو د اظهار لپاره ليکي؛ لکه: (به، په، له، نمانځنه، وقتونه، مځکې... له نورو خبرو، ومونډ، موږه)، مګر کله (کتابون) او سينګارون دغه راز هم ليکي، يعنې بايد (کتابونه او سينګارونه) ونه ليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- دا کلمې (لمسی، لمر) په (ل) لیکي، خو (نمانځنه) په (ن) لیکي.
۴- کښې په درې ډوله (کې، کښ، کښې) لیکي.
۵- فعلونه په دوه ډوله لیکي، چې مثالونه یې دا دي: (ولید، وموند، اوسیدی، بهیدی، ګنړل، کیدی).
کله (شو، شی، شوی) لیکي او کله (سو، سول، سوی، وسو) کاروي او کله د (سو) پرځای (سه) لیکي.
۷- ورځ، روځ په دواړو ډولونو لیکي.
۸- چه، هر چیرته په همدغه یو ډول راوړي.
۹- کله د(ټول) پرځای (ټوله) او کله به خپله (ټول) استعمالوي.
۱۰- ځینی وختونه (له، په) له ورستیو کلیمو سره په لیک کې نښلوي لکه: لکتاب، پملتان، پخوړو.
۱۱-(زوی، زلمی) په (ز) او (ځما، په (ځ) لیکي.
همدارنګه دلته به د پښتو ژبې او دادبیاتو ددویمې (منځینی) دورې داملا یوه بیلګه هم راواخلو:

**۳- د خیرالبیان املاء**

-دمیاروښان دخیرالبیان املا: خیرالبیان دپښتو ژبې او ادب په منځینی دورې پورې اړه لري او حضرت پیرروښان یا بایزید روښان(رح) لیکلي، میا روښان په ۹۲۲هـ ۱۵۱۲ع کی زیږیدلی او په ۹۹۴ ه کې مړ شوی دی، مارګین سټرن (مارګین سټرن ناروژی مشرق ؤ، چی په پښتو ژبه کې یې خاصې څېړنې کړې دي) دخیرالبیان داملا په برخه کې لیکي:
۱- په خیرالبیان کې دنورو پخواؤ پښتو کتابونو په شان، چې تر ده وروسته لیکل شوی دي (و، ه، ی) دحرکتونو داظهار لپاره نه دي لیکلي: مثلاً (حرفونه) داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکل شوي دي ( حرفون) همدارنګه (نشته ، اسپې ،باسي ) داډول راوړي: (نشت ، اسپ، باس ) ، مګر اوبه ، ليوه ، په آخر کې (ه ) لري.
۲- ځيني مستقلي کليمې په ليکلو کې يو له بله نښتي دي، لکه:( په شپه ډير کرځي ) ( پکې مې ) ، چې اوس داسې ليکل کيږي ( په شپې ډير کرځی، پکې مې ).
۳- پښتو خاص توري داسې ليکي:( ټ، څ، ډ ،ړ ،ښ،ږ،ڼ)او د (ځ) پرځای له (څ) کار اخلي لکه: څلمی ،څلمی...
۴- د (ليار، مير، ايتو ،څلوير ) دوزيرو دلهجې پر ځای (لار، لمر، ستا ، څلور ) ليکي او يوسفزيو لهجه کاروي.

**۴– دميرزا خان انصاري دقلمي ديوان املا:**

دميرزا خان انصاري دپښتو ادب يو وتلی لوړ مقامه شاعر تير شوی دی ، دنوموړي دديوان داملأ لنډيز دا ډول دی:
۱ـ پښتو مخصوص توري دا ډول ليکي: لکه ( ټ ،ځ ،ډ ،ږ، ښ ، نړ(ڼ) ، يعنې د (ځ ) پرځای (څ ) او د(ڼ) پر عوض (نړ) شکل غوره کوي.
۲-(کښې ) په دغه او (چه) کله چه او کله (چې) ليکي.
۳- (و ،ه ،ی ) کله دحرکتونو داظهارولو اوکله يې نه ليکي، مثالونه: زمکه ، باند ،کاند ،زوځی ،بخره ،لکوم (له کومه ) نليده ،مين (مينه ) ، ويره ، له مخ.... داسې ښکاري چې (له ،نه ) ډير ځله وروستيو کليمو سره نښلوي.
۴- داکلمې ( سوځي ، زلمي ، غر ،روڼا ، وهير ، ورځ ، وقت ، ګرځي ، ځښتن.... په همدغه ډول ليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵- د دولت الله د قلمي ديوان املا:**

دولت يا دولت الله او .... په روښاني پښتو ادبي ، عرفاني او علمي غورځنګ کې لوی قلموال بلل کيږي، ديو ديوان له قلمي نخسې څخه چې په کابل کې ده ، ارواښاد استاد الفت هغه ځانګړې املأ داسې را معرفي کوي:

۱- د پښتو په خاصو تورو کې ( ټ، څ،ښ،ړ ) همدا اوس په شان ليکي ، مګر( ځ،ږ) د( د ،ذ ) يعنې دلومړي توري پرځای (د ) ليکي او يو ټکی ترې نه لاندې ږدي او د دويم توري پرځای (ذ ) استعمالوي ، دپښتو يو بل مخصوص توری (ڼ) کله همد غسې په بسيط ډول او کله (نړ) ليکي.

د(ژ) توری کله د(ږ) او کله (ژ) يعنې د(ر) په توري يو ټکی پاس او يو لاندی ږدي.

۲-(و ،ی) د حرکتونو لپاره نه کاروي او ډير کرت دا کلمې ( واخله ،وګڼه ، مين، خلقو ، باندې، راشي ، خبر ).

۳-(چې) ډيره ليکي.

۴-(کښې) دا ډول.

۵- هير (وهير)

۶- دځښتن پرځای (تښتن) او

۷- دلمر پر عوض ( نمر)

۸-او ( وقت) په ق ليکي.

د پښتو د دورې د دويمې دورې ، دويمې برخې املا يې ځانګړنې:

الف- دخوشحال خان دد ستار نامې کتاب املا : حضرت خوشحال خان عليه الرحمه له شک پرته دپښتو ژبې او ادب دغنا مندی او توانمندی لپاره آره او تلپاتې او بهانده سرچينه ګڼلای شو ،

هر اثر يې ناياب در دی        دشکمن دي ووځي ستر ګې ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان ختېک په ۱۰۷۲ هـ کې ( دستارنامه ) وليکله ، دغه نثري غنيمت او معتبر کتاب قلمي نخسه په ۱۱۱۹ ق کال عبدالحلليم نومي کاتب دافضل خان په امر وليکه او په پېښور کې په زړه املا چاپ شو ،خو ځرنګه چې ټولو ته لکه لمر ښکاره ده خوشحال خان ختېک په پښتو ليک کې تحول راوست ، نو د دغه اثر املا يې هم ډېره ښايسته او له اوسنۍ محاورې سره نږدې دی ، خو ځينې لږ توپيرونه شته او دادي، چې الفت صاحب ګڼي:

۱- (و ،ه ،ی) د حرکتونو د ښکاره کولو لپاره ګټېي لکه ( هسې، تاسې ، غوره ، اوسپنه ، ګونډې ، مورې، عالمانو ، عابدانو ) او ځينې کليمې يې بې له دغو تورو هم ليکلي دي.

۲- د پښتو مخصوص توری (ښ) پرځای (ش) ليکي لکه: غوشه ، پشتون...

۳- د(ږ) په عوض (ژ) ليکي لکه: غوژ ،کوژ،لژ...

۴- (څ) ته (ح ) غوره کوي ، خو له (ح) لاندې دوه ټکي او له ټکو لاندې همزه ږدي د بيلګې په ډول: (چ) ؟؟

۵- (ځ) هم د(ح) په شکل ليکي يو ټکی ږدي او تېرې لاندې همزه ( ء )

۶- (ړ) په (ر) اړوي ، خو د(ر) پرسر يې همزه ږدي لکه: ( رء)

۷- او (ڼ) د(ن) په ډول او پرسر يې همزه ليکي لکه:( نء)

۸- (ټ) په (ط) ليکي لکه (ط) چې مونږ يې (مټ) په (ټ) ليکو.

۹- د(ل) پرځای (ن) د کلمې پر سر کې کاروي؛ لکه: نمونځ ، نمسی ، نمر ،نمړنۍ ، نمديدل او ......

۱۰- (کښې) په (کشې) ليکي.

۱۱- زما ، ستا په(دما ، دتا ) ليکي.

۱۲- زمری ، زمکه ،برخه ، هومره، څومره ، هير ، پيړ.... په (مزری ، مزکه، بخره ، هونبره ، څنبره ، هير ،پيرړ ) ليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳ – ځينې فعلونه داسې ليکي (څه چه غواړو ، که په اتفاق واستی ، که جدا شواستی هسی به مات شيو ، ويا ستل )
۱۴- د ( دی ) جمع په ( ديو ) ليکي چې اوس يې مونږ (دوی ) ليکو .
۱۵- شوء وشو په ( شه ، وشه ) او د جمع په صورت کې يې (شول ) ليکي.
۱۶ – (تنګسه ) په (تنګځه ) چې ښايې د تنګ ځای مخفف وي، راوړي.
۱۷- (وقت) په (خ) ليکی لکه: وخت.
۱۸ – سربلونه يا ځينې معنی داره توري متصل ليکي او اوس جلا ليکل کيږي لکه : (پکور، پعلم..... ) (په کور ، په علم..... )
۱۹ – درکړی ، کاندې پرځای (کا ) ډېرکاروي، دا کار په نظم او نثر دواړو کې کړی لکه: په نظم کې:

په رومال دې يې مخ پاک کا په ډير رنګ دې پرې تبا کا ... (۲۴: ۷۱۹)

۲۰- او (زلمی ) ( زغلول، ګرزي ) په (ز ) ليکي.

**۶– دعبدالرحمن بابا د قلمي ديوان املا:**

عبدالرحمن بابا دپښتو ادبياتو دکلاسيکي دورې ددويمې برخې نامتو سرفرازه ، بلبل زبانه لمرته ورته نامتو شاعر دی ، خدای ښنلي الفت يې له قلمی نسخې څخه چې د وخت دمطبوعاتو په کتابتون کې خوندی وه ، املا غوره کړې ، ځانګړنې يې داسې راوړل شوي دي:

د دغې نسخې املاء هماغه املا ده، چې له خوشحال خان نه دمخه وه، دپښتو مخصوص توری يې داسې ليکلی دي: (ټ، څ،ډ ،ړ،ښ،ږ،نړ) ښيي او (ځ) د(ځ) پرځای استعمالوي او ښای (ځای ) ليکي او د (و ،ه،ی) کله دحرکتونو د اظهار لپاره کله يې نه ليکي ، چې لکه:(حرفون، غوند ، خاور ،له کوم، زمکه ،چونه کاند ، لاند ، وړاند ، نه د( نه ده ) مې ، ګنړ) :

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې هم کله همدغه ډول او کله (کښ) ليکي، شو ، وشو داسې ليکي (شا ، وشه ) نمونځ ، نمانځه ، نمسی ، نمر، په (ن) ليکي.
(ح ) هر وخت يو ډول ليکي.
(پما ، لما ،پژرا ، نغوارم ) ډير ځله يو ځای ليکي.

**۷- داحمد شا بابا د ديوان املا:**

دوالاشانه، متفکر ، قلموال ، شاعر ، اعلحضرت احمد شا بابا ددیوان قلمي نسخه، چی دمحمد خاور دراني په قلم ليکل شوې او په ۱۱۲۳هـ کال پورې اړه لري او د تاشکند اکاډيمي دشرق پيژندني دڅانګې په کتابخانه کې وه، چې خدای بښلي اروابناد الفت يی ځانګړني موندلې دی:
۱- د(ځان،ورځ، ځما ) کلمې په (څ) ليکي، يعنې همدغه يو توری د دوه تورو (څ) او (ځ) پرځای استعمالوي.
۲-(ڼ) داسې ليکي (نړ).
۳- دپښتو دا دوه خاص توري يې (ږ،ښ) ډير ځله داسې ليکي (ژ،ش) يعنې دا کلمې ( مونژ-پوښتن) ، خو ځينې کلمې لکه (روژه ، نشی ) په ( رو‌ږه ، نښی ) ليکي .
۴-(تاس ، لک ، هس) سره ( ه ،ی ، و ) دحرکتونو لپاره نه ليکی ، يعنی ( تاسی ، لکه ، او هس) ليکی.
۵- دا کلمی پدی ډول ليکی ( يوطن، نشراب ،کښی ) ليکي .
۶- او دا کلمې، خو د خپلي محلي لهجې مخالفې ليکلې دي ، لکه ( ورځ ، بخره ، وشي ، وشو ) او نور....
۷ـ کله کله (څ) ته دوه ټکي ږدي ، يو پاس او بل لاندی ږدي ، مګر اکثراً (څ) د(ځ) پرځای کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- الفاظ او کلیمې عموماً د پېښور او ننګرهار په لهجه لیکلي دي، لکه (لمر، ورځ، شته، بخره، ویره، اوښي، چرې باسي).
۹- د ربط توري ډېرځله له ورستیو کلیمو سره نښلوي، لکه (پلاس، پکوڅه، لحیات، بڅه).
۱۰- (چه) کله همدغسې او کله (چې) لیکي، همدارنګه (شه، وشه، شو، وشو) په دواړو ډولو لیکلي دي.
۱۱- کښې لیکي یعنې (کښې) نه لیکي.

معاصره دوره:

**۸- دپښتو لومړي کتاب املا:**

حبیب الله خان په ۱۳۳۳ هـ ق کال د حبیبې په مدرسه کې د پښتو ژبې تدریس کولو امر ورکړ او له دې سره سم صالح محمد کندهاري د پښتو ژبې لپاره درسي کتاب د (لمړی کتاب د پښتو) ولیکه او په ۱۳۳۲ کال کې چاپ شو، د دې کتاب ځینې ځانګړې داسې راغلي دي:

۱- (څ) (ح) لیکي او (ج) (ځ) دواړو ته ټکی ورکوي.
۲- (وکړ، وکړه او کړه) لیکو او (وکی، وکه، که) لیکی.
۳- داکلمی (سو، وسو، سوی، سته، راسه، ولاړسه او .....
۴- معروفه (ي) په (ی) لیکي.
۵- (ڼ) همداسی لیکي او (نړ) غلط بولي.
۶- زما، زموږ په (ز) لیکي او زوی هم په پښتو (ځ) نه لیکي.
۷- او ستربل یا دظرفیت توری (ې) خو په یو ځای کې (کښ) لیکي.
۸- زورکي (،) ته (فتحه) وایي.
۹- مفرد غایب (یه) لیکي او اوس یې موږ (یې) لیکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰- هغه کلیمې، چې اوس په مفغنه ښه لیکو ، نو موږی په غربی شکل لیکلی لکه:
قصص ، صبا ، قوم ، قومي ، وقت ، وقتی ، نا وقته.....
۱۱- د ( ټینګ ) ، ړوند ، لمړی ، نا جوړه ) کلمې داسې لیکي ( ټینګ ، ړند ، لمړی ، ناجړه ) .
۱۲- کله چی د ( شی ) جمع ( شیه ) لیکي ، لکه: ( دوه شی یه ) او ( وړمه ورځ ) وړمه روځ لیکي.

**۹- د منشي احمد جان املا:**

داروانباد الفت په وینا ( منشی احمد جان د پښتو ژبې مشهور لیکونکی د تالیف او تضیف خاوند دی او له ډیرو ښو نثر لیکونکو څخه ګڼل کیږي ، د خواږه او جلا سبک خاوند لیکوال ؤ ، ( تاریخ افغانستان او د قصه خوانی ګپ ) یې ډیر مشهور کتابونه دي او په ۱۹۳۰ م کال کی چاپ شوي، چې دلته یې د( قصه خوانی ګپ) څخه ځینې املایي ځانګړنې را اخلو :
۱- د( څ ) توری د( ځ ) پرځای استعمالوي.
۲- (شه ، وشه ) هر وخت همداسې لیکي او ( و ) یې په آخر کې نه لیکي .
۳- زورکی واله ( رسمی او زوروالـه (ی) فعلی ) په یو ډول زوروالـه (ئ) لیکي.
۴- (ڼ) په (نړ) سره راوړي.
۵- هغه ( ه ) چې د مخه ترې زورکی (ه) پاس پرسرېې همزه لیکي ، مثال ( زه ،ښه ) .
۶- دغایب ضمیر یعنې ددریم شخص لپاره دغه ډول ( ئ ) کاروي لکه: راځئ ، ځئ....
۷- دجمع لپاره ( شول ، کړل ، وتښتیدل ، وختل ) لیکي.
۸- ( وخت) په (ق) (وقت ) سره لیکي.
۹- ( کښې یا کې ) پرځای (کښ) لیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰- پښتو (ځ؛) په ځينو کليمو کې نه ليکي او (ز) کاروي لکه ګرزيدل ، زوی ... خو وس هم همدا ډول ده.
۱۱- ګاند ، لاند ، بايد ، م ، د ، سره حرکتونه نه ليکي ، لکه کاندي ، لاندي ، بايده ...

**۱۰ – دپښتو ادبي انجمن املا:**

پښتو انجمن، چې کله په ۱۳۱۱ هـ.ش جوړ شو ، نو يوه مجله يې واو کښنه او د ( پښتو خبرې ) په نامه يې يو کتاب په ۱۳۱۵ هـ ش چاپ کړ، چې املايې داسې وه.
۱- (ی) زورکۍ واله او زوروالـه (ئ) په يو شکل (ئ) ليکي.
۲- اوږده (ي) ، د کلمې په آخر کې ليکي لکه: مينه.
۳- ( شو ، شی ، شته ، شوی ، وشو ) په (س) ليکي يعني ( سو ، سی ، سته ، سوی ، وسو ).
۴- (ځ) د (څ) پرځای ليکي.
۵- (ڼ) دا توری (نړ ) ليکي.
۶- کښې په (کې ) راوړي.
۷- ځينې کلمې چې اوس په (ز) ليکل کيږي پـه (ځ) ليکل شوي ، مثال: ځلمی ، يوائی ، مځکه.
۸- (يې) غايب ضمير په (يه ) ليکي.
۹- ( يږدم ، کښينوست ، چښم ، ياست ، واست ) راوړي.
۱۰- ماضي يې مطلق صيغې ډير ځله په ( وليدئ ، ودريدئ، .... ) ليکي.
۱۱- (ورځ) په (روځ) او موږ په ( موږ) ليکي.
۱۲- ( سو ، وسو ) په (و) سره راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱- د الفت دلیکوالۍ املا:**

لیکوالي ( املأ او انشاء ) دپښتو ژبې او ادب دمعاصر لیکوال، شاعر ، ادیب او پښتو ادب دپوهې دځلاند ستوری اروانباد استاد ګل پاچا الفت هغه غنیمت او پوخ ، معتبر اثر دی ، چې خزانه به یې تلپاتې وي.

استاد الفت دغه کتاب دلومړي ځل لپاره په ۱۳۳۲ کال ولیکه بیا وروسته ډېر غني او بیا بیا چاپ شو او ډیرو اړتیاوو درفع کولو لپاره دچاپ ډګر ته راوتلی؛ دغه کتاب دلیکوالۍ په برخه کې یوه پخه او ډاډمنه زیرمه ده .

موږ به د دغه کتاب ځینو املایي ځانګړنو ته راستانه شو .

۱- پښتو په ( پښتو ) لیکي.

۲- د(کې ) اوسنی معمول شوي بڼه په (کښې ) راوړي.

۳- اوږده ې (، ) (ې) ته دوه لاندې باندې توري نه ورکوي .

۴- همدارنګه مجهوله یا لنډه (ي ) ته دوه ښنګ په ښنګ توری نه لیکي .

۵- دارتباطي توري ( چې ) اوسنی مروجه بڼه په (چه ) لیکي.

۶- (ئې ) په پخوانی بڼه راوړي.

۷- (موږ) په ( مونږ) لیکي.

۸- (کیږی ) نه لیکي ، بلکې د ۱۳۹۰-۱۳۹۲ کلنو په مروجه بڼه یې لیکي، لکه: کیږي ، خو (ي) ته ټکي نه ږدي.

**۱۲- دغني خان غني د(کلیات ) املا:**

دغني خان غني کلیات دنو مورړي دخو شعري مجموعو ( دپنجرې چغار ، پلوشې او پانوس ) ټولګه ده ، چې دقومونو او قبایلو وزارت ، دنشراتو ریاست لخوا په ۱۳۶۴ هـ کال د ۱۹۸۵ م کال چاپ شوی ؤ ، د دې مجموعې ځینې املایي ځانګړنې په لاندې ډول دي ، که څه هم چې قلمي نسخې یې راسره نشته ، خو دخدای ښنلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غني خان غني له ژبنیو ځانګړنو پوهیږو ، چې له دغه چاپ سره توپیر لري، ځینې املایي توپیرونه:

۱- (ئي ) کمزوری ملکی ضمیر په دوو یا ګانو لیکي ، خو پرته له ټکو او د لومړی لنډی (ي) په سر (ء) راوړي.

۲- دلنډې (۱ ) (ي) او اوږدې (، ) (ې) توپیرونه کوي.

۳- (سپوږمئ ) په (ء) لیکي نه په دې ډول: سپوږمۍ

۴- ( دنیاګۍ ) هم په ( دنیاګئ) لیکي.

۵- (چې) په ( چه ) سره وایي.

۶- (ترې) از آن ( پوښتنومځری ) په (تې) یعنې، بې ټکی لیکي لکه:

چې خمار مستي یې وزي        شراب شي ترخې او به سي

۷-(ټوکه ) په ټوقه یعنې (ک) په (ق) سره وایي.

۸- کیسه (داستان) هم (قصه ) لیکي.

۹- (فانوس) (څراغ) په پ (پانوس) راوړي.

۱۰- هسپتال ( روغتون) په (اسپتال ) لیکي.

۱۱- اوږده (ې) په نرمه (ی) سره لیکي. ( ۱۳: ۹۴ )

**۱۳- دپښتو پخوانۍ الفبې کتاب املا:**

((پښتو پخوانۍ الفبې )) کوچنی کتابګوټی د فاضل استاد اروا ښاد عبدالشکور رشاد دی، چې له نیکه مرغه په ۱۳۸۷ هـ ل کال یې د چاپ توفیق موندلی دی او دمینه والو لاسونو کې دي.

پدغه رساله کې له وزني سریزې سربیره ( دپښتو پخوانۍ الفبې ، د اوسنۍ الفبې مبداء ، دخیرالبیان الفبې ، دالفبې دلوستلو طریقه ، دکلمو په کښلو کې دخیرالبیان لیکلې مقالې.. ) راغلي دي ، چې هرلیکنه یې دیوه پیاوړي او مغتنم اثر مثال لري، د دې رسالې ځینې املایي ځانګړنې په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- ( پر ) د(په ) پرځای کاروي ، چې ښه کار ونه ده ، لکه د دې خاورینې کرې (پر ) مخ ډیر قومونه ژوند کوي.
۲- (ې) اوږده (ۍ) لکه دمرکزي لهجې غوندې کاروي، خو د (ي) لنډې په توګه یې هم کاروي لکه: ددې خاورینې کرې......... باید خاورینه هم په اوږده ولیکل شي.
۳-(ښ) په لودیځه لهجه کې نه لیکي لکه: پښتانه ژوند پکې کوي.
۴- پکي( په کښي ) لیکې او اوږده (ې) په (ي) راوړي.
۵- دماضي فعل ( کیده ؛ ) په (کېدئ) لیکي..... براهمني لیک له کینې خواښخه ښې لورته کښل کیدئ.
۶- ( شوې) په خپله لهجه (سوی) او هغه هم په لنډه (ي) لیکي.
۷- (چې ) ارتباطي توری هم په لنډه (ي) راوړي، لکه چي د پښتنو اوسنۍ....
۸- د(ږ) توري د ( غږونه ) لپاره کاروي یعني په غربي لهجه یې (ژ) نه کاروي.
لنډه داچې : (( املا واژه عربي و درلغت دارای این معنی ها است: پرکردن ، مطلبی راګفتن تا دیګری بنویسد ، نوشتن مطلبی که به شخص تقریرکند ، طریقه نوشتن کلمه ها ودرست نویسی واژه ها )) (۲: ۳۲) په سرخط املا لیکلو کې لوی مقصد او هدف ښه لیکل غوره لیکل او داسې لیکنه ، چې نور هم وربانديې ښه پوه کړای شي یا (( املا دچا د وینا لیک دود مطابق لیکنه د امتحان په ډول دبل ویلي عبارت لیکنه ، دلیک طرز جمع املاګانې.)) ( ۳۳: ۲۰۱)

**۳-۴- ب- انشاء: (Composition)**

((انشاء- مص(ع ) (۱) پیلول ، رامنځته کول ، پیدا کول ، له ځانه څه ویل ، او په اصلاح کې د ادب له فنونو څخه ده ، چې خصوصي، رسمي لیکونه او فرمانونه وربانديې لیکل کیږي. په پخوا کې به هغه څوک، چې د دې کار متصدي و ،(( منشی )) بلل کیده، چې په ادبي علوموکې به یې لاس درلود ، دانشاء دیوان یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسایلو دیوان په قدیم یعني د اسلام د خلفا او پادشاهانو په دوره کې دیوې وزارت خانې په توګه و.)) (۱۹: ۲۴۹)

دریاب قاموس په (۷۱) مخکې د انشا په برخه کې لیکي ((ان-شاء)) اسم واحد – مونث(۱) له ځانه راایسته، له ځانه پیدا کونه، دزړه نه څه خبره پیدا کونه(۲) عبارت–تحریر(۳) هغه کتابونه، چې په هغې کې د خط او کتابت قاعدې او خطونه وغیره لیکلی شوي وي. (م-عربی) (۳۳: ۷۱)

دانشا علم په هغه معنی دی، چې دیوې ټاکلې موضوع په برخه کې یو شی په پوره فکر او نوښت سره ولیکو، پدې ډول که په خپله لیکنه یا انشا کې د نورو له اثارو او افکارو ګټه واخلو، نشو ویلای، چې ما انشاء لیکلې ده، له دې امله باید ورته (اقتباس) وواېو، دمثال په ډول، که بیلا بیلو خلکو ته وواېو د (اوبو په برخه کې څه ولیکي، نو هغوی به هر یو له خپل ذوق او پوهې سره سم د خپل فکر پر بنا یو څه ولیکي او داسې کلمې به سره وپیېي، چې یو له بله سره به توپیر ولري.)

له دې امله دیو چا انشا له بل سره توپیر لري او آن دلیکوالۍ په نړۍ کې انشاء کولای شو د قریحې او افکارو دمشخصولو او ټاکلو لپاره دازمېښت یوه ښه وسیله وګڼو، هغه څوک، چې لیکنه کولای شي د نورو د ښه او غوره پوهولو له پاره اقتباس هم چمتوالی لري او په پای کې دې ته سترګې په لارې وي، چې یو بریالی لیکوال به وي. په پښتو–انګلیسی قاموس کې راځي: ((انشاء–ښځ- Writing-composition)) (۹: ۳۹)

انشا ء له خبرو کولو سره هم تشبه کولای شو ځینې خلک له نورو ښې خبرې کولای شي او خپلې خبرې په ښه ډول نورو ته لیږدوي او نور هم ښه پوهولای شي، خو ځینې نشي کولای آن خپل مقصد هم ووایي.

لومړی ډله ښه او غوره خبرلوځي دي او دویمه نه دي ،((ښه انشاء لیکونکی هغه څوک دی، چې خپل مقصد یې دلیکنې له لارې ښه ولېږدولای شي او په لیکنه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ساده ګي او ښکلا هم په پام کې نیول شوي وي ، غوره انشا لیکونکی دلیکنې لپاره غوره مضمون په ذهن کې لري ، له همدې املا انشاء دیو مضمون له موندلو څخه عبارت ده )) ( ۱۹: )

**۱– انشاء کلمه په بیلابیلو ژبو کې :**

انشاء عربي کلمه ده ، دعربو په ژبه کې ډول ډول معناوي لري ، خو په عام او متداول (مروجه ) ډول :(( له پیلولو او منځته راوړلو څخه عبارت ده )) په فارسي دري کې له ډیر پخوا دغه کلمه د ( لیکلو ) او دتکرار ، یا (نوشتن ) او (نګارش ) په توګه کاریدلې ده او نن هم په همدې مفهوم کارول کیږي. ( ۲۲: )

په معاصرې عربي ژبه کې لکه فارسي غوندې نده ، دهغه پرځای د (کتابت ) کلمه استعمال شوې ده .دنارمن فورستر او ج. م ستیدمن او دمحمد نسیم نګهت سعیدي په وینا (( په پخوا اولرغونو وختونو کې په فارسي ژبه کې د( انشاء ، کتابت ، دبیرې او ترسل ) کلمې په ځانګړي مفهوم کاریدلې ، چې پادشاهي دبیرې –ترسل –فرمانونه ، اداري او دولتي مکتوبونه وربانديې لیکل کیده او دغه فرمانونه او مکتوبونه به ( منشي ) ، کاتب ، دبیر او مترسل ) به د دربار شاهانو او امیرانو پورې اړوند ؤ. ( ۲۰: )

پدې ورستیو کلنو کې (نګارش ) دکمپوزیشن او لنډو لیکنو لپاره په کار کیږي ).

په ۱۳۳۲ هـ کال دکابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځی د ( متونو املا او انشاء ) د سرلیک پرځای ( متون او دلیکوالي لارې چارې ) ددغې موضوع لپاره، چې یو درسي واحد ومانه ، په ۱۳۴۱ هـ ل کال دغه مضمون په دوو بیلابیلو درسي واحدونو (ادبي متونو او لیکوالۍ ) باندې وویشل شو ، په هر ډول انشا دلیکوالۍ مضمون پورې اړه لري او له هغه عادي او غیر عادي لیکونو او نوشتو څخه خبرې کوي، چې ښکلا ییز ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوالي یا انشا ته په انکلیسي ژبه کې ( Writing ) ورته وایي ، په فرانسوي کې ورته ایکریر (Ecvire) او د انشاء ( A short piece of Writing ) معادل کمپوزیشن ( Composition ) او په فرانسوي کې هم همدغه نامه او د کمپوزیسیون په ډول تلفظ کیږي او د انکلیسي ژبې ( Rhetoric ) په فرانسوي کی ریتوریک ( Rhetorique ) یعني لیکوالی هنر او دلیکلو ګټور او درست دستور ته هم ویل شوی دی.

(( دغه کلمه په لرغوني یونان او روم کې د ریتوریسکا (Rhetorice) د خطابې د اصولو په معنا کارول شوې او کلمه، چې یوناني فلسفه او علوم چې په عربی ژبې وژباړل شول ، دغه کلمه (ریطورقا ) د خطابې د اصولو په معنی کارول شوې او کله چې یې فلسفه او علوم په عربي ژبه وژباړل شول دغه کلمه د (ریطوریقا ) ( معرب ) په بڼه شوه او د (الخطا به ) معادل وه. (۲۱: ۳۳)

ریتوریکا : دغه کلمه په لرغوني یونان او روم کې د خطابې د اصولو په معنی وه ، خو چې کله عربي ترجمه کړه ( ریطوریقا ) یې وبلله.

یوه بڼه انشاء همدغه ده ، چې درنې او دابهام وړ کلمې په لیکنه کې نه وي.

انشـاء پـه لغـت کـې ، ډیـرې معنـاوې لـري ، لکـه ابتـداء (پیـل) ، اختـراع (نـوی راویسـتل ) او ایجاد ( رامنځتـه کـول ) ، خـو دلیکـوالۍ پـه اصطلاح کـې د هغـو معاینو او تورو په واسطه د نفبیرله فن څخه عبارت دی ، چې پـه خاطر (فکـر) کـې دي، پـه بلـه وینـا انشـا ء د ( مـافي الضـمیر ) بیـان ( سـپړنه ) ده. او ځینـو لیکوالـو ویلي دي: (( انشاء روحانیه صنعت دی ، چې د جسمي توانمندۍ پـه وسیله ترسره کیږي.

له روحانیت څخه مطلب هغـه کلمې دي ، چې د باطنیـه صور (خیـال) د تصـوراتو انځور لپاره د لیکوال په خیال کې پیدا کیږي او د بدني (جسماني الې څخه مقصد د تعبیر کونکي شخص ژبه ده او هغه قلم چې باطني درست ( بڼه ) کارونه (ډولونه ) ترلیکنې لاندی راوړي ، محسوس او را ښکاره کوي )). (۸:۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته تعریف د ماشومانو (ګډو ماتو ) خبرو لیکوالي بیا تر لوړو مقالو او د ستر لیکوالو تر لیکنو پورې ټول رانغاړي.

**۲- دانشاء ډولونه :**

انشاء په دوه ډوله ده ( شفاهي ، تحریري )
۱- شفاهي انشاء چې محاوره ، محاضره او خطابه ترې مراد ده او یا خبرې اترې ، مجلسونه او خطابو او ویناو کې تر سره کیږي.
۲- تحریري انشاء، چې مقالې ، رسالې او نور په کې راځي ، شفاهي انشاء فطري بڼه لري او یا فطري (طبیعت ) دانسان پورې اړه لري ځکه د لاربښود ( مربی ) او ماشوم تر منځ د تفاهم او اړیکو وسیله ده.
د شفاهي او تحریري املا تر منځ اړیکه ضروري ده ، د دې لپاره، چې لومړی ټول شیان دانسان په تصورکې محاوره ، محاضره ، خطابه راپیدا کیږي ، خاطر او فکر ته لار مومي او بیا لیکل کیږي.
تحریري انشاء د ټولو انسانانو او ملتونو لپاره ضروري خبره ده ، ځکه د ( هر ملت کلتوري بقا ) په تحریري انشا ( لیکوالی ) پورې اړه لري .

**۳- دانشاء اصطلاحات :**

دلیکوال لپاره لازمه ده، چې د انشاء دفن د اصطلاحاتو له مخې پوهه ولري، دغه اصطلاحات په لاندې ډول دي:
۱- موضوع: د منشیانو په اصطلاح کې هغه موخه ( مقصد ) دی، چې څوک غواړي د هغې په برخه کې مقاله یا رساله ولیکي.
۲- خطه ( پلان ): له نقشې څخه عبارت ده ، هغه نقشه، چې د خپلې لیکنې او کار په برخه کې یې په پام کې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – عناصر( توکی ): هغه رئیسه فکر څخه عبارت دی، چې په موضوع کې راڅرګندیږي او ورته ( روس ) هم وايي.
۴- عمود ( لنډیز ): دمعاني له لنډیز څخه عبارت دی، عمود دلیکنې دستون فقرات معنا لري.
۵- مقاله: هغه منظم کلام دی، چې ریسه فکر پورې اړوند وي ، په هغه موضوع کې چې لیکوال هغه په طبعي ډول ترتیبوي.
۶- فصل: دمقالې له يوې برخې څخه عبارت دی ، چې خپلوا که معنی لري ، کله ټولې مقالې ته هم (فصل ) وايي.
خدای بښلي حقدار استاد حضرت ګل پاچا الفت وايي: (( دانشاء لغوي معنا ایجاد دی ، یعنې دیوه نوي شي پیدا کولو ته انشاء وايي. په ادبي اصطلاح یو نوی فکر او نوی خیال په الفاظو کې څرګندول انشاء ده.
انشاء دوه ډوله ده: نثر ، نظم... دانشاء فن او لیکوالۍ هنر دا دی ، چې سړی خپل مطلب په صحیح ډول ادا کړي او څه یې چې په زړه او ذهن کې وي په ښو الفاظو د ژبې له قانون سره سم په ګټوره توګه دفصاحت او بلاغت په اصولو برابر څرګند کړي.
دښو کلمو انتخابول او دالفاظو ښه تالیف د انشاء مهمه برخه ده.
یو شاعر او ادیب سربیره پردې، چې باید دکلمو په نښلو لو او استعمالولو ښه پوه وي باید دا قدرت هم ولري، چې نوي افکار او نوې معانی پیدا کړي او ښکلا په کې واچوي.)) (۳: ۲۴)
انشاء بیلابیل مفهومونه لري، انشاء عربي کلمه ده، د افعالو له بابه اخیستل شوې ده، چې درامنځته کولو ، پیل کولو او له ځانه یو شی را ایستلو او ویلو ته وايي ، هغه څه ته ، چې په پښتو او فارسي کې ( انشاء ) وايي ، عربان یې (کتابت ) نوموي او انشاء دکتابت یو جز هم ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴– دانشاء لومړنی مواد:**

تاليف ( الفاظ مناسب ترکيبو ته ، دقيقه معنا او درستې جملې دي ، چې د چا لخوا ويل او يا ليکل کيږي )

د ( جواهر الادب ) ليکوال وايي: هغه لومړني مواد ، چې د بحث وړ موضوع کې شکل نيسي او اصلي مقصد بيانوي ، درې شيان دي او په لاندې ډول دي:

۱- فصيح او روښانه کليمې ،۲- معاني ، ۳- په بيلا بيلو ډولونو د واحدې معنا وړاندې کول.

انشاء د مافي الضمير په پاللو او پياوړي کولو کې ستر رول لري ، که هر ليکوال دليکوالۍ په راز پوه شي، دقلم او ابداع خاوند شي ، کولای شي خيالي قوه په فکر کې وروزي او د ممارثت (تکرار ) او تمرين له لارې پوخوالي ته ورسيږي.

لنډه دا چې انشاء په بيلا بيلو ژبو کې بيل نومونه لري په فرانسوي کې ( Redaction ) غيدکسون ، په انکليسي کې ( Redation ) رډکشن ، په روسي کې ورته نه پسيساينې ( harinacahne ) او نور........

**۵– دانشاء اصل او پس منظر:**

هرعلم ، مسلک او فن په عملي او تجربوي انساني ژوند کې يوه مخينه او پس منظر يا بايګروند (لرغونه) لري.

ټول علوم په ابتدايي ډول له ابتدايي انسانانو سره ملګري ول ، چې بيا وروسته د ژوند له غزېدلو سره سم يې انکشاف او بدلون وموند. دغه انکشاف په ټولو علومو کې احساس شو د ليکنې په برخه کې هم ترسره شو. انسانانو او انساني ټولنو دخپلو نظريو ، افکارو او اميالو دخوندي کولو او همدارنګه دکلتوري استغنا لپاره څه ساتلو او ليکلو ته اړتيا درلودله ، هماغه و ، چې په ورو ورو ډول انسان د خپلو نظرياتو دخوندي کولو تابيا يو هوډ وکړ، قلم يې رامنځته کړ، قلم يې وکاراوه او دخپل ژوند اړوند ټول اړخونه يې دليکوالۍ دفن په واسطه خوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل ، تمدنونه رامنځته شول او ددغو تمدنونو غوره برخه دقلم ، لیکوالۍ ، املا او انشاء برکت وه.
ښکاره خبره ده ، چې دټولو تمدونونو خوندي کول که په هره دوره او وخت پورې اړدوندو ، د قلم او لیکوالۍ په واسطه خوندي شوي دي.
دا چې الله رب العزت په قلم سوګند یادوي (( ن – قلم و مایسطرون ))
د دې ستر علت همدا دی ، چې ( قلم د بشري ټولنو دترقۍ او تعالی غوره لامل دی ) الله جل جلاله په ځانګړو شیانو سوګند یادوي، چې هر یو دپوره تأمل او دقت وړدی.
دبشریت او انساني ټولنو دکلتوري وده ، پراختیا ، لوړتیا له هغې ورځې راپیل شوه، چې لومړی یې په ښه ډول ځان، خپل خدای (ج) چاپیریال او طبعیت وپیژانده، هله نو دا ملکوتي آیت ښه تفسیر شو چې: ((لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم )).
پاک پروردګار انسان په ښه ډول پیدا کړی دی، نو انسان په فکر وکړ، دخپلې راتلونکي او بقا دغزیدلو په خاطر یې هوډ وکړ، چې خپل مادي او معنوي ژوند سمبال کړي.
لومړی یې هویت ومومند او دهویت دخوندي کولو په خاطر یې چې هر څه وکول ، هغه یې بیا خوندي کړل. د ( خط او قلم وده او تکامل دلیکوالۍ او انشاء ) دخوځښت او تکامل لامل وګرځیدل ، ځکه نو له هغه وروسته ( ټول مادي او معنوي بشري ارزښتونه ) دپام وړ شول. د یو لیکوال په وینا :( انساني ټولنو خپل مقصدونه له دوو لارو را وسپړل او ترلاسه کړل ، یو نطق، بیا ن او خبرې کول او بل دکتابت ، لیکلو او لیکوالۍ لار، چې دغو بیا ډیر وختونه ترشاه کړي او دکمال پوړۍ او درجې ته رسیدلي دي. )(۱۲: ۱۳)
دپوهانو په نظر لومړی بشر خبرې وکړې ، خو خپل مطلب یې په پوره ډول نوروته نشوای لیږدولای ، لازمه ده دخبرو سره نورو ملګرو او دوستانو ته څه ولیږي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دډبرو (تيږو ) پرمخ يې خطونه او کرښې کولې، چې دا تصوير يا او انځوريز ليکونه ول.
په دې ډول د ليکلو ډول لږ لږ تکامل وکړ، وروسته ميخي خط په ځير را منځته شو او وايي ، چې دغه ليک (سومريانو )چې د بين النهرين په جنوب يعني اوسني عراق کې ميشت ول ، رامنځته کړ، دغه د انشاء منشګيرۍ او کتابت يوه ښه ابتدايي پيلامه وه.
ميخي ليک او خط به يې د اوسپينيزو توکو په وسيله د ډبرو او تيږو پرمخ ليکه او د ځانګړو ختينو لوحو په ښېر به يې رامنځته کړ ، ميخي خط له سومريانو (بابليانو ) ته ورسيد ، او له هغو بعد آريايانو ته وليږدول شو ، دميخي خط او آهني ( اوسپنيزقلم) پيدا ينبت له ميلاد څخه درې زره کاله پخوا وو.
له هغه وروسته (فنقيانو ) چې مديتراني په څنډو او اوسني لبنان هېواد کې هستوګنه درلوده ، ميخي خط ته پراختيا ورکړه او دغږنۍ الفبې په اختراع سره يې (خط او ليکنه ) کمال ته ورسوله ، کله چې بنی اسرائيل ، بابليان ، فنقيان له مصر څخه فلسطين ته راغله ، خط يې له ( فنقيانو ) زده کړ او له هغې لارې(عبيري) خط رامنځته شو ، چې بيا ارامي عربي ، يونان او لاتيني او نورو ليکونه ابداع (رامنځته ) شول. په احاديثو او اسلامي تاريخونو کې راځي، چې آدم عليه السلام او دهغه لمسی ( ادريس عليه السلام ) لومړني خلک او کسان ول ، چې خلکو ته يې د (ليکلو ، ليکوالۍ او انشاء ) زده کړه ورکړه. د دې ستر علت دا ؤ ، چې رب العلمين ، حضرت آدم عليه السلام ته ټول نومونه وربنودلي و: (( وعلم الادم اسماء کلها ثم عرضهم علی الملئکة فقال انبونی با اسماء ها اولای انکنتم صادقين...... )) ( قرانکريم –۴۰ ) په حکم ټول نومونه زده کړل او دنومونو خوندي کولو او اسلافو ( راتلونکو نسلونو ) ته دهغوی د يادګارونو دليږدلو لپاره يې ليک او کتابت ته اړتيا درلوده، چې د وخت په تېرېدو يې دغه تشه تر يوه بريده ډکه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یونان او مایشان ( ادریس ) هماغه (هرسن ) بولي ، چې د لوی یونان حکیم و ، چې په لیک او کتابت پوهیده په (( مجمل التواریخ )) ، ( مخ۵۲۰ ) لیکنه، چې ستر فارسي کتاب دی د حضرت ادریس علیه السلام په برخه کې لیکي (( کالي ګنډل تاریخي او څه لیکل د ادریس (ع) اختراع ده ، په علم ، معرفت او نجوم هم پوهیده او ډیرش ځله یې د آدم علیه السلام او شیث علیه السلام صحیفې په خپل لاس ولیکلې او خلک یې له هرڅه خبر کړل . ) ( ۳۰: ۱۸۲)

د ( نفایس الفنون ) کتاب کې راځي :( ځینې ویلي دي الله جل جلاله آدم علیه السلام ته د دې مبارک آیت (وعلم آدم اسماء کلها..... ) په حکم د هر څه نوم او ګټه وروښوده. علم ، معرفت ، نجوم او هغه (شیث (ع) ) ته ورزده کړل.

انګلیسي نامتو نړۍ پیژندونکی ( ادوارد براون ) دایران ادبیاتو تاریخ په لومړي ټوک کې لیکي :( دمادیانو له سقوط وروسته دمخامنشیانو دوره (۷۰۰ق م ) آریایانو وکولای شول تصویري لیک دتورو په بڼه راوړي ).

سیوطی؛ چې یو اسلامي پوه دی ، په خپل کتاب (الاوأیل ) کې راوړي: ( دخط مخترع مسح ابن مقله ؤ. وروسته مستعصمي هغه بشپړ کړ. ))

اسلام او مسلمانانو دلیکوالۍ او انشاء پرمخ بیولو او اوج کې ډیر پرمختګ وکړ، که څه هم د اسلام دین له خپریدو او غوړیدو دمخه لاتین او سانسګرت، چې ( دهندیانو ) اصلي ژبه وه ، دخط لپاره کار کړی و ، خو بیا هم اسلامي مدنیت دخط او لیکوالۍ او کلتوري غوړیدا کې ستره برخه واخیسته ، د اسلام په لومړیو کې په ټول حجاز کې دباسواده خلکو شمیر (۱۷) تنو ته رسیده ، خو د ( قلم ) دسیوري په خپریدو دلیکوالۍ عظمت لا ځلاند شو ، ملکوتي کلمې په نوراني بشر ( حضرت محمد مصطفی ) علیه السلام را نازلې شوې ، لکه ( الذی علم بالقلم علم الانسان مالم یعلم.. ) (۱: ۷۱۳) او له دې دمخه لا بشر په خط ، کتابت او لیکوالۍ نه پوهیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د(محمد صلی الله علیه وسلم پیغبري که باید از نو شناخت ) کتاب کې راځي:( علم ترلاسه کړئ ، که په چین کې وي ) او پوهه ترلاسه کړئ که د کافرانو په لاس کې وي ، ځکه ټینګار کوي، له زانګو تر ګوره زده کړه وکړئ)

په کلام الله مجید کې په وار وار تاکید شوی، چې مسلمانان باید علم او معرفت ترلاسه کړي ، ځکه پوهان او ناپوهان سره مساوي نه دي ( هل یستوی الذین یعلمون والذین لایعلمون.. ) یا ( انما یخشی الله من عباده العلما... ) له دې څخه څرګندیږي ، چې د علم له زده کړې سره خط، لیکوالي او کتابت هم وده کوي او انشاء کلمې وده د علم له ودې سره یو ځای وده کوي. انشاء د ټولو علومو د خوندي کولو یوه ښه وسیله ده. هغه وخت او هغه ملتونو ژوندي پاتې کیږي ، چې خپل تمدن او مدنیت خوندي کړي او دا کار د لیکوالۍ ، علم او لیکنې له لارې شونی دی.

**۶ – دانشاء جوړښت (اسکلیت )**

انشاء فني لیکنه ده ، یوه ښه انشاء هغه ده، چې د هغې ارکان (جملې ) بشپړې وي ، د انشاء په جوړښت کې جملې ستر رول لري، پر جملو سربیره د ( یوې موضوع د تشریح کولو لپاره، چې د انشاء اساسي شرط دی ) باید څو شیانو ته پاملرنه وشي او هغه په لاندې ډول معرفي کوو :

الف - سریزه ( مقدمه ) :

په لیکنه ، محاوره ( خبرو اترو ) کې د سریزې راوړل ضروري دي ، له سریزې پرته مطلب ته نه شو داخلیدلای ، سریزه پرته لیکنه د لوستونکي پاملرنه نه جلبوي ، لکه: یو څوک په ناڅاپي ډول د یو چا کور یا کوټې ته ننوځي، غواړي د کور څښتن د ماښام ډوډۍ ته وروبولي له مقدمې پرته دوه ډوله چلند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دا چې د کورڅښتن یا کورنۍ ته په هماغه لومړیو شیبو کې ووایي تاسو نن شپه موږ کره میلمانه یاست او له ځنډ پرته کور پریږدي، دویم دا چې سلام واچوي ، روغبړ وکړي او بیا وروسته خپل مطلب په پوره نرمۍ او متانت او صمیمیت سره داسې پیلوي: (پوهیږئ، چې یوه موده کیږي ستاسو له دیداره محروم وم ، څه کیږي نن شپه زموږ په کور کې د دوستانو او خپلوانو یو غونډه ده او ټول را ټول شوي دي او د محفل ټول خلک تاسو پیژني له دې امله هیله کوم که وخت ولرئ زموږ غونډې (محفل) په خپل راتګ سره ښایسته کړئ ).

اوس مو ولیدل ، لومړی او دویمه بلنه دواړه د هغې کورنۍ ددعوت لپاره وې، خو لومړی څومره بې خونده ، آن ترخه او له حماقته ډکه وه، مګر دویمه بلنه ډیره په زړه پورې وه او د میلمتوب لپاره یوه ښکلې مقدمه وه، چې له هره پلوه خوندوره وه ، د دې اصل له مخې سریزه یا مقدمه په (لیکوالۍ) کې یو غوره اصل دی.

په حقیقت کې د انشاء جوړښت یا پیل درې ډوله دی، اول یې مقدمې پیلول، د شلمې پیړۍ په ورستیو لسیزو کې دا لاره ډیرو اروپائي لیکوالو غوره کړې وه ، چې لا تر وسه هم دوام لري او لا اوس په یوویشتمه پیړۍ کې هم په لیکنو کې مقدمه نه لیکي او ډیر ځله دعصر ګرفتاري په ګوتو کوي ، دغه طرز فکر دهنري نثر (داستان، ناول او رومان) په لیکلو کې د پام وړ دی. له همدې امله اوس لنډې کیسې خوښوي. په تحقیقي لیکنو کې دا درسته ده. که مطلب ډیر لنډ وي یا پخپله اصل مطلب جذاب وي، نو مقدمې لیکلو ته څه ضرورت نشته.

۲- له مطلب او موضوع دمخه یوه مقدمه لیکل ، دخدای ښبلي استاد الفت په وینا (دا یوه زړه او پخوانۍ طریقه ده او ډیر لیکوال په دغه لاره تللي دي ) دمقدمې لیکلو رواج پخوا دومره ډیر و ، چې شخصي او رسمي مکتوبونه او فرمانونه هم له مقدمې سره ول او آن منظومو حکایتونو به هم په یوه مقدمه شروع کیدل، لیکوالو او شاعرانو به په مقدمه ډیر زور لګاوه او په دې وسیله به یې دلوستونکو توجه خپل مضمون ته را ګرځوله ، په مقدمه کې به دلیکلو اسباب او علل بیانیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کله به له اصل مضون څخه مقدمه اوږده شوه ، اوس که څوک مقدمه هم ليکي هغسې نه وي او له پخوا وخته ډير توپير لري ، يعني لنډې وي.
۳- دريېمه طريقه داده، چې مقدمه نه ليکي، مګر مضمون او موضوع هم له سره شروع کوي،
بلکې ديوه داسې داستان ببخ يا آخر لپاره انتخابوي او وروسته له نتيجې د داستان متن ليکي ، يعني اول يې جذابه برخه را اخلي او بيا نوره قصه تماموي، دا طريقه ډير مهارت غواړي که څوک په دغه چل ښه پوه وي او په ښه ډول يې سر ته ورسوي ډيره په زړه پورې طريقه ده، خو که په ماهرانه ډول نه وي او دچا خبره بې تناسب وي نو نتيجه يې ښه نه وي.
يوه ښه سريزه ( مقدمه ) بايد ښکلې وي او له موضوع سره بايد ښه ارتباط ، نږدې والی ، او مناسبت ولري، چې دلوستونکي پاملرنه اصلي مضمون ته جلب کړي.
په مقدمه کې دکار هدفونه بيانيږي ، دمتن کليدي ټکي په کې راوړل کيږي، ( مقدمه دعنوان او متن ترمنځ موضوعي او شکلي پل دی ) .
مقدمه ، دکتاب يا اصل موضوع يا اصل پيل دی، مقدمه دموضوع يا پام وړ مطلب په برخه کې کلي طرز فکر دی ، دليکنې طرز ،شيوې لارې چارې او شکلي خواوې په ګوتو کيږي، دمثال په ډول ( يو تأليفي کتاب ) له څو فصلونو او برخو جوړ دی ؟ موضوعات او شکلي خوا په مقدمه کې ښوول کيږي ، لنډه داچې مقدمه يا سريزه ليکنه دليکوالی يو غوره اصل دی، تاسو چې هر کتاب لولئ ترهرڅه دمخه سريزه لري ، دبيلګې په ډول که موږ د اروا پوهنې په برخه کې لنډې او ګټورې خبرې وړاندې کيږي. له دې امله ، دانشاء په پيل کې مقدمه راځي، چې له هماغه پيله دلوستونکي پاملرنه نورو مطالبو ته اړوي.
ديوې موضوع ( عنوان او سريزه په سوداګري يا اقتصادي برخه کې داعلان او اشتهار معنا ورکوي ) مقدمه يا پخه ، لنډه ، کره او خوږه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ب – دمطلب پیل، متن**

مخکې لـه دې، چې دمـتن (لـوړې برخې ) پـه سـپړلو لاس پـورې کـړو ، یـوه لنـډه (پیلیزه )، چې د سریزې او متن ترمنځ معرفت را منځته کوي ، پیـل کـړو ، لکـه: د ( عرفان او فلسفي) په برخه کې مقالـه لیکو ، پـه مقدمه کې دواړه معرفـي کـړئ یـو ځل بیا دواړه د (سـترګو ) پـه توګـه پـه پیـل کې ږدو ، بیا دواړه پـه شننه او تحقیـق لاس پورې کوو ، دغې (سترګې ) ته دمطلب پیـل یا پیلیزه یا مدخل وایي.

(( وروسته له هغه، چې انشاء په لنډه مقدمه پیـل شوه، له ځنډ پرتـه بایـد مطلب تـه ورننوځو ، مطلب باید داسې وي ، چې له سریزې جدایي ونـه لـري، پـه دې معنـی، چې اصلي مطلب هم باید له سریزې ډیر واټـن ونـه لري، دمطلب پیـل هغـه وړ دی، چې د سریزې لـه ښـکلي ماحول څخه دمـتن لـوړې او بکـري سیمي تـه ور پرانسـتل کیږي ، متن چې لوړې ځمکې ته ویل شوی ، هـواری غـواړي ، پـه ادبي لیکنـو کـې هم دتحقیق وړ دی )). ( ۲۳: ۸۴، ۸۵)

**ج – دمتن شرحه او سپړنه :** دانشاء تر ټولو غوره او اساسي برخه (سپړنه یا شرحه ) ده ، یعنې له سریزې را وروسته باید مطلب (متن ) ته ورشو.

لکه چې متن د ځمکې هغې لوړې برخې ته وایي، چې او به نـه ورسـیږي، همدغسـې پـه عملي، ادبي او ځیړنیزو علومـو کـې هم (مـتن) او (موضـوع) دمحقق لـه خـوا سپړنه غواړي او په هواری بدلیږي، تـر څـو لـوړه ځمکـه هـواره نشـي او اوبـه ورتـه ونه رسیږي حاصل نه کوي، همدارنګه که یو مـتن – حلاجي او راونـه سـپړل شـي، لوستونکی دموضـوع حل نشـي ترلاسـه کولای ، تحقیـق، محقق کول او برجسـته کول دي ، باید دهر متن ځیړل یو هدف ولري او ورسره نور ځیړنیز صفتونه ولـري ، د اروابښـاد کاندیـد اکادمیسـین اسـتاد محمـد صدیق روهـي پـه وینـا : (( دڅیړنـې دموضوع هدف له ارزښتونو سره اړه لـري، دا د لیکـوال کـار دی ، چې دکوم هدف

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره څیړنه کوي ...څیړنه کې باید نوی توب او ابتکار وي .... دڅېړنې موضوع باید څرګنده او محدوده وي .... دڅېړنې موضوع باید دڅېړنې ور وي او ... )). ( ۱۵: )
په متن کې موضوع داسې څېړل کیږي ، چې لوستونکي ته حل په لاس ورکوي ، هرمتن یو لړ ستونزې لري، چې دڅیړونکي له خوا ورته دحل لارې پیدا کیږي، په مقاله کې متن تر ټولو مهمه مثال دی، لکه په کرونده کې، چې داصلي پټی وي (قلبه کول) اهمیت لري ، نورې حایشې یې هم ورسره حلالې شي ، په ادبي او علمي څیړنو او مقالو کې متن او دهغه څیړل او را وسپړل ډیر اهمیت لري.
متن دیوې اساسي موضوع جوړوي، هغه وخت مورږ داساسي موضوع په برخه کې پوره معلومات ترلاسه کولای شو ، چې وڅیړل شي.
متن ؛ دمقالې دعنوان اهدافو ته د بستر مثال لري هغه وخت یوه مقاله بریالیتوب پیدا کوي، چې متن کې عنوان ته ځواب وویل شي .
متن دانشاء تر ټولو غوره او اساسي برخه ( سپړنه یا شرحه ) ده ، یعنې له سریزې را وروسته باید مطلب (متن ) وکتل شي ، متن ، دموضوع د حل کلي ده ، یعنې له سریزې را وروسته هغه څه، چې زموږ مطلب او غوښتنه وي ، باید شرح کړو ، د شرحې او سپړلو پرځای کولای شو داوږدولو (پاللو ، تشریح کولو ) کلمه وکاروو ، ځکه انشاء لیکنې بنسټ وربانديې استوار دي .
هغه شی، چې موږ غواړو په یوه ټاکلې موضوع کې ولیکو دمقالې د ( پاللو یا پراخولو ) په برخه کې شکل پیدا کوي او هغه څوک، چې انشاء لیکي ورته بویه دمتن په پوره سپړلو مهارت پیدا کړي متن ، د مقالې اساسي موضوع ده ، چې شکلي او مغنایي جوړښت رانغاړي ، ځکه یې څیړل او سپړل پوره مهارت غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د– پايله (نتيجه ) :**

په هره مقاله او بيا يوه متن کې هدفونه پراته وي ، چې په متن کې را سپړل کيږي، له دغو هدفونو څخه برجسته او غوره تصوير اخيستنه ديو ځيرنيزکار نتيجه جوړوي.

کله چې د مقالې (انشاء) نورې برخې پای ته ورسيږي بايد له انشاء نه نتيجه ګيري يا اخيستنه هم وشي ، نتيجه د مقالې نچوړ او لنډيز دي، هغه لنډيز، چې لوستونکی د کتاب يا مقالې په ټولنيز (کلي) ماهيت پوه شي، نتيجه، د خپل علمي او ادبي کار په کيفيت او ښايستونو نور پوهول دي، دويکتورهوګو خبره ، چې ( له مقدمې نه نتيجه ښايسته وي ، ځکه د موضوع حل په لاس ورکوي ) .

نتيجه ، د علمي کار د برجسته ټکو بيا برجسته کول دي ، د ارزښتونو را نغاړل دي ، دليکوال د طرز تفکر د هويت ځلول دي ، د ټولې مقالې ښايستونه په موټي کې ځای کول دي، لنډيز وړاندې کول دي ، هغه لنډيز چې آن په ارقامو هم ښوول کيږي، نتيجه د هر علمي او ادبي اثر په پای کې دليکوال له خوا عمومي شعور وړاندې کول دي.

**۷– دانشاء په ليکلو کې مهم رغانيزتوکي:**

هره ليکنه او بيا انشاء يو چوکاټ لري او له دې سره ( جوړښتي يا رغاونيزې) توکي او اساسونه لري، که اسکليت ديوې مقالې فزيکي برخې جوړوي ، خو رغانيزو توکي منځپانګه هم رانغاړي، دغه رغانيزو توکي د مقالې ښکلا زياتوي د دې لپاره ، چې دانشاء څلور برخې (عنوان ، سريزه ، شرحه ؛ سپړنه او نتيجه ) مو ښه پيژندلې وي ، بايد په دې برخه کې يو مثال راوړو ، مثلاً: دانشاء يا يوې ليکنې موضوع زيار او کوښښ وي بايد لاندې ټکو ته پاملرنه وکړو :

۱- موضوع بايد ښه کره کړو ، د موضوع کره کول د چا خبره د موضوع غوره کول دي، بيا عنوان ورکول او په پيل کې د سريزې راوړل ضروري دي، زموږ مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د ( زیار ) په برخه کې سریزه وړاندې کول دي، په تیرو وختونو کې خلکو چنداني کار او کوښښ نه کاوه، خو بشري تولنې، چې په هر مناسبت وي، پرمختګ یې وکړ، خلک وپوهیدل، چې باید هڅه او هاند وکړو څو په ژوند کې بریالي شو.

۲- وروسته له هغه مطلب داسې پیلوو: که د ټولنې هیڅ غړی په کار بوخت نشي او په ژوند کې هڅه ونکړي، د ژوند څرخونه له کاره لویږي...

۳- وروسته په شرحه او سپړنه پیل کوو: هغه ګټې، چې له کار او زیار څخه خلکو ته رسیږي کولای شي د لوږې، فقرمخه ونیسي، خپلې اړتیاوې پوره کړي او پانګه ترلاسه کړي او آن ویاړونه یې په برخه کړي.

۴- په پای کې نتیجه اخلو چې: د دې اصولو له مخې موږ او تاسو دنده لرو، چې کار وکړو او له هیڅ کار څخه مخه ونه کرځو.

۵- ماخذونه: که اړتیاوې نو د نوموړې مقالې ماخذونه هم وښیو، خو څیړنیزې مقالې به هرومرو ماخذونه نه لري. نه په نورو کې....

ماخذونه له بیلابیلو منابعو اخیستل کیږي، لکه: ولس، مرکې، سایټونه، مجلې، او کتابتونونه، خو له ټولو کتابي ماخذونه معتبردي.

**۸– د درنې یا ستونزورې انشاء لیکنې علتونه:**

درنه لیکنه په منځنیو پیړیو کې یو دود وه، اوس هم ځینې فضل فروشه لیکوال، چې له فني لیکنې سره آشنا او بلد نه وي، درنې او ستونزورې لیکنې کوي.

په څو را وروستیو لسیزو کې، چې دولتي حق الزحمه ورکول کیدې، له بده مرغه ځینو درنو لیکوالانو د اقتصادي ستونزو د درلودلو له امله اوږدې او درنې لیکنې کولې، همدارنګه په ځینو سیمینارونو کې، چې د مختلفو لیکوالو له خوا پریوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا دوه موضوعګانو مقالې لیکل کیږي او لیکل کوي ، غواړي په لوی لاس درنې لیکنې وکړي او د چا خبره ځان له نورو ډیر لوي وښیي .
خپلو مقالو ته لوی لوی ، غیر تحقیقي عنوانونه ورکوي ، په تیره په پښتو او فارسي ژبو کې داسې کلمې کاروي ، چې د ټولو لپاره د پوهې وړ نه وي ، له بلې خوا نوموړو مقالو ته لکه د تیرو په څیر لویې لویې سریزې ورکوي او د چا خبره ټوله مقاله په سریزه کې تشریح کوي .
په متن کې یو ځل بیا د سریزې اړوندې کلمې کاروي، په متن کې موضوع پداسې کلمو نغاړي، چې آن د لیکوالو لپاره د هضم وړ نه وي ، عادي خلک خو پرځای پریږده .
په متن کې موضوع په ساده کلمو کې نه بیانوي ، که نورو منابعو څخه ګټه اخلي او یا ترجمه کوي ، د دې پرځای، چې خپله لیکنه وربانديې غني کړي، لا یې له ستونزو او کلمو او جملو پړسوي.
ماخذونه ښکاره نه لیکي او په دې ډول د امانتداری اصل به لیکنه کې نه مراعتوي ، ډیر ځله اقتباس کوي او هغه هم د ځان ویاړ بولي ، لیکنې ته پایله نه ورکوي، چې خلک په لنډ ډول د مقالې او لیکنې په کیفیت ښه وپوهیږي.
په پای کې ماخذونه لیکنې له اصولو سره نه لیکي ، تر ټولو مهمه مساله دا ده، چې په علمي او څیړنیزو مقالو کې لهجوي ځانګړنو او د کلمو کارونې ته ډیر ارزښت ورکوي.
دلته زموږ مطلب دا دی، چې وپوښتو ولې ځینې خلک د ښکلو او ساده مطالبو پرځای په انشاء کې ستونزورې کلمې ، عبارتونه او اصطلاحات کاروي او دا کار یې ولې خو ښیږي ؟
ما په عملي ډول له یو چا وپوښتل ولې معلوماتي مقاله دومره درنه لیکي ؟ د نوموړي ځواب دا وو ، چې زه مسلکي او پروفیشنل لیکنه کوم ، زما لیکنه د هر چا لپاره نه ده، نو نثر بیا بیا ولې سخت لیکي ، ځواب یې دا وو ، زما نثر هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهو خلکو لپاره دي. دا درسته ده، چې کلمې، عبارتونه ، اصطلاحات ، متلونه ،شعرونه او نورې وجيزې ليکنه ښکلې کوي، خو په هغه وخت کې چې په ليکنه پورې اړوند وي ، کلمې او موضوعګانې راوړول او په ساده ډول بيانول دليکنې ښکلا زياتوي.
ددرنې ليکنې په برخه کې بايد دغو ټکو ته هم اشاره وکړو :

اول- ځان ښوونه (فضل فروشي ) :
ځينې خلک داسې فکر کوي، چې کله يوه انشاء ليکي ، بايد له داسې لغتونو او اصطلاحاتو څخه ګټه واخلي، چې نورې ترې نه کوي او په دې ډول خپل ځان لوړ وښيي ، يا په لوی لاس پردي کلمې او اصطلاحات کاروي ، لکه: ( غواصي مې وکړه ) بايد ( ومې لمبل ) وليکي ، دنا توان او بيوزله پرځای ( لاعلاج ) او نورې کلمې کاروو.
همدارنګه هغه اصطلاحګانې او لغتونه، چې پخوا په انشاء کې مروج وه ، اوس يې راوړو ، د بيلګې په ډول د لرغونې دورې ( زلما ) دځلميو يا ( اوجاړ ) د ( ويجاړ ) ( ايواد ) د ( هيواد ) اويا په لوی لاس دساه نثر پرځای متکلف نثر کاروو ، په دې ډول نورو ته داسې ځرګنده کړو ، چې زه خو ګوا کې پياوړی ليکوال يم.
دويم. دپخوانيو آثارو اغيز:
پدې برخه کې بايد ځرګنده کړو ، چې ځينو د پخوانيو خلکو اثار لوستی وي او دهغوی تر اغيزې لاندې راغلی وي ، کله چې انشاء وليکي، نو بيوا که او په نا ببره ډول هغه کلمې او اصطلاحات وريادېږي ، مثلاً :(زما په پام کې داسې و ، چې په دې حساس پړاو کې داسې حساس کار وکړم ، داسې مظبوط ګامونه پورته کړم ، خو د ( وږو ) درمند ودروم. )
داسبک ګورو ، چې په پخوانيو وختونو پورې اړوند دي ، د پخوا آثار په خپل وخت کې د پام وړ و ، او آن شهکار ګڼل کيده، خو اوس نشو کولای هغسې ليکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو ، لکه زموږ کالیو ، خوراک او ژوند ډول له نورو سره توپیرپیدا کړي ، زموږ لیکنو او ویناوو هم توپیر موندلی دی.

دریيم ، د نورو مطالبو زده کول:
ځینې خلک کله چې لیکنه کوي په یو ډول نه یو ډول هغه کلمې، اصطلاحات او جملې په انشاء کې کاروي ، چې له نورو یې زده کړې وي ، یا په بله وینا هغوی په خپلو لیکنو کې د شاهد په توګه راولي ، هغه څه چې دوی لیکي په انشاء کې یو لاس او یو ډول ندي ، هغوی ځو لارې او سبکونه غوره کړي دي.

یادونه:
لومړی لازمه ده ، موږ یا بل لیکوال کوم ډول لیکنه کوو؟ اخباري ، ذوقي ، کوچنیو مجلو ته او یا غټې تحقیقي لیکنې ؟ که څوک ذوق لري لیکوال شي او دلیکوالۍ با فرهنګه مسلک سره یو ځای ژوند وکړي ، ورته بویه ، چې د ښو او نامتو لیکوال هر ډول لیکنې ولولي.
اخبار ، مجلې، فیچرونه او په پای کې لویې او څیړنیزې مقالې، نو دا د دې معنی نه لري، چې په لیکنې کې په ډیرو لارو لاړ شي ، لازمه ده یو سبک وڅارو (تعقیب) یې کړو ، ځکه یو سبک دلیکوال دفکري مهارت په پیاوړي کولو کې ستر ارزښت لري، د دوو لارو تعقیبول د لیکوال فکري قوت کمزوری کوي، خو مطالعه یې بده خبره نده ، کله چې لیکوال د لیکنې په فني ډګر کې مهارتونه ترلاسه کړئ، بیا کولای شي ، هره لاره او سبک چې څاري، قدرت یې لري.
دویم: له ځان لوړ ښودنې او فضل فروشۍ څخه ډډه کړي، البته په (هنري او ذوقي) لیکنو کې د پیچلتیا د مهارت له مخې کولای شي ، طبعه آزمایي وکړي، خو (که هر ډول لیکنه صراحت ولري ، لوستونکي یې خوښوي ) په لیکنه کې د سختو او ستونزورو کلمو او جملو کارول ، نه یوازې دا چې د موضوع د سپړلو په برخه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال فکري او فني مهارت کمزوري کوي ، بلکې سبکي استقامت يې هم ټکنی کولای شي، ساده ګي دليکنې پياوړتيا ده ، خو په دې شرط چې د بلاغت ، صراحت او سلاست ښيګنې او صنعتونه ورکې کاريدلي وي او داکار ذوقي او تحقيقي ليکنو کې هم مراعاتيدلی شي.

دريېم: دا چې ليکوال خپل هدف په لنډو ټکو او عباراتو کې ټولنې او خلکو ته وړاندې کړي.

دلنډې ليکنې لپاره تر ټولو غوره دليل ديو متن آسانه او ساده لوستل دي او فيروزان يو ايراني ليکوال پوښتي (کوم لاملونه موجود دي ، چې يو متن له بله آسانه او ستونزمن وي؟ هغه دي پوښتنې ته دا ځواب موندلي دي: (په متن کې د اوږدو جملو کارول پخپله متن دلوستونکي لپاره ستونزمنوي).

يوه ښايسته او په زړه پورې ليکنه لنډه خو با مفهومه وي.

څلورم: لازمه ده په انشاء کې او يا بله هره ليکنه کې له تکراري کلمو مخنيوی وکړو، په مخامخ او ساده خبرو کې يا ليکنو کې مو ډير اوريدلي او يا ليدلي چې (ګرانه وروره !) (رښتيا وايي !) همداريښتيا او (راستي) ده ، چې سړی يو ځای ته رسوي، د رښتيا په هکله بايد ووايم ، چې سړی له دروغو ساتي، په رښتيا ويلو کې نيکمرغه کيږو ، خدای د ما له دروغو وساتي.

مثلا که دکار او زيار په برخه کې کوم څه ليکو نو هماغه تکراري خبرې ليکو ، دلته زموږ موخه دا ده ، چې په ليکنې کې (انشاء) تقليد کول ، دفکر کمزوري کولو معنی لري.

پنځم: د ساده ليکنې منطق علمي بڼه ولري.

په ورځينيو خبرو کې هر څوک کولای شي په دوه ډوله يوه جمله ووايي: د مثال په ډول يو وايي:(ډوډۍ ته مې زړه نه کيږي ) خو هغه يا بل څوک دا جمله داسې هم ويلي شي، دې ډوډۍ ته مې کوم احساس نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که غورو کړو ، پورته دواړه جملې يو مفهوم ورکوي ، خو لومړى ساده او دويمه جمله ستونزمنه ده.
په انشاء کې هم حالت همداسې دى، يعنې کولاى شو ، جمله ساده، بې تکليفه او عام فهمه وليکو ، يا دا چې درنه ، له ذهني درکه لرې او بې معنى....
د طبعي علومو په مجله کې، چې لوستې و ، ( يخ منقبض او اوبلن جسم دى او هغه جامدې اوبه دي ، چې د برودت د غلبې له امله يا په بله وينا ، د حرارت د سلبيدو په واسطه ، له مجاورې يا ګاونډي هوا لاس ته راځي، مايع جسم په منقبض او جامد بدليږي.)
پورته جملې ته که لږ ځير شو څومره ستونزورې او درنې دي، رښتيا خبره دا ده، چې اوبه د پورته سختو خبرو له امله نه کلکيږي ، بلکې دا ستونزمنې د سړي پاملرنه جلبوي هماغه جمله په ساده ډول ليکو :( اوبه د حرارت په کمو درجو کې په يخ بدليږي) د ساده ليکنې او ساده خبرو په برخه کې يو طنز راوړو : (په پخوا زمانو کې يو کليوال سړى ، ښارته په خره د خرڅولو لپاره خس (بوټي) راوړى وه ، د ديني علمو يو شاګرد هغه وليده ، هغه ته ورغى ، لاندې باندې يې ده ، د ده خره او بوټو ته وکتل او ور وړاندې شو ورته يې وويل :( دغه خطب (خس) ، مرتب (برابر شوي) ، په اسود اللون حمار (تور رنګې خره ) باندې بار کړى ، په دې معرض (ځاى) کې په څو بيع شرعي پلورې ؟) کليوال چې د طالب العلم دا خبرې واوريدې، نو هيڅ وربان‌دې پوه نه شو ، هلک ته يې مخ ور واړاوه او ورته يې وويل : که غواړې خس واخلې، دغه بار په لسو روپو پلورم او که غواړې دعا او وظيفه وکړې، نو هغه جمات ته لاړ شه، وګورئ د طالب العلم جملې د ساده کليوال لپاره څومره سختې وې، کولاى شواى چې وواېي دغه خس په څو روپۍ پلورې ؟
له پورته مثالونو څخه دا نتيجه اخلو ، چې په انشا کې د اوږدو ، درنو ، عجيب او غريبو کليمو کارول زموږ د خبرو او انشاء ليکلو په برخه کې ستونزې نه کموي بلکې زياتوي يې ، ( خلک او موږ هغه په يو مطلب ، په يوه ليکنه او انشاء ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهيدلای شو ، چې ساده يې وليکو او خلک ترې مطلب واخلي، بايد هره ليکنه لنډه، ساده او خوږه وي او د کليمو تکرار په کې نه وي.) (۳۴: ۲۸)
هره انشاء که وړه يا غټه ، ساده يا هنري او يا بل هر ډول وي د کلام ساده ګي او صراحت يې ښکلا زياتوي ، آن په نظم کې ، لکه:
الهي د خپل حبيب له برکته          دا ساده انشاء رنګينه د رحمان کړې
يا :
په سورو لاسو راته شراب راکوي          لکه ګلاب راته ګلاب راکوي....

**۹- په انشاء کې د بهرنيو کلمو د کارونې اړتياوې:**

معاصر ليکوال او دليکوالۍ ډګر ډير پراخ شوي او رانغاړلي يا نغښتل شوې لمنې ته ورته نه دي.
بهرنۍ کلمې يوازې په پښتو ژبه کې نه کارول کيږي ، بلکې د نړۍ په ټولو ژبو کې کارول کيږي، آن زموږ د منځينۍ يا کلاسيکې دورې شاعري د دې لپاره په زړه پورې وه او ده ، چې شعر او نثر يې له بهرنيو ښکلو کليمو مالا مال کړی و.
دهغو بهرنيو کليمو کارول دخپلې ژبې په انشاء کې ښې نه لګيږي، چې ډيرې مبتذلې او بې ځايه وي ، لکه ډايرک ورشه ، خو که ووايو نيغ ورشه !، د (ډايرک) دکلمې په راوړلو مو ژبه غني نه کړه ، بلکې دخپلې ژبې يوه ښايسته او مروجه کلمه مو د خبرو او جملو له بهيره ګنج ته کړه، بهرنۍ کليمې په يوې انشاء کې هغه مهال ليدل کيږي، چې د ليکوال په ژبه د نورو ژبو اغيز پرې وتلی وي ، په پښتو ژبه د دري ، عربي ، ترکي ، اردو ، انګليسي او نورو ژبو اغيز لړ او ډير پريوتلی دی، پښتو ليکونکي ناچاره دي کله نا کله دغه کليمې په انشاء کې وکاروي ، دلته زموږ اصلي موخه دا ده ، وپوښتو ترکوم ځايه په انشاء کې له بهرنيو کليمو ځخه مخنيوی کولای شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- نړیوالی کلمې: که موږ وغواړو یا ونه غواړو ځینې کلمې زموږ ژبې ته له بهرنیو ژبو د ټولنیزو اړتیا له مخې راځي ، لکه: رادیو تلویزون ، کمپیوټر، انټرنیټ او داوسنې تکنالوژۍ نورې کلمې....
پورته کلمې د ډاکټر په نسخه، دوا (درمل) او ټولو برخو کې تر سترګو کیږي.
دا وروسته ده ، چې موږ باید تر وسې پورې د خپلې ژبې کره جملې وکاروو او یا د نویو کلمو (نیولوګیزم د قانون له مخې کلمې جوړې کړو ، خو کلتوري ژبې ژبنې قوانین دا حکم کوي ، چې (خپلې ژبې ته له نورو ژبو نوې راغلې کلمې په خپل حال ولیکو...)
لکه: کمپیوټر (ټول کمال) ، تلویزون –لروین او ....
نن سبا دهېوادونو تر منځ دومره اړیکې پراخه شوي ، چې نړۍ د یو کلي په څیر شوي ، کلي کې هم هرڅه خپل رنګ او خپل نوم لري ، مګر د اوسنۍ ژبپوهنې حکم دا دی ، چې د هرې ژبې کلمه په خپل حال ولیکئ ، خو باید معادله کلمه یې ولرئ.
۲- ګډې کلمې ، هغه شریک مال ته ورته دي، چې د ټولو لپاره یو نوم لري، په انشاء کې د ګډو کلمو مخ نیول پرځای خبره نه ده لکه: کمیس ، کرتۍ، شال ، پراټي ... خو کله چې د ځینو کلمو لپاره په خپله ژبه کې کلمې ولرو لازمه نده ، چې پردۍ کلمې په انشاء کې وکاروو ، ځکه زموږ خپلې کلمې په خپله ژبه کې لاس په لاس او خوله په خوله کارول کیږي ، لکه: روغتون یا بعضې (ځینې ) ، بیګانه (پردی) ، زما مرزي (زما زړه ) او ....
ځینې لیکوال داسې هم شته ، چې په خپله لیکنه کې په لوی لاس غربي، انګریزي، دري، اردو او د نورو ژبو کلمې راوړي.
همدا رنګه یو شمیر نور هم په دې باوردي ، باید ژبه دومره سوچه کړای شي، چې د نورو ژبو څرک هم ورکې نه وي ، دا کار تر کومې پولې او بریده شونې ښکاري او دی ؟ خپله ژبه سوچه کول او غنې کول یوه معنی لري او څنډې ته کول (انزوا ) بله ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کار به مو له يوې خوا خپله ژبه سوچه کړې او ژغورلې نه وي بلکې خپله ژبه به مو له نورو ژبو لرې کړې هم وي.
هغه کلمې په خپله ژبه او ليکنه کې بايد له نورو ژبو را واخلو او ويې کارو ، چې د ژوند ارتيا مو ورباندې لرې کيږي او د آخرت ثوری او لارې ګرځي ، لکه قرآن مجيد او ....
کيدای شي په اشاء کې د شاهد يا بيلګې په توګه ځينې پردۍ کلمې لکه شعر ، متل او ...وکاروو بايد داسې ونه انګيرو که مو په خپله ليکنه (انشاء) کې د يو شاعر شعر ، يا متل او يا د يوه پردي پاخه ليکوال ليکنه راوړه ، نو دا هم (غلا ) ګڼل کيږي.
کله د ليکنې غوښتنه وي ، چې د نورو مطلبونه په ځانګړي توګه د مشهورو شاعرانو شعرونه ، دليکوالو ليکنې ، متلونه ، پخې خبرې د خپلې ليکنې دلامعتبرکېدو او پاخه کېدو لپاره راوړو او په دې ډول له خپلې انشاء يوه خوږه ليکنه جوړه کړو .
هو ، دا خبره بايد په يادولرو ، که چيرې مو په خپله ليکنه کې کوم متل، شعر، وينا او وجيزه وکاروله بايد په پوره امانتدارۍ سره يې وکاروو ، ځکه هغه څه چې د نورو څخه په خپله ژبه او ليکنه کې را اخلو د (شاهد ) مثال ورکوي او شاهد بايد اصل وي ، نه مسخه ، پدغه برخه کې بايد لاندې ټکوته پاملرنه وکړو :
۱- که يو مطلب يا شعر را اخلو بايد کټ مټ يې را واخلو .
۲- د تل لپاره په ليکنه کې دا کار ونه کړو ، کله کله يې ترسره کړو .
۳- د امکان په صورت کې د يو شعر د ښتن نوم مخکې له مخکې وليکو .
۴- کله د يو شعر روح هم راوړو .
۵- هڅه وکړو يا هڅه وکړئ ستاسو دليکنې او هغه اثر تر منځ چې له نورو يې را نقلوو تناسب موجود وي ، يوازې دليکنې د ښکلا لپاره را نه شي ، بلکې له انشاء سره هم آهنګي ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- په انشاء یا هنري لیکنو کې نورو ژبو د متلونو ، وجیزو ، شعرونو او ښایسته متلونو د ځینو برخوراوړلو ډیر اړین دي ، لکه د آلماني ژبې متل :( کار دانه دی ، چی پیل یې کړو ، بلکې دا دی ، چې په ښه ډول یې پای ته ورسوو. )

**۱۰- په انشاء کې له موضوع وتل :**

په هر کار کې پوره بوختیدل، ژورتیا او موضوع ته ورننوتل ، نیمه موضوع حل کیدل دي.

(تمرکز) د لیکوالۍ او انشاء یو زرین اصل دی ، هغه لیکوال په خپله لیکنه کې پوره بریالی وي ، چې په لیکنه کې تمرکز کوي ، موضوع حلاجی کوي او را سپړي یې ، په انشاء کې له موضوع وتل د عدم تمرکز او ژورتیا نتیجه ده ، نو ښتگره لیکوالي د متمرکزي لیکوالۍ ثمره ده.

تمرکز نه یوازې په لیکوالۍ، بلکې په ټول ژوند کې ضروري شی دی ، تمرکز او عدم تمرکز د اروا پوهنې علمي موضوع جوړوي ، (تمرکز عمیق) دالاو ایرا وجمیز آلن یو غنیمت اروا پوهنیز اثر دی، چې موږ په خپل ټولنیز ژوند کې ټولو کارونو ته پوره متوجه کوي ، نه یوازې مو کارونو ته متوجه کوي ، بلکې وایي ، که غواړو د یو کار په ښه ترسره کولو پوره بریالي شئ، نو په هغه کار کې پوره تمرکز وکړئ ، خپل فکر یوه کار ته را ټولول پوره بریالیتوب دی ، لکه، چې ( دوه هندوانې په یوه لاس کې نه نیول کیږي ، یو فکر هم دوه ځایه نشي تقسیمیدلای. )

په لیکوالۍ کې له موضوع وتل دا معنا لري ، چې انشاء لیکونکی جامع الکمالات دی ، بلکې فکر یې په واک کې نه دی ( په یوه موضوع کې تمرکز او له هغې موضوع سره مینه کول نه یوازې د موضوع د ښه حل لامل دی ، بلکې د لیکوال او د کارکوونکي د شهرت سبب هم ګرځي. ) ( **۵**: **۱۰۳**)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال باید پوه شي ، چې د ( انشاء موضوع ) یوه ده ، یعنې هغه مطلب او سرلیک ، چې باید په هغه باندې بحث وکړو او یا یې ولیکو ، د تل لپاره باید یوه موضوع د لیکوال د پاملرنې وړ وي.
ځینې لیکوال په یوه موضوع کې د مطلب او مطالبو د لیکلو لپاره له ټولو شیانو خبرې کوي، پرته له دې، چې یو څه یې غوښتنه وي ! یعنې انشاء ته دومره ښاخونه او پنجې ورکوي ، چې اصلي موضوع له یاده وځي.
یو تن محصل د جمعې په ورځ د ګرځیدلو ، په برخه کې لیکلي و: د جمعې ورځ ،د رخصتۍ ورځ ده ، په دې ورځ ټول خلک خپل کار پریږدي ، ځان وینځي او ګرځي په دې ورځ که ادارو ته ورشو له یوې مخې تړلې وي او که مغازو ته هم ځو ، نو تړلي وي.
د جمعې ورځ د دې لپاره ده ، چې موږ له شپږو ورځو وروسته خپله ستړیا لرې کړو .
د جمعې ورځ د دې لپاره ده ، چې موږ له شپږو ورځو وروسته خپله ستړیا لرې کړو
.

میرزا خان له ډیرو کلونو وروسته هیواد ته راستون شو ، پرون یې زه کور ته وبښتني ته ورغلم ، د مسافر ، بندي او ناروغ احوال اخیستل ښه کار دی ، زموږ نور دوستان هم په بهر کې دي ، خدای (ج) دې راولي ! !
که پورته لیکنه وګورو دوه شیان او دوه کیسې پکې ګورو ، دا درسته ده ، چې پیغام لري ، پند او نصیحت خلکو ته کوي ، خو په کیسه کې کیسه کوي ، دا سې ښکاري، نوموړی لیکوال محصل په نوموړي موضوع کې ښه تمرکز نه کوي.
لیکوال له موضوع وځي ، دا د انشاء ستره نیمګړتیا ده ، چې نور محصلان د غې خبرې ته (لیکنې ) ته چندان توجه نه کوي.
نوموړی په کیسه کې بله کیسه راشروع کوي او بیا اولې موضوع ته ځي، لکه حضرت یوسف (ع) له ویرې ینبې وهلې (ترکیده ) ، له خلکو او پلاره لرې د مرګ په کومې (څاه ) کې یوازې د خداي (ج) فضل ته سترګې په لاره وه، د خدای (ج)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستان تل سختې وينې، د آزميښت په سين لاهو کوي ، د وخت داغونه تل په ځان زغمي.
هغه څه، چې يو محصل او يا نور له اصلي موضوع لرې کوي ډير دي ، خو لږ شمير يې دلته راوړو:
۱- زده کوونکی فکر کوي ، چې ښوونکی زما ليکنه تر پايه نه لولي او همدغسې نمرې را کوي.
۲- د دې لپاره، چې زده کوونکی تل د نمرو لپاره کارکوي ، نو د نويو کلمو او تخليق په برخه کې ډير فکر نه کوي، بايد هڅه وکړو دهغو مطلبونو په برخه کې چې غواړو څه وليکو ، درست فکر وکړو.
۳- زده کوونکی مينه لري هغه څه ، له نورو اوريدلي يا ليدلي وي، په انشاء کې وکاروي ، دا ډول کليمي کارول د تخليق مخه نيسي ، لنډه دا چې په انشاء کې له موضوع ونه وځو په يوه موضوع فکر کول او بيا ليکل دليکوال بريالیتوب او دانشاء ښيرازي ده.

**۱۱- دانشاء دپرمختګ لپاره نوښتي لاري:**

دليکوالۍ او انشاء د پرمختګ او ښيرازۍ عوامل د ليکوال په مستقلانه فکر انکشاف او پرمختګ پورې اړه لري، څومره چې ليکوال عاطفي فکر کوي او په خپل مسلک کې مسلکي پرمختيا ترلاسه کوي ، په هماغه اندازه ليکوالي او انشاء ورسره غوړيږي ، دنړۍ سترليکوال ماکسيم ګورکي په خپل اثر ( داديبا تو هدف ) کې ليکي:( ليکوالي او په مجموع کې ادبيات د (ګل) او (ماشوم ) په څير وي ، څومره چې ورنړدې کيږي، يعني مينه ورسره کوي ، په هماغه اندازه غوړيږي او څومره، چې ځان ترې لرې کوي ګل مړاوي کيږي او ماشوم د کمزورۍ خوا ته ځي ).
(۲۷: ۷۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانشاء او لیکوالۍ د پرمختګ لاملونه ډیر دي. کله چې وغواړو د نیمګړتیاوو مخه ونیسو، باید لاندې ټکو ته پاملرنه وکړو:

۱- تقلید ونه کړو، میترلنګ وایې، هر انسان مقلد دی، خو که مقلد دومره په تقلید کې ډوب شو، چې ځان هیر کړي، نه یوازې یې پیښې کړي، بلکې د اصل شي ریښې یې هم وچې کړې دي.

په انشاء کې د نورو په خط او پل قدم اخیستل کله د پرمختګ او کله هم د ورکاوي لامل ګرځي، هڅه وکړو په لیکوالۍ کې یو سبک تعقیب کړو، خو په سبک کې ورک نه شو، کوشش وکړو په خپله لیکنه کې، کټ مټ د نورو پرلار ورنه شو او یا د بل چا خبرې، شعر او فکر له یوه سره په خپله انشاء کې ونه کاروو. که چیرې یو په زړه پورې مطلب هم زموږ لاسته راځي باید د هغې سبک ونه پالو، باید ځانته سبک وټاکو، د نورو سبک تعقیبول، خپله لاره ورکول دي، که څه هم چې ( مخکني د وروستیو پل وي ) موږ باید ځانته پخواني پلونه ونه نړوو، بلکې هغه پیاوړي یې کړو او نوي پلونه آباد کړو، دا به د موفقیت لاره وي.

۲- ځان کم مه ګڼئ، د اروا پوهنې د علم له مخې (ځان کم ګڼل او له حده زیات لوړ ګڼل دواړه د بېرته پاتې والي او انزوا ګوښې توب) لامل ګرځي.

په ټولنیز ژوند کې ډیر خلک د نورو د پرمختګ علتونه بیانوي، خو ځانته د ترقۍ او ښیرازۍ لاره نشي ټاکلای، همدا شان دلیکوالۍ او انشاء ډګر هم در واخله، که موږ ټوله ورځ د نورو لیکنې لولو او د هغو د پرمختګ عوامل بیانوو او یا ځان د نورو د پښو خاورې بولو، نو نه یوازې په مسلک کې به مو پرمختګ نه وي کړی، بلکې غړي به موهم مړه کړي وي.

ځینې خلک، چې د ژوند په مختلفو ډګرونو کې ځان له نورو ډیر لوړ او یا کم بولي ،په اجتماعي سلوک کې کمزوری او بیرته پاتې غیراجتماعي خلک وي.

امیر ملک محمودي په خپل اثر ( درمان اضطراب افسرده ګي ) کې وایې :( دوه ډوله خلک ځان غوښتونکي او ستایونکی او له ځان بیزار د ژوند په ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجتماعي ډګرونو کې بیرته پاتې وي ، ټولنه د رښتینو امتحانونو ډګر دی د غه ډګر کې د پیاوړي سلوک مصمم خاوندان پرمختګ کولای شي ....
که غواړئ تل خوشحال او سرحال و اوسئ له افسرده ګۍ ځان وساتئ. ژوند کې ډاډ ترلاسه کړئ او د متعادل شخصیت خاوندان و اوسئ. تل به موله عقله او ارادې کار اخیستي وي ، بری او کامیابي ستاسو ملګری وي ... له ځان ستاینې ، غرور او ځان کم ښوونې ډه ډه وکړئ. (۳۱: ۱۷۴)
دانشاء او ادبیاتو کار پرله پسې والی غواړي ، په سره سینه کار کول ، په کار کې نه ټکنی کیدل ، صبر او استقامت او خپل کارته ارزښت ورکول ډیر وختونه د بریالیتوب لامل کیږي.
ادبپوهان نظر لري ، کله چې یوه موضوع تاسو ته سپارل کیږي که ډیره ساده او یا ستونزوره هم وي ، باید پټه خوله ونه اوسو او یو څه وړباندې ولیکو ، لکه: ( خپله لاسه ، ګله لاسه ) ، فکر وکړو ، مناسب عنوان ورته پیدا کړو او په دې متل وړ او مناسبه لیکنه وکړو او دا ونه وایو ، چې زه لیکنه نشم کولای او یا زما لیکنه خرابه ده !!!
د فرانسې یو ستر لیکوال (بوفون) د (خره) په برخه کې ممکن لس ځله څه لیکلي وي ، خو ځینې خلک په هیڅ برخه کې یو لنډ مطلب هم نشي لیکلی.
په ټولنیزژوندانه او بیا لیکنه کې که یو مطلب ستاسو په نظر ډیر ستونزور هم وي ، نو ورته مه تسلیمیږئ، ځکه هره غوټه په تدبیر خلاصیږي ( که غر لوړ دی په سر لار لري )یا :
مشکلی نیست که آسان نشود      مرد باید که هر آسان نشود....
ادبیات او بیا لیکوالي سخت ځانه ښکارنده (پدیده ) ده ، څومره چې له قلم او لیکوالۍ سره مینه کوو ، په هماغه اندازه انشاء د پرمختګ په لور ګامونه اوچتوي ، هڅه وکړو دیوې انشاء طرحه وکړو ، فکر په کار واچاوه ، له خپل فکره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار واخلو او یو مطلب ولیکلو ، څومره چې زموږ فکر رسیږي باید یو څه ولیکو ( بنویس ، بنویس، بنویس =تاشوی خوش نویس )....

۳- منځیني حد په پام کې ولرو ، منځیني یا متوسط حد د وجود د سوکالی سبب کیږي، آن په اجتماعي چلند او سلوک کې متوسط حد د تعادل پوله ساتلی شي، که انسان په ټولنه کې ډیر خوږ یا تریخ شي د اجتماع له سترګو لویږي او خپله هم تاوان کوي، لکه چې وایي: ( مه ډیر خوږیږه، چې ودې خوري او مه ډیر ترخیږه چې لرې دې واچوي ) نو له دې څخه معلومیږي، چې هر سړی د توان په اندازه پرمختګ کوي.

رابه شو لیکنې ته ، که لیکنه (انشاء) ډیره اوږده وي ، ممکن موږ ستړی کړي او که ډیره لنډه او څو کرښې وي ، نو موږ یې نه وایو او نه مو خوښیږي ، داسې فکر وکړئ که تاسو د ټولګي په مخکې یوه لیکنه لولئ دلو یوالي او لنډ والي په برخه کې په زړه پورې نه تمامیږي ، یا دا چې یو څیړنیزه مقاله په یوه غونډه کې لولي، نو که ستاسو لیکنه اوږده وي، که هر څومره ښه تحقیقي مطلبونه مو راټول کړي وي، خلک ستړي کوي او که تحقیق مو ډېر کوچنی وي، د لیکل شوي مطلب اصلي معرفي نشي کولای، باید داسې لیکنه وکړو ، چې اصلي هدف ور کې څرګند شي او هم خوندور ارزښت پیدا کړي. نن سبا خلک له ادبي ټوټو یا رومانونو څخه لنډه کیسه ډېره خوښوي. اوس اوس د اوږدو قصیدو ویلو وخت نه دی؛ لیکوال هغه وخت ډېر بریالی دی، چې له خپل کار او لیکنې سره تر متعالي حد او څرګندې پولې پورې مینه وکړي. له هر څه سره افراطي مینه لیکوال او هر څوک له خپل مسلک څخه زړه تورن کولای شي. (له لمخي سره پسې پښې غزول د عاقلانو کار دی. ) لیکوال د ذوق له مخې تر متوسط حده کار وکړي.

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان پادشاه، ظاهر ګدا یم. ( عبدالرحمن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- دليل او استدلال ته اهميت ورکړئ؛ **معقول دليل او استدلال د فکر د پراخيدو سبب کېږي.**

د ټولنيزو غوټو خلاصول د دليل د حکمت له مخې شوني برېښي. هغه وخت يوه اجتماعي ستونزه او اريدلاي شي، چې دا ړوندې پيښې په برخه کې خلک بېلا بيل دليلونه راوړي، افکار وړاندې کړي، څو موضوع حل شي.

په ليکوالۍ کې استدلال ضروري دی. هر ليکوال چې د ټولنيزې موضوع په برخه کې ليکنه کوي، که د پوهې، تميز او مسلکي استدلال له مخې وي هرو مرو يې انشاء په زړه پورې ده.

داسې هم پېښېږي، چې په انشاء کې د بحث په ترڅ کې د اصلي مطلب په برخه کې دلايل راوړو... په پام کې ولرو له استدلال پرته دعوا کول دلنډه فکره انسانانو کار دی.

که په انشاء کې له تاسو څوک وپوښتي، د زده کړې له دورې وروسته څه کار کوئ؟ په يوه جمله کې ځواب ورکوئ، غواړم ښوونکي شم. په دې ځواب کې د خبرې دليل وړاندې نشو کړای، دا ځکه دومره دليل نه غواړي. او که وو ايو چې د ډاکټر کيږم، نو بايد د دې خبرې دليل وړاندې کړئ.

لنډه دا چې ديوې علمي، ادبي تحقيقي موضوع د لاسپرلو لپاره استدلال منطقي وسيله ده. ليکنه او انشاء د منطق زېږنده ده، بايد د استدلال منطق او کنجکاوئ يې لا ښکلې کړو.

چې غوټې پسې وهي په لاس به درشي
چاويل چې په در يا ب کې ګو هـرنشته

۵- مطلبونه او کلمې مه تکراروئ؛ **په خصوصي خبرو کې د کلمو بيا بيا تکرار کراهت رامنځته کوي.**

ډېر مبلغين ښوونکي، سياستوال، استادان او نور ممکن په خپل مسلک او کار کې زښت لايقه وي، خود خبرو مهارت، چې ورسره نه وي، کلمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيابيا تکراروي، هيڅوک يې له درس ورکولو او خبروکولو سره علاقه نه ښيي، ځکه ددوی خبرې تکراري وي، هرڅارنوال ښه مبلغ نه دي، کيدای شی دجومات ملا ښه مبلغ وي.

ديوه ګل له ديدنه بــــورا ومورشو
ډيرګلونه باندې نولي چې ښيرازشي

هغه وخت زمورخبرې اوليکنه ښايسته وي، چې دکلام تازه والی اونوښتونه له ځان سره ولري. په نړۍ کې هيڅ شي دښوخبروپه اندازه ښکلي نه دي؛ ښې او پرځای خبرې دتکرار او ابتذال مخه نيسي؛ ستاسو شخصيت ستاسو کلام پورې اړه لري.
(بريان تريسي ، ديل کارنګي، جيمزآلن اودامريکي معاصر ليکوالان په دې باور دي؛ چې (دخبرې اعجاز اومعجزه ترهرې بلې وسيلې غوره ده؛ که غواړولوړ شخصيت ولرو خبرې زده کړئ)
زمونږ په عاميانه فرهنګ کې راځي (خپله ژبه هم کلاده هم بلا ده...) کېدای شي دلته هم د ژبې مهارت هم شرط وي.
بريان تريسي باوردرلود:(( په سلو کې (۹۰ ) ستاسو ټولنيزموفقيت په خبرو پورې اړه لري... ښې خبرې کول له ستاسو سره مرسته کوي، چې د نورو درناوی ور شي اودنورو له نظره ډير ارزښت پيداکړئ، په معاملوکې بريالي شئ... ستاسو خبرې دکاميابۍ په لور دبرياليتوب دروازه ده.)) (۱:۱۰، دکتاب پشتی)
ښې خبرې اوښه ليکنه هغه ده، چې چې دزړه له تل څخه وي، په هغه خبرواوليکنوکې ، چې دزړه متره وي، پياوړی اوددرک وړ وي. ځکه خبره هغه ده، چې( له زړه پورته شي، اوپه زړه کيني.)
فيساغورث باوردرلود ، دژبپوهنې دعلم له پلوه (هره کلمه دژبې په ساختمان اوجوړښت کې دخپلتوارزښت لري، لکه هره خښته ، چې دديوار په جوړلوکې دکاروړ ده، دخبروپه نظام کې هره کلمه ځانته ځای لري.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارنست همینګوې( ۱۹۷۹ ) لیکي:(( هره کلمه چې لیکئ باید لس کلمې په خپل ذهن کې ولرئ، غیرله هغه به لوستونکی متوجه شي، چې ستاسو کلمې او جملې وړنه دي، خو په خبروکې دهرې کلمې لپاره چې وایاست، باید سل کلمې پوه شي ) او ذخیره ولرئ کنه ستاسو مخاطبان به متوجه شي،چې تاسو بې سنجسه غږیږي ))(۳۷: ۷۷ )

بې سوچه او بې فکره غږیدل او بیا بې فکره لیکنه (بې ګودره ګډېدل دی ) که په انشاء کې مو یو مطلب راوړي او لیکلی وي، کوښښ وکړئ د مطلب ترپایه له هغه ډه ډه وکړئ. ټکره لیکوالان د کلمو له تکرارولو ځان ساتي. چیخوف به ویل (د کیسو په لیکلو کې د موضوع له تکراره ځان وژغورئ، لکه ګرم کالي چې مو له یخ نه ژغوري، دهنري نثر رنکارنکي ستاسو لیکنه له ابتذاله لرې ساتي )

دانشاء او لیکنې ارزښت د کلام په فصاحت ، بلاغت او صراحت کې نغښتی دی.

۲-وچه لیکنه مه کوئ؛ لکه او به چې دژوند اساسي ماده ده، ځمکه لمدوي او رح ورکوي، همدارنګه وچه لیکنه هم وچې ځمکې ته ورته دی او څه شی نه شنه کوي.

څومره چې شخصي ژوند کې د وچ نبات په څېر ژوند نشي کولای، همدا سې وچ افکار انسان له ټولنې ګوښه کوي.

لیکوالي او انشاء دالهي نظام د ټولنیز سیستم ژوندئ کړې شمیرلای شو. که لیکوال او لیکوالي نه وي ، ټولنیز نظام به خلکو ته په سمه توګه نه شو پیژندلای. په انشاء تېره هنري نثر کې تنوع او د کلمو هنري بافت لیکنه له وچوالی ژغوري.

یوډول والي او وچوالي په هیڅ کار کې ښه نه وي او دا کار په ځانګړې توګه په انشاء کې کمزوري رامنځته کوي. کوښښ وکړئ ډول ډول مطلبونه او کلمې په خپله لیکنه کې راوړئ او ښه خولاداده ،چې په انشاء کې شعر، حدیث، وجیزې، اصطلاحات ، امثال او نور ښکلا صنعتونه ، لنډ حکایتونه وکاروو.

کله ناکله انشاء ته ښاخ او پنجې ورکول ښکلا زیاتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتي په خبرو کولو کې که يو ډول والي وي دغونډې او مجلس په زړه پورې والی له منځه ځي. په انشاء کې ظرافت او ښکلا مقبولت رامنځته کوي، دليکنې په برخه کې نوې فضاء رامنځته کوي؛ دمثال په ډول ګل دهرچاخوښ دي، ټول يې ستايي، خوداشاعر ګلاب ته روح ورکوي.

په سرولاسوراته شراب راکوي
لکه ګلاب راتــه ګلاب راکوي...

په انشاء کې لکه شعر (خيال)، طبيعي او سمه ايزانځورونه اوتصويرونه دانشاء له وچوالی ژغوري. څومره چې ليکوال په ټولنيزو پيښو خبروي او علمې تجربې ورنه ولري اوله ژوند سره مينه ولري په هماغه اندازه ښه انشاء ليکلی شي. وچوالی لکه تعصب خامۍ ته ورته دی.

۷- په ليکلو کې بيړه مه کوئ؛ وايي (تلوار او عجله دشيطان کار دي.) خوددې لپاره چې ليکوالي او انشاء دعزت او ښيګڼې کاردي، نو (په ښو تلورا) هم په کاردی، يعنې داچې يو ښه فکر درته پيدا شو نو که هماغه ساعت ورباندې ليکنه وکړئ با احساسه به وي.

کوم کار او بيا ليکنه چې، دتلوار او عجلې له مخې شوې وي خامه وي او بيا بيا کتنو ته اړتيا لري.

دورځپاڼو ليکنې تراووه نيزو، مجلو، تحقيقي ليکنو او کتابونو خامې وي. خبرونه اوربوټونه ډير سره توپير لري، داځکه په خبرونو کې د (زمان) اصل مهم دي، خودليکنې دمزيت له مخې خامې لري.

انشاء ډيرځله پخې، تحقيقی او هنري ليکنې وي، له همدې امله ترنورو اخباري اوذوقي ليکنو درنې او پياوړې وي.

ځينې خلک دحق الزحمې لپاره په ليکنه کې بيړه کوی او ځينې لانور دمحتوا پرځای شکل اوبڼې ته اهميت ورکوي، يعنې الفاظ ورته ښه ښکاري. بيړه او عجله دتفکر کمزوري رامنځته کوي اودزورتيا (دقت) قوت له سرې اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوه موضوع او یو مضمون یو وخت ولیکل شی، دیوې مودې لپاره پرېښودل شي او بیا مرور ورباندې ترسره شي، هغه مضمون او موضوع به ډېر ښایسته او دلوستلو وړ وي.

کوم کتابونه او مجلې؛ چې د تجارت او سوداګرۍ لپاره په بیړه، تلوار او عجله سره لیکل کیږي، د معنوي او شکلي ښېګڼو له پلوه کمزورې وي. هغه انشاء او لیکنه ډیره په زړه پورې وي، چې د تفکر تومنه او قوت ولري.

اروا ښاد استاد ګل پاچا الفت، چې یو دراک، شعوري، بروفشنل او استاد لیکوال تیر شوی دی او له شک پرته یې د لیکوالۍ په برخه کې یو عظیم انقلاب هم رامنځته کړي، په وار وار یې یوړه موضوع لیکلی، کاغذونه یې شکولي، خو بیا یې سره غوټه کړی دي؛ له دغو خبرو نتیجو اخلو چې دقت په لیکنه کې د پوره اهمیت وړ دی.

که یو لیکوال پیدا شي، چې یو مطلب ولیکي، له بیا کتني او سمون پرته خپل مطلب، مضمون، مقاله او کتاب چاپ کړي، نو که هر څومره نامتو او وتلي لیکوال هم وي، شهرت به یې په لږ وخت کې راولویږي؛ له دې امله لیکنه او انشاء یوه دوامداره بهیر دی، چې پوره تفکر ته اړتیا لري او دا کار په بیړه نه ترسره کیږي.

۸- په مینې سره لیکنه وکړئ؛ مینه د هرې شتمنۍ سرمنزل دی، آن رب العزت په انسان او دنیا مین و، چې د انسان بشره (خیره) یې سازه کړه.

که مقصود یې د خپل مخ ننداره نه وای
د انسان جامه یې خـــــه لره کړه سازه

د دنیا د پیداکیدو له حکمت سره سره الله (ج) په خپل رښتنی دوست حضرت محمد (ص) مین و، ځکه یې نود نو موړی پیدا ایښت وکړ او دنیا یې د هغه له رویه پیدا کړه...د عبدالرحمن بابا په وینا:

که صورت د محمد (ص) نه وای پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيدا کړې به خدای (ج) نه وای دا دنيا
کل جهان د محمد (ص) په روی پيدا شو
محمـــــد (ص) دی د تمام جهان آبا...
نورهـــــاله د محمد (ص) و پيدا شوی
چې بـــــوی نه و د آدم او د حـــوا
که رڼا ده پيروي د محمد (ص) ده
ګنه نشته په جهان بلـــــــه رڼا... (۲:۳۲)

له کار سره مينه د تحميل (تپلو) او زروزياتئ مخه نيسی؛ له کار او ليکنې سره مينه د زړه قوت، د فکر طاقت او د تحرک توان زياتوي.

بايد مور ليکنه يا انشاء په ځان تحميل نه کړو، په دې معنا که مو يوې ليکنې ته زړه نه و، نو ليکنه مه کوئ تجربو ثابته کړې له هغې ليکنې سره چې مينه نه وي، فکر د قوت دروازې ورباندې نه پرانيزي.

زيارو باسو د څه ليکلو مينه له ځانه سره پيدا کړو. انشاء او ليکوالي هغه علمي لارې چارې دي، چې د ژوند په ټولو پړاونو کې مورږ هدف ته رسولای شي او د ژوند لاره رانښيي. که هوډ ولرو، چې ليکنه د پوره مينې له مخې وکړو، په دې پوه شو، چې څومره ښه ليکنه کوو؛ د نورو هم خوښيږي او د ليکوالۍ ډګر ته راوځي.

۹- مطالعه وکړو؛ مطالعه د زده کړې د بشپړولو بياوړې وسيله ده. زده کړه له مطالعې او مطالعه بې زده کړې نشي ترسره کېدلای. زده کړه اساس او بنسټ او مطالعه يې دوامداره ارزښت دی.

دزده کړې او مطالعې په برخه کې قرآن، احاديث او اوسنۍ بشري څېړنې ښيې، چې د انساني ټولنو چورلټ او جوت پرمختګ ورپورې اړه لري.

طلب العلم علی فريضته کل مسلما و مسلمته

(c) ketabton.com: The Digital Library



علم په نرا وښځه فرض دی، که په چین کې هم وي، تاسو يې ترلاسه کړئ. د غه احاديث او کڼ ارشادات موږ ته راښيي، چې باید علم ترلاسه کړو او علم په مطالعه بشپړېږي.
که غواړو موږ په خپل مسلک او ياد ليکنې په ارزښتمن کارکې ډېر برمختګ ، شهرت او بريالیتوب ترلاسه کړو ، لازمه ده ډېره او په مينه مطالعه وکړو. مطالعه موږ د برې سرمنزل ته رسولای شي.
ددې لپاره چې، په ليکنه (انشاء) کې پرمختګ وکړو ، باید ترډېرې اندازې مطالعه وکړو. مطالعه څوا ړخه لري، یو عمومي، دويم د مسلک اړونده مطالعه ، دريم مسلکي او خصوصي مطالعه ! ليکوال ته لازمه ده، چې د خپلې مطالعې ساحه پراخه کړي له عمومي نيولې تر خصوصي برخو پورې مطالعه وکړي، خو په مسلکي ډول کره مطالعه ترسره کړي.
په (آين مطالعه او يادګيري) کتاب کې مهندس نصرت ميرزا ليکي: ((مطالعه دانسان د فکر د رشد او پراختيا د ساحې د پياوړتيا کلی ده. مطالعه د شخصيت دودې فورمولونه ته پاتې کيږي، که غواړو ، ځان، مسلک او دنيا وپېژنو ، باید مطالعه اوزده کړه وکړو ؛ د اوسينی ژوند بيداره ضمير ته ورته ده؛ هره مسلکې ښکلا او پرمختګ په مطالعې پورې اړه لري.)) (۳۲: ۱۰۷)
باید پوره مسلکې مطالعه وکړو ، په تيره د معاصرو ليکوالو او شاعرانو آثار په غور سره ولولو ؛
مطالعه د ذهن د روښانه کيدو وسيله ده؛ مطالعه د ذهن د تيارو کوټونه د ښکلي کولو په خاطر د وږمو مثال لري؛ مطالعه انسان ته د ليکنې ذوق او قوت ورکوي.
که چېرې موږ د ادبياتو او بل مضمون په برخه کې يو ځه ليکوا و په دغه برخه کې د تيرو او يا اوسنيو ليکوالو يو مضمون لولو ، نو هرمروز موږ د ليکنې دلاغنا په برخه کې راسره مرسته کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید پاملرنه وکړو، هغه کتاب، چې په پخوا او اوس کې د خلکو د پاملرنې وړوي، هماغه کتاب موږ هم مطالعه کړو او په خپله لیکنه کې ترې الهام واخلو.
باید لـه کلمـو نیـولې ترجملو بیا د هغـه اثـر تربنـې او محتوا ورتـه کلکـه پاملرنـه وکړو او خپله لیکنه هم غني کړو، آن د هغه کتـاب نیولیـک، سریزې. متن، بـایلې او ماخذونو ته پاملرنه وکړو او په خپله لیکنه کې ترې الهام واخلو. لنډه دا چې لیکوال ته ښايي ډیره او بیا بیا مطالعه وکړي؛ بې مطالعې لیکوالي بې چراغـه پـه تیاره کې لاره وهل دي، هره پوهه د مطالعې محصول ده.

چې مولاره دژوندون برې ښایسته ده
بل څراغ دی د پـــوهنې نوراني ده

۱۰- دژبې د دستورو قواعد په پام کې ونیسو؛ ژبـه نـه یـوازې د ابهـام او تفهـیم وسـیله ده، بلکـې ژبـه د خلکو او ملیتونـو د پـاینبـت وسـیله ده. ادبیـات او بیـا ټـول علـوم د ژبـې د قواعدو لـه مخې ترتیب او تنظیم مـومي. بې قواعدو او دستورو د ژبې هره انشـاء او لیکوالي نیمګړې ده، نړۍ پیاوړي لیکوالان د ژبې د ستورونو پوه خلک وو.
د انشاء (لیکوالۍ) او ژبې نیغې اړیکی دي، بایـد انشـاء د ژبـې د دسـتورو لـه پلـوه درسته او په زړه پورې وي او له بلې خوا د دې لپاره چې هره ژبـه ځانتـه ځلا قاعـده او قانون لري، نو لازمه ده د ژبې طبیعت په پام کې ونیسو.
پښتو ژبه ځانته د ژبې دستور لري، له (فنولوژي نیولې ترنحوې) پـورې د ژبـې پـه دستور کې راځي. یعنې یو لیکوال ته ښایي په کومه ژبه کې چې لیکنـه کـوي د هغـې ژبـې ټـول تـورې، د خیلـو ځـانګړې، واول کانسـونانټ، نیمـه وال، دیفتانـګ، مورفیمونه (مقید او آزاد، د هغو ډولونه نومونه، صفتونه، قیدونه، نحو، د نحوي ډولونه، جملې، د جملې ډولونه... دا اد داسې نورو قواعدو باندې و پوهیږي.

ښه ده ښه ده چې په سل ژبو ګویا یې
ولې مه شه تـــــه نادان د خپلې ژبې...

یا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــوري ژبې زده کول که دي کمال
خپله ژبـــــه هيرول بې کمالي ده...

۱۱- جملې کره او لنډې وټاکئ؛ لنډ ليکل هم علم دی، هم هنر، دلنډې ليکنې پر مهال بايد رسا او بې تکلفه ليکل وکړو. موږ د دې لپاره لنډه کره او بامعنا ليکنه کوو، چې لوستونکی زموږ له خوا د وړاندې شوي متن په معنا وپوهيږي. کله که يو ليکوال وغواړي ډيره معنا په لنډو او کره ټکو او کلمو کې وړاندې کړي، نو د بې خونده او اوږدو جملو له ليکلو ډډه کوي.

ليکوال بايد د ليکنې آرونو ته پاملرنه وکړي، په حقيقت کې د کلمو او جملو په لنډون وپوهيږي او پر ځای يې وکاروي. څنګه کولای شي ليکوال کره او لنډې جملې وليکي او يا په کره او لنډو جملو کې يو مطلب ښه وليکي او هدف بيان کړي؛ بايد دا ډول انشاء لاندې ځانګړنې ولري:

۱- لنډه وي

۲- خوږه وي

۳- ساده وي

(لنده، خوږه او ساده ليکنه) ديوې ښې انشاء هويت ښکاره او برجسته کولای شي.

د انګليسي ژبې د بشپړ ګرامر ليکوال (احمد حسين مديری) لنډه او کره ليکنه د مطلب ښه هظمول او دا ړينو کلمو ليکل بولي، چې لوستونکي وکولای شي د نا اړينو کلمو پر ځای زر مطلب ترلاسه کړي. لنډه ليکنه فني ليکنه ده: دغه کار په ادبياتو او ژورناليزم کې د پام وړ دی، خو په ژورناليزم کې خورا ډير اهميت لري.

په ادبياتو کې کلمې او حملې ډيرې نشي لنډيدلای او کره کېدلای، دا ځکه رومان، ناول او لوی داستان د ډيرو کلمو مجموعه ده او له بلې خوا انسان احساسات او عاطفه ورکې شامل دي، بيا هم بايد د فني ليکنې په لور لاړ شو.

## د لنډې ليکنې فن:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول: په لیکنه کې د کلمو له تکرار ډډه وکړو.
دویم: بې ارزښته او له موضوع سره په نه تړاو کې کلمې لرې کړو.
دریم: هغه کلمې، چې له اصلي لیکنې سره په تړاو کې نه دي، لرې کړو.
څلورم: دلنډون اصل ته پام وکړو.
پنځم: تمثیل، تشبیه، استعاره، کنایه او نور د لیکنې لوازم راوړو، خو پرځای.
شپږم: نښې او علامې په هره لیکنه کې مراعت شي.
اووم: په هنري انشاء کې ژبنی او لهجوی خصوصیاتو ته پاملرنه وشي.
اتم: په تحقیقي لیکنو کې له سیمه ایزو ځانګړونو ځان وساتو.
نهم: جملې ډیرې اوږدې او ږدې نه وي.
لسم: سره تړاو ولري. (د موضوع له پوله)...
یوولسم: زموږ لیکنه لوستونکی ستړی نه کړي.
دولسم: هره جمله (مبتداء) او خبر ولري.
دیارلسم: هنري ترکیبونه خواږه وي، آن تکراریې هم خوندوروي.
څوارلسم: په ادبي لیکنو کې فنون کارول ښکلا زیاتوي.
پنځلسم: هرڅومره چې جمله لنډې، کره، پخې، ښایسته او په پوره مینې سره ولیکل شي، هومره لیکنې او انشاء خوږه او پوهنې وړ وي.

دانشالیکنې لپاره ځینې شرایط داسې وړاندې کولای شو:
۱-۱- فکر کول؛ د پام وړ موضوع په برخه کې ښه فکر کول.
۱-۲- خاکه برابرول؛ هرڅه چې لیکو باید ځینې یاداشتونه پر کاغذ راټول کړو د کلمو او مطلبو راټولول د ذخیری معنالري.
۱-۳- ارامه فضأ؛ دلیکنې کولو لپاره آرامه فضأ چوړول ضروري کار دی، ځکه تمرکز په لیکنه او بیا په هنري او خیړنیزو لیکنو کې ضرور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-۴- تنهائی؛ يوازې توب د تخيل قوت سره مرسته کوي، هرڅومره چې په هنري ليکنو کې د تخيل قوت زيات وي ليکنه ښايسته وي.
۱-۵- د ستړيا په وخت ليکنه کول؛ انسان ښه وخت د ښو احساساتو خاوند کيدای شي، چې اعثاب يې پرځای او ستړي نه وي. يو مينه ناک انسان پرځان ويساوالي لري. دقت او ذوق له آرامۍ سره ملګری وي.
۱-۶- وخت غوره کول؛ که غواړو ښه او فني ليکنه وکړو، بايد خپل وخت ورکړو؛ د آرامۍ وخت سهار او يا فراغت دی.
۱-۷- مرسته نه غوښتل؛ په انشاء کې له چا مرسته غوښتل د خپل مهارت مهاروَل دي، څومره چې د ليکتې لپاره په يوازې ځان بيا بيا فکر کوو ليکنه مو ښه وي؛ مخکې له مخکې مطالعه کول له دې کار سره مرسته کوي.
دانشاء پيل او پای:
الف: هڅه او هاند وکړو د انشاء لومړۍ جملې ښکلې او په زړه پورې وليکو، که دانشاء پيل عادي، يو ډول وو، چې خبرې وي، نو هيڅوک ورسره مينه نه کوي.
ب- بايد انشاء په ښکلو جملو پای ته ورسيږي. که په پيل کې مو هرڅومره خوږې جملې راوړې وي، چې په پای کې خوږې نه وي، بيا دانشاء په زړه پورې نه ده.
ج- دافکرچې دانشا بيل او پای ښکلی وی، په زړه پورې نه ده، بايد دانشاء پيل متن، او پای ټول په زړه پورې وي.

**۱۲– دانشاء ډولونه او منظرنګاري:**
د ادبياتو د ښوونکو سليقې د بيلابيلو موضوعګانو په طرحه کولو کې متفاوتې دي؛ رښتيا ستايې، مينې سره مينه کوي... وطندوستي، خدای پرستی تبلغوي، پند او نصيحت کوي... خو ځينې ښوونکي غواړي نوې موضوعګانې زده کوونکو ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظرنګاري او تصوير ويستنه په نظم کې ډيره مروجه ده، خو په انشاء کې هم دليکوالي عظمت او ښکلا زياتوي. منظرنګاري دانشاء د موضوع او مضمون د ښکلا لامل ګرځي؛ د بيان ښه وسيله کيدای شي، تأثر او اغيزې يې لاډيرېږي.

په انشاء ليکنه کې لازمه نه ده فرمايش ورکړو، حتمي نه ده دا سې طرحه شي څو يو محصل پکې يو څه وليکي، بايد داسې موضوع وليکي، چې لکه څنګه دی تري متاثره شوی او يا مينه ورسره لري او يا يې د خوړوا و ترخو خاطرو جزوي او دويم، داسې عنوانونه، چې متحد المال دی او تل دنورو له خوا کارول کېږي، دی هم هغه عنوان کړي او څه وليکي؛ لازمه ده بايد ځانته موضوع غوره کړی او داسې موضوع وي، چې نوې وي، سخته وي، څوورپسې پلټنه وکړي.

انشاء له پخوا زمانو څخه تر اوسه ډيرډولونه لری، چې موږ يې ځينې دلته را اخلو:

**۱– دطبيعت په ستاينه کې:**

چې پسرلی په مسيدو ښکاري د ښکلې ځواني په ويښيدو ښکاري...

له نيکه مرغه زموږ په ادبياتو کې د طبيعت او بيا پسرلي ستاينې ډيرې شوی دی. زموږ شاعرانو او ليکوالا په پراخه توګه طبيعت له ټولې ښکلا سره د هنر په ټولو ډولونو کې ستايلي دی. پسرلي يې د کال نوې او ښکلې پيلامه ګڼلی او آن ترارمانونه د پسرلی له ښکلا، خوځون او عظمت سره تشبه شوې دي؛ لکه:

د پسرلی ښکلونکی بياکړه سينګارونه= بيا يې ولونل په غرونو کې لالونه

ځمکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شوی= طليسان زمردې واغوسته غرونه

دنسيان مشاطې لاس دمجيدو دی= مرغلروباندې وښکل ښونه

دغاټولو جنډې خاندې وريدې ته= زرغونه ښوکې ناخې زلمي نحونه

سپينې واورې ويليده کاندې بهېږي = لکه اوښنې د مينې په ګريوانونه

هر پلو ته رڼې ونې بهاندې خاندې = له خوښيه سر وهي په سينګرونه

لکه ناوې چې سورټيک په تندوکا= هسې وګاڼل غټولو سره پسلونه

هرپلو دګلوورېم دی لونلی= ته وارا غله له ختنه کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسیح په پوبه مړژوندون بیاموند = پسرلي مګر مسیح شو په پوکړنه
له مړوخاوروبې آغلي ګل راویوست= وچ بید یا او غریبې کړله جنتونه...
دزلما ټاپې راغلی دی پرجنډیو = لکه پیغله غوټۍ کاندې مکیزونه... (۳۸: ۲۵، ۲۶)

د پسرلي یا طبیعت د نورو برخو او ښکلاوو په برخه کې ډیرو شاعرانو او لیکوالو ډیرڅه لیکلي دي، چې راوړل یې نور تحقیق غواړي.

**۲ – د داستان یا شعر لنډول:**

یو لیکوال یا شاعر کولای شي یو اوږد داستان یا شعر په لنډو او ښکلو الفاظو کې راوړي، خولاندې ټکي باید په پام کې ونیسو:

الف- د داستان اوږدې څانګې ترې غوڅې کړي

ب- د اسې یې برابرې کړو، چې اصلی داستان یا شعرون ته زیان ونه رسېږي.

ج- د امکان ترپولې د داستان له اصلي جملو څخه ګټه واخلو. دا ددې معنانه لري، چې یو ازې هماغه شعر یا داستان راواخلو او موږ له خپل فکرڅه ونه لیکو. د داستان خلاصه کول ذا ګټه لري، چې زده کوونکي په زورجبر یو حکایت له اوله تر آخره په غورسره مطالعه کړي او وروسته وکولای شي نوی مفهوم د خپل فکر په زورراواخلي او ویې لیکي.

**۳ – خاطرې:**

خاطرې هم ادبي او غیر ادبي دي. کله ناکله په انشاء کې د کوچني والي، ښوونځی، اخترونو او نوروورځو، شپو، میاشتو، کلونو، بندي ګرۍ، ناروغیو... خاطرې وریاد یږي. ددې لپاره چې خپله انشاء موښه لیکلي وي، تېرې خاطرې که خوږې، یاترخې، ښې یا بدې وید اسې سره راټولې کړولو تنظیم کړو، چې وکولای شو په اوسمهال کې ترې اغیزمن او یا خوندواخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې په انشاء کې خپله دنده ، دژوند ډول ډول هدفونه ، کارونه (ښه او بد ، آزادي، دظلم غندنه اونوي موضوعګانې په پوره هنري مهارت را وړلای شو.

ايراني ليکوال (اسدالله شهرياری) وايي: په انشاء اوليکوالي کې دفکر آزادي دليکوالۍ آزادي ده، هرڅومره ، چې انشاء له طبيعت څخه متاثره وي اودطبيعت منظرنګاري پکې وي اوله فرمابشه لرې وی؛ ښايسته ده.)) (۲۳: ۹۵)

په آخرکې به مثال په ډول د (ظالم اومظلوم) انځوردخدای بښلی استاد الفت په انشاء کې وګورو:

((دشاعرتحفه زه چې ورغلم هغه په کوټنۍ کې ناست و ، سربې په ګريوانه کې ښکته کړي و فکري عبادت يې کاوه.

کله چې هغه سر راپورته کړ اوپه ما يې نظرولويده، ماخپله تحفه پودپړانګ پوستکی اويوغريتجې پوستين دهغه په مخ کې کېښوده.

هغه وويل: دا يوظالم پوتکی دی ، ځکه له پښو لاندې لويږې، دابل دظعيفانوله پوستکونه جوړدی اوپه غاړې پورې تعلق نيسي.

دشاعر تحفه بايد همدغسې رازوښي اوخلک په دغه رمزښه پوه کړي. په دغه خبرو زه له خوبه راويش شوم لوپه خوب کې دخپل خوب په تعبير پوهيدلی وم.))
(۴: ۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳-۵- د دریېم څپرکي د موضوعاتو لنډیز:

= املاء ته ډیکتیشن وایي ، په پښتو ژبه کې د جس له پلوه په ښځینه نوموکې راځي ، لګه لیلا ، امریکا ، املاء...

= په ځینو قاموسونوکې املاء ، ډکول ، لیک دود ، دکلمو قواعدو ته وایي.

په فرهنګ فارسی عمید کې راځي؛ املاء ډکول، بل چاته دیو مطلب تقریرول، چې هغه یې ولیکي او هغه مطلب چې معلم یې ووایي او شاګردیې ولیکي او هم دکلمو دلیکلو د درستې لیکنې لار کلمه د مهلت ورکولو ، دیکته کولو په معنا هم راغلی ده.

ترټولو ښه تعریف؛ املاء مهلت ورکول، خو اصطلاحا خپلې یا د بل خبرې په درست ډول لیکل دی.

املاءدې ته هم وایي ، چې یو سړی یو لیک بل ته وایی او هغه یې لیکي او کله په هغه لیک هم اطلاقیږي، چې یو سړی یو څه وایي او بل هغه ته ویل (وینا ) لیکي.

= داملاء په لیکلو کې لومړی، دویم او دریېم شخص مطرح کېږي، ځکه (خپلې یادبلې خبرې نورو ته ویل کوم چې د درست تلفظ له مخې وي، املاء ویل کېږي.

= املاء په لیکنه کې یو مهم اصل دی. په املاء کې مهمه خبره د(لیکلو ) ده، یعنې هغه چې و نه لیکل شي املاء نه ده؛ نوروته دیکته کول داملاء اصل نه جوړوي. داسې ویل کېږي، که څوک له ځانه څه نشي لیکلې، مګر د بل چا د لیک له مخې یې نقلولای شي، دغه نقل قول یا کاپي کولو ته املاء نه شو ویلای.

= املاء لیکل دی، د درست تلفظ له مخې ؛ داملاء دلیکلو په وخت کې ګرامري قواعدو له مخې ترسره کېږی که څه هم د لیکنې قواعد نه دي، خوښې قواعدو او اصولو لیکنه نه ده.

= دلیکوالۍ په برخه کې حقدار استاد خدای بښلی استاد ګل پاچاالفت وایي: ((املاء او املاء په لغت کې مهلت ورکولو او ډکولو ته وایي؛ په ادبي اصطلاح کې خپلې یادبل خبرې په صحیح ډول لیکل دی. کهڅوک له ځانه نشی لیکلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر دبل دليک له مخې يې نقل قول کولای شي دغسې نقل قول ته املاء نشو ويلای.

= پير روښان (عربي) الفبی باندې د پښتو تورو وزرياتول دخدای (ج) په امر اولاهام سره دځان کار بولي... او بايزيد و کښه هغه حرفونه چې په هره ژبه کې سازيږي دفايدې لپاره دآدميان... ځيني خلک د پښتو خاص توري داخوند درويزه کاربولي.

= د پښتو ژبې دالفبې او ښه تنظيم لپاره په مختلفو ختونو کې مختلفې پريکړې شوي؛ لکه: پښتو ټولنې په (۱۳۲۱) هـ ل کال.

= دويمه پريکړه په (۱۳۲۷) د سنبلې په (۸) ښتو ټولنې.

دريمه په ۱۳۳۷ هـ ل کال پښتو ټولنې د پښتو او پلو خو په ګډون.

د باره ګلې غونډه په ۱۳۲۹هـ ل کال وه.

= همدا رنګه سليمان ماکو ، محمد هوتک ، مياروښان، ميرزاخان انصاري، دولت لوانې، خوشحال خان ختک ، عبدالرحمن بابا ، احمد شاه بابا ، معاصرې دورې کې حبيب الله رفيع، منشی احمدجان، د پښتو ادبي انجمن املاء، دالفت صاحب املاء، دغني خان کليات املاء، د پښتو بخوانۍ الفبې کتاب املاء او... ترڅيړنې لاندې نيول شوي دی.

= انشاء ( COMPOSITION ) ، پيلول، رامنځته کول، پيدا کول او له ځانه څه ويل او په اصطلاح کې داد ب له فنونو څخه ده ، چې خصوصي او رسمي ليکونه او فرمانونه ورباندې ليکل کيږي.

درياب قاموس، اسم واحد ، مؤنث، له ځانه راايستنه، له ځانه راپيداکونه، دزړه نه څه بيداکونه، عبارت تحرير.

= انشاء علم په هغه معنا دی، چې د يوې ټاکلي موضوع په برخه کې يو شی په پوره فکر او نوبت سره وليکو.د يو سړی انشاء له بل سره فرق لري او آن دليکوالۍ په نړۍ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



= انشاء له خبروکولوسره تشبه شوي؛ ښه انشاء ليکونکی هغه څوک دی چې خپل مقصد د ليکنې له لارې ښه ولېږدوي او په ليکنه کې يې ساده ګی وي. غوره انشاء ليکونکی دليکنې لپاره غوره مضمون په ذهن کې لري، له همدې امله انشاء ديوه مضمون موندلو څخه عبارت ده.

= انشاء غربي کلمه ده، چې د پيلولو او رامنځته کولو څخه بحث کوي.

په فارسي کې له ډيروپخوا د (ليکلو)، (تکرار)، (نوشتن) اونګارش په توګه کاريدلې ده اونن هم په همدې مفهوم کارول کېږي. په معاصره عربې ژبه کې د (کتابت) په ځای استعماليږي.

= ليکوالی يا انشاء ته په انګليسی ژبه کې وايي.

په فرانسوی کې (ايکرر،      ) او کمپوزسيوسن وايي.

= په روسي کې ورته (      ) ويل کيږی.

په آلماني ژبه کې ژبنی عمليه ګڼل کيږی، چې دغې له لارې انسانان اطلاعات، پيغامونه او خپل احساسات نورو ته لېږدوي.

- دليکوالی موخه، دچالپاره ليکوکنی، دليکوالی توکي، دليکوالی موضوع او... (۴۰: ۲۵)

= سربيره په هغه انشا ته (ښه اېښوونه او درست ليکنه) کلمه پوهنه، معنا پيژندنه، سبک شناسي. دمتن مفهومي اړيکی او... ويل شوې ده. (۲۸: ۴۱)، ليکوالي يوډول معماري ده.

= دانګليسي ژبې ( RHETORIC ) رهتوريک، په فرانسوي کې ( RHETORIGOUE ) ريتوريک (يعنې دليکوالی هنر) او د ليکلو ګټور او درست دستورته هم ويل شوي دی.

= دغه کلمه به لرغوني يونان اوروم کې د ((ريتوريکا)) (      ) دخطابې داصولو په معنا کارول شوي او کلمه چې يوناني فلسفه اوعلوم په غربي زبه وژباړل شول، دغه کلمه د (ريطوريقا) معربه بڼه او د (الخطابه) معادل وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



= ليکوالي؛ دهغو عقيدو (باورونو)، فکرونو او آندو څخه عبارت ده، چې په ښه او ښکلي ډول له ګرامري خطاوو پرته په فصيح او بليغ ډول ترسره کېږي.
انشاء د ماضی الضمير سپړنه ده او ځينو انشاء ته روحيانه ضاعت هم ويلی دی.
= انشاء په دوه ډوله ده: (شفاهي، تحريري)
شفاهي انشاء چې محاوره، محاضره او خطابه ترې مراد ده او تحريری اشاء چې مقالې، رسالې او نورې کې راځي.
شفاهي انشاء فطری بڼه لري او دهر (هرملت کلتوري بقا) په تحريری انشاء پورې اړوند يږي.
= انشاء ځانګړي اصطلاحات هم لري (موضوع، خطه، عناصر(توکي)، عمود، مقاله، فصل...
دانشاء لغوي معنا ايجاد دی، يعنې ديونوی شي پيدا کولو ته انشاء وايي. نظم اونثر ته هم انشاء ويل شوي ده؛ دښو کلمو انتخابول اوداالفاظو ښه تأليف دانشاء مهمه برخه ده. په انشاء کې (فصاحت، معاني او واحده معنا ډيره مهمه ګڼل کېږي.
= انشاء ځانګړی جوړښت يا اسکليت هم لري. (عنوان، سريزه، متن نتيجه او ماخذونه)
= همدارنګه انشا رغاونيز توکي لري؛ لکه (دموضوع کره کول، دمطلب پيلول، شرحه او سپړنه، نتيجه، اخيستنه، ماخذونه ښوول.
= انشاء کې بهرنۍ کلمې هم کله کارول کېږي خو دغه کلمې کله پرځاي او کله هم بې ځايه وي. ځينې نړيوال کلمې وي او ځينې سيمه ايز خاصيت لري.
= په انشاء کې له موضوع وتل دليکوالۍ اصل نه دی. مهمه مثاله (پرموضوع تمرکزکول دي، هرڅومره چې پرموضوع برلاسی ولرو، په هماغه اندازه په موضوع کې تمرکزکولای شو.
= همدارنګه دانشاء لپاره نوښتي لارې هم په ګوته شوي دی (بايد تقليدونه کړو، ځان له نورو ليکوالو کم ونه ګڼو، منځنی حد په پام کې ولرو، دليل او استدلال ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهميت ورکړو ، مطالب او کلمې تکرار نه کړو ، وچه ليکنه ونه کړو ، په ليکلو کې بېړه ونه کړو ، په مينه وکړو ، مطالعه وکړو ، دژبې دستور مراعات کړو ؛ جملې کره اولنډې وليکو او په انشاء کې بيل او پای به نظر کې ونيسو.

= انشاء کې منظر نګاري هم مهمه ده ؛ لکه: (دطبعيت ساتنه، داستان يا شعر راوړل، خاطرط او انځورونه په منظر نګارۍ کې ډير مهم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳-۶- د دريم څپرکي پوښتنې:**

۱- پښتو - انګليسي قاموس کې د املاء تعريف څنګه راغلي دی؟
۲- د املاء او انشاء لاتيني نومونه واخلئ؟
۳- په پښتو ژبه کې د جنس له پلوه د (املاء) کلمه په کوم رديف کې راځي؟
۴- په فرهنګ فارسی عميد کې د (املاء) کلمه لغتا او اصطلاحا څنګه را معرفي شوې ده؟
۵- د املاء درې څلور کره تعريفونه راواخلئ.
۶- حضرت ګل پاچا الفت د املاء په برخه کې کوم تحقيق کړی دی؟
۷- هغه څوک چې املاء ليکي بايد کوم ټکی په نظر کې ونيسي؟
۸- که د پښتو ژبې درانه يا ځانګړی توري په ليکنه کې سم ونه کاروو، زموږ په املايي نظام کې د کلمو د معنا له پلوه کمښت را پيدا کېږي او کنه؟
۹- د پښتو ژبې د الفبې د پس منظر په برخه کې څومره پوهېږئ؟
۱۰- د پښتو ژبې د الفبې په برخه کې چېرې، په کوم کال، کومې پرېکړې شوې دی؟
۱۱- د پښتو ژبې د متحد ليک د ود په خاطر د (باړه ړلی) متفقه غونډه په کوم کې شوی او کومې ادبي مهمو څېرو پکې برخه اخيستې وه؟
۱۲- (کلتور، کولتور که کلوتور) ولېکل شي؟
۱۳- (پات، پاتو، پاتې...) کوم ډول وليکل شي؟
۱۴- د سليمان ماکو د املاء په برخه کې څومره پوهېږې؟
۱۵- پټه خزانه د چاله خوا، په کوم کال، د چا په امر وليکل شوه؟
۱۶- د ميارو ښان د املاء په برخه کې څومره پوهېږې؛ پوره مغلومات وليکئ.
۱۷- د ميرزا خان انصاري قلمي ديوان املاء کې له نورو سره څه حرفي توپير موجود دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- د خوشحال خان د دستارنامې په برخه کې څومره پوهېږئ؛ دقيق معلومات راوړئ.
۱۹- دعبدالرحمن بابا په املاء کې څه نوښتونه ونيسئ؟
۲۰- د احمدشاه بابا املاء له خوشحال خان او عبدالرحمن بابا سره په کومو برخو کې توپير لري؟
۲۱- درياب قاموس د انشاء په برخه کې څه ليکلي دي؟
۲۲- پښتو- انګليسي قاموس انشاء څنګه را معرفي کوي؟
۲۳- انشاء او املاء د کومې ژبې کلمې دي او په هغه ژبه کې څنګه تعريفېږي؟
۲۴- انشاء ته په عربي، فارسي، پښتو، انګليسي، روسي، فارنسوي او آلماني ژبو کې څه ويل شوي او کوم تعريفونه راغلي دي؟
۲۵- وايې چې انشاء د (مافي الضمير) بيان دی او ولې ورته روحانيه صنعت وايي؛ دقيق ځواب ورکړئ.
۲۶- انشاء په لومړي سر کې په څو ډوله ده؟
۲۷- د انشاء اصطلاحات کوم دي؟
۲۸- د انشاء د پس منظر په برخه کې څومره پوهېږئ؟
۲۹- مسلمانانو د خط، کتابت او انشاء په برخه کې کوم کارونه کړي دي؟
۳۰- فنقيانو، يونانيانو، مسلمانانو او آريايانو د خط او کتابت په پرمختګ کې کوم ګامونه اخيستي دي؟
۳۱- پيغمبر (ص) ولې وايي علم زده کړئ، که چين کې هم وي؛ د اخبري د املاء په برخه کې کوم اهميت لري؟
۳۲- د انشاء جوړښت يا اسکليت معرفي کړئ.
۳۳- عنوان، سريزه، متن او نتيجه د يو اثر په جوړولو کې څه اهميت لري؟ او هره برخه په لنډه توګه معرفي کړئ.
۳۴- د انشاء روغاونيز توکي معرفي کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۵**- په انشاء کې د بهرنیو کلمو کارول اړتیاده کنه او که ده علمي ډول یې بیان کړئ؟
**۳۶**- ولې ځینې خلک غواړي په لوی لاس ستونزوره انشاء ولیکي؟
**۳۷**- په انشاء کې له موضوع وتل ښه کاردی او که څنګه؟
**۳۸**- د انشاء د پرمختګ لپاره نوښتي لاري په ښه کړئ.
**۳۹**- د انشاء د ډولونو او منظر نګارۍ په برخه کې څومره پوهېږئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳-۷- د درېيم څپرکي (فصل) ماخذونه:

۱- قرآن مجيد.
۲- اشراقي، پوهندوی سيد علي محمد. ۱۳۹۲ هـ، ل آيين درست نويسی املاء. کابل: کابل پوهنتون نشرات.
۳- الفت ، ګل پاچا. ۱۲۸۵ هـ، ل. ليکوالي (املاء او انشاء). دويم چاپ. پيښور: بورډ. رفعت کتابخانه.
۴- الفت، ګل پاچا. ۱۳۳۲هـ،ل. غوره نثرونه. کابل: پښتو ټولنه. د مطبوعاتو مستقل رياست.
۵- الن جيمز. ۱۳۸۲هـ، ل. نمرکز عميق. تهران: خيابان بوشهر. مرکز نشراتی جماران.
۶- انصاري، ميرزا خان. ۲۰۰۴م. ديوان. پيښور: جدون پرتيننګ. پريس پيښور. پيښور يونيورستي.
۷- بسمل، ډاکتر احمد الله. ۱۳۸۹ هـ ، ل. پښتو ګرامر. کابل: پامير نشراتي مرکز. بسمل کمپيوټری چاری.
۸- بيتاب ملک الشعرأ، استاد عبدالحق. ۱۳۳۵هـ، ل. انشاء مقالات. کابل: د مالېې وزارت. ثروت جريده.
۹- پښتو- انګليسي قاموس. ۱۳۸۸ هـ، ل. کابل: افغانستان د علوموا کاډمي. د الازهر خپرونه.
۱۰- ترسی، بريان. ۱۳۸۰هـ،ل. قدرت بيان. آقائی پروين (ترجمه) تهران: ميدان انقلاب. مجتمع کوثر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- پوهني وزارت تعليمی نصاب. ۱۳۸۷ هـ،ل. دري ورځنۍ ورکشاپ. کابل: دپوهني وزارت دتعليمی نصاب پراختيا. دتألیف رياست.
۱۲- دوانی، علی. ۱۳۷۷ هـ،ل. هنر نويسنده گي ونامه نگاري. پيښور: قصه خوانی. کتاب انتشارت.
۱۳- دغني کليات. ۱۳۶۴ هـ، ل. دقومونو اوقبايلو وزارت. دنشراتو رياست.
۱۴- رشاد، پوهاند عبدالشکور. ۱۳۸۷ هـ، ل. دپښتوپخوانۍ الفبې. کندهار: علامه رشاد اکاديمي.
۱۵- روهي، محمد صديق. ۱۳۸۵هـ،ل. دڅېړنې لارښود (دويم چاپ) کابل: دافغانستان دسيمه ايزو مطالعاتو مرکز.
۱۶- زاهدمشوانی، عبدالقيوم. ۱۳۸۵ هـ، ل. پښتو سيند. پيښور: دانش خپرندويه ټولنه، تخنيکي څانګه.
۱۷- زاهد. ۱۳۸۴ هـ، ل. دخوشحال خټک کليات. پيښور: دانش خپرندويه ټولنه.
۱۸- زيار، پوهاند مجاور احمد. ۱۳۷۲هـ، ل. پښتو سيندګی. پيښور: سرحد چاپخونه. پښتو پانګې ملګري.
۱۹- زغم، احمد شاه. ۱۳۸۸هـ، ل. ليکوالی (ناچاپ) کابل: کابل پوهنتون (چپتر).
۲۰- سعيدي، محمد نسيم نګهت سعيدي. ۱۳۴۲هـ،ل. نګارش وتفکر. کابل: کابل پوهنتون. ادبياتو پوهنځی.
۲۱- سمرقندي، عروضي. ۱۳۳۸هـ،ل. چهارمقاله يامجمع النوادر. ايران: تهران. تأليف کيکاووس، آين کاتب.
۲۲- سميعي، حسين. ۱۳۱۹هـ،ل. آيين نګارش. ايران: تهران. چاپ مؤسسه مطبوعاتي امير کبير.
۲۳- شهر ياری، اسدالله. ۱۳۷۹هـ،ل. آين نګارش انشاء. تهران: مشهد. انشارات بايد. خيابان امام خميني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴- شيرزاد ، پوهندوی محمد آقا. ۱۳۹۰هـ. ل. کابل: دپوهني وزارت. دښوونکو دروزنې لوي رياست.
۲۵- طاهر خانی، عبدالله. ۱۳۷۴هـ.ل. درست بنويسيم. ايران: تهران. وزرات فرهنگ وارشاد اسلامي.
۲۶- عميد حسن. ۱۳۸۱. فرهنگ فارسي عميد (دوه جلدي). ايران: تهران. مؤسسه انتشارات اميرکبير. کتابخانه ملی ايران.
۲۷- گورکی، ماکسيم. ۱۳۶۴ هـ.ل. کابل: دولتی مطبعه. ددليکوالو اتحادي خپرونه.
۲۸- گيلانی، احمد سميعی. ۱۳۸۵هـ.ل. نگارش وويراش، تهران: سازمان مطالعه دتدوين کتب علوم انساني دانشگاه ها.
۲۹- متقي زاده، عيسی. ۱۳۷۵ هـ، ل. عربي فارسي فرهنگ. ايران: تهران. انتشارات مدرسه.
۳۰- مجمل التوارخ والقصص. ۱۲۷۱هـ، ل. تهران.
۳۱- محمودی، امير ملک. ۱۳۸۲. درمان اضطراب وافسردگی. ايران: قم. انتشارات شاهاب الدين. مرکزگسترش کتاب جوان.
۳۲- مومند ، عبدالرحمن. ۱۹۴۹م. ديوان. پيښور: اداره اشاعت سرحد. پيښوراکاډمي.
۳۳- مومند ، قلندر. ۱۹۹۴م. درياب (قاموس). لاهور: دربارمارکيټ. چاپ محکمه تعليم.
۳۴- مسعود ، ډاکتراحمد. ۲۰۰۸ م. لنډليکنه. دآصف شينواری (ژباړه). پيښور: حيات آباد. مومند خپرندويه ټولنه.
۳۵- منصوري، ذبيح الله. ۱۳۸۵ه.ل. محمد پيغمبری مه ازنو شناخت. پيښور: قصه خوانی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۶- میرزا ، نصرت مهندس. ۱۳۷۴. آین مطاعله ویادګیري. ایران: تهران. مؤسسه روز. خیابان نور.
۳۷- همینګوی، آرنست. ۱۹۱۰. نویسنده چهره دست. (مجله). کابل: مرکز انتشارات لینکلن.
۳۸- هوتک ، محمد. ۱۳۵۲. پټه خزانه. کابل: کابل پوهنتون. دژبو اوادبیاتو پوهنځی.
۳۹- یون، محمد اسماعیل. ۱۳۸۷هـ، ل. پښتو لیکنی سمون. کابل: یون کلتوري یون.
۴۰- FIX MARTIN: ۱۹۹۸.TEXTE SCHREIBEN. SCHREIBPRO ZESSE IM DEUTSCHUNTERICHT. PADER BONRN. MUNCHEN. WIEN ZURICH: SCHONINGH.D.۲۵F.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## ۴ – لیک نښې (علامات تنقط)

**پیلیزه:**

لیک نښې (اعجامیه توري یا ( PUNCTUATION ) نه یوازې په لیکوالۍ او مسلکي لیکنو کې یې کارول ضروري دي، بلکې په هر ډول لیکنو، کتابونو، مجلو، مقالو، لویو اووړو لیکنو کې یې راوړل حتمي دي.

په ټولو لیکنو کې دلیک نښو کارول یوه اړتیاده؛ لکه دژوندی انسان لپاره کالي اغوستل لازمي خبره ده، همدارنګه په هره لیکنه کې دا عجامیه نښو کارول اړین برېښي؛ داچې کالي څه ډول استعمالوو، په موږ پورې اړه لري.

که لیک نښې په لیکنو کې ونه کاروو، دکلمې، کلمو، جملې، دجملو، دډولونو، پاراګرافونو، عبارتونو، فقرونو، مقالو، رسالو، مجلو، کتابګوټو، کتابونو او... تو پیرونه سره ورکېږي.

لیک نښې هغه ضروري توري دي، چې لیکوالۍ ته سرا و صورت ورکوي، نه یوازې دشکل له پلوه لیکنو ته ښکلا ورکوي، بلکې په کلمو، جملو، پاراګرافونو، مقالو او مضمونونو کې معنايي تغیر هم رامنځته کولای شي.

پدې څپرکی (فصل) کې که خیروي په (لیکنه کې دلیک نښو د کارولو، اړتیا، ارزښتونه او ډولونه په پوره ډول نښې، دفصل لنډیز، پوښتنې او ماخذونه هم په ګوته کېږي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴–۱– په ليکنه کې دليک نښو د کارولو اړتياوې او ارزښتونه:**

**الف – اړتياوې:**

پـه مجمـوعي ډول ليکنـې مسـلکي او حرفـوي لـوري او مفهـوم لـري؛ هـيڅ ليکنـه ياليکوالي تصادفي او اتفاقي کارنه دي. هره ليکنه که پـه هربرخه کې وي دغير فني او مسلکي خلکو له خوا نه ده ترسره شوې، داځکه چې عـادي خلـک اوليکـوال سره توپير لري. ليکوالي ديو لړ فني او مسلکي مهارتونو خپلول او کارول دي، چې تصـادفي لـوری (جنبـه) نـه لـري، داکـار ددې ترڅنـګ چې مسـلکي دی، يـوژمن او معتهـد کـاردی، چې الله رب العلـيم ځينـو انسـانانو ته وربښـلی دی او دخپـل سوګند ريښتيا ينه يې ثابته کړې ده.( ن- والقلم ومايسطرون )دپورتـه ژمنتيـا لـه مخـې دهـرې کلمـې ليکـل يومسـوليت دی، چې بايد پـه ښـه ډول ، پـه فنـي توګـه او مهارت له مخې ترسره شي.

که ليکنه او ليکوالي دهرې ټولنې لپاره دفرهنګي ترقۍ لامل او سبب ګڼل کېږي، نـوفني ليکنـه يعنـې لـه ليـک نښـې اولـه تورو سره ليکنـه هم پـه بشـپړه توګـه يـوه اړتيـاده. ليکنـه اوليکـوالي داعجاميـه نښـود پرځـای کارولولـه مخـې درسـته ښه اوصحيحه محتوا خپلوي. اعجاميه نښې پـه ليکنـه کې راوړل ځکه اړتيـاده، چې (جملې، پراګرافونـه اونـورې برخـې سره بيلـولای شـو؛ دهـرې ليکنـې پـه صـحت او درسـتوالی پوهـاوی ترلاسـه کـولای شـو. دهـرې ليکنـې شـکل او محتـوا سـره توپيرولای شو او دليکنې هرصنف له نورو سره سموو.)

په ليکنه کې داعجاميـه نښـو کـارول دليکـوالۍ دحدودو پـه ګوتـه کـول دی؛ لکـه نـاوې بې سـينګاره ښـکلې نـه ښـکاري، ليکنـه هم بې توروا واعجاميـه نښـو بـې حدودواوبې ترتيبه بريښي.

که ليکوالي يوه فرهنګي اړتياده، ليک نښې کـارول پـه ليکـوالۍ کې يـوه رونيـزه وړتيـاده، له همدې امله دغه وړتيا د ليکوالۍ پـه ډګـر کې دغه اړتيا رفع کولای شي. استادروهي د ليـک نښـو د کـارونې او اړتيـا پـه برخـه کې د ليکـوالـو تـرمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمومي موافقه نه ویني، خو وایې دلیک نښو ځیني نورمونه په نړیواله سطحه منل شوی دي اوله هغو سرغړونه دلیکوال پرستیژ ته زیان رسوي؛ دمثال په توګه که د (نقل قول) دپاره غبرګه لیدنۍ استعمال نه کړو ، زموږ ځیرنه علمي ارزښت له لاسه ورکوي.)) (۸: ح)

همدارنګه: ((په لیکنه کې دلیک نښوپرځای استعمال ډیر اهمیت لري. که چېرې په لیکنوکې په تیره بیا ژور علمي اوتحقیقی آثاروکې لیک نښې پرخپلو ځایونو رانه شي، اویا اصلا دلیک نښو مراعت ونشي؛ نه یوازې داچې دمتن په لوستلوکې ستونزې راپیداکیږي، بلکې کله کله مشکله ده، چې سم اومطلوب مفهوم دې ځیني واخیستل شی.)) (۱۳: الف)

باید ووایو دهرې مدني ښکارندې (پدیدې) دعلمي کولو، اوغوړیدنې لپاره لازمه ده دهماغه مسلک (لیکوالی) دلاښکلا اوغوره والي په خاطریوه سبډه لاره ولټوو څو هغه مسلک ورباندې فني کړو، دهمدې اړتیا اوضرورت له مخې پرځای بریښې دلیکنې متمم دود (لیک نښې) په لیکوالی کې مروجې کړو.

- په لیکوالی کې دلیک نښو پرځای کارول څوګټې لري:

یو؛ داچې دلیکوالی هرصنف ورباندې مشخصولای شو.

دویم؛ داچې دلیکنې په برخه کې زموږ پوهه ترې معلومیدلای شي.

دریم؛ لیکوال دمتمدن پېښت اولیکوالی وارث ګڼل کیږي؛ لکه په معاصره دوره کې خدای بښلي الفت، ریښتین، روهي اوبیا نور...

لنډه دا چې لیکوالي د هرې ټولنې فرهنګي اړتیا ده، له دغې فرهنګي بډاینې پرته د هغه ملت کلتوري کمزوري ډیره زیات متصوره (څرګنده) نه ده.

= دلیک نښو په واسطه دلیکوالی دصنفونو حدود هم معلومولای شو اوله دې سره سره لیکنه ښایسته کوو.

- په لیکنه کې دلیک دنښو سمه کارونه لیک دود معیاری کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ليک نښې د هرې ليکنې د مطالعې په برخه کې د انسان فهم او درک آسانوي، ځکه نو په هره ژبه کې د هماغه ژبې په ټولو ليکنو کې د ليک نښو کارول يوه اړينه مثاله ده.
- د ليک د نښو اړتيا ډېره مهمه ده، په هره اندازه، چې يوه ليکنه د ليک نښو پر اصولو برابره وي، په هماغه اندازه يې ليکنه، چې هره محتوا ولري، ښه لوستله کېږي. لوستونکى په لوستلو او مطالعه نه ستړى کوي او کيداى شي د څو پاراګرافونو له لوستلو وروسته دمه وکوي. له بله پلوه که چېرې يوه ليکنه د ليک نښو د اصولو څخه او مراعات يې نه وى پکې شوى، نو په همغه اندازه به نو موړې ليکنه ، چې هر څومره علمي او مترقي محتوا هم ولرى ګونګى، ګډه وډه او له استفادې څخه لرې وي.
له بلې خوا د ليک نښو وړاوسم استعمال هم ليکوال او هم لوستونکى د ليکنې مهارتونو خاوند معرفي کوي، خو ليکوال ډير برجسته ښيي.
- خداى بښلى ګل پاچا الفت عليه الرحمه وايي: (( بې له تورونه ځينې ټکي او نښې شته، چې د ليک په لوستو کې دخل لري او يه جمله او يا کلمه له اشتباه او ابهام څخه ژغوري، يعنې د دغو نښو او ټکو په ليکلو سړي پوهېږي، چې په کوم ټکي بايد سړى او کومه جمله په بلې پورې وتړي. د تعجب، ندا، پوښتنې، خطاب او نورو کيفياتو څرګندونه په همدغو نښو او ټکو کېږي، چې په ليکلو کې ډيرا هميت لري. )) (۲ : ۲)
ليک نښو ته په عربي کې (اعجاميه علامې) په انګليسى ژبه کې ورته ( PUNCTUATION ) وايي. په فارسي دري کې ورته (نشانه ګذاري ))، علامت ګذاري او روش نشانه ګذاري ويل شوى دى.
د ليک نښو هدفونه او اړتيا داسې په ګوته کولاى شو:
يو شمير نښې او علامې دى، چې د ناخپلواکو (غيرمستقلو ) يا بانډ مورفيمونو يا اداتو په څير کومه ځانګړې معنا لري، خو که په ليکنه کې هريوه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ځای استعمال نشي، لیکنه به خوندوره نه وي، کیدای شي اصلي مفهوم له لاسه ورکړي او لوستونکی به دلوستلو پرمهال تیروتنې وکړي.

داستاد محمد آقا شیرزاد په وینا (( که لیک نښې او علامې په لیکنه کې پرځای وکارول شي، لیکنه به خوندوره او معنالرونکې وي، مطلب به ترې ژر واخیستل شي او هم به په لوستنه کې دلوستونکو د تیروتنې مخه ونیول شي.

دلیک نښو زده کړه، دهرچا په ځانګړې توګه دلیکوال او لیکونکي لپاره ډیره اړینه ده، که نه نو لوستل او لیکل به موتېروتنې او نیمګړتیاوې ولري. دلیک نښو د کارونې او زده کړې اساسي موخه دجملو او عبارتونو دمفهوم وضاحت او صراحت دی. )) (۱۱ : ۱۱۴)

له بلې خوا دغو نښو هدف دادی موږ په دې وپوهوي، چې دیوې جملې کلمې څه راز څنګ ولیکو، چې په آسانۍ سره معنا ترې واخیستل شي او دلیکنې دبیلابیلو برخو تمیز وشي.

ددغو نښو په مرسته موږ کولای شو، چې دلوستلو په وخت کې په دې پوه شو، چې په کوم ځای کې نم شو، یا په بشپړه توګه ودرېږو او یا ساه واخلو. آن ویاندان (نطاقان) له لیک نښو پرته یو متن ښه او پوره نشي لوستلای.

دلیک نښو اړتیا خورا ډیره ده؛ لکه: کومه کلمه جلا ولیکو او کومه کلمه په بلې پورې وتړو او دجملو ډولونه او ټول مضمونه دکیفیت او نوعیت له مخې دلیک نښو په واسطه پېژندل کېږي.

((اعجامیه نښو بله اړتیا داده که دغه نښې په یو متن کې ونه کارول شي ممکن لوستونکی او په خپله لیکوال هغه معناله مضمون څخه  وانه اخیستلای شي، کوم چې دلومړي سړي مطلب وي. دعربي، فارسي او پښتو ژبو لیک نښې یو ډول دي او دانګلیسي ژبو ډول ، دعربي، فارسي او پښتو ژبو نښې له ښۍ خوا لیکل کېږي او دانګلیسي، آلماني او... له چپې خوا... )) (۱۴ : ۱۰۸)

=

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکتر اسمعیل حاکمي او دده ملګري دلیک نښو د اړتیا په برخه کې نظر لری اوو ايي: (( منظور از نشانه گذاری رعیات قواعد سجاوندی وبه کاربردن علامه ونشانه های است که خواندن ودرنتیجه فهم درست مطالب راآسان وبه رفع باره ای ابهامها که از عدم انعکاس دقیق وروشن عناصرو دلالات گفتاری درنوشته پدید مي آید ؛ کمک کند. )) (۱۰ : ۳۳ )
په اوسنۍ نړۍ کې چې لیکوالۍ پراخه اړخونه پیدا کړي (له خصوصي لیکونو نیولې ترفیس بوک، تخنیک، تکنالوژۍ او... ) پورې علامت ګذاري یا لیک نښو پورې د استعمال وړ لري، ځکه نو زیاته اړتیا ورته پېښېږي.

**ب– ارزښتونه:**

اعجامیه نښې باید په ټولو لیکنو کې و کارول شي. په تألیف، تصنیف، ژباړه، په قطعو، مقالو، داستانونو، ورو، غټو، ورځپاڼو، مجلو، سایټونو او... نورو کې کارول یې ارزښت لري. ټول ژمن، پوه او له ظرافت سره روږدي په تحقیق، تصنیف، تألیف او تخلیق پوه ) لیکوال نن په خپلو لیکنو کې چې د مطالبو د بیلتون لامل کېږي او د جملو له فهم او درک سره مرسته کوي؛ له لیک نښو څخه ګټه اخلي. هغه لیکوال چې (( غواړي خپل هدفونه نورو ته په ښه ډول ورولېږدوي، باید اعجامیه نښې د لیکنو دلاښه درک لپاره مراعت کړي او له دې لارې د لیکوالۍ ارزښت ډیر کړي. آن داسې لیکوال شته، چې د شفاهي ویناوو په برخه کې د ځانګړې کلام اولحن او خاصو نغتو (اشارو ) په وسیله خپل مقصود او هدف نورته د سپړلو او روښانولو لپاره زیات اهمیت لري او نشانه ګذاري ډېر ځله د سبک او کله د هغه په ذوق او سلیقې (سراو صورت) پورې اړه لري. )) (۱۲ : ۵۹ )
که غواړو لیکنه مولا ارزښتمنه وي، باید لیک نښې د قاعدې له مخې وي، لکه دستوري (ګرامري) قراردادونو او د لیکنې ژور (دقیقو ) قواعدوته پاملرنه ولرو نو هیڅکله باید د غه قاعدې هم هېرې نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن، سبا دلیکوالۍ ډګرډېرپراخ شوی دی او لیکوالي نړیوالـه اړتیاده؛ کـه غـواړو نړیوال له خپلي تولني خبروکړو او موږلـه هغوبـا خبره شـو، بایـد دلیکوالۍ لـه نړۍ سـره بلـد تیاولرو؛ کـېدای شـي او سـنی انسـان د تصویرونو او ځینو نورو شـیانو پـه لیدو چې د تلویزیونونـو، سـایټونو او... لـه لاري ګـوري، تـر یو بریـده څـه درک کـړي. مګر هغه شیان د پوره فهم او درک وسیله نشي کېدلای.

کـه غـواړو (تیرو وختونـه خونـدي کـړو، او سـنی حالـت را تلونکوتـه پـه واک کـې ورکړو او د راتلونکې لپاره یو خوږ انځور ولرو اوله او سنۍ نړۍ خبر شو، لازمه ده پـه لیکوالۍ پوه شو)؛ په لیکوالۍ پوهیدل په لیکنوکې دلیک نښنو مراعتول دي.)

دلیک د نښنوارزښتونه خورازیات دي، که غواړو موږ په دې و پوهیږو په لیکنه کې هره کلمـه او بیا جملـه پـه فنـي ډول ولیکـو او پـه آسـانۍ معنـا تـرې واخلو لازمـه ده، دلیک نښنو ځانګړني په پام کې ونیسو.

- لـه بلې خوا دلیکنـو محتوا اثرکنـدول دلیـک نښـوا ړوند کـاردی، دلیـک نښـوور (مناسب) کارول نه یوازې لوستونکی ته د مطالعې لارورښیي او کـاریې آسـانوي، بلکې لیکوال ته د شکل له مخې دلیکنې څلور خواوې هم روښانوي.

که پـه خبروکې غواړو مقابـل لـوری دلاسـونو، سـترګـو او... پـه اشـارو پوهـوو، پـه لیکنــه کــې دلیــک نښــو پـه وســیله نورخلــک (لوســتونکی) دلیکــوالۍ پــه رموزو پوهوو.

((پـه خبرو او شفاهي پیغامونوکې، د سر، لاسونو، ګوتو، اوږو، پـه قیافه کې بدلون اونورو غړو تغیر او اشارو څخه ګټه اخلو او پیغام لېږدول آسانوي، خو پـه لیکنوکې ددې لپــاره، چــې د هغو غړو د حرکتنو نو زمینــه نــده مســاعده، لیکــوال ناچــاردی دلیکوالۍ لـه نښو ګټه واخلي څووکولای شي تر ډېره بریده (حده) روانـي، عـاطفي او یاد جملو آهنګ لوستونکو ته ور ولېږدوي)) (۴ : ۱۵۵)

دلیــک د نښــوبل ارزښــت دادی، چــې د جملوبیــل بیــل واحدونـه څرګنـدول او بیـا پـه منطقي توګه سره ترې. که چېرې دلیـک نښـو دغه اصول ګډو او یا پـه سسـتۍ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اېښودل شوي وي، بيا نو يقيني ده، چې لوستونکی دليکنې څخه سم او پوره مطلب نــه شــي اخيســتلای؛ دچــاخبره بــه پــوره ســرګردانی بــه اختــه اودچټــک لوستلو بشپړ مخنيوی به يې شوي وي.
که څه هم د ټولو ژبو ترمنځ دليک نښنو اصول يو ډول نه دي، خو بيا هم يو لړ عمومي او کلي اصول شته، چې د ژبو په ليک دود کې يې مراعات لازمي کار دی.
که غواړو ليکنه باارزښته او له توانه برخمنه وي لازمه ده ليک نښې پکې مراعات کړو. د کانديد اکاډيميسين محمد ظاهر افق په وينا: ((ډيرو وختونه يوه ټاکلې موضوع ځکه خرابوي، چې بې ارتباط مسلې په اصلي موضوع ورګډوي او په دې کار سره خپله ليکنه ناتوانه او کم ارزښته کوي.)) (۵ : ی)
په پښتو ژبه او ادب کې دليک نښنو تاريخ او کارونه په نوې او معاصره دوره پورې اړه لري، داسې څرګند تاريخ ليکوالو دې په شعوري ډول په يوه يا ډيرو آثارو کې دليک نښنو د کارولو مراعات کړی وي، په لاس کې نشته.
دليک نښنو کارول په پښتو ژبه کې لکه دنورو ژبو په لاتين دورې پورې اړه لري، چې د تأمل وړ خبره ده. زموږ په هيواد کې علامه ګذاري د سراج الاخبار په خپريدو (۱۲۹۲ د جدی ۲۲ ) د محمود طرزي لــه خــوا مــروج شــوی دی ، چــې بيا وروســته نورو ليکوالو دغه اصل ته پاملرنه وکړه او خدای بښلو استادانو پوهاند صديق الله ريښتين، ګل پاچاالفت او نورو درنو ليکوالو په شعوري ډول دغه کار ته ملا وتړله او د پښتو تحقيقي او تخليقي ليکنو سروصورت پوښت په پراخه ليکنو کې دليک نښنو استعمال ته توجه کوي.
لنډه داچې په ليکنو کې داعجاميه نښنو استعمال دليکنو ارزښت لازياتوي، دجملو په تفکيک، دليکنو په حدودو کې معنايي تغيرهم راولي؛ لکه: لاندې جملې کولای شو په څو شکله دليک نښنو په وسيله چې معنايي تغيرهم لري؛ راوړو:
۱- پلاره ! پلوشه له ښاره راغله؟
۲- پلاره ! پلوشه له ښاره راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳**- پلاره، پلوشه له ښاره راغله!
ليک نښې ډېرو ډولونه لري، چې په لاندې ډول به له پوره تعريفونو او مثالونه سره معرفي شي:

**۱ – ټکی، نقطه، نشانه (.) يافول سټاف (Point full stop)**

د بشپړو دريدلو نښه ده. د خبري او امري جملو په پای کې راوړل کېږي او د جملې پای او مستقل والی يې ښيي.

ټکی، پوښتن نښه او ږغ نښه د جملې په پای کې هغه وخت راځي، چې هلته بايد توقف وشي. هرډول جمله چې وي د نومړو دري ښو څخه يوې نښې ته اړتيا لري. که چېرې د کومې جملې په پای کې د توقف کومه ټاکلې نښه نه وي، هغه جمله خپلواکه نده او حتا کله کله د جملې اصلي شکل ورکېږي.

پښتو- پښتو تشريحی قاموس کې راځي: ((د مکس نښه ، نقطه، خال، پيريد ، فل ستاف ( FULL STOP ) ، يې نور مترادف نومونه دي.)) (۲ : **۵۸**)

که چېرې د يوې کلمې په پای کې د توقف يا تميدو ټاکلې نښه رانشي، هغه کلمه د يوې جملې حيثيت نه پيدا کوي؛ لکه:

راشه، راشه! په لومړي مثال کې، چې (راشه) تر کلمې وروسته ټکي نشته، فقد يو صرفي کلمه ده. په دويم مثال کې چې د (راشه) تر کلمې وروسته ټکی راغلی دی، داسې جمله يې جوړه کړې، چې مستقله معنا لري او د مفرد او امر حالت ښيي.

د ټکي د کاروونې ځايونه:

الف- د بشپړو خبري جملو په پای کې راځي؛ لکه:

عين القضات ستر عارف ، په **۳۳** کلني کې په (**۵۲۵** هـ ق ) کال شهيد شو.

ب- تر ټولو هغو جملو وروسته راځي، چې نه د پوښتنې حالت ولري او نه ږغ نښې؛ لکه:

- د ظلم کاسه نسکوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- باران چې واورې ځمکه لمده شي.
- ج- د هرې کلمې وروسته، چې د نښانې يا اختصارې نښې په توګه کارول شوې وي؛ مثال:
- ارسطو (د مسيح د ميلاد څخه د مخه). په ۳۲۲ ق م کې ومړ.
ياله مخففاتو ورسته راځي. داسې پيښيږي چې د نامه د تکرار او يا يې د اوږد والي له پلوه نوم نشي راتلی. په دغه وخت کې يې مخفف شکل ليکل کيږي، چې تر دغه هر لنډ شوي شکل وروسته د ټکي ايښودل ضروري کار دي ؛ لکه:
- م. م. م. (د ملګرو ملتونو مؤسسه)
- پ. ر.و. ن ( پير روښان)
-خ. خ.ن. (خوشحال خان)
- ف- انګلس (فريد ريک انګلس)
د - ټکي په زياترو اروپايي او امريکايي هيوادونو کې د حسابي رقمونو په منځ کې د اشاريې په توګه استعماليږي؛ څرنګه چې دا کار د دوی په ژبو کې کومه ګډوډی نه راولي، خو په پښتو کې ټکي يا صفر يو شکل لري، نو ښه خبره داده، چې موږ خپل رقمونه په کامه (، ) سره بيل کړو ؛ : ۲، ۳۰ (ديرش افغانۍ او دوه پوله).
ه- د عددونو ، اونورو په پای کې د هغو په وسيله مطالب يا عناصر... شميرل شوي وي؛ لکه:
همدا رنګه ټکي (.) د خبري او امريه جملو په پای کې بشپړه و دريدنه ده، چې د جملې استقلال ښيي؛ لکه: پيغمبران، د ځمکې پرمخ د خدای (ج) حجت او د خلکو په منځ کې د حق غوره استازې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- دوه ټکي (:) دونقطه یاشارحه:**

دوه سر په سر ټکو ته شارحه هم وایي؛ کله چې یو مطلب ښه واضیح کوو او یا په خپله لیکنه کې د سند په ډول ماخذ راوړو. یا په بله وینا له (مستقیم نقل قول) څخه د مخه کارول کیږي.

په پښتو ژبه کې څرګند نښه وایي، دغه نښه په لیکلو کې لړ کارول کیږي. ځیني لیکوالان یې کله کله له ځنډ نښې (؛) سره ګډوي؛ په داسې حال کې چې څرګند نښه جلا ده.

- دلوست ښښپړپروګرام باید دغه درې برخې ولري: ۱- په هره اونۍ دلوست یو وړ او مناسب کتاب؛ ۲- ورځپاڼه یامجله؛ ۳- د تبصرو یا تعبیرونو لپاره کتاب یا مجله.

- د څرګند نښې یاشارحې د کارونې ځایونه:

الف- له مستقیم نقل قول څخه د مخه لکه چې حضرت رسول اکرم (ص) فرمایي:

((مسلمان هغه څوک دی، چې نور مسلمانان یې له لاس او ژبې په امان وی)).

ب- څرګند نښه د دوو فقرو په منځ کې هم راځي؛ هغه وخت دوو فقرو په منځ کې یوه لازمي نښه ده، چې دوهمه فقره لومړۍ فقره تشریح کړي او یا توسعه ورکړي؛ لکه:

- د ګلالۍ کور ډیر ساده جوړ شوی دی: درې خونې، یو دهلیز او یو پخلنځی لري.

- د محمود باغ ډیر ښکلی دی: ښه ګلان، زیاتې میوې او بهاندې اوبه لري.

-ج- د یو مطلب د تفصیل له سپړلو د مخه، چې په لنډ ډول هغه ته اشاره شوی ده؛ لکه: په شورا کې د دغې خبرې له کیدو د مخه، له انتظار غیر د غه نتیجه ترلاسه شوه: آن یو تن هم له هغه سره موافقه و نه کړه.

- پروسږکال زمالپاره ښه کال و: دلوړوزده کړو وزارت په کانکور کې اول نمره بریالی شوم.

- لقمان حکیم ته یې وویل: ادب موله چازده کړ؟ وویل: له بې ادبانو: د هغو ټولو خراب کارونه مې و نه منل او د هغو له کړنو (عمله) بیزار شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د- څرګند نښه هغه وخت راځي، چې تريوې عمده فقرې وروسته ځينې مهم نومونه او مفهومونه د تشريح لپاره راشي. خو بايد په دغه وخت کې تريوې بشپړې فقرې وروسته راوړل شي؛ لکه: دده ټول ادبي استادان جهاني شهرت لري: جيک لندن، تولستوی، ګورکی او ماياکوفسکي.

-هـ- له تقسيري کلمو وروسته لکه ((يعني))، ((لکه چې))، ((دبېلګې په ډول))، ((عبارت دی له)) او نور...

تاسوته ډېر ډېرانتظار وم، يعني: سترګې په لاروم. تاسو څخه زما وعده له ياده وتلې وه. لکه چې: زه مو له پامه اوهېره وتلې وم. که زه پوښم، چې ته راځې، زه به دوه سترګې له انتظاره تاته په لارکې وکړم. دبېلګې په ډول: ټول اخلاص به مې درته نذرانه کړم.

زموږ وتلي شاعران له: (امير کروړ، ميرزاخان انصاری، دولت لوانی، ميافقيرالله جلال آبادي څخه عبارت دی.)

ځينې وختونه په پښتو ژبه کې لکه فارسی ژبې غوندې عبارت ليکي؛ دبېلګې په ډول پورته جمله؛ (زموږ وتلي شاعران عبارت دي له: امير کروړ، ميرزاخان انصاري، دولت لوانی، ميافقيرالله جلال آبادي) چې جمله به پشپړېږي.

-ی- په لاندنيو بېلو بېلوځايونو کې څرګندنښې د استعمال ځايونه:

۱- د ساعتونو او دقيقو دبېلولو لپاره؛ لکه:

- ۱۱: ۳۰ (يوولس بجې او دېرش دقيقې)

- ۱۵: ۲۲ (پنځلس بجې اودوه ويشت دقيقې)

۲- دماخذونو او کتاب ښود (ببليوګرافي) دځينو اجزاوو ترمنځ:

- دخوشحال خان کليات: لومړی ټوک، ۲ مخ.

- ... (نيويارک ټايمز: هاپر، ۱۹۵۸)

۳- څرګندنښه په رسمي مکتوبونو کې ترعنوان وروسته هم راتلای شي؛ لکه مخکې چې مو وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښاغلی:
- ښاغلی پوهاند....

**۳- درې ټکي (...) سه نقطه پهلو به پهلو (...)**

درې ټکي خورا اهميت لري. که څه هم ځينې ليکوال يې مراعات نه کوي، که چېرې کوم عبارت حذف کړي، هلته بيا دليکنې په ليک نښو او انتظام پسې سم نه ګرځي، کله پنځه او کله ډير کېږدي. په نتيجه کې يې ليکنه کمزوري او ګډه وډه وي؛ په داسې حال کې، چې بايد په دغه وخت کې درې ټکي پرله پسې (...) سره کېښودل شي، څو د ليکنې دليک نښو اصول مراعات شي. او که تردغو درې ټکو وروسته پراګراف پای ته ورسېږي، هلته نو لازمه ده، چې يو ټکی بل وراضافه کړو او هغه د توقف (PERIOD ) ټکی دی؛ لکه:

د افغانستان خلک، چې يو لرغونی فرهنګ او له ويارهډک تاريخ لري، د تاريخ په بيلو بيلو پړاونو کې يې د بهرنيو دښمنانو پرضد په مېړانې سره مبارزې کړې او دهغوی د شومو کارونو څخه يې خپله پاکه خاوره ژغورلې او ساتلې ده.

ددې خبرې د ثبوت لپاره دافغانانو او انګريزانو، روسانو، امريکائيانو ترمنځ څو مشهورې جګړې يې ښې نمونې دي. که د پورته پراګراف ځينې برخې حذف کړو نو په لاندې توګه يې راوړو:

د کارونې ځايونه:

دافغانستان خلک، چې يو لرغونی فرهنګ او له وياړه ډک تاريخ لري..

دخارجي دښمنانو پرضد په پوره مېړانې سره مبارزه کړې ده او... ددې خبرې دثبوت لپاره د افغانانو او انګريزانو او... ترمنځ څو ځله جګړې شوې دي.

- درې ټکی د داسې نور يا (وغيره) معنا لري.

زموږ د توصيفي ادبياتو، شعر او... دحماسی فرهنګ له غنا برخمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کله ناکله دغه ټکي د متون د سمون (تصحيح) په وخت کې د ناخوانا کلمو پر ځای هم راځي؛ لکه:
د شعر په جوړښت کې د وزن، قافيې، خيال او... کارول کېږي.

**۴- پوښتن نښه (نشانه سوال ، custionmarke يا سواليه (؟)**

پوښتن نښه يا سواليه هم په ليکنه کې ډېر استعمال لري او په لاندې موارد و کې راځي:
الف- پوښتن نښه هغه وخت د جملې په پای کې راځي، چې پوښتنه په مستقيم ډول راغلې وي؛ لکه:
- کارته ولې نه يې تللی؟
- اوس د څو کلو نو يې؟
کله چې يو جمله په يوې بيانې سره پيل او بيا په يوې پوښتنې سره پای ته ورسيږي. نو په دغه وخت کې پوښتن نښې ته اړتيا ده؛ لکه:
- ښايي چې آزموينه به دې سخته وه، خو تا ونه کولای شوای، چې بريالی شې؟ يا دا چې د مستقيمو جملو او پوښتنيزو عباراتو په برخه کې راځي، لکه:
- په څه شي فکر کوې؟
- دا کار دې له دې ښه نه شوای ترسره کولای؟
ب- له هغه کلمې يا عبارت وروسته چې د مستقيمې پوښتنيزې جملې ځان نيسي؛ کوم رنګ دې خوښيږي؟ شين که آبي؟ ستا سو نظر څه دی؟ لاړشو يا لاړنشو ؟
يا هغه وخت هم راځي، چې په يو جمله کې د ننه کومه پوښتنه راغلې وي البته د غه نښه تر بشپړې جملې وروسته نه راځي؛ بلکې تر پوښتنې وروسته واقع کېږي؛ لکه:
- ديرش کاله پخوادی په ياد دی؟ موتېر ډېر لږ وو. پورتنی جمله په لاندې توګه سره هم راتلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په ياد دې دی، چې ديرش کاله پخوا موټران خورا لږ وو؟
ج- پوښتن نښه د ابهام، شک او ترديد ښکاره کولو په وخت کې په پرانتيز يا قوس راوړې؛ د مثال په توګه: که د کوم ليکوال، مؤرخ، فيلسوف د زيږيدو کال کې شک وي او يا يوې لوې او عمومي موضوع لکه د هيواد د نفوسو شمير.
- (زنون ۳۳۲؟ ۲۲۴ م؟) د لرغوني يونان مشهور فيلسوف و.
يا ويل کيږي، چې پير روښان د تور راغه يا (؟) غره په جنګ کې مړ شوی وي.
- د ځينو غيررسمي اماروله مخې اوس اوس د افغانستان د نفوسو شميرله ديرش ميليونه نفرو (؟) تير دی.

**۵ – ږغ نښه (!) ياندايه دتعجب علامه (!) ( Exclamtion)**

د تعجب نښه يا علامه هم بلل کيږي. که څه هم ډير ځايونه کارول کيږي، خو دلږ استعمال لپاره يې هم زيات غور په کار دی.
د تعجب نښه ډير ځله د هغو جملو په پای کې راځي، چې د ځينو خاصو او زيا توعاطفي يا نفساني حالا تو بيانونکې وي، لکه: ((هيښتيا))، ((ټينګار))، ((تحسين))، ((سپکاوی))، ((کرکې))، ((ترحم))، ((هيلو))، ((شک او ترديد))، ((امراونهي))، ((ګواښ))، ((حرت))، ((درد وغم))، ((دعا))، ((تنبه))، ((تأسيف))، ((غږاوبلنې))، او نورو کې کارول کيږي، چې لږ شمير به يې راواخلو؛ لکه:
الف- کله چې په يوه جمله کې افسوس او ريا نتيا ثرګنده شي، نو يې په پای کې ږغ نښه ايښوولە کيږي؛ لکه:
- څومره ښکلې باغچه ده!
- په ايتاليا کې زلزلې څومره خرابۍ پيښې کړې!
ب- کله چې په جمله کې يوه تعجبی کلمه راشي، نو ږغ نښه د همدغې تعجبې کلمې څخه وروسته راوړل کيږي؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اې خدایه !
- افسوس !
- آه !

ج- که داریانتیا او افسوس کلمې سره ندائیه جمله راشي، هلته نو باید ترکلمې وروسته کامه او ترجملې وروسته (ږغ) نښه ولیکله شي؛ لکه:
-افسوس، څومره پوه ځوان دی کارنه پیدا کوي !
آخ، په څومره ځوانۍ کې مړشو !
- واخ، دی خوزمانهٔ یوال و !

ځینې وختونه داسې هم پېښېږي، چې ږغ نښه دیوې کلمې په پای کې داسې واقع شي، چې هم دجملې مفهوم اداکړي او هم جمله ندائیه وی؛ لکه:
- اور !
- لړم !

په پورتني لومړی مثال کې داسې برېښي، چې د ځینو تلفاتو په نتیجه کې چې په اور سره شوي دی، یوڅوک په تعجب سره د ((اور)) په کلمې سره ټول مفهوم افاده کوي.

همدارنګه د ((لړم)) کلمه دیو دردمن (شدید) ناروغ په مقابل کې چې البته لړم وهلی وی؛ په تعجب سره راوړل شوې ده.

- د – پردې برسیره ږغ نښه په رسمي او شخصي لیکنو (عنوان) کې ترخطاب وروسته استعمالیږي. څرنګه، چې دغه نښه زموږ په لیکنو کې ډیره کارول کیږي، نوکولای شو، چې په هماغه توګه دوام ورکړو؛ لکه:
- ګرانه وروره محمود جانه !
- ښاغلی رئیس !

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶– سرچپه واو (،)، کامه** (lAVIRGULE CAMMA ) **یا ویرګول:**
دمکث یا لنډې ودریدنې نښه ده. کامه یا سرچپه واو، چې د جملې بیل واحدونه سره جلاکوی، په هغوتوقفونوکې لیکل کېږي، چې توان یې دټکی له تم څخه لږوي. کامه دنورو نښو پرخلاف دکارونې ډیرځایونه لري اونه یوازې دمعنا سره مرسته کوي، بلکې دلیکنې حرکت اوتوازن هم تنظیمولای شي.
ځینې لیکوالان داسې فکرکوي، چې کامه، لیکنه یاروښانه اوواضیح کوي، نوچې یې وس وي، ځای اوبې ځایه کامه ږدي؛ په داسې حال کې چې ډیرې اوبې ځایه کامې نه یوازې لیکنه نه روښانه کوي، بلکې لایې سره ګډوي. دکامې داستعمال ځایونه په لاندې ډول دي:

الف- دفقروترمنځ دکامې کارونه:
کامه، دهغو فقرو په منځ کې راځي، چې د (خو، لاکن) اویا (ځکه چې) کلموپه واسطه سره جلاشي.(فقره هغه نحوي عنصردی ،چې جمله بشپړوي.)
که جملې په یوه فقره کې د (که څه هم) او (سره ددې) شرطي کلمې راشي بیانوکامې ته چندان اړتیانشته، ځکه چې دغه شرطي کلمې دیوې جملې مختلفې فقرې سره نژدې کوي؛ لکه:
- احمد خپله آزموینه ورکړه، ځکه پوره تیاری یې ورته نیولی و.
- محمود که څه هم ښه سړی دی، خومور یې ځینې ناخوښه ده.
که چیری په یوه مرکبه جمله کې نوموړي شرطي کلمې نه وي استعمال شي، هلته نو د (خو ) ترکلمې مخکې کامه لازمه ده؛ لکه:
زلمی کارپسې لټیږي، خونشی یې موندلی.
-ب- چې څوکلمې دواحدواسنادودرلودونکی وي؛ لکه:
-زرین ، حسن اومحمود دتره زامن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شيخ اسعد ، ښکارندوی، خوشحال خان او قادرخان د پښتو ژبې ستر قصيده ويونکی شاعران وو.

-ج- د عمده او تابع فقرو ترمنځ د کامې کارونه:

کله چې په يوه جمله کې عمده فقره وروسته او تابع فقره مخکې راشي، نوېې د جلاوالي لپاره کامه لازمه ده؛ لکه:

- هغه وخت چې محمود لوست کاوه، پلارېې په کورکې و.

- انتی بيوتيک، چې لاندو کشف شوی، ژوند په قسمت پوري تړلی و.

- د کمپيوټراو انترنټ زده کړه، د هرچا لپاره ضروري ده.

-د- د يوې ليکنې د بيلابيلو برخو د مرجع او ماخذ لپاره ؛ لکه: کابل، د نوي ښار پارک ؛ پستي نمره **۱۹۴۴۵**، د تيلو ټانک، **۷۸** کنه، خلورلارې.

-هـ- د عمده فقرو او اوږدو مشخص کوونکو عبارتونو ترمنځ د کامې استعمال په عمومي توګه، ټول اوږده مشخص کوونکی عبارتونه د تابع فقرو په څيرليک نښې غواړي.

کله چې د غه عبارتونه تر عمده فقرو مخکې راشي، بيانو کامه ورته ايښوول کېږي؛ لکه:

- د محمود د باغ خوږې منې، د کارغه خوراک نه دي.

- ژوند د خوږو هدفونو ، سرمنزل ته رسيدل دي.

که چېرې په يوه جمله کې د غه عبارتونه ډيراوږده نه وي، هلته بيا د کامې دراوړلو ضرورت نشته؛ لکه: د نجلۍ باړحوګان د انارپه شان سره دي.

-ی– د نامحمدودو مشخص کوونکو عبارتونو لپاره د کامې استعمال:

۱- نامحدود مشخص کوونکی يو داسې عبارت يا فقره ده، چې د جملې ټاکلی مفهوم روښانه کړي، خو محدوديت ورنه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې د جملې څخه دغه مشخص کوونکی عبارت یافقره له منځه وایستل شي، بیاهم دجملې په اساس کې کوم تغیر نه راځي. دغه ډول نامحمود مشخص کوونکی په جمله کې د دووکامو په دننه کې راځي؛ لکه:

- اوس سپوږمۍ ته ختل دتیرونظریوپرخلاف، یوآسانه اوساده کاردی.

۲- په همدې توګه ځینې اسمونه اویایې معادل، چې په جمله کې مخنې بیان معنا ته وسعت یاتوضیح ورکوي، په عمومي ډول ، دنامحدودو مشخص کوونکو حیثیت لري اودکامو په منځ کې راځي؛ لکه:

ګورکي، دریالیزم پلار، خپل ادبي شاهکارد ((مور)) په نامه ولیکه.

کامه په نورو ځایونوکې داستعمال ځای لري؛ لکه: دعددونو، لیکنو اومکتوبونوکې دصفتونو ترمنځ هم راځي؛ مثالونه:

۱- دځینو صفتونوپه منځ کې ، کله چې د یوه اسم د څرنګوالي لپاره صفتونه استعمالیږي، نوبیې ترمنځونوکامې راځي. البته دوروستیو دووصفتونوپه منځ کې (او) لیکل کیږي؛ لکه:

- له انګریزانوسره دافغانانوجنګونه ډیرخونړي، دردناکه، له غیرته ډک اوبریالي وو.

- د محمود کور تل پاک، منظم، ښکلی اوپه زړه پورې وي.

۲- دعددونو ترمنځ:

دعددونوګروپونه په ، یابار/ سره بېلوي؛ لکه:

۵۳۱، / ۳۷۱، ۵۲، ۵۲۲، ۳۲۱، ۸۴۵

یا ۵۳۱، / ۳۷۱، ۵۲، ۵۲۲، ۳۲۱، ۸۴۵

۳- دمیاشت اوکال جلاکولوکې هم کامه لیکي؛ لکه: داپریل ۲۷، ۱۹۷۸م دحمل ۵، ۱۳۵۷ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- د درسونو د روښانولو لپاره هم کامه استعمالیږي. د کلیو ، ښارونو ولسوالیو دنومونو دبیلولو لپاره کامه داسې راځي؛ لکه: دمیوند ولسوالۍ ، کندهار ، یادمیوند ولسوالۍ، کندهار، افغانستان.

۵- دلیکونو اومکتوبونو په خاطر دکامې کارول.

که څه هم تراوسه په غیر اصولي توګه په لیکنوکې اومکتوبونوکې ډېر نښه استعمالوو، خوکیدای شي، چې په غیر رسمي لیکنوکې دوستانو اوانډیوالانو ته دسلامونو اواحترامومو دوړاندې کولوپه وخت کې ترنامه وروسته کامه استعمال کړو.

په رسمي مکتوبونوکې ترنامه اوعنوان وروسته شارحه (:) هم راځي؛ لکه:

- ګرانه انډیواله...

- ښاغلی... رئیس:

**۷- څنډنښه، ویرګول بانقطه(؛) semi column دزیات مکث نښه:**

څنډ نښه ، چې په عمومي توګه دیوکمزوري ټکي اویاقوي کامې وظیفه اجراکوي، دیو بشپړ توقف اوولاړې لپاره نه کارول کیږي. ځینې لیکوالان، ددې لپاره چې دځنډ نښې له دقیق استعمال څخه ځان خلاص کړي، نوکامه لیکي. په داسې حال کې چې ددغې لیک نښې عمومي خاصیت یې دادی، چې دمتوازنوجملو اوفقرو ترمنځ باید راشي.

دځنډ نښې داستعمال ځایونه:

- الف- دووعمده فقرو ترمنځ دځنډ نښې استعمال؛ کله چې دغه عمده فقرې په (او ، خو ، لپاره ) اوداسې نوروکلموسره ونه تړل شي ، هلته ځنډ نښه راوړل حتمي ده؛ لکه:

مثال- کوچنی ته په وخت باندې جزاورکول لازمې کاردی؛ په بې ځایه وهلوسره سپین سترګی کیږي اوهروخت باید هرڅه ورته ونه ویل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جملو پورته جوړښت ، که څه هم بېلې جملې دي، د معنا د ارتباط له پلوه ډېر سره نږدې او اصلاً په څنډ نښې سره تړل کېږي. نو که په دغو حالتونو کې يو ليکوال د دغې څنډ نښې پرځای يوازې کامه استعمال کړي، غلطي به يې کړې وي.

ب- د ځينو قيدونو سره د څنډ نښې استعمال:

کوم وخت چې يوه مرکبه جمله کې، چې بېلې بېلې فقرې پکې راغلې وي، د دغه درانه قيدونه (که څه هم، هيڅکله، په نتيجه کې) او داسې نور استعمال شي، هلته نو لازمه ده، چې ترنو موړو قيدونو مخکې څنډ نښه راشي. که څه هم دغه قيدونه په فقروکې دافکارو ارتباط ورښيي، خو ارتباطي لفظي وظيفه به يې کمزورې وي؛ لکه:

- احمد او محمود ، چې له ډېرې زمانې څخه راپه دې خوا اندېوالان وو، پرون يې برمازې (محضي) خبره سره جنګ شو ؛ په نتيجه کې سخت سره خوابدي شول او ښايي هيڅ وخت خبرې سره ونه کړي.

ځينې وختونه څنډ نښه دهغو فقروترمنځ راځي، چې په ربطي کلمو (او ، خو ، يا ، تراوسه) او داسې نورو سره تړلې شوې وي؛ په دې شرط چې دلاندې حالتونه څخه يو ولري:

١- فقرې ډېرې اوږدې وي. ٢- دغه فقرې سره ډېرې نژدې اړيکې ونه لري.

٣- دفقرو څخه يې يوه يا ډېرې کامې ولري. ۴- ليکوال وغواړي، چې ددوی ترمنځ توپير باندې ټينګار وکړي، لکه: دماشومانو دېښې روزنې لپاره ضروري ده د اسلامي زده کړې تيورې په روحيې وروزل شي؛ خودا بايد ووايو، چې دا لاربښوونه په لا باور او د وطن پالنې په روحيې بياوړې کېږي؛ يعنې الله پالنه، وطن دوستي او آزادي، روحنيه زموږ د ماشومانو په روزنه کې رول لري.

يا:

مال، اولاد ، جاه او جلال هيڅکله نشي کولای انسان ته ارام ښوونکي وي؛ ځکه يوازې د خالق پروردګار په يادولو د انسان زړه سکون او آرامتيا پيداکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۸- کرښې (–)؛ خط فاصله يادش( - )dash**

نور معادل نومونې يې ببلنې. کش، خطک، فاصله، دش، کرښه دغه کرښه د جملې د ټاکلو واحدونو د جلاکولو او تعبيرولو په غرض استعمالېږي او د شدت له مخې سره چندان توپير نه لري، خو بيا يې هم شدت ترکامې ډير دی؛ لکه:

- چارلس ډاروين- د انګلستان مشهور عالم، چې په نولسمې پېړۍ کې خپل مشهور کتاب د ((انواعو بنياد )) به نامه وليکه، په اروپاکې يې لويه هنګامه خپره کړه.

د خط فاصل د کارونې ځايونه:

۱- کرښې (خط فاصل)، په هغو ختونو کې هم کارول کېږي ،چې يوه موضوع له بلې سره توپير لري او بيا يو دم ورسره وتړله شي؛ لکه:

ده دليلانبه خوی، ښکلا او تحصيل پوره وستايل- بيا يې د خپل ورورلپاره دواده غوښتنه ځينې وکړه.

۲- ځينې معترضه جملې يا عبارتونه ، چې د يوې جملې په دننه کې راځي، په کرښيو يا لنډکيو خطونو کې ليکل کېږي، لکه:

- خواريکښ او مسلمان خلک هيله لري- البته آرزويې واقعي ده- چې بايد ظالم له منځه لاړ شي.

- حضرت پيغمبر (ص) او نورو بيغمبرانو د ټولو انسانانو لپاره په ګډه هيله درلوده، چې د دواړو کونوژوند يې له ښېګنې ډک وي.

۳- کله چې د جملې يا کرښې په سر کې رقمونه يا د الفبې توري راشي، هلته هم کرښې راځي؛ لکه؛ ۱-۲-۳- الف-ب-ج-د-و- هايفن (کرښې) علاوه پرنوموړو ځايونو د سوال او جواب په وخت کې او همدارنګه په يوه ادبي او هنري اثر کې د ډيالوګ کوونکو د نومو پر ځای استعماليږي؛ لکه:

(سوال) – ته په آزموينه کې بريالی شوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جواب) –هو.

... زما سمه نه ده زده. ته خو درواخله يوه غاړه، دايې شپيلۍ.

- نه يې شم ژغورلای. زما ښتنته!

- هيله کوم.

- باور وکړئ؛ نه يې شم وهلای.

- زارۍ درته کوم.

- هيڅ يې په ژغولونه پوهيږم، زما ښتنته!

- اسانه کاردی، لکه درواغ ويل. بټه ګوته اونورې ګوتې دې پردغوورنونو(ران) باندې کيږده.

**٩- وړه کرښې (–) نښلوونکې (Hyphen):**

د کرښې او وړې کرښې ترمنځ د استعمال او کاروني توپير شته، کرښې لکه مخکې چې وويل شول د ليک نښو يو جز (توک، برخه) وه، خو وړه کرښې بيا داملاً په برخه کې د کلمو په دننه کې کارول کيږي. ((يعنې وړه کرښې هغه وخت د استعمال او کارولو ځای لري، چې کله يوه کلمه په سيلابونو سره جلا شي، ځينې سيلابونه د ليکې (خط، سطر) په پای او ځينې يې د بلې ليکې په سر کې راشي، نو د مخنۍ ليکې په پای کې وړه کرښ استعماليږي.)) (٧: ٨٠-٨١)

وړه کرښې يا هايفن د ځينو هغو کلمو په منځ کې هم راځي، چې د هغو له يوځايوالي ښخه مرکبه کلمه يا اطلاح رامنځته شي، لکه:

- د ټولنيز-اقتصادي جوړښت د مفکورې عميقه (ژوره) پوهه د تاريخپوهنې اساسي مساله ده.
- سياسي- اجتماعي انقلاب هغه وخت په يوه ټولنه کې بريالي وي، چې وګړنيز مرامونه عملي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰- لیندۍ ( ) دوې لیندکۍ، قوسین، کمانک، هلالین، پرانیز ():**

لیندۍ هم د تنقیط علامو له جملې څخه ده په لیندۍ کې ( فرعي او تشریحي ) عبارتونه راځي لیندۍ او کربښۍ کابو یو ډول دنده لري، خو دومره توپیر سره لري، چې کربښۍ پر توضیحاتو باندې ټینګار ( تاکید ) کوي او هغه ته نظم او انسجام ورکوي

په لاندې مثال کې دواړه ډوله ورښیو:

- ➢ لیلا -( د شهلا خور )- په ښوونځی کې اول نمره شوه.
- ➢ لیلا ( د شهلا خور ) په ښوونځی کې اول نمره شوه

په اوله جمله کې ( د شهلا خور ) عبارت چې په کربښیو کې راغلی، دا ښيي: هغه لیلا چې د شهلا خور ده، په ښوونځی کې اول نمره شوې ده، خو په دویمه جمله کې چې ( د شهلا خور ) عبارت په لیندیو کې راغلی دی، د لیلا د پېژندنې لپاره کوم تاکیدي عبارت نه دی، بلکې دا خبرې دا معنا لري، چې یوازې او یوازې لیلا و شهلا سره خویندې دي.

د لیندۍ د کارونې ځایونه:

الف- په لیندۍ کې فرعي او غیر اصلي تبصرې هم راځي، یا په بله وینا په لیندو کې غیر اصلي تبصره لیکله کېږي، لکه:

- احمد چې کورته لاړ ( زه د مطالعې د زده کړې په قوانینو بوخت وم ) خپل کشر ورو ته یې په آزموینه ډېرې لارې-چارې ور وښوولې.
- د فلسفې علم ( چې زده کړه یې لازمه ده ) د ټولو علومو مور ده.

ب: د یوه شخص د ژوند او مرګ نېټې هم په لیندیو کې راځي، لکه:

- احمد شاه بابا ( ۱۷۲۳م-۱۷۷۲ م ) د پاني پت په جګړه کې بریالی شو.
- ډموکریت( ۴۶۰ ق م-۳۷۲ ) په فلسفه کې د لرغوني یونان ژوندی دایرة المعارف و

(c) ketabton.com: The Digital Library



- فیثاغورث د لرغوني یونان لومړنی فلیسوف په ( شمیږمه قبل الملاد ) کې ژوند درلود
- د کسوف( لمرنیولو ) د پیښې وړاندوینه یوناني پوه او فیلسیوف تالس په ( ۵۸۵ ق م ) کې کړې ده.
- تالس د ټولو موجوداتو د ژوندي پاتي کېدو لپاره لومړی ماده ( اوبه) بللی دي.
- د جغرافیوي نقشې ترسیم د لومړي ځل لپاره د یوناني پوه او فیلسوف ( اناکسماندروس ) له خوا شوی دی.
- یوناني پوه هراکلیت ( اور، روح او خدای ) یو شی بللي دي.

ځینې وختونه په لیندیو کې شمېر یا کوم توری ددې لپاره راځي، چې شمېر او ګڼه وښیي، لکه:

- د انسانانو لومړنۍ اړتیاوې (۱) ډوډۍ، (۲) کالي او (۳) کور دي.
- د یوې ټولنې د بشپړ تحلیل په وخت کې باید (الف) د ټولنې زېربنا ، (ب) سربنا ، (ج) ټول ذهني شرایط په نظر کې ونیول شي.

همدارنګه په سوداګرۍ او حسابي معاملو کې رقمونه په لیندیو کې راځي، لکه:

- د محمود د کور کرایه ( ۲۰۰۰۰ ) افغانۍ او د نسیم د دوکان ټوله بیه (۱۰۰۰۰ ) افغانۍ ده.

ج- د یو لیکوال په نظر ، (( کله چې پوښتن نښه د شک یا طنز او کترې په توګه استعمالېږي، باید په لیندیو کې راوړله شي، لکه:

- په آزاده نړۍ (؟) کې مطبوعات ( ! ) د محرومې طبقې په ګټه ( ! ) کار کوي.
- خالد جانه ! ځومره زړه درد ( ! ) یې ))( ۳: ۵۴ )

د خدای بښلي استاد څېړنوال محمد صدیق روهي په وینا : (( البته د دغسې پوښتن نښې پر ځای د (( په اصطلاح )) ، (( تش په نامه )) او (( نام نهاد ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکيبونه هم راځي. دا خبره دې زموږ په ياد وي، چې يوه جمله کې تر لينديو مخکې کومه بله ليک نښه بايد رانه شي. که چېرې د کامې يا کوم ټکي اېښودلو ضرورت هم پېښ شي، بيا نو لازمه ده، چې تر ليندیو وروسته راوړل شي. )) ( ۹: ۱۲۷)

**۱۱- غبرګې ليندۍ (( )) يا (( )) يا « »**

د نقل نښه، ناخونک، ووړ قوس، د اقتباس نښه، ګوسشن مارک ( Quotaion mark ) او په فرانسوي کې Les Geuille mets هم ورته ويل شوی دی.

غبرګې ليندۍ د جوړه پنزو مقابلو کامو څخه جوړېږي او د يو ټاکلي شخص وينا په کې خوندي کېږي، لکه:

- محمود وويل: (( د ټولنې تکامل تر هر څه لومړی د توليدي قوتونو په تکامل پورې اړه لري. ))

د استعمال ځايونه:

۱- ټول مستقيم بيانونه په غبرګو ليندیو کې راځي، مثال:

- يوه استاد په ټولګي کې د ليکوالۍ د تکامل او پرمختګ په برخه کې داسې وويل: (( په يوه ژبه کې ليکوالي هغه وخت پرمختګ او تکامل کولای شي، چې ټول قلموال په تېره ځوان پښت يې په زړه خوږۍ او رسالت او تخصيصي ورتيا سره کار وکړي. ))

يا (( مدنيت يو داسې عمومي او ضروري بهير دی، چې نه يوازې په طبيعي پېښو او شيانو کې ليدل کېږي، بلکې تمدن، بشريت د مثبتو هلو ځلو په نتيجه کې هويت پيدا کولای شي. ))

يو زده کوونکی د ټولګي په آخر سر کې ناست و، په ډېره حيرانتيا يې له ښوونکي څخه دا پوښتنه وکړه، (( انساني ټولنه، په خپل لومړي سر کې په همدغه او سني شکل سره نه وه ؟ ))، ښوونکي په خندا جواب ورکړ، (( نه ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که چېرې په غبرګو لينديو کې دننه د کوم چا خبرې د يوه بل د ربېم سرې په استناد وشي هلته نو دغه وورستی خبرې په مفردو نقلي نښو ( Single Quotation mark ) کې ليکلای شو ، د بېلګې په ډول:

محمود وويل، (( زه به هېڅ وخت د ټولنپوهنې په زده کړه کې دغه خبره هېره نه کړم، چې وايي (( د ټولنې تحليل د زېربنا څخه پيل کېږي. ))

يا : ميرويس پوښتنه وکړه : (( دا خبره د چا ده چې ژوند د سيند په شان دی؟ ))

۳- د مختلفو عنوانونو لپاره هم غبرګې ليندۍ کارول کېږي؛ د کتابونو ، شعرونو لويو نومونو ، مجلو ، ورځپانو او داسې نورو مفهمونو نومونه هم د ځينو جملو په دننه کې په غبرګو لينديو کې راځي؛ لکه:

- د خوشحال خان مشهور اثر (( دستارنامه )) او د ګورکي (( مور )) د پښتو او نړيوالو ادبياتو لپاره خورا درنه خزانه ده.
- يا : (( غوره نثرونه )) د پښتو معاصرو ادبياتو يو ريالستيک اثر دی.

۴- کله چې په يوه جمله کې يوه کلمه توضيح کېږي، هغه هم په غبرګو لينديو کې راځي؛ لکه:

- کله چې د (( مرچو )) پر کلمه او نوم خبرې کېږي، نو تريخوالی ډېر ژر د سړي په ذهن کې راپيدا شي.

۵- د ځينو نورو ليک نښو سره د غبرګو لينديو استعمال هم شته:

اول: کوم وخت، چې کامه يا ټکی په داسې جمله کې راشي، چې هلته غبرګې ليندۍ کارول کېږي، هلته نو لازمه ده، چې نوموړي دوه ليک نښې د غبرګو لينديو په دننه کې راوړل شي؛ مثال:

- سرور وويل: (( هو؛ محمود د کريم ورور دی. ))

دويم: ځنډ نښه او څرګند نښه بايد تر غبرګو لينديو د باندې استعمالېږي، بېلګه:

دی وايي: (( زه ښار ته لړ ځم. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ده محمود ته دا خبره وکړه او ويې ويل: (( پرښو تلوار، په بدو تامل )) يعني دا چې ښه کار بايد ژر ترسره شي، ځکه د ترسره کولو چانس يې کم وي او وخت يې تېرېږي، خو په بدو چې انسات ته ممکن آينده خطرونه ورپېښ کړي، سوچ او صبر په کار وي.

درېيم: د غږ نښې او کرښې استعمال د جملې په حالت پورې هم اړه لري؛ په دې معنا که چېرې کومه ليک نښه په غبرګو ليندېو اړه ولري، په دننه کې يې راځي او که په ټولې جملې پورې تړلې وي، بيا نو د جملې په پای کې او تر غبرګو ليندېو وروسته راځي؛ لکه:

- پلار مې پوښتنه وکړه، (( لوست دې وکړ؟ ))
- ځوک به دغه ونه مني چې: (( ماده عينيت لري. ))

**۱۲– نيخکونه [ ]، قلاب، ولاړ قوسونه( barckets )**

مترادف نومونه يې قلاب، لوی قوسونه، عمودي ليندۍ، ولاړ قوسونه او Barckets دي.

لوی قوسونه يا په کندهاری لهجه کې نيخکونه په ليکنه کې لږ استعمال لري.

د کارولو ځايونه:

أ. نيخکونه، په عمومي توګه د غبرګو ليندېو په دننه کې د يوه بل سرې خبرې ساتي؛ يَعني هغه وخت چې په غبرګو ليندېو کې دننه ځوک د کوم بل چا وينا راوړي، هلته نيخکونه استعمالېږي البته دغه ډول وينا کله کله په مفردو نقلي نښو کې دننه راځي؛ لکه:

- ښوونکی د لوست په وخت کې وويل: (( پخوا داسې باور و ،چې ځکه د کايناتو مرکز دی، خو کوپرنيک دا کشف کړه، چې [ ځمکه د نورو سيارو په شان د لمر په شا اوخوا راګرځي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب. ولاړ قوسونه يا نيخکونه د دې لپاره کارول کېږي، چې په غبرګو لينديو کې دننه د کوم بل چا پر وينا تبصره کړي وي؛ لکه:

- کبير وويل: ((احمد د داروين مشهور کتاب (د انسان تسلسل) زيات خېړلی او د داروين يو ازينی عمده اثر يې بللی دی؛ [خو زما په عقيده چې د (انواعو بنياد) مشهور اثر يې لومړنی هغه عالي اثر دی، چې په اروپا کې يې هنګامه خپره کړه.]

ج. کله چې يو مطلب د کلام اصل نه وي، د قلاب يا نيخک يا ولاړې ليندۍ په منځ کې راوړل کېږي؛ لکه: [معنا داره مسکی کېدل] په نمايشنامو کې اجرايي دستورونه (عملي کوونکي دستورونه) په قلاب کې نوشته کېږي؛ مثال:

احمد [په پريشانۍ سره] وويل نه غواړم يو قدم پر دې لاره نور هم وړاندې لاړ شم.

يا: [اوس اوس لا د دوو سترګو آشنايي هم نه ده پاتې.]

داسې ځوک اوس نشته، چې داسې څه ووايي يا وکړي، چې [د سړي زړه او به پرې وځنبي.]

يا په لنډۍ کې:

عالمه مينه مينه نشته

[سوداګري ده يو پر بل يې خرڅوينه]

**۱۳- مميز (/) بېلنی، تميز:**

دغه نښه د سنواتو، يا سورتونو د بېلولو لپاره کارول کېږي؛ لکه:

الف: د هجري، قمري يا ميلادي کلونو د جلا والي په برخه کې، د بېلګې په توګه:

- محمد بن جرير طبري، په ۲۲۴ ه، ق / ۸۳۹ م کال په آمل کې وزېږېده او په ۳۱۰ ه، ق / ۹۲۳ م کال کې ومړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د افغانستان د ټولنيز بدلون لپاره له ۱۳۸۰ ه ش تر ۱۳۹۳ ه، ش چې ۱۹۹۲ م تر / ۲۰۱۴ م پورې ډېر مهم دی.

ب: د قرآنکريم د سورو د شمارو لپاره کارول کېږي؛ له راسته خوا لومړی د سورې شمار، وروسته آيت راځي او مميز ځخه کار اخيستل کېږي؛ وګورئ:

- ان احسنتم احسنتم لانفسکم و ان اساتم فلها ( قرآن، ۷/۱۷)
- يا کل امری بما کسب رهين ( قرآن، ۵۲ / ۲۱ ).
- کلا ان الانسان ليطغی ان راه استغنی ( قرآن، ۹۲ ، ۲/ ۷)

(۱ : ۵۲، ۱۷، ۷)

**۱۴- ليدلوري يا جهت نما ( )**

ليد لوری، فلش يا ريبنکی هم نومېږي، او په لاندې ځايونو کې کارول کېږي؛ لکه:

الف: د يو ترتيب د ښوولو يا د يو امر يا کار د نتيجې ورکولو په برخه کې استعمالېږي؛ لکه:

← مخکې پخوا پخواني
← وويل ويې وې ويل يې
← کوشش کول کوش کوشش
← ليدل ليد ديدار

ب: د ر.ک –وګورئ، ودې کتل شي، مراجعه دې وشي؛ لکه: د (( خپلواکی ))کلمه د (( شکر، حمد او ثنا، لمانځنې، منني، حق پېژندني )) په معنا ده او ځلورمو او اتمو پېړيو کې ډېره کارول شوې ده، د شعري او نثري متونو لپاره د لرغونې دورې متون وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵- ټينګار نښه ( ـــــــ )، تاکيدي نښه**

دغه نښه يا علامه له ( دش ) يا ( خط فاضل ) يا منبولنۍ سره توپير لري، ټينګار نښه په دې معنی ده، چې موږ يوه موضوع په خپلو ياداشتونو يا ليکنو کې ډېره جدي ګڼو، له هغې کلمې يا لکينې يا پاراګراف لاندې د ټينګار نښه تيرو يا ږدو.

يا په بله وينا کله کله ليکوالان په خپلو ليکنو کې داسې کلمې، جملې پاراګرافونه راوړي، چې نسبت نورو کلمو، جملو او پاراګرافونو ته يې اهميت زيات وي او يا يې هدف دا وي، چې پر ځينو عناصرو او مسايلو باندې تاکيد وکړي؛ نو دلته لازمه ده، چې دغسې کلمې، جملې او پاراګرافونه د ليکنې تر نورو برخو روښانه او برجسته وښوول شي. د دې کار لپاره نوموړي مطالب يا بايد د خط په يوه بېل طرز وليکل شي، لکه نسخ ليک ( خط ) کې نستعليق* يا شکسته* ليک، يا د دې برعکس او يا يې تر لاندې مستقيمه کرښه ( ليکه ) وکښل شي، چې د لوستونکي توجه جلب کړي.

اروپايان ۵ ايټيليک ليک Italic type italics استعمالوي او موږ کولای شو د ژباړې په وخت کې هغه ليک په نستعليق واړوو. ايټيليک ليک له چپې خوا له انګليسي غوندې ليکل کېږي.

زموږ لپاره طباعتي ستونزې شته، ځکه تر نن پورې داسې ماشين نه دی جوړ شوی، چې نستعليق توري ترکيب کړي او نن سبا دغه خبره کمپيوټري ليکنو ته راوتلې ده، چې کېدای شي په کمپيوټر کې جوړ شي.

لازمه دا ده، چې تاکيدي او مهم عناثر يا برجسته وليکو او يا ترې لاندې کرښه وکاږو ؛ لکه:

- د هرې ټولنې په تېره زموږ لپاره بنايي <u>خپله ديداري وساتو</u>.
- کور، کالي او ډوډۍ، چې په يوه ټولنه کې نه وي، <u>هلته ژوند نشته او ژوند کمزوری دی</u>.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټينګار نښه؛ د ورځپاڼو، مجلو، کتابونو، ډرامو، نکلونو او داسې نورو نومونه هم به داسې تورو سره ليکل کېږي، چې د عادي تورو څخه توپير او برجستګي ولري؛ لکه:

- کابل مجله هره مياشت يو وار خپرېږي.
- د شکسپير (روميو او جوليت) ډرامه ډېره مشهوره ده.

هغه کلمې او عبارتونه چې بحث پرې کېږي او يا د اصلي پاګراف څخه پرته تر ښېرنې لاندې وي، بايد په نستعليق يا برجسته تورو وليکل شي؛ لکه:

- پښتو ژبه چې بېلې بېلې لهجې لري؛ لاس په لستوني اصطلاح يې په هره لهجه کې نه ليدله کېږي.
- ګورګوره، يوه داسې ميوه ده، چې په کندهار کې يې څوک نه پېژني، خو د پکتيا غرونه پرې ډک دي.
- وړمه ورځ، چې د محمود موټر چپه شو، د ترافيکو تر څېړنو وروسته څرګنده شوه، چې ټايرات يې مات شوي وو.

**۱۶– متفرقه نښې:**

متفرقه نښې زموږ په ليکنو کې نه کارول کېږي، خو اوس اوس کارول کېږي، دا ځکه چې انګليسي او نورې اروپايي ژبې ډېرې مروجې شوې دي او دا مهال زموږ د دولتي ادارو کلتور همدا دی، چې بيوګرافي يا سي-وي ګانې ډېرې پراخه ليکنې او ژباړنې په انګليسي ژبه دي، له همدې امله د متفرقه نښو يا انګليسي ليک نښو کارول په انګليسي ليکنو کې کارول کېږي.

پر دغو نښو سربېره، چې په دې ليکنه کې شرحه شوې دي، ځينې نورې نښې هم شته، چې په رازراز مواردو کې کار ځينې اخيستل کېږي؛ لکه:

دغه نښې که ټولې موږ نشو راوړلای، خو تر ډېره حده به دغه نښې او د دغو نښو شکلونه معرفي کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- سر تاو شوې کرښې Swang dash
یا: تاو شوې کرښه (~) Swang dash
۲- ډبل هایفن (=) // Double .h
۳- دویم خج (\) Grave accent
۴- کریټ Caret
۵- ورځ کرښه { } Brace
۶- ډبل کټار ! Double Dagger
۷- متوازي (//) Faralles
۸- یاستړاف (،) Apostrophe
۹- اول خج (/) Acute accent
۱۰- چپه بار ( \ ) Reversel virgule
۱۱- سیډله (،) Cedilla
۱۲- کټار (t) Dagger crass
۱۳- وور خپرکی (s) Section number cluse
۱۴- پاراګراف ( ) Paragraph (۱۵: ۳۶)

لنډه دا چې لیک نښې د لیکوالۍ پنه ټولو برخو کې د ستر اهمیت او ارزښت وړ دي؛ هېڅ هدفمن او متخصص لیکوال نشي کولای په لیکوالۍ کې د (لیک نښو) له ارزښت څخه سترګې پټې کړي.

آن لیک نښې یوه لیکنه د غوره والي او بې خونده لیکنو په قطار کې درولای شي. د ستر خوشحال بابا په وینا لکه توره چې د ګوزار لپاره پکارېږي او زلفې د یار لپاره په شانه وهل کېږي؛ همدا سې د هر فن لپاره حدود او نښې شته، چې د لیکوالۍ لپاره لیک نښې یا علامه تنقط کارول کېږي.

توره چې تېرېږي خو ګوزار لره کنه
زلفې چې ولول شي، خو خپل یار لره کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۴–۲– د څلورم څپرکي لنډيز:

- ليک نښې (اعجابيه توري) يا علامت تنقيط نه يوازې په ليکوالۍ او مسلکي ليکنو کې کارول ضروري دي، بلکې په هر ډول ليکنو، کتابونو، مجلو، مقالو، لويو او وړو ليکنو کې يې راوړل حتمي دي.
- په ټولو ليکنو (له وړو مکتوبونو، خصوصي ليکنو نيولې بيا تر تحقيقي ليکنو پورې د ليکن نښو کارول ضروري دي.
- که ليک نښې په ليکنو کې ونه کارو، د کلمې، کلمو، جملې، جملو د ډولونو، پارګرافونو، عباراتونو، فقرو، مضمونونو، مقالو، رسالو، مجلو، کتابګوټو، کتابونو او ... توپيرونه سره ورکېږي.
- ليک نښې هغه ضروري توري دي، چې ليکوالۍ ته سر او صورت ورکوي، نه يوازې د شکل له پلوه ليکنو ته ښکلا ورکوي، بلکې په کلمو، جملو، پارګرافونو، مقالو او مضمونونو کې معنايي تغير هم رامنځته کوي.
- په هره ليکنه کې د ليک نښو د کارولو اړتياوې او ارزښتونه خورا ډېر دي.
- په مجموعي ډول ليکنې مسلکي لوری او مفهوم لري؛ هېڅ ليکنه يا ليکوالي تصادفي او اتفاقي کار نه دی؛ هره ليکنه که په هره برخه کې وي د غيرفني او مسلکي خلکو له خوا نه ده ترسره شوې، دا ځکه چې عادي خلک او ليکوال سره توپير لري.
- ليکوالي د يو لړ فني او مسلکي مهارتونو خپلول او کارول دي، چې تصادفي لوری( جنبه ) نه لري. دا کار ددې ترڅنګ، چې مسلکي دی، يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژمن او متعهد کار دی، چې الله رب العلیم څینو انسانانو ته وربښلی دی.

- که لیکنه او لکیوالي د هرې ټولنې لپاره د فرهنګي ترقۍ لامل او سبب کېږي، نو فني لیکنه یعنې له لیک نښو او تورو سره لیکنه هم په بشپړه توګه یوه اړتیا ده. لیکنه او لیکوالي د اعجامیه نښو د پرځای کارولو له مخې درسته بڼه او صحیحه محتوا خپلوي. اعجامیه نښې په لیکنه کې راوړل څکه اړتیا ده، چې (جملې، پاراګرافونه او نورې برخې سره بېلولای شو؛ د هرې لیکنې په صحت او درستوالي پوهاوی ترلاسه کولای شو. د هرې لیکنې شکل او محتوا سره توپیرولای شو او د لیکنې هر صنف له نورو بېل ترسیموو.
- په لیکنه کې د اعجامیه نښو کارول د لیکوالۍ د حدودو په ګوته کول دي؛ لکه ناوې بې سینګاره ښکلې نه ښکاري، لیکنه هم بې تورو او اعجامیه نښو بې حدوده او بې ترتیبه برېښي.
- که لیکوالي یوه فرهنګي اړتیا ده، لیک نښې کارول په لیکوالۍ کې یوه روزنیزه ورتیا ده، له همدې امله دغه وړتیا د لیکوالۍ په ډګر کې دغه اړتیا رفع کولای شي.
- خدای بښلي روهي وایي: د لیک نښو څینې نورمونه په نړیواله سطحه منل شوي دي او له هغو سرغړونه د لیکوالۍ پرستیژ ته زیان رسوي، د مثال په توګه که (نقل قول) لپاره غبرګه لیندۍ استعمال نه کړو، زموږ څېړنه علمي ارزښت له لاسه ورکوي.
- په لیکنو کې په تېره بیا په ژورو علمي او تحقیقي آثارو کې لیک نښې پر خپلو ځایونو را نه شي او یا اصلاً د لیک نښو مراعات ونه شي؛ نه یوازې دا چې د متن په لوستلو کې ستونزې راپیدا کېږي، بلکې کله کله مشکله ده، چې سم او مطلوب مفهوم دې څینې واخیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په لیکوالۍ کې د لیک نښو پرځای کارول څو ګټې لري:
- یوه دا چې د لیکوالۍ هر صنف وربانديې مشخصولای شو.
- دویم ؛ دا چې د لیکنې په برخه کې زموږ پوهه ترې معلومیدلای شي.
- دریېم؛ لیکوال د متمدن پېښت او لیکوالۍ وارث ګڼل کېږي؛ لکه په معاصره دوره کې خدای بښلي الفت، رښتین، روهي او بیا نور...
- لیکوالي د هرې ټولنې فرهنګي اړتیا ده، له دغې فرهنګي بډاینې پرته د هغه ملت کلتوري کمزوري ډېره زیاته مقصوره نه ده.
- د لیک نښو په واسطه د لیکوالۍ د صنفونو حدود هم معلومولای شو او له دې سره سره لیکنه ښایسته کوو.
- په لیکنه کې د لیک نښو سمه کارونه لیک دود معیاري کوي؛ لیک نښې د هرې لیکنې د مطالعې په برخه کې د انسان فهم او درک آسانوي، ځکه نو په هره برخه کې د هماغه ژبې په ټولو لیکنو کې د لیک نښ، کارول یوه اړینه مساله ده.
- که په لیکنه کې لیک نښې ونه کارول شي یو ویاند لیکنه سمه نشي لوستلای. په لیکنه کې لیک نښې کارول سړی په مطالعه نه ستړی کوي او کېدای شي د څو پاراګرافونو له لوستلو وروسته دمه وکوي.
- خدای بښلی ګل پاچا الفت وایي، بې له تورو نه ځینې ټکي او نښې شته، چې د لیک په لوستولو کې دخل لري او یوه جمله یا کلمه له اشتباه او ابهام څخه ژغوري، یعنې د دغو نښو او ټکو په لیکلو سړی پوهېږي، چې په کوم ټکي باید سړی او کومه جمله په بلې پورې وتړي. د تعجب ندا ، پوښتنې، خطاب او نورو کیفیتو څرګندونه په همدغو نښو او ټکو کېږي، چې په لیکلو کې ډېر اهمیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ليک نښو ته په عربي کې اعجاميه علامې، په انګليسي ژبه کې ورته Punctuation، په فارسي دري کې نشانه ګذاري، علامت ګذاري او روش نشانه ګذاري ويل شوی دی.
- يو شمېر نښې او علامې دي، چې د ناخپلواکو (غيرمستقلو) يا بانډ مورفيمونو يا اداتو په څېر کومه ځانګړې معنا نه لري، خو که په ليکنه کې هره يوه په خپل ځای استعمال نشي، ليکنه خوندوره نه وي، کېدای شي اصلي مفهوم له لاسه ورکړي او لوستونکی به د لوستلو پر مهال تېروتنې وکړي.١
- پوهنوال محمد آقا شيرزاد په وينا، که ليک نښې او علامې په ليکنه کې پرځای وکارول شي، ليکنه به خوندوره او معنا لرونکې وي، مطلب به ترې ژر وا خيستل شي او هم به په لوستنه کې د لوستونکو د تېروتنې مخه ونيول شي.
- د ليک نښو زده کړه، د هرچا په ځانګړي توګه د ليکوال او ليکونکي لپاره ډېره اړينه ده، کنه نو لوستل او ليکل به مو تېروتنې او نيمګړتياوې ولري. د ليک نښو د کارونې او زده کړې اساسي موخه د جملو او عبارتونو د مفهوم وضاحت او صراحت دی.
- د اعجاميه نښو اړتيا دا ده که دغه نښې په يو متن کې ونه کارول شي، ممکن لوستونکی او په خپله ليکوال هغه معنا له مضمون څخه وانه خستلای شي، کوم چې د لومړي سري مطلب وي. د عربي، فارسي او پښتو ژبو ليک نښې يو ډول دي، د انګليسي ژبو بل، د عربي، فارسي او پښتو بل ډول.
- ډاکټر اسماعيل حاکمي او د ده ملګری د ليک نښو د اړتيا په برخه کې نظر لري او وايي: ((منظور از نشانه ګذاری رعايت قواعد سجاوندی و به کار بردن علامها و نشانه های است که خواندن و در نتيجه فهم درست

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطالب را آسان و به رفع پاره ( ټوټه ) ابهامها که از عدم انعکاس دقیق و روشن عناصر و دلالت گفتاری در نوشته پدید مي آید ، کمک کند. ) )

- لیکوالي ارزښتونه لري، په تالیف، تصنیف، ژباړه، په قطعو ، داستانونو ، وړو ، غټو ورځپاڼو ، مجلو ، سایټونو او نورو لیکنو کې د کارولو ارزښت ډېر دی.
- ټول ژمن، پوه او له ظرافت سره روږدي په تحقیق، تصنیف، تالیف او تخلیق پوه لیکوال نن په خپلو لیکنو کې، چې د مطالبو د ښېلتون لامل کېږي او د جملو له فهم او درک سره مرسته کوي؛ له لیک نښو ګټه اخلي. هغه لیکوال چې غواړي خپل هدفونه نورو ته په ښه ډول، ورو لېږدوي، باید اعجامیه نښې د لیکنو د لا ښه درک لپاره مراعات کړي او له دې لارې د لیکوالۍ ارزښت ډېر کړي.
- که غواړو لیکنه مو ارزښتمنه وي، باید لیک نښې د قاعدې له مخې وي، که د ګرامري قراردادونو او د لیکنې ژورو قواعدو ته پاملرنه ولرو نو هېڅکله باید دغه قاعدې هم هېرې نه کړو. که غواړو تېر وختونه خوندي کړو ، اوسنی حالت راتلونکو ته په واک کې ورکړو او د راتلونکې لپاره یو خوږ انځور ولرو او له اوسنۍ نړۍ خبر شو ، لازمه ده په لیکوالۍ پوه شو ، په لیکوالۍ پوهېدل په لیکنو کې د لیک نښو مراعتول دي.
- د لیک نښو د محتوا څرګندول د لیک اړوند کار دی. د لیک نښو وړ کارول نه یوازې لوستونکي ته د مطالعې لار ورښیي او کار یې آسانوي، بلکې لیکوال ته د شکل له مخې د لیکنې خلورخواوې هم روښانوي. که په خبرو او شفاهي پیغامونو کې د سر، لاسونو، ګوتو، اوږو، په قیافه کې بدلون او نورو غړو تغیر او اشارو څخه ګټه اخلو او پیغامونونه لېږدول آسانوي، خو په لیکنو کې د دې لپاره، چې د هغو غړو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکتونو زمینه نه ده مساعده، لیکوال ناچار دی، چې د لیکوالۍ له نښو ګټه واخلي، څو وکولای شي ترې د بره بریده رواني، عاطفي او یا د جملو آهنګ لوستونکو ته ور ولېږدوي.

- د لیک نښو بل ارزښت دا دی، چې د جملو بېل بېل واحدونه ځرګند او بیا په منطقي توګه سره تړي. که چېرې د لیک نښو دغه اصول ګډوډ او یا په سستۍ سره اېښودل شوي وي، بیا نو یقیني ده، چې لوستونکي د لیکنې څخه سم او پوره مطلب نه شي اخیستلای؛ د چا خبره په پوره سرګردانۍ به اخته او د چټک لوستلو بشپړ مخنیوی به یې شوي وي.
- د کاندیډ اکاډمیسن ظاهر افق په وینا ، ډېر وختونه یوه ټاکلي موضوع ځکه خرابوي، چې بې ارتباطه مسلې په اصلي موضوع ورګډوي او په دې کار سره خپله لیکنه ناتوانه او کم ارزښته کوي.
- په پښتو ژبه او ادب کې د لیک نښو تاریخ او کارونه په نوې او معاصره دورې پورې اړه لري. په پښتو ژبه کې لکه د نورو ژبو په لا تیني دورې پورې اړه لري، لږ د تامل وړ خبره ده. زموږ په هېواد کې علامه ګذاري د سراج الاخبار په خپرېدو (۱۲۹۲) د محمود طرزي له خوا مروج شوي دي، چې وروسته نورو لیکوالو وکارولې.

لیک نښې ډېر ډولونو لري؛ لکه:

( ټکي(نقطه) پوښتن نښه، ږغ نښه، کامه (کولن)، سیمي کولن یا ځنډ نښه، ځرګند نښه، کرښۍ، وړه کرښۍ، لیندۍ، غبرګې لیندۍ، ولاړ قوسونه یا نیخکونه، درې ټکي، ټینګار نښه، ستوري، ممیز، جهت نما او متفرقه نښو ویشل کېږي، چې هره نښه په خپل وار له مثالو سره پوره تشریح شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۴-۳- دخلورم څپرکي پوښتني

۱- ډاکټر اسماعيل حاکمي او د ده ملګري د ليک نښو د اړتيا په برخه کې کوم نظر درلود؟
۲- په ليکنه او ليکوالۍ کې د ليک نښو يا تنقط علامو ارزښت په ګوته کړئ.
۳- په ليکنه کې د ليک نښو د کارونې او اړتيا په برخه کې خداى بښلي استاد محمد صديق روهي کوم ډول فکر کاوه؟
۴- که په ليکنه کې ليک نښې پرځاى ونه کارول شي، آيا په شکل او معنى د مضمون کې تغير راتلاى شي؟
۵- يو مطلوب او سم مفهوم له ليکنې څخه کوم وخت ترلاسه کولاى شو؟
۶- په ليکوالۍ کې د ليک نښو پرځاى کارولو څو ګټې وښاياست؟
۷- د ليکوالۍ د صنفونو حدود د څه شي په واسطه معلومولاى شو؟
۸- په لنډه او مدلله توګه په ليکوالۍ کې د ليک نښو اړتيا په ګوته کړئ.
۹- د ليک نښو څو مشخص (ځانګړي) ارزښتونه څرګند کړئ.
۱۰- ليک نښو ته په عربي، انګليسي او فارسي ژبو کې کوم نومونه اخيستل شوي دي؟
۱۱- استاد محمد آقا شيرزاد په ليکنه کې د ليک نښو په برخه کې کوم نظر درلود؟
۱۲- د جملو بېل بېل واحدونه د څه شي پواسطه معلومولاى شو؟
۱۳- په فني او مسلکي ډول څه وخت ليک نښې زمونږ په معاصره ليکوالۍ کې کارول کېږي؟
۱۴- ټکى (نقط) په کوم ځاى کې کارول کېږي؟
۱۵- پښتو پښتو تشريحي قاموس کې د ټکي يا مکث نښې په برخه کې څه ويل شوي دي؟
۱۶- ټکى تعريف او په ليکنه کې يې کارول کوم ارزښت لري؟
۱۷- دوه ټکي يا شارحه څه ته وايي.؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- شارحه ( سر په سر ټکي ) په لیکنه کې د کوم هدف لپاره استعمالیږي؟
۱۹- دري ټکي څه وخت او چیرې په لیکنه کې کارول کیږي؟
۲۰- پوښتن نښه څه ته وایي او په لیکنه کې د کارونې ارزښت څه دی؟
۲۱- په څو ژوندیو مثالونو جملو کې سوالیه وکاروئ.
۲۲- غږنښه یا ندایه ( ! ) څه ته وایي او د کارونې ارزښت یې څه دی.
۲۳- په څو جملو کې د غږنښې کارونه په عملي توګه وښایاست.
۲۴- د کامې (ویرګول) یا کولن او سیمي کولن توپیر په څو جملو کې وکړئ.
۲۵- د فقرو ترمنځ د کامې د کارونې ځایونه او اړتیا په ګوته کړئ.
۲۶- په تابع او عمده جملو کې د کولن کارولو ارزښت په نښه کړئ.
۲۷- د ځنډ نښې د استعمال ځایونه په ګوته کړئ.
۲۸- کرښې یا خط فاصل یا دش څه وخت او چیرې په لیکنه کې کاروو؟
۲۹- لیندۍ او غبرګې لیندۍ څه توپیر لري هره یوه راوپیژنئ او په څو جملو کې یې مثالونه راوړئ.
۳۰- قلاب څه ته وایي؟
۳۱- ممیز یا بیلنۍ څه شی دی؟
۳۲- جهت نمایه لیکنه کې د څه لپاره کارول کیږي؟
۳۳- ټینګار نښه څه ته وایي؟
۳۴- آیا په عمومي ډول لیک نښې په عملي توګه د لیکنې په ټولو ډولونو کې مراعاتولای شئ؟
۳۵- متفرقه نښې په پښتو او دري لیکنو کې کارول کېدای شي او کنه او که یوازې په بهرنیو ژبو کې کارول کیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴-۴- د څلورم څپرکي ماخذونه


۱. قرآنکریم. ۷، ۱۷، ۵۲.

۲. الفت ګل پاچا. ۱۳۸۸ه ل ، لیکوالي ( املا او انشاء ). دویم چاپ، پېښور، بورډ ، ناصرباغ، رفعت کتابخانه.

۳. امیري، ملک ابراهیم. ۱۳۶۹ ه ل. چگونه املا و انشا بنویسیم ؟ ایران: تهران: خیابان آزادی، تامین اجتماعی استان تهران.

۴. اشراقي، سید علي محمد. ۱۳۹۲. آیین درست نویسي (املا ). کابل: نمایندګي الهدی. کتاب فروشي فرهنګ.

۵. افق، محمد ظاهر. ۱۳۶۲ ه ل. لیک نښې. کابل: د علومو اکاډمۍ د ختیزو ژبو ریاست.

۶. پښتو - پښتو تشریحي قاموس. ۱۳۶۲ ه ل. کابل: د علومو اکاډمۍ، د ختیزو ژبو ریاست.

۷. د ژبو او ادبیاتو مرکز, Willian Shahkespeare.۱۹۲۵.Hamlet, ۱۷th. Printing, New York. Newgarci.

۸. روهي، صدیق محمد. ۱۳۶۲ ه ل، لیک نښې ( تقریظ )، کابل: د علومو اکاډمي، د ختیزو ژبو ریاست.

۹. روهي، صدیق. ۱۳۵۴. د څېړنې لارښود. کابل: د علومو اکاډمۍ. د پښتو څېړنو مرکز.

۱۰. حاکمي، داکتر محمد اسماعیل. ۱۳۸۲. زبان ونگارش فارسي. تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انساني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱. شيرزاد ، محمد آقا. ۱۳۹۰. ليکوالي. کابل. د پوهنې وزارت. د ښوونکو د روزنې لوی رياست.
۱۲. طاهرخانی، استاد عبدالله.، ۱۳۷۴ ه ل. درست بنوسیم. تهران: مراکز تربیت معلم. چاپ سنگین.
۱۳. هلالي، عبدالحکیم.، ۱۳۶۲. ليک ښبې (تقریظ). کابل: د علومو اکاډمی، د خپرونو رياست.
۱۴. يون، محمد اسماعيل. ۱۳۸۷. پښتو ليکنی سمون. کابل: يون کلتوري يون.
۱۵. Webstores severthe. New collegiate. Dectionary. Indian Edition. Copyright ۱۹۲۹ by G.C. Merriam co second reprimi April ۱۰۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## ۵- د ليکوالۍ ډولونه

**پیلېزه:**
ليکنه او ليکوالي يو دوامداره کلتوري او فرهنګي بهير دی، چې په بشري ټولنو کې د خلکو د ژوند له دوام سره دوام مومي.
څومره چې بشري ټولنې دغه بهير ته ارزښت ورکوي، په هماغه اندازه ورسره د هرې ټولنې د مادي او معنوي کلتور اړخونه هم خوندي کېږي.
ليکوالي، چې ګڼ اړخونه لري، هره برخه يې د کلتور د يوې ژوندۍ برخې ځلونه کوي. تخليق، تحقيق، تصنيف، قطعه، ژباړه او ... د ليکوالۍ پراخ اړخونه ځلوي؛ له يوې خوا د کلتور او فرهنګ د خوندي کولو او له بلې لوري د ليکوالۍ د مختلفو صنفونو رديف بندي کوي او حدود يې معلوموي.
په دغه فصل کې دليکنې ډولونه، د لنډ ليک معرفي، ارزښتونه، تصنيف او د هغه اړتياوې، تخليق او تخليقي آثارو د دوام او فرهنګي بډاينې؛ او همدارنګه د هنري- ادبي او تخليقي آثارو توپير له غير تخليقي سره هم په ګوتو کېږي، چې په مجموعي ډول به درانه محصلين که خير وي د ليکوالۍ د تحقيقي او تخليقي صنفونو په برخه کې هم پوره پوره معلومات ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵–۱– لنډ ليک يا لنډه ليکنه :**

مخکې له دې چې لنډه ليکنه معرفي کړو، بايد په لنډ ډول ووايم، چې لنډه ليکنه (فني ليکنه)، لنډه ليکنه (قوي ليکنه)، لنډه ليکنه لوی مفهوم لېږدونکې ليکنه ده؛ خو اصلي شرط په اصلي مفهوم نغاړل او راوړل وي.

که يوه ليکنه څومره لويه وي، چې هره محتوا ولري او په هر کالب کې وي، خو چې (مقصدي) مفهوم په کې نه وي نغښتل شوی، هغه ښه ليکنه نه ده، که لنډه وي او که لويه، په زړه پورې ليکنه نه ده.

که د وخت د مخنيوي لپاره لنډه ليکنه کوو، که مو ليکنه ادبي، يا ژورناليستکي وي بده خبره نه ده، خو که ليکوال (مرکزي مفهوم) په ليکنه کې نه وي راوړی، نو دا کار بيا هم زموږ وړه او لنډه ليکنه نه بامفهومه کوي.

هره ورځ زموږ په شا او خوا کې زياتې او ډېرې پېښې رامنځته کېږي، خو د وخت د کموالي له امله ورځپاڼې، راډيو او تلويزيون نه شي کولای دا ټولې پېښې تر پوښښ لاندې راولي. د هر خبريال په خبر موږ هم ناچاره يو د وخت د سپما هڅه وکړو او خپله ليکنه يا ريوټ تر هغه ځايه، چې ممکن وي، را لنډ کړو.

- نن، سبا د خبري او ژورناليستکي او هنري مضمونونو او مطلوبونو د ليکنو تر څنګ تحقيقي او معلوماتي ليکنې هم لنډې ليکل کېږي، ځکه د هنري ادب په دنيا کې تر رومانه، ناول، له ناوله داستان او له داستان څخه لنډه کيسه خلک ډېره خوښوي او هغه هم ددې لپاره چې خلک هر ډول بوختياوې لري، لوی لوی داستانونه نه شي مطالعه کولای، خو دا خبره کول ضرور دي، چې (موږ بايد په هره ليکنه کې خپل علمي او فني صلاحيتونه وکاروو او خپل مسلکي رسالت له پامه ونه غورځوو). يو ليکوال نظر لري: ((تر دا وروستيو وختونو پورې زده کوونکي، ليکوالان د راډيو او تلويزيون کارکوونکي د لنډې ليکنې او يا له يوې ليکنې څخه د شيرې راويستلو او يا لنډې ليکنې لپاره د يو چوکاټ په جوړولو کې دوه زړي وو، خو د هغه هڅو په ترڅ کې، چې په دې وروستيو کې د نړۍ په خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



معتبرو پوهنتونونو کې ترسره شوي د لنډې ليکنې او له يوې ليکنې يا راپور څخه د (شيرې) را ايستلو لپاره ځانګړې چوکاټ په پام کې نيول شوي. په ډېرو پوهتونونو کې او سمهال لنډه ليکنه د يو صنف په ډول کارول کېږي او د ليکنې راپور شيره د اسم په توګه د استعمال وړ ده.)) (۱۱:۱)

- اصلي خبره دا ده، چې په لنډه يا اوږده ليکه کې د پام وړ موضوع (محتوا) را ونغښتل شي، د ليکنې لنډون د يوې موضوع يا ليکنې په اصلي بڼه تکرارول دي، چې له معمول سره سم د هرې ليکنې په پای کې راځي. د (ليکنې د لنډون اصلي موخه په لنډو ټکو کې د لوستونکي پوهول دي؛ نو په دې توګه ويلای شو، چې لنډون له يوې موضوع څخه د پايلو اخيستنه ده، خو د يوې ليکنې (محتوا) هغه څه دي، چې د ليکنې په پيل کې د لوستونکو يا مقابل لوري د پوهاوي لپاره کارول کېږي.
- په ادبي ليکنو کې په تېره تحقيقي ډګر کې لنډه ليکنه کول يو فني او مسلکي کار دی؛ د مثال په ډول که وغواړو موږ يو غټ کتاب (د پښتو ادبياتو دويم ټوک تاريخ) په پنځوسو يا سلو او يا لنډو مخونو کې راوړو، لازمه ده (هغه مرکزي او د تمرکز وړ موضوعات (درسي موضوعات) په خپله ليکنه کې را واخلو، چې موږ هدف ته رسوي، يا د ليف تولستوی (جګړه او سوله) کتاب همداسې در واخله. په ادبياتو کې مهمه دا ده، چې موږ په يو غټ کتاب يوه وره، خو با مفهومه انتقادي او څېړنيزه ليکنه وکړو، يعنې يوه مقاله بايد ستندرډ او څېړنيزه وي. عنوان، سريزه، څېړنه، نتيجه، لمن ليکونه او ماخذونه ولري (لمن ليکونه يا حاشيې د کتاب اصلي برخه نه ده او د متن سره متضاده کلمه هم کېدای شي

د يوې مقالې يا کتاب لنډون د ټولو برخو را لنډون دی، خو شيره (محتوا) يې هغه لنډيز دی، چې ښېلابېلې برخې په کې په پام کې نيول شوي نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵-۲- د لنډې لیکنې لرغونتوب:**

لنډه لیکنه نوې خبره نه ده، لنډه لیکنه د لیکوالۍ په ډګر کې له ډېره پخوا موجوده وه؛ له هغه مهاله چې انسانانو تازه خط او کتابت زده کړی و، انسانان اړول د انځوریز (تصویري) لیک په مرسته خپله موخه (هدف) لوستونکو ته ورسوي او داسې ویل کېږي، چې دوه درې یې تېرې کړې وي.

الف: په پخوا زمانو کې:

د نړۍ په پخوانیو ادبیاتو کې لنډې لیکنې د لیکنې ښکلا ته ډېر اهمیت ورکاوه، خو له ښکلا سره محتوا ملګرې وه. کلام الله مجید د اعجاز او ښایسته لنډو لیکنو یو ښه مثال دی. سر او پا احکام، امثال او متشابهات دي.

احکام الهي (نص) کیسې او تشبې ګانې په پوره ادبیانه، معجزه اسا، رساوالي، فصاحت، بلاغت او صراحت سره په دې الهي کلام کې وړاندې شوي دي، چې په یو وار اورېدو او دقیق ډول ویلو سره نه یوازې یو مسلمان او مؤمن وربانديې پوهېږي، بلکې د دنیا او آخرت پوره پوره تومنه ترې لاسته راوړي.

انا انزلناه فی لیلة القدر- تر آخره

۱- موږ دا قرآن د قدر په شپه نازل کړی دی.

۲- او ته څه پوهېږي، چې د قدر شپه څه ده؟

۳- د قدر شپه له زرو میاشتو څخه ډېره غوره ده.

۴- پرښتې او روح په هغې کې د خپل رب په اجازه هر حکم له ځانه اخلي، راکوزېږي.

۵- هغه شپه له سره تر پایه سلامتیا ده تر سهار ختلو پورې.۱: قرآنکریم. ثور القدر-۲۵، ۲، ۲

د پښتو ادبیاتو ستره تذکره (پټه خزانه) د محمد هوتک بن داود په څومره ساده، رسا خو کره او لنډه پښتو ژبه لیکل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیاوړي محقق زلمي هېوادمل په وینا: (( پټه خزانه د پښتو قدیمه ترلاسه شوې بشپړه تذکره ده، چې پیدا کېدو یې پښتو ادب ته نوې ساه ورکړه او محتویاتو یې زموږ د لیکلي مکشوف ادب تاریخ تر دوهم قرنه پورې ورساوه. د پښتو د ادبي تاریخ دغه مهمه وثیقه د خپل اهمیت، ارزښت په تاریخ او ادب کې ورته د ضرورت... چاپ شوې ده. )) (۲: خلورم)

پټه خزانه هغه سیف یا زېرمتون دی، چې درې خزانې خوندي کوي:

لومړۍ خزانه (۲۱) شاعران او لیکوال، دویمه (۱۰)، دریېمه (۱۳) لیکوال او شاعران چې له لیکوال دمخه، د ده د وخت او ښځینه شاعران په کې خوندي شوي دي؛ د اوسنۍ کره کتنیز انتقادي متن څېړنې له مخې نه یوازې علمي لنډه لیکنه ده، بلکې مدني لنډه او خوږه لیکنه هم ده: د اول ځل لپاره لیکوال پښتنې ښځې شاعران په نامه معرفي کړي دي، چې زما په نظر دا د رساو لنډې، خوږې او پخې لنډې او مدني لیکنې یو ادبي (غیز دودیز) شهکار ګڼلای شو.

په فارسي- دري ادب کې، چې لیکنه خورا قیمتي پخوانۍ او د پام وړ لرغونتیا لري، یو ځل بیا ګورو، چې سعدي شیرازي خپل شاعري په څومره خوږه او صریحه او لنډه پوهنیزه ژبه سره کړې ده او د محمد علي فروغي په وینا ( سعدي د ډېرو لیکوالو او شاعرانو پرخلاف داسې جملې سره تړلې، چې لفظ او معنا یې دواړه سره یو ځای کړي او خلکو ته یې مفهوم ژر رسولی دی؛ لکه:

بنی آدم اعضای یکدیگر اند          که در آفرینش زیک گوهر اند

چو عضو به درد آید زروزګار          دیګر عضوه هار را نماند قرار...

یا: د ګلستان هر حکایت د ساده، ظریف، پرمعنا او مثنوي نظم په قالب کې داسې مضامین راوړل شوي، چې هر چا ته د ژوند یو حتمي عبرت او درس ورکوي، تقوی ورپېژني او آن ډېر ناترسه انسان ته هم مرګ وریادوي او لږ تر لږه تفکر او سوچ ته یې هڅوي. د بېلګې په ډول:

د عدل، تدبیر او رایې په برخه کې به څه روان او لنډ نظم سره وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکایت

شنیدم که در وقت نزع روان　　به هرمزه چنین گفت نوشیروان
که خاطر نگهدار درویش باش　　نه دربند آسایش خویش باش
نیاساید اندر دیار تو کس　　چو آسایش خویش خواهی و بس (
۱۸ : ۱۵)

که سعدي (گلستان) چې په نثر ده را واخلو د پخوانی لرغوني یا کلاسیک فارسي نثر پېچلتیا او مطلوبیت (اوږدوالی) نه لري.

همداسې د پښتو ادب په نظم کې د عبدالرحمن بابا لنډ نظم وینه ده، هر څوک یې چې کلام مطالعه کوي له شک پرته د انساني ژوند ګڼ علمي اړخونه په خوږه پند آمیزه عرفاني ژبه بیانوي؛ لکه:

هسې تیز درومي دوران　　ګویا برق دی درخشان
د آسیا په څېر ګردش کا　　په زمین باندې آسمان
ککرۍ دي د سړیو　　چې اوړېږي تر دامیان
پیدا کېږي، فنا کېږي　　نه یې حد شته نه پایان
نه یې حد، نه یې پایان شته　　نه یې سر شته نه سامان
ځینې ډول وهي ښادي کا　　ځینې ویر کا د خپل ځان
ځینې شمع غوندې ژاړي　　ځینې ګل غوندې خندان... (۱۴: ۸۱)

که څه هم ما د نظم بېلګې راوړې، خو همدغه نظمونه که په نثر راوړو په ډېرو ساده کلمو سره خپل مطلب عالم تعقل ته په لنډه توګه لېږدوي.

ب: اوسمهاله لنډه لیکنه:

اوسمهاله لنډه لیکنه څو برخې لري په هر ډول لیکنې رسا او لنډې شوي دي. لنډه لیکنه د پښتو ادب په کلاسیکه دوره کې عالم افتخار خوشحال خان علیه الرحمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



( دستارنامه* ) وليکله؛ له هغه را وروسته خوشحال خان د نورو ارزښتمنو آثارو ترڅنګ ( دستارنامه ) وليکله، چې په حقه سره د شخصيت جوړوني يو وياړلی اثر دی. د دې ترڅنګ چې جلا جلا هنرونه او خصلتونه پکې تشريح شوي، د يوه مسلمان بافکره، باتميزه، قهرمان، په ځان ويسا (باوري) انسان انځور او کرکتر د هرچا مخته ږدي.

په دغه اثر کې لومړی شل هنره توضيح کېږي، بيا خصلتونه؛ په هر ډول زموږ مطلب د هغې دورې لنډ نثر دی، نه د دستارنامې د خصوصياتو او منځپانګې توضيح.

اول باب- په کتاب کې راځي: (( اول هنر د ځان د معرفت دی، دويم هنر د علم چې کسب باله شي، دريم هنر د خط، چې لازم ملزوم د کسب و کمال دی، څلورم هنر د شعر، چې پيرو د علم دی، پنځم هنر د تير اندازۍ دی، شپږم هنر د آببازۍ دی، اوم هنر د اسپ تازۍ دی، اتم هنر د ښکار دی، نهم هنر د شجاعت دی، لسم هنر د سخاوت دی، يوولسم هنر د ازدواج معاشرت دی، دولسم هنر د اولاد د تربيت دی، ديارلسم هنر د تاديب خدم وحشم دی، څوارلسم هنر د اسباب معشيت دی، پنځلسم هنر د زراعت د دهقانيت دی، شپاړسم هنر د تجارت دی، اوولسم هنر د تحقيق د نسب دی، اتلسم هنر د علم د موسيقۍ دی، نولسم هنر د نرد (شطرنج) او شلم هنر د تصوير د نقاشۍ دی. )) (۹ : ۱۱، ۱۲)

په کتاب کې هنرونه او خصلتونه په ترتيب تشريح شوي، زموږ مطلب د لنډ نثر راوړل و، د زياتو معلوماتو لپاره دستارنامه ضرور ولولئ.

د مصلح الدين سعدي شيرازي رح ( ۵۸۱ - ۶۹۱ يا ۶۹۴ ه ق ) ( ګلستان سعدي ) ، پښتو ادب ته عبدالقادر خان ( ۱۰۶۲ – ۱۱۲۵ ه ق ) کې راوژباړله او نوم يې ورباندې ( ګلدسته ) کېښود ه؛ ګلدسته د ګلستان پښتو ژباړه ده؛ ګلستان ( ۶۵۲ ) سعدي تاليف کړی دی، چې اخلاقي، تعليمي او نورو عامو ټولنيزو معنوي ارزښتونو او ښېګڼو برسېره د ژبني فصاحت او بلاغت ډېره غوره بېلګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته به د هغه نظم ځینې بېلګې و اخلو:

نظم:

(( عاقبت چې له جهان سړی لېږدي          بهتر دی چې ښه یادګار په جهان پرېږدي

په معنا کې هغه مړ نه دی حیات وي          چې ترې پاتې د نیکۍ کلمات وي

دا هومره عالم چې له جهانه په وار وار لاړ شه، له هېچا نښې پاتې نه شي که پادشاهان وو، که وزیران وو، نه سرایونه پاتې شول، نه پلونه، نه یې کوهي، نه یې باغونه، واړه په ګردش د ورځو، شپو خراب شول؛ نه یې نښې شته، نه یې ځایونه، اما خبر د انبیاوو علیهم السلام او د اولیاوو او تصنیفونه د علماوو زرګونه، سلګونه، کالونه تېر شول، نه ورکېږي، نه زړېږي، بلکې لا تازه کېږي، مونږ چې اوس ژوندي یو د چا په یاد نه یو او که مړه شو نو د چا به یاد شو، پس له مرګه به مو څوک یاد کړي، مګر یوه خبره یا یو کتاب که راځنې یادګار پاتې شي، څوک به مو یاد آوري وکاندې )) (۸: ۷۲)

د نولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د تاریخ لیکنې لرغونی ډول په نوي او معاصر ډول، چې ( عنوان، سریزه، متن او ماخذ ) او د خبر رسانۍ او ژورنالیزم په برخه کې (لید، سریزه او د نسکور هرم* ) په ډول رامنځته شول.

د امیرشیرعلي خان په وخت کې د ( شمس النهار ) جریدې لیکنه هم په لنډه توګه وه؛ خو په ماهرانه او مسلکي ډول د لومړي ځل لپاره د خدای بښلي علامه محمود طرزي له خوا (سراج الاخبار ) په لیکنو پیل وکړ، چې له شک پرته په عادي نثر او روانه ژبه و.

په پښتو ادب کې د لنډې مسلکي لیکنې دوره له ( ۱۳۱۰ هـ ل ) کال څخه را په دې خوا پیل کېږي؛ پښتو ټولنه په ( ۱۳۱۲ هـ ش ) کې جوړېږي.

په کندهار ( ۱۳۱۱ هـ ) او کابل ( ۱۳۱۲ ) کې ادبي انجمونونه رامنځته شول. له دې سره سره په ۱۳۲۶ هـ ل کال د ( ویښ زلمیانو ) غورځنګ رامنځته شو؛ د غه نهضت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبي، سیاسي، علمي او فرهنګي هدفونه درلودل، چې لیکنه یې په خوږه، ساده او محاوروي ژبو وي.
د ولس، انګار، هیواد، انیس... اخبارونه رامنځته شول، چې د (لنډ لیکنې) یا (صراحت لیکنې) بنسټونه یې لا پیاوړي کړل. له د برشمو کلونو بیا تر اوسه پورې (په ادبي، علمي، سیاسي، تاریخي، هنري، مسلکي، تحقیقي او ټولو برخو ...) کې ډېر ډېر پرمختګونه شوي دي.
د لنډې لیکنې محتویات (موضوع) جوړوي، چې د شکلي او معنایي سر او صورت په جوړېدو سره ژر بشپړېږي؛ لکه:
د عبدالرحمن بابا د (عارفانه تفکر) په برخه کې مقاله (موضوع، افکار، اقوال او ماخذونه) جوړوي؛ خو په خبر کې کله له (۳-۵) کلمو یو خبر په چټکۍ جوړېږي.

ج-ولې لنډه لیکنه کوو؟
لنډه لیکنه یو عادي او ساده متن دی. هنري نثرونه له دې امره وتلی، خو هغه هم که په لنډو جملو کې مطلب راونغاړل شي، خلک به یې ډېر خوښ کړي.
نن کالم ادبي لنډ مطلب، ادبي ټوټه او لنډه کیسه د خلکو د مطالعې ملګري دي.
د لنډې لیکنې لیکلو لپاره غوره دلیل د یو متن آسانه او ساده لوستل دي.
یو ایراني لیکوال (فیروزان) پوښتنه کوي.
هغه لاملونه چې یو متن له بله آسانه یا ستونزمنوي؛ کوم دي؟
بیا بېرته ځواب وايي، (... ښوولې، چې په متن کې د اوږدو جملو کارول په خپله متن د لوستونکي لپاره ستونزمنوي.)
که لنډه لیکنه د اصلي لیکنې هویت او موضوع ته تاوان ونه رسوي، په زړه پورې ده.

څنګه کولای شو لنډه لیکنه وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډ ليکل په دوو برخو ويشل کېږي:
الف–د ليکلو پر مهال د لنډې ليکنې طريقه
ب–د نورو آثارو د لنډې ليکنې طريقه، چې دا دواړه برخې د ځانګړو آرونو ( اصولو ) درلودونکي دي.

د لنډې ليکنې طريقه ( لار ):
که موږ وغواړو د خپلې خوښې پر يوه موضوع ليکل وکړو، څنګه کولای شو د اوږدو او نا ضروري ټکو او کلمو له راوړلو ډډه وکړو؟ د مثال په ډول يو محصل ته د (۲۰) کلمو يوه مقاله استاد وايي، چې وليکي؛ اول خو کومه موضوع؟ موضوع بايد راپيدا کړو. بيا استاد يو شعر يا ټاپيک ورکوي، د لنډې ليکنې لپاره عنوانونه يا ټاپيکونه له هر شي ټاکلای شو، خو په ژورناليزم کې تازه موضوع او په هنري ادبياتو کې ماندګار او تلپاتې موضوعات ( شعر، متل، نثر، وجيزه او ... )
په ادبياتو کې موضوع دوه ډوله رامنځته کېدای شي: ( ذهني او عيني )، خو په ژورناليزم کې عيني.
مثالونه:
شعر: چې پيدا شي همګي واړه فنا شي = اې رحمانه دا جهان دی، دا يې کار
کار همه په اراده د خدای موقوف دی = هېڅ موقوف نه دی د چا په انتظار ...
متلونه:
چې کرې، هغه به ريبې
بل ته چې په طمعه شې، هغه د ځان په کمه شي
يا:
ای په ځان له خپله ځانه بې خبره
ته معنی له معنا وغواړه بشره ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څراغ د معرفت دې په زړه بل شي
د ژوندون لذت به مومې سر د سره
عارفان د دواړو کونو ننداره کا
شو پرک په تياره ګرځي بې نظره

اوس نو لازمه ده لومړی يو بيت، يو پوره شعر، حديث شريف، متل را اخلو، ورباندې فکر وکړو، په معنى يې ځان وپوهو، عنوان ورته وټاکو، له عنوان سره نژدې مقدمه ورکړو؛ مقدمه د عنوان او متن ترمنځ د پل معنى ورکوي، متن ځبېړنه (اصلي موضوع) باندې پوره پوره تمرکز وکړو او هغه را وسپړو، لنډيز يې راوړو او ماخذ په ګوتو کوو او دا کار په (۲۰۰) کلمو کې راوړو؛ لکه:

دا بيت: ای په ځان له خپله ځانه بې خبره
ته معنی له معنی وغواړه بشره ...

پاملرنه:

الف - په ليکنه کې د بې ځايه کلمو له ليکلو ډډه وکړو:
موږ پورته بيت غوره (انتخاب) کړ، بايد په (۲۰۰) کلمو کې مقاله ورباندې وليکو او څنګه، چې مقاله له قول اخيستله شوي، نو بايد دغه قول ښه وپلټو او د پام وړ محتوا ترې راوباسو، کېدای شي په پورته هر بيت د (۵۰۰) کلمو مقاله وليکل شي، خو ضرور نه ده، چې ټول وليکو. لويه ليکنه وکړو نو:

۱- زموږ د درس او مطالعې مخنيوی کوي.
۲- زده کوونکي ستومانه کوي.
۳- د ګټې او تاوان روحيه غښتلې کوي.
۴- د نورو ليکنو او درسونو وخت مو نيسي.
۵- ځان بايد په لويه ليکنه کې سر درګم نه کړو يا نور ...

ب: په ليکنه کې د عمومي خبرو له ليکلو ځان وساتو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په اصلي موضوع يا نومورړي شعر پوره پوره تفکر نه وي شوی، سرې يا محصل يې په ليکلو ستړی کېږي. عمومي او تکراري کلمې په کې راوړي. په ليکنه ځان او نور ستومانه کوي. بايد د مقالې لپاره عنوان له خپلې ګېډې ونه ټاکو او نه نورې برخې له خپل فکر سره طراحي کړو؛ کولای شو پر موضوع زيات معلومات راټول کړو، خو هغه معلومات بايد نومورړې موضوع لا تشريح کړي، نه دا چې دويمه موضوع له اولې يا مورد نظر موضوع سره غبرګه کړو. بايد د منلو وړ جملې وليکو؛ د بېلګې په ډول:

الف- د نا اړينو (ناضروري) ټکو لرونکې جمله رانه وړو.

ب - مخکې له مخکې کلمې او جملې ونه ټاکو.

ج-رنګ شوې او مصنوعي کلمې په مقاله کې رانه وړوو !

رنګ شوې او مصنوعي کلمې پر فصل باندې د تندر معنی لري. د چا خبره ليکوال ختګر په څېر دی؛ يا د انجينری او ليکوالی يا ادبياتو سره ورته والی شته، توپير دومره دی، چې ليکوال له الفاظو تصويرونه يا تخيلي معماری جوړوي، خو ختګر او انجينر له ښتو. د دواړو مواد ښه او بد دي. که ليکوال ماهر و په خپله ليکنه کې ښه الفاظ او توري کاروي او همدانګه ختګر هم که ماهر و ، نو له ښتو او نيمه ښتو ښې ښاوي جوړولای شي او د هرې ښتې د استعمال موقعيت ښه پېژني.

د هنري ادب ليکوال کار دا دی، چې تل وړ مضمونونه په طبيعت او ماحول کې پيدا کړي او هغه د تخيل په قوت د کلمو له پيوستون څخه جوړ کړي، چې دا د ( هنري ادب ) په رامنځته کېدو کې ګټور دی.

ختګر هم مضمون لټوي او بيا وروسته د تفکر له مخې اندازه کوي.

دواړه د تخيل او تفکر په مرسته يو ايجاد کوي، خو يو هنري دی، بل عملي، معماري يا انجينري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لیکوال وغواړي خپل هدف خلکو ته ښه ولېږدوي، لومړی دې موضوع پیدا کړي او بیا دې ورسره مناسب مطالب او وړ الفاظ غوره کړي او په لنډه توګه یې اصلي هدف خلکو ته وړاندې کړي.
او ختګر کولای شي په همدې توګه ښه معماري په ښه ډول خلکو ته ډالۍ کړي.
ختګر یا انجینر هم د تفکر په وسیله په اجتماع کې د موقعیت او ماحول له درک سره سم نقشه جوړوي.
کار ورباندې کوي او بیا یې د عملي تطبیق هلې ځلې کوي، ځای برابروي، خو ځو مواد (تعمیر جوړونکي مواد) را برابر نه کړي، هغه تفکر او نقشه نه عملي کېږي، یعنې د یوې مانۍ د جوړولو نقشه هغه وخت عملي کېدای شي، چې وروستی عملیات (ځای، خښتې، ګاډر، لرګي، سمنت، اوبه او ....) ورباندې ترسره شي.
همداسې که د یو اجتماعي مضمون لیکوال غواړي، تشریح، توضیح او تحقیق وکړي، لازمه ده، هغه لازم ظرف او مظروف دواړو ورته ولري، یعنې معین مضمون په ټاکلي ظرف کې د لنډو او مناسبو الفاظو له لارې اظهار کړي.

په هنري ادبیاتو کې د رنګ شویو کلمو اړتیا:
لکه د انجینرۍ مثال په ادبیاتو کې د کلمو مصنوعي والی او رنګه توب هم اړتیا ده؛ مضمون آفریني د ادبیاتو یو اصل دی، د تفکر تعالی او لوړتیا ښیي، خو د تخیل په وسیله ترسره کېږي؛ تخیل هم مادي وي او هم معنوي، مګر تصویر جوړونه له موهوماتو (نامعلومه) شیانو نه ترسره کېږي. تخیل په یو معین ماحول کې د ذهني رنګه شویو ښکلاوو را ایجادول او موندل دي؛ لکه:
د غرونو د ښکلاوو الماسونو د اقتدار او ځان ښکاروني لافي شاپي کولې، وریځې به ترې خورې ورې تاو راتاو شوې، تا به ویل د باران د رحمتونو لمن لمن زیري له ځانه سره لري. ژمنیو واورو به د سپین ږیره مخ یخ شمال ورته ډالۍ کړ. آسمان به دا ټول لکه د مورنۍ تودې غېږې په لمن کې داسې سره راونغاړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرړی فکر کاوه ټول سره مينه او وينه دي، خو چې کله به يې د خپل رحمت او غرور تالنده پرې را پرېښوده، نو وريځې به د مغرورو پېغلو په شان خورې ورې شوې او هرې خوا به رحمت او ويره خوروله...

په ژورناليزم او ليکوالۍ کې مهمه خبره دا ده، چې متحد المال کلمې استعمال نه کړو.

بې رنګه کلمې هم ونه کاروو !

ځينې وختونه د مقالې د ليکلو پر مهال له ستونزو سره مخامخ کېږو، دا سې کلمې شته، چې نه رنګه شوې وي او نه رنګ لري، بلکې هغه کلمې دي، چې هېڅ رنګه نه لري. لکه د ( ښه ) کلمه، دا هغه کلمه ده، چې نشو کولای په ورځنيو خبرو کې ترې مخ واړوو، خو د ليکلو پر مهال ترې چنداني ګټه نشو اخيستلای. بې رنګه کلمې هغه دي، چې معنا يې ډېره عمومي ده، د يوې جملې په ليکلو سره هم په موضوع کې کوم زيات والی نه را ځي، خو ځينې کلمې شته، چې ډېرې پراخه او عمومي معنا لري لکه حال احوال، اړيکې، د ښېړنو پايلې، ببر سر، ښېرې ګريوان، نه سيخ بسوزه، نه کباب او ... دا لاندې ژورناليستکي ليکنه وګورئ:

په دې حال او شرايطو کې تاسو ګورئ، چې بايد ځينې لاملونه په پام کې ونيسو، ځکه که د ښېړنو پايلې ډاډمنې نه وي، نو دا به د دې لامل شي، چې لوستونکی سم او پرځای غبرګون ونه ښايي ))کله چې د (( او دا سې نور )) کلمه کاروو په حقيقت کې لوستونکي ته دا څرګندوي، چې غوښتل مو ډېر الفاظ هم وليکو، خو په خواشينۍ چې څه مو ونه شو ليکلای.

لنډ ليکل وکړو !

د لنډې ليکنې پر مهال بايد ليکنه رسا او بې تکليفه وکړو، خو په هنري ليکنو د بديعي صنايعو کارول ضروري او ښکلا راوړونکي وي، نو هرومرو ( څه ليکل، ويل او ورباندې پوهېدل ) ستونزور، خو له خونده ډک وي او د ( هنري ادبياتو ) د ليکوال دنده ده که به هر فورم کې ليکنه کوي، بايد له مفهوم، خوند، ايجاز او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعجاره ډکه وي، ځکه (هنري ادبيات ټولنيز واقعيتونه د سمبولونو له لارې انځوروي) او هغه سپړي او تفسير غواړي او کېدای شي کله ورباندې پوهېدل څه نا څه ستونزور وي. مګر (تحقيق او څېړنيزې ليکنې بايد لنډې، مؤخيرې، په ماخذونو او شواهدو ولاړې وي او که له مقايسوي ميتود څخه کار واخيستل شي، تحقيق به لا محقق شوی او ښکاره شوی وي. )

هر کله که يو ليکوال وغواړي ډېره معنى په لنډو ټکو کې وړاندې کړي، نو د ښې خونده او اوږدو جملو له ليکلو دې ډډه وکړي.

((د يو ليکوال لپاره د ليکنې د رالنډولو لپاره تر ټولو ستونزمنه مرحله د کلمو له منځه وړل دي؛ دا سې ښکاري، چې له ا وږدې ليکنې نه لنډ ليکل آسانه دي، ځکه له ناکاره بوټو څخه د يوه باغ د پاکولو په معنى دي. د ډېرو ليکلو ليکنو ليکوالو ته لنډ ليکل آسانه دي، خو به دې شرط، چې پرله پسې مشق او تمرين وکړي.))

لنډه دا چې (لنډه ليکنه، خوندوره ليکنه، له مفهمونو ډکه ليکنه ده، د هنري ادبياتو پنځونه او غوره تحقيق د يو ليکوال د تلپاتې، پرله پسې هلو ځلو او له ميني ډکو ستومانه هڅو او هاندونو نتيجه ده؛ دا ډول ليکنې له شک پرته پر يو چا يا يو ليکوال د الله رب العليم، حکيمانه پېرزوينه ګڼلای شو. يو ښه ليکوال د بشري ټولنې يو فعال او روغ زړه ته پاتې کېږي او بس!!)

د لنډې يا هرې ليکنې نچوړ (خلاصه) بايد وړاندې کړو!

وايي، چې ليکوالي يا لنډ ليکل هم علم دی او هم هنر، علم ځکه دی، چې په علمي او مسلکي ډول ليکنه کوو او په ليکنه پوهېږو او نور هم ورباندې پوهوو؛ او هنر د دې لپاره دی، چې خپل اهداف په ښکاره ا و طبعي ډول نورو ته د هنر په پسته او اعجاز آميزه ژبه لېږدوو.

((مورږ د دې لپاره لنډه ليکنه کوو، چې لو ستونکي زموږ له خوا د وړاندې شوي متن په معنى وپوهېږي؛ کله چې ليکوال د لنډې ليکنې آرونو ته پام وکړي په حقيقت کې يې د کلمو لنډون ته پاملرنه کړې ده...)) (لنډه ليکنه: (۷ : ۲۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عمومي ډول لنډه ليکنه يا زموږ ليکنه بايد په دې صورت کې لاندې ځانګړنې ولري:

۱) لنډه وي؛ د کلمو د شمېر له مخې...

۲) خوږه وي: د مفهوم يا فکر قوت ور کې ډېر او پياوړی وي.

۳) ساده والی ولري؛ يعنې ژبه يې رسا، ساده او طبيعي محاورې ته نژدې وي.

٤) چابک والی يې مهم اصل دی؛ په تېره په ژورناليستکي ليکنو کې د وخت موضوع ته چټکه پاملرنه د خبر يو اصل جوړوي، خو په تحقيق او هنري ادبياتو کې هم دا موضوع اهميت لري. د وخت ارزښت د مضمون له معاصرتوبه ښکاري. په ادبي او علمي ليکنو کې په ځانداره او معاصرو ليکنو کې د نويو مفهومونو لېږد د ليکوال پوره کاميابي ده او پښتو متل دی، چې: ((په ښو تلوار، په بدو تامل)) (۳ : ۹۸)

يعنې د وخت موضوع په وخت سره سپړل څه کم د خپل عصر د رازونو محفوظه ساتل او هم سپړل دي.

د انګليسي ژبې د بشپړ ګرامر ليکوال (احمد حسين مديري) وايي: ((لنډه ليکنه د مطلب ښه هضمول او د اړينو کلمو ليکل دی، چې لوستونکی وکولای شي.

د نااړينو کلمو پر لوستو د وخت د خرڅ پر ځای مخامخ د ليکونکي هدف ترلاسه کړي او زياتوي که غواړو يو متن را لنډ کړو، بايد لاندې ټکو ته پاملرنه وکړو:

۱) بايد د هغو کلمو لړليک (فهرست) برابر کړای شي، چې د متن په بېلابېلو برخو کې کارول شوي دي.


(c) ketabton.com: The Digital Library



۲) بايد د متن اصلي ټکي، چې يو له بله سره تړاو لري وټاکل شي او وروسته سره ارتباط ورکړل شي.
۳) د متن لنډيز بايد په يوه کرښه کې ځای شي.
٤) د ټاکل شويو لغتونو له کارونې تېرى ونه شي او دا هم په پام کې ونيول شي، چې له دې کلمو نه يې هم را لنډ کړو.

علي رضا عاصف، چې ايرانى ليکوال دى نظر لري ((لنډ ليکل د لنډې جوړونې په معنى دى او وايي، لنډه جوړونه هغه فن دى، چې په کارونې سره يې يو اوږد مطلب په يوه وړوکي چوکاټ کې ورځاى کړو، بې له دې، چې د متن منځپانګې او يا د ليکوال موخي ته کوم زيان ورسېږي.))

حضرت علي کرم الله وجهه څه ښه ويلي دي: ((خيرالکلام ما قل و دل ...)) (۲: ۴۳۳)




د لنډې ليکنې فني توکي:

- د بيا ځلي يا تکراري کلمو له منځه وړل.
- د بې ارزښته او لږ ارزښته کلمې په متن کې نه راوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د بې ارتباطه کلمو ليرې کول.
- په متن کې د بل متن نه داخلول، يعنې که متن ژورناليستکي و، بايد داستان يا کيسه ور کې ځای نه شي او که متن هنري، تحقيقي او علمي موضوعاتو پورې تړاو درلوده، نو بايد وچه او بلا وهلې ليکنه نه وي.
- د ژبې له پلوه ساده والی ولري.
- په هېڅ ډول ليکنه کې غوره مالي نه وي، ځکه (ليکنه که هر فورم کې وي د يوې ټولنې د عفتې (پاکو) احساساتو، اميالو، کارونو، معنوي، مادي او بلاخره کلتوري تړاوونو ساتل، زرغونول او بيا ځلول دي، نو ليکوال د ټولنې رښتينو امانتونو حافظه او قلموال ګڼل کېږي؛ د همدې لپاره الله تعالی په خپل علم په (قلم مبارک) سوګند يادوي: ((ن–والقلم و مايسطرون...))(۱: قرآنکريم) او ليکوال يې ښکاره او ښايسته منافع ساتونکی امانتکار ګڼلی او فرمايلي دي، چې: ((آن تو ادل امانات الا اهليها ...)) (۲: قرآنکريم).
- د اضافه جملو له کارولو ډه ډه کول.
- په وچو ژورناليستکي ليکنو کې له تمثيل، تشبې او نورو ادبي محاکاتو مخنيونه، خو په هنري ليکنو کې ورته ارزښت ورکول او راوړل ضرور دي.
- علامات تنقط مراعاتول.

د لنډې (هنري، علمي، ادبي او تحقيقي او آن ژورناليستکي) ليکنې لپاره ځينې د نظر خاوند درانه ليکوال لاندې ټکي په ګوتو کوي:

- متن ولولئ، چې د ليکوال موخه ونيسي يا يې په هدف پوه شي.
- اصلي جملې او کلمې وپېژنو او په ژورناليستکي متن کې د غو پوښتنو (چا؟ څه شی؟ چېرته؟ څه وخت؟ ولې؟ څه ډول؟) (استفهامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضمیرونه) کارولو ته ځواب ووایو او په (علمي، سیاسي، ادبي، هنري او تحقیق) لیکو کې (د څه لپاره یې لیکم، څه هدف لري؟ محتوا یې څه ډول ده؟ معنا یې څه ده ؟ کومې ټولنیزې ستونزې هواروالی شي؟ کوم ارمان انعکاسوي؟ یوه لېږدونکې ده کنه؟ لنډه او رسا ده؟ ژبه یې له کومو ظرافتونو ډکه ده؟ ګرامري او ژبني ځانګړنې ورکې مراعات شوي؟ (اول فصل ته دې مراجعه وشي)

- متن د دویم وار لپاره ولولو، چې په اصلي فکر، د شنني په طرز، د کلمو او جملو په کمزورۍ، تکرار او د لیکنې په فورم ښه وپوهېږو.
- د متن هغه برخې وپېژنو، چې په کومو جملو او کرښو لیکل شوي دي.
- په لیکوالۍ کې هر فکر په لنډو جملو کې ونغاړئ، په تېره په هنري لیکنو کې (کلمې او جملې غوره کړئ).
- د اروښاد لوی استاد پوهاند صدیق الله رښتین په یوه لارښوونکې لیکنه کې، چې لیکوالو او شاعرانو ته یې کړې وه او د هغه له مطالعې مې دا خو ټکي په یاد دي، چې لنډیز یې دا ډول وړاندې کوم: (( د شعر او یا بلې هرې ادبي لیکنې لپاره لازمه ده، شاعر او لیکوال وار دمخه د خپل یادښت په زرغونه کتابچه کې ځینې خوندورې کلمې، اصطلاحات، جملې، وجیزې او ښایسته یادښتونه راټول او د شعر ویلو او یا څه لیکلو پر مهال یې ترمخ کېږدي او وګوري، چې کومه کلمه او جمله په کوم ځای کې مورد لري؛ وکاروي.))
- یوه خاکه ولیکي، البته په ژورنالیستکي لیکنو کې، خو په هنري کې د لیکنې فني فورم.
- د لیکوال شخصي اند (فکر) ا و تکراري کلمې او جملې لرې کړو. په ژورنالیزم کې بې طرفي یو اصل دی او په ادبي لیکنو کې هم هر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعيتونه د رمزاو هنري پوهې له مخې ښکاره شي، نه په عندي ( قصدي ) ډول.

- پيچلي او سختې کلمې که په هر ډول ليکنه کې وکارول شي، ليکنه بې خونده کوي او مطالعه وال يې له لوستلو سره علاقه نه نيسي.
- د خپلې ليکنې د بيا ويلو په صورت کې خپلې تېروتنې اصلاح کړو.
- د ليکنې سمون ( اېډېټ ) حتمي او ضروري کار دی.

د متن د لنډولو لارې – چارې:

په ژورناليستکي ليکنو کې دغه اصل ډېر او په ادبي او نورو ليکنو کې هم په پام کې نيول ګڼه لري؛ لکه:

الف - د معترضه جمله له منځه وړل.

ب – د بې مورده لمن ليکنو له منځه وړل، خو دغه مورد په هنري ليکنو کې بايد له پامه ونه غورځوو.

ج – د متن لنډون، البته د ليکنې د کيفيت او فني والي اصل په پام کې درلودل.

ه – د غولوونکو جمله نه کارول.

څو بېلګې:

رازق خدای هر څه د انسان لپاره پيدا کړل، عبدالقادر خان وايي:

لمر، سپوږمۍ، باد و وريځې

چې تل ښته پورته ښوري

همګي ستا په خدمت دي

شپه او ورځ د تا غمخور دي

رزق، روزي در ته موجود کا

د رحمت باران و اوري

دا يې ستا لپاره هست کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته غافل د حق له لوري
چې په دا نعمت رانده شي
په قیامت به وي مختوري

دا بیت، د حضرت سعدي په کتاب کې راځي:
حکایت:
یو درویش و، مجرد، گوشه نشین؛ په صحرا ناست و، د پادشاه پرې گذر وشه؛ درویش په ملک د قناعت توانګر و، هېڅ التفات ورته ونه کړ، پادشاه په خپل سلطنت مغرور و، ورځنې برهم شو، وې ویل، چې دا طایفه په مثال د حیواناتو ده، آدمیت، اهلیت ورڅخه نشته، وزیر، درویش لره راغی، ورته یې وویل، چې پادشاه د دې ملک په تا تېر شه، تا یې ولې خدمت او ادب په ځان را نه وړ؟ درویش ووې: پادشاه ته ووایه، چې امید د خدمت له هغه کوه، چې امید د دولت له تا لري، بل دا چې پادشاه ساتندوی د رعیت دی، نه رعیت ساتندوی د پادشاه (سید القوم خادمهم) دا وې مگر تر غوږ دې نه دي رسیدلي.
مثنوي:
په معنا بادشاه خادم د رعیت دی    که هر څو ښښتن د حکم، حکومت دی
رعیت لکه رمه پادشاه یې شپون وي    چې خدمت د رمې نه کا شپون زبون وي
هم یې ژغوري له لېوه، هم یې ښه پیایي    هم تر قوت هومره اخلي، چې پرې پایي
د رمې ښښتن مالک پروردگار دی    تصرف دې شپون پرې نه کا که هوښیار دی

د لنډې لیکنې موارد او کارځای:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه ليکنه موارد او کارځای لري؛ دغه موارد ورځپاڼې، اخبارونه او ادبي، علمي ليکنې دي:

الف: په ورځپاڼو کې؛ په اخبار، ورځپاڼو، آن ځينو مجلو کې د وخت او ځای د کمي، له نورو ورځپاڼو سره د سيالۍ لپاره د چټکتيا په پام کې نيول او دغه راز د لوستونکو د پام اړونې لپاره د ليکنو لنډول يو بنسټيز امر دی او دغه کار په دې ډول ترسره کېږي:

لومړی د تمرين له لارې؛ متن لوستل کېږي او مناسب لنډون په کې راوړل کېږي؛ مثال: که په مختلفو ولايتونو کې ورته پېښې د کلو او پراختيا په برخه کې پېښې شوي وي، لازمه ده يو خبر په توحيدي ډول جوړ شي؛ يوازې د ولايتونو بېل بېل نومونه واخيستل شي.

يا بل مثال د لومړي تمري (خبر)

يوه اونۍ وروسته د افغانستان د تاريخي اثارو د ساتنې له هغه نړيوال کنفرانس نه، چې د ۱۳۸۲ ه ش کال د تلې د مياشتې پر پنځلسمه د نړۍ د يو شمېر هېوادونو د استازو په ګډون، چې د خپلو هېوادونو په استازۍ کابل ته راغلي وو او په دې کنفرانس کې يې برخه اخيستې وه، دغه راز د هېواد يو شمېر پوهنتونونو (کابل، ننګرهار، کندهار، خوست، مزارشريف، هرات) د تاريخي آثارو مينه والو او يو شمېر ځوانانو، چې په دې برخه کې زده کړې کوي، د ارزونې غونډې د لويې جرګې په تالار کې جوړه شوه. په پيل کې د کابل پوهنتون رئيس چې نوموړی پوهنتون يې د تاريخي آثارو په اړه ډېرې پلټنې ترسره کړې د دريځ تر شاه ودريد او د غونډې د پرانستلو پر مهال يې ګډونوالو ته ښه راغلاست وويل، د وينا پر مهال يې هيله څرګنده کړه، چې دا غونډه او تېر کنفرانس به ډېرې ښې پايلې تر شا پرېږدي. هغه وروسته د جاپان د هېواد له استازي هيله وکړه، چې د غونډې د لومړي ويناوال په توګه خپله وينا ګډونوالو ته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جاپان هېواد استازي د ځانګړې بدرګۍ سره د دریځ شا ته راغی او خپل نظرونه یې د غونډې له ګډونوالو سره شریک کړل.

د لومړي تمرین (ځواب):

د تاریخي آثارو په اړه نړیوال کنفرانس وروسته د ارزونې غونډه (۱۳۸۲ه ش) د تلې پر پنځلسمه د کابل پوهنتون د ریس تر مشرۍ لاندې د لویې جرګې په تالار کې جوړه شوه، په غونډه کې د جاپان هېواد استازي د افغانستان د تاریخي آثارو په برخه کې خپل نظریات د غونډې ګډونوالو سره شریک کړل.

ب: خاطرې او داستان لیکل:

انساني ژوند د خاطرو او کیسو مجموعه ده، چې د ژوند داستان جوړوي. موږ ټولو ته په ژوندانه کې خاطرې او داستان لیکل ځانګړی خوند لري، چې یو دوه تمرینونه به راوړوو. د تمرین په کارولو کې پاملرنه وکړو، څنګه کولای شو د لنډې لیکنې پر مهال غیر ضروري جملې له منځ یو سو.

لومړی تمرین، خاطره لیکل:

د محمد رضا شاه پهلوي یوه کیسه چې (حسین فردوس) خاطرې کې راوړوو:

زه د استخباراتو ریس وم او د ریس په توګه د یو قانوني حکومت پر وړاندې د هر ډول بغاوت د راپورته کېدو مسوول وم او ځواب مې باید ویلای وا؛ هغه مهال استخبارات یو کوچنی سازمان نه و، بلکې پراختیا یې موندلې وه. له (۸۰ څخه تر ۱۰۰ خونو درلودونکې لس ودانۍ یې په واک کې درلودې، خونې تر ډېره د کار په وسایلو سمبال وې. د کار وسایل تر ډېره فلزي و، چې زما د د کار په اوه کلنه دوره کې برابر شوي وه، لړ تر لړه تر ټولو ښه د لیک د ټایپولو سل ماشینونه، لوی او واړه کتابتونونه، د اتیاوو په شاوخوا کئې موټرې. فوق العاده بودجه او سل ملیونه کالنۍ بودجه، چې تر ډېرو وزارتونو لوړه وه؛ مو هم درلوده. د دې هر څه مسوول زه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پلازمينه کې سربېره پر ۱۵۰۰ تنو کارکوونکو په ولايتونو کې مې هم مامورين درلودل. که دومره پراخه تشکيل مې سم نه واى اداره کړى، خامخا ګډوډي رامنځته کېده او هر څه خرابېدل؛ ما له خپل کار سره بې کچې مينه درلوده او د دې هېڅ امکان نه پرېښېده چې زه دې بهر ته وتښتم، د سهار چاى مې د کار په ځونه کې څښه، د دې ترڅنګ مې يو بل ځاى هم دنده درلوده، چې د غرمې تر دوه بجو وروسته به هغې دندې ته ورتلمه، يوه کاري دفتر نه بل ته زما تلل راتلل هم له ستونزو خالي نه و، ځکه په دې لاره به هره ورځ مظاهرې ترسره کېدې، چې له امله به يې د موټرو تګ هم ناشونى و، خو زه بايد په هر ډول چې واى له همدې لارې تللاى واى.

د لومړي تمرين ځواب:

د حسين فردوس د خبرو لنډيز:

۱- ما د استخباراتو د سازمان د مشر او ريس په توګه د بختيار په حکومت او يا د بل هر قدرت، چې واک يې ترلاسه کړى واى پر وخت نه شو کولاى نوموړى سازمان له (۱۵۰۰) کارکوونکو، ګرانبيه وسايلو او پيسو سره پرېږدم او بل هېواد ته وتښتم. له همدې امله مې شپږ ساعته د دې دفتر مشر او پاته وخت مې په يوه ځانګړي دفتر کې د پنځوسو تنو سره د مشر په توګه کار کاوه.

۲- د بختيار د واکمنۍ پر مهال مې خبرونه د دربار وزير او د سلطنتي شورا غړى ( اردلان) ته ورکول، دا يوه تشريفاتي اړيکه وه. د دې لپاره چې کاري نظم خراب نه شي، خو هېڅکله مې د هغه حکمونه و نه منل ځکه چې هغه ټول بې ځايه وو، د کار په موده کې مې بختيار ته يو رپوټ هم ورنه کړ، ځکه د هغه د امر تابع نه وم. هغه هم له ما نه پوښتنه نه کوله ښايي زما تحليلونه او رپوټونه به يې لوستل.

۳- په دواړو دفترونو کې زما شتون د دې لامل شو، چې د دواړو دفترونو نظم وساتل شي. زما له حوصلې ډک کار د ځينو د حرانتيا لامل ګرځېده او چې د محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضا شاه کار مې په ايران کې پای ته رسيدونکی باله د نورو د درناوي وړ وګرځېدم.
خپل ژوند مې هم ډېر بابيزه باله نه مې له خپلو کړنو ويره درلوده او نه مې په بهر کې د يوې ذرې اندازه شتمني درلوده، چې وريپسي تللای وای.
لنډه ليکنه که په هره برخه کې وي له لويو ليکنو ښه او غوره ده، ځکه د ( مقصد ټکی په لنډه ليکنه کې ښه ځلېدلای شي. )
عبدالقادر ګيلاني وايي: ( معنی بايد له بهترينې لارې ادا کړو او دهغې د بيان لپاره داسې کلمې غوره کړو، چې دهغې معنا لپاره تر ټولو روښانه کلمې وي. )
لنډه ليکنه، ساده ليکنه ده او د پروين ګنابادي په وينا: (( لنډه ليکنې والا ساده نويسان دي، چې له ځان غوښتنې او فضل فروشۍ پاک دي. )
رواني د لنډې ليکنې ځانګړنه ده، په ( قابوسنامه ) کې راځي: (( هره خبره چې کوئ، بايد خوږه او لنډه وي. ديل کارنګي نظر درلود: ( که ليکوال خپل لوستونکي ته په لنډو کلمو کې خپل مطلب په واضح ډول ونه رسوي، نو لوستونکی به يې ليکنه خوښه نه کړي. )
ابن مبرد به ويل: ( لنډو غبرګېږه، لنډه ليکنه وکړه، بيځايه او اوږدې خبرې او ليکنه ستا او د نورو وخت ضايع کوي. )
ابن قتيبه د ليکوال لپاره څه ښه وړانديز لري: ( ډېره معنی په لنډو کلمو کې ځای کړه. )

### ۵–۳– د لنډې ليکنې ډلبندي ( تصنيف ):

**الف – تصنيف ـ To write**

تصنيف ( ډله، صنف... ) په لغت کې صنف، ويش، برخه اصطلاحاً د بېلابېلو افکارو او ډول ډول نظريو د راټولولو معنا ورکوي. د هنر نويسنده ګي و نامه نګاري کتاب په ( ۵۸ ) مخ کې راځي: (( تصنيف در لغت به معنی جمع آوری افکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



مختلف و نظريات گوناگون است و از ين رو با تاليف به يک معنى است و در اصطلاح نثر است که از افکار و ابتکارات نويسنده سرچشمه مى گيرد. )) (۱۰: ۵۸)

تصنيف ته په (پښتو –انګليسي) قاموس، الازهر خپروندويې ټولنې (۱۱۲) مخ کې ډلبندي ويل شوې.

((تصنيف (Tasnif) Classification ته وايي. (۴ : ۱۱۲)

همدارنګه په زاهد (پښتو پښتو سيند ) (۲۳۸) مخ کې راځي:

((تصنيف نر. م. (ج. تصنيفونه ) ۱-صنف. صنف کونه، ګروپ بندي کونه؛ ۲- د کتاب ليکل او ترتيبونه. )) (۱۲: ۲۳۸)

تصنيف To leaf ، بافتن د اوبدل، يا وړوکی تصنيف ته هم (Ditty ) وايي. (۱۵: ۱۲۵)

په فرهنګ دانش آموز (عربي به فارسی، فارسی به عربی ) کې راځي: تصنيف– ابتکار کول، منظومول او ... (۱۲: ۹۳)

د فارسي مشهور فرهنګ (حسن عميد ) ليکي:

((تصنيف، صنف، صنف کول، د يو شي ډول ډول او دسته دسته کول، د کتاب ليکل او دهغه برابرول ، شعر ويل او په فارسي کې يو دول شعر ته هم وايي، چې له دل نشين آهنګ سره ويل کېږي. جمع يې تصانيف دی. ))(۱۷: ۴۰۰ )

تصنيفي اثر د ليکوال د ابداعي قدرت او ذوق په وسيله رامنځته کېږي. څوک، چې د غه واکمني لري او يو اثر رامنځته کوي مصنف نومېږي. هغه مصنف، چې غواړي د خپل خلاقه ذوق په رڼا کې يو نوی (بديع ) اثر خلق (رامنځته کړي )، لازمه ده، چې په بېلابېلو علمي او هنري څانګو کې مهارت ولري.

د استعداد او لازم هوش څنګ، څومره، چې ليکوال تکړه، ګرځند ، باتجربه او په کار پوه او پر کاره وي، واکمن به وي، چې د علمي موضوعاتو د ليکلو پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور اخلاقي او رزونيزي پېښې هم تشريح کړي، چې په دې کار کې شاعر، ليکوال او آن نقاش يو ډول دي.
ولې د خوشحال خان ديوان د هغه کتابونه او د عبدالرحمن بابا ديوان او ځينې نور آثار دومره نايابه قيمتي مرغلرې دي؟ ځواب دا دي، چې د هغو آثارو ليکوال او شاعران په ډېرو نورو خبرو پوهېدل ، ذوفنون وو او په خپل مسلک او هنر کې واکمن نابغه ګان وو، مطالعه يې دلوده او له پراخه طبيعت سره ښه آشنا وو. سفرونه يې کړي وو او ډېر ځايونه يې ليدلي وو.
يو بل ښه مثال يې په پښتو ادب کې ابو محمد هاشم سارواني ( ۱۳۹ ) هم کېداى شي، چې سفر يې کړى و او علوم بلاغت يې په بغداد کې له ابن خلاد څخه زده کړي وو.
په دري ادب کې د سعدي د بوستان او ګلستان له مطالعې په ډېر ښه ډول ښکاري، چې نوموړي د عرب او عجمو آثار په دقت او غور سره مطالعه کړي وو او د اوږدو مسافرتونو په لړ کې ډېر څه زده کړي وو؛ قرآن په مينه مينه مطالعه کړى و او په حديث شريف کې پوره او ښه مطالعه درلوده
تصنيف کله کله هم هنري اړخونه لري، چې د ليکوال د ذوق له عمل او هنر سره تجلي ( ښکلا ) کوي. که چېرې يو کتاب د خداى تعالى د وجود د اثبات په برخه کې وليکو، بايد لومړى د هغه په برخه کې فکر وکړو او فهرست يې د کاغذ پر مخ راوړو، وروسته په ترتيب او د ذهني سابقه ( هماغه برخه کې د تجربې ) سره د هغه په برخه کې قلم وچلوو.
په تصنيف کې د دې لپاره ،چې د اثر خلقولو ( رامنځته کولو ) د مصنف کار دى، ځکه نو هغه د موضوعاتو او مطالبو شرحې او بشپړنې لپاره ډېرې آزادي لري، خو په تاليف او ترجمه کې د مؤلف او مترجم کار له محدوديت سره مخ دى.
په تصنيف کې کېداى شي د فيلسوفانو، پوهانو، متفکرينو او پخوانيو شاعرانو او همدارنګه معاصرينو له نظريو څخه ګټه واخيستل شي، خو په دې شرط، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله د مصنف ذوق او مفکوره جوړه کړي. په هر حال هغه څه چې په تصنیف کې په پام کې ونیول شي د مصنف د نوښت، ذوق او استعداد ابداع (پیدا کونه) ده.۲

**۱– د تصنیف ډولونه:**

الف: اوږد یا لوی تصنیف: د لیکوال د اوږدو تجربو او ډېرو مطالعو محصول وي. دغه تصنیف څو برخې رانغاړي. دا ډول تصنیفونه (To leaf) یعنې (اوبدل) هم نومول کېږي، خو په عمومي ډول (تصنیف که اوږد وي او که لنډ یو ډول هدف لري. )

تصنیفي آثار یوازې د شکل له پلوه له لنډ تصنیف سره توپیر لري. تصنیفي آثار ابداعي لوري لري. اوږد یا لوی تصنیف له شک پرته په یو معین وخت او ټاکلي برخه کې د لیکوال د ډېرو مطالعو او اوږدو تجربو، پوهنو، تاندې پوهې او هنري ذوق محصول وي.

د موضوع له پلوه یا اوږد تصنیف ؛ هغه اثر دی، چې د یو پلان او یوې آجنډا له مخې په یوه معینه موضوع کې د شخص لیکوال له خوا ترسره کېږي.

شکل یې هغه ډول برابر شوی وي، چې (معینه موضوع له یوې ښکلې محتوا) سره انعکاس کړي. د اوږد یا لوی تصنیف موضوع لویه وي، شرط په کې د لیکوال له خوا (ابداع) ده او دغه ابداع د ډېرې پوهې، هوښیارۍ، ذوق او تجربو محصول وي. دغه ډول تصنیف ته ابتکار کول او منظمول هم وايي.

ب: لنډ یا ووړ تصنیف: په (فرهنګ فارسي–انګلیسي) قاموس کې (واړه تصنیف ته ((DIitty)) وايي.

دغه تصنیف لکه لوی غوندې (ځانګړې هدفونه لري) دغه هدفونه په یوه موضوع کې د ذوق او پوهې له مخې یو تصنیفي پلان جوړول دي. لنډ یا کوچنی تصنیف لکه تصنیف یا اوږد تصنیف ټوله ښکلا او نوښتونه لري. د لیکوال د پوره پوهې، ذوق، لازم ذکاوت ډېرو تجربو او ابداع محصول وي. یوازې د شکل له پلوه کوچنی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچنی تصنیف د لیکوال د هغه ذوق او فکر محصول دی، چې د نومورېي د ذهني طراحي له مخې رامنځته شوی وي.
لنډه دا چې کوچنی او لوی تصنیف د مصنف د کار محصول دي، نو ځکه ور کې له ډېرې آزادۍ برخمن دی. تصنیفي اثر د دې لپاره چې د لیکوال د ذهن او فکر زېږنده دی، ډېر په ( تخلیقي قوت ) پورې اړوند یږي. په هر حال هر څه چې باید په تصنیف کې رعایت شي د معاینو ابداع او د مصنف د فکر تجسم دی او کله کله د نورو افکار او نظریات هم را اخیستلای شي.

**۲– د تصنیف اړتیاوې:**

لیکنه یوه حتمي او ضروري اړتیا ده. تصنیف، تالیف او تخلیق د لیکوالۍ اصلي برخې جوړوي.
بشري ټولنې د خپل ( علمي، سیاسي، ادبي، اقتصادي ) هویت لپاره لیکوال او لیکوالۍ ته اړتیا او ضرورت لري؛ دغه اړتیا تصادفي نه ده، بلکې یو ضرورت دی. که اړتیا او ضرورت نه وي، نو هدف ته کل محال خبره ده، بې هدفه ژوند په پټو سترګو په وچه دښته کې د ورک محل ( ځای ) په لور تګ دی.
لیکوالي په لومړي سر کې که په هره برخه کې وي( تخلیق ) ګڼل کېږي، ځکه مواد یې له طبیعت او ماحول څخه څه را اخیستلو بیا په یوه کالب کې راوړل، نوې پیدا کونه او ایجاد دی. دغه ایجاد که په هره برخه کې وي ( تخلیق ) ګڼل کېږي، بیا اړتیا ده دغه لیکنې صنف بندي کړو. صنف بندي هم د لیکوالۍ د ډګر اړتیا ده، چې آثار په هره برخه کې ابداع، تخلیق او نوي رامنځته شي. په یوه دوره کې د اړتیاوو له مخې د بېلابېلو آثارو رامنځته کول تصادفي خبره نه ده، بلکې ډېر عوامل سره لاسونه ورکوي، څو یو اثر رامنځته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هره برخه کې د يو آثر را منځته کېدل يوه فرهنګي پنځونه ده. دغه پنځونې ( فردي او اجتماعي ) هدفونه لري. پنځونې لويې او وړې وي؛ دا ټولې د ټولنيزو موخو د ترسره کولو په خاطر را منځته کېږي.
هر کوچنی او لوی تصنيف که په هره برخه کې وي او هر ډول مضمون ولري، معتبر او ارزښتمن دی، دا ځکه چې د کلتور يوه پراخه برخه ورباندې رغېږي؛ له همدې امله تصنيف ته اړتيا موجوده ده.
د يو ملت آثار د ( نظم او نثر ) له لارې غني کېږي. نظم خو په ادبياتو پورې اړوند دي، مګر نثر د بشري ټولنو په ټولو ټولنيزو اړتياوو پورې اړوند ېږي، چې په هغه کې ( طبيعي علوم او اجتماعي علوم ) را تلای شي. طبيعي علوم ټول په طبيعت پورې اړوند دي او د بشر ورځني اړتياوې ور کې انعکاسېږي. دا اړتياوې که په هره برخه کې وي، لاس په لاس او په نېغه توګه له طبيعت سره ارتباط لري؛ مګر ټولنيز علوم د بشر په افکارو پورې اړوند ېږي.
د خلکو باورونه او عقيدې ترې سرچينه اخلي؛ لاس په لاس له طبيعت سره ارتباط نه لري، خو لارښوونکي افکار دي او د ټولو علومو د رهبرۍ توان لري. زموږ افکار زموږ د نيا جوړوي.
له همدې امله ټول تصنيفونه که د مادي او معنوي ژوند په هره برخه کې وي د پام او قدر وړ دي. يو تصنيف هغه وخت ارزښت پيدا کولای شي، چې ټولنيزې ستونزې په يوه حکمت سره ور کې حل او پرانستل شي.
د تصنيف اړتياوې داسې په ګوته کولای شو:

- د ټولو علمي او تحصيلي مؤسسو او پوهنتونونو درسي او ممد درسي مواد تصنيفي وي، له همدې امله تصنيف اهميت لري.
- د علمي تحصيلي مؤسسو درسي مواد که تصنيفي ځانګړنې ونه لري، محصلين ورباندې ښه نه پوهېږي؛ مورد نظر موضوع هغه وخت محصل له يوه کتابه ترلاسه کولای شي، چې د تصنيف په ګآنه ښايسته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تصنيفي، تحصيلي او درسي مواد د هغو غوره افکارو محصول وي، چې د استاد او ليکوال علمي او فکري نوښت ور کې موجود وي، د غه نوښت د کلونو علمي تجربو په پايله کې رامنځته شوی وي.
- تصنيف غير درسي او تحصيلي خصوصيت هم لري، خو د غه تصنيف متمازه وظيفه نه شي لرلای.
- د تصنيف ډېره اړتيا دا ده، چې په عملي- ادبي او نورو ډګرونو کې اثار رامنځته کېږي او يوه کلتوري ښېرازي رامنځته کېدای شي. هغه ژبه او هغه ملت په کلتوري لحاظ ډېر غني وي، چې د بېلابېلو ليکوالو له خوا په مختلفو برخو کې يې تصنيفونه کېږي؛ هر تصنيف يوه معنوي هستي ده، د غه هستي تلپاتې او روزمره هويت لري.

**۳- کومو آثارو ته تصنيفي ويلای شو؟**

په ټولنيزو علومو کې مطلق فورمول ټاکل څه ستونزوره خبره ده. موږ په ډېرو برخو کې د علومو د ويش او رديف بندۍ لپاره پولې نه شو ټاکلای، خو دا د دې معنی نه لري، چې د اجتماعي علومو د تفکيک لپاره حدود نه شته.
څه چې د پوښتنې ځای پيدا کوي، هغه د اجتماعي علومو د نه محدوديت مثاله ده، اجتماعي علوم داسې علوم دي، چې د ډېر تفکر ميدان ته اړتيا لېدل کېږي؛ هر څومره، چې په ټولنيزو علومو کې زيات تفکر کېږي. حقايق رابرسېره کېږي، موضوع پياوړي کېږي او د حل غوره لارې يې را پيدا کېږي.
بله خبره دا ده چې اجتماعي علوم مشخص تعريف او فورمولونه نه لري، بلکې د ډېرو مفکرينو له خوا يې په مختلفو وختونو کې تعريفونه شوي دي.
دريېمه خبره دا ده، چې اجتماعي علوم د ځانګړي شخص کشف نه دی، او نه کوم ښکاره فورمول دی، چې نور خلک د هغه پيروي وکړي، په هر صورت په اجتماعي علومو کې هم ځينې حدود او ضوابط موجود دي، چې د هغو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې د هر صنف حدود تر ډېره بريده معلوم ولای شو ، مثلاً ادبي آثار او ادبي ډولونه د ځان لپاره حدود لري، لکه کيسه، شعر .

تصنيفي آثار لکه مخکې، چې وويل شول ځانګړی فورم او مضمون لري، چې په بېلابېلو وختونو کې د مختلفو مفکرينو او ليکوالو له خوا رامنځته کېږي.

هر تصنفي اثر يو نوی اثر دی، چې ابداع هم ورته ويلای شو ، د غه ابدع که په هره برخه کې وي، په زړه پورې ده او ځانګړی مضمون لري او ارزښت يې د هماغه مضمون له رويه ټاکل کېږي.

تصنيفي اثر د بېلابېلو افکارو او نظريو راټولونه ده او له تاليف سره په يوه معنی ده، خو په اصطلاح کې هغه اثر دی، چې د ليکوال له افکارو او نوښتونو سرچينه اخلي، چې همدا برخه يې له تاليف سره تفکيک راولي.

په تصنيفي آثارو کې د راټولونې تر څنګ د ليکوال د ابداع او ذوق قدرت هم ډېر مهم دی.

د تصنيفي اثر ليکوال غواړي د خپل خلاقانه ځواک په رڼا کې يو نوی ( بديع ) اثر خلق کړي.

مصنف بايد په بېلابېلو علمي او هنري څانګو کې مهارت ولري، ځکه تصنيفي اثر د مصنف په پوهه او ځيرکي پورې ډېر اړوند بړي.

هر مصنف ته لازمه ده د تصنيف کولو په وخت کې ډېره مطالعه وکړي او لازمه پوهه ولري. د استعدا او فکر خاوند وي، څومره، چې مصنف او ليکوال تکړه ، باتجربه او کارپوه وي، په هماغه اندازه کولای شي د ليکوالۍ ( تصنيف ) په کار کې برلاسی وي.

د تصنيفي اثر له ځانګړنو دا هم ده، چې هر ډول مضمون او شکل لرلای شي؛ علمي، ادبي، سياسي، اقتصادي، تربيتي، ديني او ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تصنيفي اثر د مضمون پراخوالی د ليکوال او مصنف په پوهه پورې ډېره اړه لري؛ مطالعه ، خودآګاهي، تجربه ، په ټولنيزو مثالو پوهه، په دغه کار کې کارنده برخه لري.

هغو آثارو ته تصنيفي ويلای شو ، چې د بېلابېلو او ډول ډول افکارو او تجربو د خوندي کېدو حوصله او لرغونه ولري. له يوې خوا تصنيف د بېلابېلو او ډول ډول افکارو او نظريو د خوندي کولو استعداد لري، له بلې خوا په خپله د ليکوال نوښت هم په کې رول لري، دا ځکه چې تصنيفي اثر د يو ښې انشا نماينده ګي کوي.

تصنيفي آثار له تخليق او تخيل سره هم ملګری وي، د دې لپاره، چې ابداع هر وخت د تخليق او تخيل او استعداد زېږنده وي.

آن تصنيفي آثار هنري هم وي، چې د ليکوال استعداد ور کې ښکاري.

په تصنيفي اثر کې د ليکوال فکري آزادي د تصنيف ښکلا برجسته کوي.

تصنيفي آثار هغو آثارو ته ويلای شو ، چې پراخه، مبتکرانه، نوښتګرو افکارو په لړ کې رامنځته شوي وي.

**۵–۴– د تخليقي آثارو دوام د فرهنګ بډاينه ده!**

تخليقي آثار د هر ملت د فرهنګي ودې او غنا لامل ګرځي. له تخليق پرته د هنر او ادب ټول ډګرونه خالي برېښي، ځکه ( تحقيق، تصنيف او تاليف ) هغه وخت پياوړي وي، چې د يوې ژبې تخليقي ډګر پياوړی وي. تخليق د تحقيق ( څېړنې ) بسيا بستر بلل کېږي. تخليق؛ منبع او اساس دی. تخليق، خلقول، پيدا کول، رامنځته کول دي. تخليق؛ تازه او رسا ته هم وايي.

(( تخليقي Creative Taxligi تازه او نويو آثارو ته وايي )) ( ۴ : ۱۰۴)

په پښتو – دري قاموس کې راځي: (( تخليق، تان، ساختمان، تشکيل )) ( ۵ : ۲۷۹ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه په بل ځای کې ویل شوي: تخلیق Taxlig نر، م، خلقول، پیدا کول، پنځونه، منځته راوستنه )) (۱۲: ۲۱۷)
او تخلیق Taxligi ص- نسب، د تخلیق، د خلاقیت، خلق کولو، هنري ابتکار ته هم وایي.
که تخلیق (تان) پنځونه او رامنځته کول وبولو، نو ویلای شو، چې تخلیق د هرې ژوندۍ ژبې ضروري مال ګڼل کېږي. تخلیق په حقیقت کې پراخه ادبي، علمي ډګرونو ته هویت ببښی. بې تخلیقه ژبه یو ډول بې فرهنګي ده.
د تخلیقي آثارو دوام په حقیقت کې د یوې ټولنې د فرهنګي هویت او بقا دوام دی. که تخلیق نه وي، علمي او ادبي بقا مري. تخلیق په هره ټولنیزه برخه، خو په ادبي برخو کې د پوره تامل وړ دی، دا ځکه-
هر ملت په خپل زرین فرهنګ ښایسته وي او ویاړي.
د لیکنې او ایجاد په ډګر کې (تخلیق اصل او اول دی، تحقیق او نورې برخې د لیکنې دوباره غنا جوړوي. )
که نړیوال ادبیات مطالعه کړو راته څرګنده به شي، چې تخلیقيٍ آثارو لومړۍ درجه مقام ګټلی او د جایزې وړ هم ګرځیدلي دي.
ادبي ډګرونه په تخلیق ًاباد دي؛ تخلیقي آثار لکه شعر، قطعه، داستان، کیسه، ناول، رومان او آن فولکلوري ګڼ صنفونه رانغاړي (احتوا) کوي.
که د تخلیق بهیر پورته برخه په یوه ژبه کې و دربېږي او یا خدای مه کړه نه وي، یو شمېر پراخه نور ډګرونه به له فرهنګي غنا خالي وي. که تخلیقي بهیر خلاق، تاند، جاري او روان وي، تحقیقي ډګرونه به فعال او د زمان حساسیت به هم په پام کې نیولی شوی وي. ټول تحقیقات د تخلیق محصول دی، تخلیق د تحقیق منبع او اساس دی.
که د نړۍ هر ستر لیکوال لکه: (تولتسوی، ګورکي، پوشکین، شکسپیر، پریمچند، مولانا جلال الدین، سعدي شیرازي، خوشحال خان، عبدالرحمن بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په سلګونو نور لیکوال، چې آن نړیوالې د ( نوبل ) جایزې یې هم اخیستلې دي، د تخلیق له برکته دي. په تخلیقي ډګر کې یو ټکی شعر د تحقیق د ډګر ستر کتابونه کېدلای شي؛ لکه حمزه بابا چې د خوشحال بابا پر دې تخلیقي یو کړۍ شعر چې:
(د خدای عرفان مې وشو په عرفان د محمد پاک دی محمد پـــاک دی سبحان د محمد ...
باندې یو ستر تحقیقي کتاب ولیکه، ځکه نو تخلیق، خلقول او اساس دی او تحقیق دوباره لټونه او محقق کول دي؛ همدا علت دی، چې تخلیق او تخلیقي آثار علمي او ادبي فرهنګ بډاینې لامل ګرځي.

**۵–۵– د هنري –ادبي تخلیقي آثارو توپیر له غیر تخلیقي سره :**
هر ادبي او علمي تخلیق یوه هنري پنځونه ده. هنر د انسان د خلاقه فکر با ارزښته شتمني ده. هنر د ټولنیز شعور هغه شکل او بڼه ده، چې د بشر د هستونې او تخلیق او ابتکار په یوه برخه کې زرغونېږي، مثلاً: شعر، سینما، موسیقي که هنري فکر نه وي، نو یو ادبي تخلیق اثر نه رامنځته کېږي، یو تخلیق د یو ابتکار محصول دی. د هنري ادبي تخلیقي آثارو له نامه ښکاري، چې له نوښت څخه منشا اخلي.
د خلکو د افکارو د تخلیق په جام کې خړوب شوي مواد دي، په دغو آثارو کې تفکر د قوت اصلي منبع ده. نه یوازې تفکر بلکې ( خیال، ذوق پوهه، مینه، ذکا، صراحت، ساده ګي، باورونه، ابتکار او آن شخصیتي معیار او هنریت هم د تامل وړ دي. )
هنري –ا دبي تخلیقي اثار نوښتي او ابتکاري آثار دي، ځکه تخلیقي منبع لري او منبع یې د لیکوال یا شاعر ( فني او ماهوی دراک ) دی، چې له وراثت او ماحول څخه اغیز اخلي.
هغه آثار چې ( هنري –ادبي تخلیقي ) هویت لري، له غیر تخلیقيٍ آثارو څخه ډېر توپیر لري، ځکه چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تخليقي آثار سرچينه، منبع او اصل دی او تحقيقي آثار له سرچينو نه راوتلي فني لارې دي.
- د تخليقي آثارو ايجادونکي مبتکر اشخاص دي، داسې خلک چې د اول فکر او مخيله قوت خاوندان وي، خو د تحقيقي آثارو څېړونکي او لټونکی د بېر شمېر لري او په دويم رديف کې درېږي. دوی مبتکر نه دي، خو تحليلونکي، نقادان او پخواني فکر ته سمون ورکوونکي وي.
- تخليقي آثار اول لاس اثار دي. بالزاک به ويل، هر نوی اثر چې رامنځته کېږي، په ادبي او هنري نړۍ کې نوې هستي رامنځته کېږي، چې نوی ماحول او محيط ايجاد او اختياروي، خو په هغو کې څېړنه محيط ته پراختيا ورکوي.
- که تخليقي ادبي او هنري آثار په هنري ډګر کې نه وي، نو غير هنري ( تحقيقي ) آثار به يې په مقابل کې نه رامنځته کېدل.
- تخليقي آثار د هنري فکر ايجاد او تحقيقي آثار د فکر فني کول دي.
- د تخليق او تحقيق مثال د ونو کېښودل او ونو او باغونو وده او انکشاف ورکول دي( ونه کېښودل تخليق او وده ورکول تحقيق ).
- په تخليقي او غير تخليقي آثارو کې د ( هنر او فن ) مثال هم عملي کېدای شي. په اول سر کې د سړي فکر ته نه لوېږي، چې هنر او فن توپير لري، خو چې په ( منبع، الهام، خيال او احساس ) يې فکر وکړو راته څرګنده به شي ، چې هنر د فکر د ايجاد موضوع ده. مګر فن د عمل او تکرار له امله ښايست مومي. تخليقي او تحقيقي آثار هم داسې دي.
- تخليقي آثار لکه شعر الهامي اغيز لري او د محيط او چاپېريال له امله رامنځته کېږي، خو تحقيقي آثار انکشافي اړتيا له مخې پراختيا مومي. تخليقي ادبي آثارو ته وده ورکول طبيعي لوری لري، خو تربيتي بڼه هم لري، مګر تحقيق د روزنې له امله وده او انکشاف کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵–۶– د پنځم څپرکي لنډیز:

- لنډه لیکنه قوي او ژر مفهوم لېږدونکې لیکنه ده، خو اصلي شرط په کې اصلي مفهوم منغاړل او راوړل دي.
- که یوه لیکنه هر څومره لویه وي او چې هره محتوا ولري او په هر کالب کې وي، چې ( مقصدي مفهوم ) په کې نه وي نغښتل شوی، هغه ښه لیکنه نه ده، که لنډه وي که لویه په زړه پورې لیکنه نه ده.
- که د وخت مخنیوي لپاره لیکنه کوو، که مو لیکنه ادبي وي یا ژورنالیستکي وي، بده خبره نه ده، خو که لیکوال د مرکزي مفهوم په لیکنه کې نه وي راوړي نو بیا هم زموږ وړه او لنډه لیکنه نه با مفهومه کېږي.
- نن سبا د خبري او ژورنالیستکي او هنري مضمونونو او مطلبونو د لیکنو ترڅنګ تحقیق او معلوماتي لیکنې هم لنډې لنډې لیکل کېږي، ځکه د هنري ادب په دنیا کې تر ( رومانه، ناول، له ناوله، داستان او له داستانه لنډه کیسه او کالم خوښوي ) او هغه هم د دې لپاره، چې نن سبا خلک ډېر وخت نه لري؛ کره مفهوم په وړو جملو کې غواړي.
- موږ باید په هره لیکنه کې خپل علمي او فني صلاحیتونه وکاروو او خپل مسلکي رسالت له پامه ونه غورځوو.
- تر دا وروستیو وختونو پورې زده کوونکي، لیکوالان، د راډیو، تلویزیون لیکونکي د لنډې لیکنې او یا له یوې لیکنې څخه د شیرې د راویستلو او یا د لنډې لیکنې لپاره د یوه چوکاټ جوړولو کې دوه زړي وو، خو د هغو هڅو په ترڅ کې، چې په دې وروستیو کې د نړۍ په خوار

(c) ketabton.com: The Digital Library



معتبرو پوهنتونونو کې ترسره شوې د لنډې لیکنې او له یوې لیکنې یا راپور څخه د شبرې راویستلو لپاره ځانګړې چوکاټ په پام کې نیول شوي.

- د لیکنې د لنډون اصلي موخه په لنډو ټکو کې د لوستونکي پوهول دي، نو په دې توګه ویلای شو، چې لنډون له یوې موضوع څخه د پایلو اخیستنه ده.
- د یوې لیکنې محتوا هغه څه دي، چې د لیکنې په پیل کې د لوستونکو په مقابل لوري د پوهاوي لپاره کارول کېږي.
- په ادبي لیکنو په تېره په تحقیقي ډګر کې لنډه لیکنه کول یو فني او مسلکي کار دی؛ د مثال په ډول که وغواړو موږ یو غټ کتاب (د پښتو ادبیاتو دویم ټوک تاریخ ) په پنځو یا سلو مخونو او یا لږو کې راوړو لازمه ده (هغه مهم مرکزي او د تمرکز وړ موضوعات، درسي موضوعات ) په خپله لیکنه کې راواخلو، چې موږ هدف ته رسوي.
- لنډه لیکنه نوې خبره نه ده، لنډه لیکنه د لیکوالۍ په ډګر کې له ډېره پخوا موجوده وه، د نړۍ پخوانیو ادبیاتو کې لنډې لیکنې د لیکنې ښکلا ته ډېر اهمیت ورکاو. کلام الله مجید د اعجاز او ښایسته لنډو لیکنو یوه ښه مثال دی.
- په پښتو ادبیاتو کې هم لنډه لیکنه مهمه ده، لکه پټه خزانه د لنډو تذکرې معلوماتو ښه په زړه پورې سند دی. پټه خزانه هغه سیف یا زېرمتون دی، چې درې خزانې( اوله، دویمه او درېیمه خوندي کوي. )
- د پښتو ژبې او ادب پلار مخکښ شاعر او لیکوال هم په شعوري ډول له مزو ډک لنډ نثر ولیکه؛ ښه مثال یې (دستارنامه ) او نور آثار دي.
- په معاصر وخت (د نولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د تاریخ لیکنې لرغوني ډول په نوي او معاصر ډول چې د عنوان، سریزه، متن شېړنه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجه، ماخذ او د ژورنالیزم په برخه کې ( نوم، لید ، سریزه، او نسکورهېرم ) په ډول رامنځته شول، خو په ماهرانه او مسلکي ډول د لومړي ځل لپاره د خدای بښلي محمود طرزي له خوا لیکنې په سراج الاخبار کې پیل شوې.

- په پښتو ادب کې د لنډې او مسلکي لیکنو دوره یا مسلکي نثر موده له ( ۱۳۱۰ ه، یا مخکې له ۱۳۰۰ څخه پیل کېږي )
- د لنډې لیکنې محتویات موضوع جوړوي، چې د شکلي او معنایي سر او صورت په جوړېدو سره ژر بشپړېږي؛ لکه: د عبدالرحمن بابا د ( عارفانه تفکر ) په برخه کې مقاله ( موضع، افکار، اقوال او ماخذونه ) جوړوي، خو په خبر کې کله له ( ۳-۵ ) کلمو یو خبر په چټکۍ جوړېږي. ( کله؟ چېرې؟ څه وخت؟ کوم؟ )
- لنډه لیکنه یو عادي او ساده متن دی، هنري نثرونه له دې امره وتلي خو هغه هم که مطلب په لنډو جملو کې راونغاړل شي، خلک به یې ډېر خوښ کړي؛ نن کالم، ادبي لنډ مطلب، ادبي ټوټه او لنډه کیسه د خلکو د مطالعې ملګري دي. د لنډې لیکنې کولو لپاره غوره دلیل د یوه متن آسانه او ساده لوستل دي.
- که لنډه لیکنه د اصلي لیکنې هویت او موضوع ته تاوان ونه رسوي، په زړه پورې ده.
- د لنډې لیکنې لپاره عنوانونه او ټاپیکونه له هر شي ټاکلای شو، خو په ژورنالیزم کې تازه موضوع او په هنري ادبیاتو کې ماندګار او تلپاتې موضوعات ( شعر، متل، نثر، وجېزې، حکایتونه او ... ) په ادبیاتو کې موضوع ډوله رامنځته کېدله شي ( ذهني او عیني ) خو په ژورنالیزم کې عیني.
- په لیکنه کې د بې ځایه کلمو له لیکو ډډه وکړو او زیانونه یې دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زموږ د درس او مطالعې مخنيوی کوي.
- زده کوونکی ستومانه کوي.
- د ګټې او تاوان روحيه غښتلې کوي.
- د نورو د درسونو وخت نيسي.
- ځان بايد په لويه ليکنه کې سردرګم نه کړو.

- بايد د مقالې يا بلې ليکنې لپاره عنوان له ګېدې ونه باسو او نه نورې برخې له خپل فکره طراحي کړو ( البته په ژورناليزم کې ).
- په ليکنه يا مقاله کې د منلو وړ جملې وليکو:

الف - غير ضروري رانه وړو.

ب - مخکې له مخکې کلمې او جملې وپلټو.

ج – رنګ شوې او مصنوعي کلمې په مقاله کې رانه وړو. رنګ شوې او مصنوعي کلمې پر فصل د تندر معنی لري.

- د هنري ادب ليکوال کار دا دی، چې تل وړ مضمونونه په طبيعت او ماحول کې پيدا کړي او هغه د تخيل په قوت د کلمو له پيوستون څخه جوړ کړي، چې دا د هنري ادب په رامنځته کېدو کې ګټور دی.
- که ليکوال وغواړي خپل هدف خلکو ته ښه ولېږدوي، لومړی دې موضوع پيدا کړي او بيا دې ورسره مناسب قالب او وړ الفاظ غوره کړي او په لنډه توګه دې اصلي هدف خلکو ته وړاندې کړي.
- د لنډې ليکنې پر مهال بايد ليکنه رسا او بې تکلفه وي، خو په هنري ليکنو کې کلمه د بديعي صنايعو( معنوي او لفظي صنعتونو ) کارول ضروري دي، نو هرومرو ( څه ليکل، ويل او وربانديې پوهېدل ) ستونزو ، خو له خونده ډک وي او د هنري ادب د ليکوال دنده ده که په هر فورم کې ليکنه کوي، بايد له مفهوم، خوند ، اعجاز ايجازه ډکه وي، ځکه( هنري ادبيات ټولنيز واقعيتونه د سمبولونو له لارې انځوروي. )

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هر کله که یو لیکوال وغواړي ډېره معنی په لنډو ټکو کې وړاندې کړي، نو د بې خونده او اوږدو جملو له لیکلو دې ډډه وکړي.
- د ډېرو لیکنو ته لنډ لیکل آسانه دي، خو په دې شرط چې پرله پسې مشق او تمرین وکړي.لنډه لیکنه خوندوره لیکنه او له مفهومونو ډکه ده.
- د هنري ادبیاتو پنځونه او غوره تحقیق د یو لیکوال د تلپاتې پرلـه پسې هلو ځلو او له مینې ډکو ستومانه هڅو او هاندو نتیجه ده. دا ډول لیکنې لـه شـک پرتـه پـر یـو لیکـوال د دالله رب العلـیم او حکـیم، حکیمانـه پېرزوینه ده. یو ښه لیکوال د بشـري ټولنې یـو فعـال او روغ زړه تـه پـاتې کېږي او بس.
- موږ ددې لپاره لنډه لیکنه کوو، چې لوستونکي زموږ لـه خوا د وړانـدې شوي متن په معنا وپوهېږي؛ کله چې لیکوال د لنډې لیکنې آرونو ته پام وکړي په حقیقت کې یې د کلمو لنډون ته پاملرنه کړې ده.
- د انګلیسي ژبې د بشپړ ګرامر لیکوال (احمد حسین مدیري« وایي: لنـډه لیکنه د مطلب ښه هضمول او د اړینو کلمو لیکـل دي، چې لوسـتونکی وکولای شي د نا اړینو کلمو پـر لوسـتو د وخت د خرڅ پرځای مخامخ د لیکونکي هدف ترلاسه کړي.
- علي رضا عاصف وایي: لنډ لیکـل د لنډې جوړونې پـه معنـی دي؛ لنـډه جوړونـه هغـه فـن دی، چـې پـه کـارونې سره یـې یـو اوږد مطلـب پـه یـوه وړوکي چوکاټ کې ورځای کړو، بې لـه دې، چـې د مـتن منځپـانګې او د لیکوال موخې ته کوم زیان ورسېږي.
- لنـډه لیکنـه مـوارد او کارځـای لـري، دغـه مـوارد او ځایونـه ورځپـاڼې، اوونیـزې، مجلـې، علمـي او تحقیقـي کتابونـه دي، خـو علمـي لیکنـې، څېړنیز بهیر دی( هغه وخت لیکنه او څېړنه نتیجه ورکوي، چـې موضـوع په کره ډول ورکې حل شي. )

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لنډه ليکنه په هره برخه کې وي، له لويو ليکنو بهتره ده، ځکه د مقصد ټکي په لنډه ليکنه کې ښه ځلېدای شي. عبدالقادر ګيلاني، چې د قادريه طريقې مشرو، د دين زبردست عالم او ليکوال و، ويلې دي: ((معنی بايد له بهترينې لارې ادا کړو او د هغې د بيان لپاره داسې کلمې غوره کړو، چې د هغې د معنی لپاره تر ټولو غوره کلمې وي.))
- لنډ ليکونکی ساده نويسان دي، چې له ځان ستاينې او فضل فروشۍ پاک دي. رواني د لنډې ليکنې ځانګړنه ده، په قابوسنامه کې راځي، هره خبره چې کوئ بايد ساده او لنډه وي. لنډ وغږېږه، لنډه ليکنه وکړه، بېځايه او اوږدې خبرې ستا او د لوستونکي وخت نيسي. ډېره معنی په لنډو کلمو کې ځای کړه لکه متل.
- تصنيف (To write)، ډله، صنف، ويش، برخه او اصطلاحاً د بېلابېلو افکارو او ډول ډول نظريو د راټولولو معنی ورکوي. تصنيف ته په لغت کې جمع آوري (راټولونه) هم وايي او په اصطلاح کې هغه اثر دی، چې د ليکوال له افکارو او نوښتونو سرچينه اخلي.
- تصنيفي اثر د ليکوال د ابداعي قدرت او ذوق په وسيله رامنځته کېږي، څوک چې د غه واکمني لري او يو اثر رامنځته کوي؛ مصنف نومېږي.
- هغه مصنف چې غواړي د خپل خلاقه ذوق په رڼا کې يو بديع اثر رامنځته کړي، لازمه ده، چې په بېلابېلو علمي او هنري څانګو کې مهارت ولري. د استعداد او لازم هوش تر څنګ، څومره چې ليکوال تکړه، ګرځند، باتجربه او پرکاره او په کارپوه وي، واکمن به وي، چې د نورو علمي موضوعاتو د ليکلو پر مهال نور اخلاقي او روزنيزي پېښې هم تشريح کړي، چې په دې کار کې شاعر، ليکوال او آن نقاش يو ډول دي.
- تصنيف کله کله هم هنري اړخونه لري، چې د ليکوال د ذوق له عمل او هنر سره تجلی (ښکلا) کوي. که چېرې يو کتاب د خدای تعالی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجود د اثبات په برخه کې وليکو، بايد لومړی د هغه په برخه کې فکر وکړو او فهرست يې د کاغذ پر مخ راوړو، وروسته په ترتيب او د ذهني سابقه (هماغه برخه کې د تجربې) سره د هغه په برخه کې قلم وچلوو.

- په تصنيف کې کېدای شي د فيلسوفانو، پوهانو، متفکرينو او پخوانيو شاعرانو او همدارنګه معاصرينو له نظريو څخه ګټه واخيستل شي، خو په دې شرط چې په خپله د مصنف ذوق او مفکوره جوړه کړي.
- تصنيف په اوږده او لنډ ويشلای شو، تصنيف که اوږد وي او که لنډ يو ډول هدف لري. تصنيفي آثار يوازې شکل له پلوه له لنډ تصنيف سره توپير لري. تصنيفي آثار ابداعي لوري لري. اوږد يا لوی تصنيف له شک پرته په يو معين وخت او ټاکلي برخه کې د ليکوال د ډېرو مطالعو او اوږدو تجربو، پوهنو، تاندې پوهې او هنري ذوق محصول وي.
- د اوږد يا لوی تصنيف موضوع لويه وي، شرط په کې د ليکوال ابداع ده.
- لنډ يا ووړ تصنيف ته په (فرهنګ فارسی-انګليسي) قاموس کې Ditty وايي. دغه تصنيف لکه لوی غوندې (ځانګړې هدفونه لري) دغه هدفونه په يوه موضوع کې د ذوق او پوهې له مخې يو تصنيفي پلان جوړول دي.
- اوږد او لنډ تصنيفونه د مصنف د کار محصول دي، نو ځکه ورکې له ډېرې آزادۍ برخمن دی. تصنيفي اثر د دې لپاره چې د ليکوال د ذهن او فکر زېږنده دی، ډېر په (تخليقي قوت) پورې اړه لري.
- ليکنه او بيا تصنيف کول د ليکوالۍ په ډګر کې يوه اړتيا ده. ټولې بشري ټولنې د خپل (علمي، سياسي، ادبي، اقتصادي) هويت لپاره ليکوال او ليکوالۍ ته اړتيا او ضرورت لري؛ دغه اړتيا تصادفي نه ده، بلکې يو ضرورت دی.١

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ليکوالي په لومړي سر کې که په هره برخه کې وي تخليق دی، ځکه مواد يې له طبيعت او ماحول څخه را اخيستلو بيا په يوه کالب کې راوړل، نوې پيدا کونه او ايجاد دی.
- هر کوچنی او لوی تصنيف که په هره برخه کې وي او هر ډول مضمون ولري، معتبر او ارزښتمن دی، دا ځکه چې د کلتور يوه پراخه برخه وربانديې رغېږي؛ له همدې امله تصنيف ته اړتيا موجوده ده.
- د يو ملت آثار د (نظم او نثر) له لارې غنې کېږي. نظم خو په ادبياتو پورې اړوند دي، مګر نثر د بشري ټولنو په ټولو ټولنيزو اړتياوو پورې اړوند بېږي، چې په هغه کې (طبيعي علوم او اجتماعي علوم) را تلای شي.
- په اجتماعي علومو کې هم ځينې حدود او ضوابط موجود دي، چې د هغو له مخې د هر صنف حدود تر ډېره حده معلومولای شو، مثلاً ادبي آثار او ادبي ډولونه د ځان لپاره حدود لري، لکه کيسه، شعر همداسې تصنيفي آثار ځانګړی فورم او مضمون لري، چې په بېلابېلو وختونو کې د مختلفو مفکرينو او ليکوالو له خوا رامنځته کېږي.
- هر تصنفي اثر يو نوی اثر دی، چې ابداع هم ورته وايي، دغه ابدع که په هره برخه کې وي، په زړه پورې ده او ځانګړی مضمون لري او ارزښت يې د هماغه مضمون له مخې ټاکل کېږي.
- د تصنيفي اثر ليکوال غواړي د خپل خلاقانه ځواک په رڼا کې يو نوی (بديع) اثر رامنځته کړي. مصنف بايد په بېلابېلو علمي او هنري ځانګو کې مهارت ولري، ځکه تصنيفي اثر د مصنف په پوهه او ځيرکي پورې اړه لري.
- د تصنيفي اثر له ځانګړنو دا هم ده، چې هر ډول مضمون او شکل لرلای شي؛ علمي، ادبي، سياسي، اقتصادي، تربيتي، ديني او ...د تصنيفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثر د مضمون پراخوالی د لیکوال او مصنف په پوهه پورې اړه لري؛ مطالعه، خودآګاهي، تجربه، په ټولنیزو خبرو پوهېدل، د اثر ارزښت زیاتوي.

- د تخلیقي آثارو شته والی او دوام د فرهنګ بډاینه ده؛ تخلیقي آثار د هر ملت د فرهنګي ودې او غنا لامل ګرځي. له تخلیق پرته د هنر او ادب ټول ډګرونه خالي برېښي.
- تخلیق؛ خلقول، پیداکول، پنځونه او لاسته راوستنه ده او تخلیقي (ص) نسب، د تخلیق د خلاقیت، خلق کولو، هنري ابتکار دی، که تخلیق (تان) پنځونه او رامنځته کول وبولو، نو ویلای شو، چې تخلیق د هرې ژوندۍ ژبې ضروري مال ګڼلای شو، تخلیق په حقیقت کې پراخه علمي-ادبي ډګرونو ته هویت وربښي، بې تخلیقه ژبه یو ډول بې فرهنګي ده.
- هر ملت په خپل زرین فرهنګ ښایسته وي او ویاړي. د لیکنې او یا ایجاد په ډګر کې تخلیق اول او اصل دی او تحقیق یې دوباره غنا ده. که خپل او نړیوال ادبیات مطالعه کړو راته څرګنده به شي، چې تخلیقي آثارو همیشه جایزې ګټلې دي.
- تخلیقي آثار لکه شعر، قطعه، داستان، کیسه، ناول، رومان او آن فولکلوري ګڼ صنفونه رانغاړي.
- هنري – ادبي آثار تخلیقي او نوښتي آثار دي، ځکه تخلیقي منبع لري او منبع یې د لیکوال یا شاعر (فني او ماهوي) ادراک دی، چې له وراثت او ماحول څخه اغیز اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵–۷– د پنځم څپرکي پوښتنې:

۱) ليکنه او ليکوالي څنګه يوه دوامداره کلتوري –فرهنګي بهاينه ده؟
۲) د ليکوالۍ عمده ډولونه کوم دي؟ نومونه يې واخلئ او لنډه ليکنه څه ډول ليکنه ده او څه ګټه لري؟
۳) کوم ډول ليکنې (ژورناليستکي که ادبي) لنډې وي؟ د لنډوالي تاثيرات يې کوم دي؟
۴) موږ بايد په ليکنه کې کوم ډول صلاحيتونه وکاروو؟
۵) څنګه کولای شو له يوې لويې ليکنې د هغې (شيره) راوباسو؟
۶) په لنډه ليکنه يا اوږده ليکنه کې اصلي مقصد او د پام وړ موضوع څه شی جوړوي؟
۷) په ادبي ليکنو، په تېره تحقيقي ليکنو کې لنډه ليکنه کول څه ډول کار دی؟
۸) څنګه يوه ليکنه او يوه مقاله ستندرد او څېړنيزه ده او څېړنيزه يې ګڼلای شو؟
۹) د لنډې ليکنې د لرغونتوب په برخه کې خپل معلومات له ژوندیو مثالو سره وړاندې کړئ.
۱۰) د پښتو ادب په منځنی (کلاسيکه) دوره کې د يوې ښې لنډې، بامفهومه ليکنې اساس چا کېښود، هغه څوک او کوم آثار يې وليکل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱) په او سمهال په پښتو ادب کې لنډې ادبي ليکنې کوم مهال وشوې؟
۱۲) لنډه ليکنه څه ډول متن دی او هنري ليکنې هم په کې راتلای شي؟
۱۳) څنګه کولای شو يوه ليکنه را لنډه کړو؟
۱۴) په ژورناليستي او ادبي ليکنو کې د لنډې ليکنې لار په ګوته کړئ.
۱۵) څنګه کولای شو په ليکنه کې د بېځايه کلمو له راوړلو ډډه وکړو؟
۱۶) لويه او بېځايه ليکنه کوم زيانونه لري؟
۱۷) په ليکنه کې د عمومي خبرو له ليکلو څنګه ځان وژغورو؟
۱۸) آيا د ادبياتو او انجينرۍ په برخه کې تفکر کول څه سره ورته والی لري؟
۱۹) که يو ليکوال وغواړي خپل هدف خلکو ته ښه ولېږدوي څه کول ورته په کار دي؟
۲۰) آيا په معلوماتي لنډو علمي او ژورناليستکي ليکنو کې ادبي-هنري افکار شاملولای شو؟
۲۱) رنګ شوي او هنري کلمې په کوم ډول ليکنو کې راوړلای شو او ارتيا يې څه ده؟
۲۲) يوه لنډه ښايسته هنري-ادبي ليکنه او يا ټوټه وليکئ.
۲۳) متحده المال او تکراري کلمې په ليکنه کې راوړل، د يوې ليکنې هويت ته ضرر رسوي او که ګټه؟
۲۴) بې رنګه کلمې په ليکنه کې راوړل ښه دي او کنه؛ دلايل يې وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵) د لنډې ليکنې پرمهال بايد يوه ليکنه څه ډول خصوصيات ولري؟ (لفظي او معنايي).

۲۶) لنډه، خوندوره او له مفهومه ډکه ليکنه... د ليکوال د څه شي محصول او پيداوار دی؟

۲۷) د لنډې يا بلې هرې ليکنې نخوړ ځنګه وړاندې کولای شو؟

۲۸) په عمومي ډول لنډه ليکنه يا زموږ ليکنه کومې ځانګړنې لري؟

۲۹) د انګليسي ژبې د بشپړ ګرامر ليکوال لنډه ليکنه څه ډول راپېژني، په شمارو يې مشخصه کړئ.

۳۰) حضرت علي کرم الله وجهه د لنډ کلام په برخه کې څه ويلي دي؟

۳۱) يو جدول د لنډې ليکنې ترسيم کړئ.

۳۲) د لنډي ليکنې فني توکي په ګوته کړئ.

۳۳) د لنډې ليکنې (هنري، علمي، ادبي او تحقيقي او آن ژورناليستکي ليکنو لپاره د نظر خاوندانو، درانه ليکوال کوم ټکي په ګوتو کوي؟

۳۴) اروانباد استاد صديق الله رښتين د ليکنې په برخه کې ليکوالو ته کوم شيان وړاندې کوي؟

۳۵) د يو متن د لنډولو لارې-چارې کومې دي؟

۳۶) حکايت د ليکنې کوم ډول دی؟

۳۷) د لنډې ليکنې موارد او کارځای کوم دی؟

۳۸) عبدالقادر جيلاني (ګيلاني) د معنی د لېږدولو په برخه کې کوم نظر درلود؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹) قابوسنامه ، ابن قطیبه او دیل کارنګي د لنډېو وینا او لیکنو په برخه کې کوم نظر درلود ؟

۴۰) د لیکنې د ډلبندۍ په برخه کې څومره پوهېږئ، خپل دقیق معلومات وړاندې کړئ.

۴۱) تصنیف په پوره ډول تعریف کړئ.

۴۲) تصنیف ته په پښتو - انګلیسي او پښتو - پښتو سیند کې څه ویل شوي دي؟

۴۳) تصنیفي اثر د لیکوال د کوم قدرت له امله رامنځته کېږي؟ عوامل یې پوره ولیکئ.

۴۴) هغه مصنف، چې غواړي د خپل خلاقه ذوق په رڼا کې یو نوی (بدیع) اثر خلق کړي، لازمه ده کوم شیان ورسره وي او ترې کار واخلي؟

۴۵) ولې د خوشحال خان دیوان، آثار، د عبدالرحمن بابا دیوان او د ځینو نورو آثار تلپاتې هویت لري او قیمتي مرغلرې دي؟

۴۶) د یوه تصنیف په رامنځته کولو کې مصنف ته څه په کار دي، چې هغه ترسره کړي؟

۴۷) تصنیف په څو ډوله دی؟ هر ډول یې په لنډو او کره جملو کې معرفي کړئ.

۴۸) د لیکوالۍ په ډګر کې د تصنیف اړتیاوې کومې دي؟ په ګوته یې کړئ.

۴۹) د یو ملتٍ آثار د غني کېدلو لارې کومې لیکنې دي؟

۵۰) کومو آثارو ته تصنیفي ویلای شو ؟

۵۱) د تصنیفي اثر ځانګړنې په عمده او خصوصي ډول بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۲) تخليق څه ته وايي؟ څو تعريفونه يې را واخلئ.

۵۳) د تخليقي آثارو دوام څنګه د فرهنګي غنا او بډاينې لامل کېداى شي؟

۵۴) د ليکنې په ډګر کې تخليقي آثار اول او اصل دي که تحقيقي؟

۵۵) په هنري – ادبي ډګر کې کوم صنفونه او آثار تخليقي ګڼل کېږي؟

۵۶) د هنري – ادبي – تخليقي آثارو توپير له غير تخليقي سره په څه کې دى، په لنډه توګه يې را وړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵–۸– د پنځم څپرکي ماخذونه:**


۱) کلام الله مجيد. ثورات. (ن–والقلم و ...)

۲) کلام الله مجيد. آن تو ادل امانات.

۳) بينوا. عبدالروف. ۱۳۵۷. پښتو متلونه. کابل: پښتو ټولنه. د پښتو څېړنو نړيوال مرکز.

٤) پښتو- انګليسي قاموس. ۱۳۸۸ه ش: کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي. الازهر خپرندويه ټولنه.

٥) پښتو- دري قاموس. ۱۳۸۹ (اول او دويم). کابل: خاور خپرنديوه ټولنه.

٦) حضرت علی کرم الله. ۱۳. نهجه البلاغه.

۷) حقپال، محمداجان. ۱۳۹۳. د متن لغوي او اصطلاحي پېژندنه. کابل: کابل پوهنتون. ادبياتو پوهنځی. ډاکتری پروګرام چيپټر.

۸) ختک، عبدالقادر. ۱۳۸۳. ګلدسته. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي. پېښور يونيورستي.

۹) خوشحال خان. ۲۰۰۵. م کال. د ستارنامه. پېښور. خيبربازار. قصه خوانی.

۱۰) دواني، علي. ۱۳۷۷ ه ش. هنر نويسنده ګي و نامه نګاري. ايران- تهران: خيابان انقلاب.

۱۱) مسعودي، ډاکتر اميد. ۱۳۸۲ ه ش. (ژباړه) ، جلال آباد ، مومند خپرندويه ټولنه.

۱۲) زاهد پښتو –پښتو سيند. ۱۳۸۵ ه ش. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٣) زلمی هېوادمل. ۱۳۵۲. پټه خزانه (سريزه). کابل: کابل پوهنتون. د ادبياتو پوهنځی خپرونه.
١٤) عبدالرحمان بابا. ۱۹۴۸ م. ديوان. پېښور. پېښور يونيورستي. پښتو اکاډمي.
١٥) فرهنگ فارسي به انگليسي. ۱۳۸۱. تهران: ميدان انقلاب. انتشارات گروه مؤلفين.
١٦) فرهنگ فارسي به انگليسي. ۱۳۸۱ ه ش. تهران: خيابان انقلاب، چاپخانه رهنما.
١٧) فرهنگ فارسي عميد ، حسن عميد. ۱۳۸۲. تهران: ميدان استقلال. مؤسسه انتشارات امير کبير.
١٨) سعدي شيرازي، مصلح الدين. ۱۳۹۰ ه ش. بوستان سعدي (پنځم چاپ). تهران. کتابخانه علي ايران. انتشارات بهزاد. خيابان شهدای ژاندارمري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

## ۶– تالیف او څېړنه (تحقیق)

**پیلیزه:**

تالیف او څېړنه (تحقیق) او د لیکوالۍ نورې برخې د معاصرې لیکوالۍ اساسي، مهمې، علمي او آن تدریسي سترې انکشافي برخې جوړوي.

تالیف؛ ردیفول، جوړول او منظمول دي، یعنې لیکنو ته داسې سر او صورت او سامان ورکول چې په هماغه فني برخه کې انسجام رامنځته کړي. د اوسنۍ لیکوالۍ ډګر له تالیف، تخلیق، تصنیف او تحقیق مالامال دی.

هر علمي او ادبي او هنري تحقیق یوه غزونه او آن پنځونه ده، چې تالیف او تحقیق هم د لیکوالۍ په ډګر کې مهم رول لوبوي.

هر ملت فرهنګي غنا د هغو د علمي او ادبي آثارو په شته والي او تحقیق پیاوړې کېږي.

په دې څپرکي (فصل) کې (تالیف، تالیفي آثار، د هغو ځانګړنې، څېړنه او د څېړنې او تالیفي اثر د برابرولو ځینې میتودونه، د څېړنې مفهوم، ارزښتونه او موخې د تحقیق او څېړونکی (محقق) ځانګړتیاوې، د څېړنیزو آثارو محتوایي خصوصیتونه، د تحقیق د ترسره کولو پړاوونه، د ماخذونو د کارولو او برابرولو ډولونه، د تحقیق او تحلیل ترمنځ توپیر، لنډیز او څه نورو برخو کې به کره او ګټورې خبرې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶-۱- تاليف:**

يو ځای کونه، کتاب ليکنه، رديف کول.

هغه ليکوال چې غواړي يو کتاب تاليف کړي، له هر څه مخکې بايد د ليکوالۍ په کار او ټولو ځانګو کې وړتيا او معلومات ولري؛ لکه: په حديث، تاريخ او يا د نورو پوهانو د علمي او فني آثارو په راټولولو کې يې برخه اخيستي وي، څو د هغه اثر، چې د پوهانو د نظريو، افکارو او نورو څېړنو يو مجموعي راټول شوی فن دی، د پاملرنې وړ وګرځي.

اثر بايد ښکلی او په زړه پورې وي. د شاعر په وينا :

بې له پوهې ، بې له علمه وينا څه ده
که وينا دې ښکلې نه ده، زيبا نه ده
هغـــه پوه، هغه علم نيګينه شوه
د خبـــرو په معنی چې رنګينه شوه
که هر څومره کاڼي ډېر دي په لوی غره کې
جو داني قدرې يو لال وي په هغه کې...

ځينې خلک چې د شهرت د خيال تږي وي، عادت لري، چې ډېر ژر د کتاب په تاليف لاس پورې کړي. همدا چې يوه مقاله او اثر يې وليکه، نو سمدلاسه د کتاب په خپرولو هم لاس پورې کوي او دا خولا پربېږده د نورو ليکوالو د آثارو په نقد کولو پيل کوي.

ممکن ځينې يې د خپل ذاتي لياقت له مخې د پام وړ کار هم ترسره کړي، ښکاره ده، چې دغه کار به استثنايي لوری ولري. په درياب قاموس کې راځي: (( تاليف واحد مرکز، جمع مرکز، يو ځای کونه ، کتاب ليکنه ... )) (۲۱: ۳۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاليف؛ يو ځای کونه، د مسازول، راټولول، دغږو ټکوک راټولول، چې په بېلابېلو ټوټو پورې اړه ولري.
په (فرهنگ فارسي عميد. حسن عميد) کې راغلي دي: ((تاليف دوستی کردن، الفت دادن، دمساز کردن، گرد آورد، چيزهای پراگنده راجمع کردن و با هم پيوستگي دادن، نوشتن و فراهم آوردن کتابيکه مطالب آنرا از کتابهای ديگر اقتباس کرده باشند، خلاف تصنيف.)) (۱۵: ۳۷۰)
په فرهنگ دانش آموز (عربي به فارسي - فارسي به عربي) کې ويل شوي دي: ((تاليف گرد آوري شده، جمع شده ازمنابع مختلف...)) (۱۱: ۹۳)
همدغه شان تاليف: ((تاليف گرد آوری Collection، Editing، Composing هم وايي.
(۱۲: ۱۴۹)
تاليف ډېر په اقتباس ولاړ دی، خو په دې شرط، چې ټول اقتباس نه وي او که وي راټولول يې د اړتيا او فني تجربې پر اساس وي.
د اقتباس په را اخيستلو کې، چې د تاليفي اثر برخه ګرځي، ډېر تمرين ته اړتيا ليدل کېږي. (تمرين د ليکوالۍ د ښه انسجام يو عالي کلتور دي) ، ځکه تاليفي اثر د راټولونې مجموعه ده او ښه راټولونه په عالي تمرين ترسره کېدلای شي.
په اکاډميکو او علمي مؤسسو کې ممکن ځيني ليکوال وغواړي په بېړه يو تاليف وکړي؛ تاليف د تجربو او ډېرو مکررو پوهنو لاسته راوړنه او مجموعه ده، نه د بېړې او تلوار.
ممکن ځيني خلک مستعد وي او ښه لياقت ولري، خو کار به يې هم استثنايي حالت لري. هر سړی او هر ليکوال دا کار نه شي کولای، دا خبره بايد وکړو که دا ډول خلک بيا هم د کتاب په تاليف کې له بېړې کار وا نه خلي او ډېر تمرين ونه کړي نو اثر به يې ښکلی نه وي او له درسی او علمي تجربو څخه به برخمن نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاليفي اثر په برابرولي کې ځو ضروري يادونې:

الف - د دې لپاره چې مؤلف په زړه پورې اثر ټولنې ته وړاندې کړي ، لازمه ده د سترو پوهانو ، ليکوالو او کارزده کړو پوهانو کار ته پاملرنه وکړي او د هغوی د سبک پيروي وکړي.

ب - په تاليف کې بايد هڅه وشي ، چې رانقل شوي مطالب ښکاره او مشخص وي او يو له بله سره جلا شي ، د مؤلف نظريې او ځرګندونې هم بايد ښکاره وي ، په دې معنی بايد ښکاره شي چې ښکاره ځای ولري.

ج – کومه برخه ، چې په اثر کې د تورو په تاليف کې د مطالبو ( تنوع ) ډولونه ( بېلابېل الفاظ او کلمې ) او يو له بله سره د هغوی اړيکې د کارلومړی او اساسي لار ، اصل او شرط ګڼل کېږي.

د - همدارنګه په راټولولو او ياداشت کولو او اقتباس کې بايد قدت وکړئ او يا په بله وينا کله چې يو مطلب يا شعر له يوه کتابه را اخلو ، له ليکلو وروسته هغه بايد ښه ولولو او له اصل سره يې پرتله کړو ، نو ويل کېږي د نه پاملرنې يا چټکۍ له امله کېدای شي په رانقلولو کې اشتباه ترې وشي.

ذ – په نقل کولو کې بايد امانت داري په بشپړه توګه په پام کې ونيول شي ، يعنې د نوموړي سرې او کتاب هويت په ښکاره ډول په خپل اثر کې ځرګند کړي. ( سرې تخلص ، نوم ، کال ، کتابو ټوک ، ځای ، چاپ ځای او مخ ) په ګوتو شي. که نسخه خطي وي ( د هغې ليکوال د کتاب يا نسخې نوم او نور شکلي او معنايي خصوصيات ) ځرګند شي. مطالب بايد په وړو لينديو ( ګيومه ) (( )) کې وليکل شي ، ځو د مؤلف له خپلې وينا سره مغالطه نه شي.

ر- په تاليف کې تر ټولو غوره خبره دا ده ، چې ځنګه را اخيستل شوی مطلب او شعر له خپلو نظريو او خبرو سره يو ځای کولای شو ، يعنې مؤلف ته ښايي ، چې ( رانقل کړې خبرې ) داسې له خپلو خبرو سره پيوند کړو ، ځو د ليکوال نظر پياوړی کړو ، نه دا چې هغه داسې بې ربطه کړو ، چې يو له بله جوش ونه خوري ، مثلاً پړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پړي او رسۍ له رسۍ سره لګېږي، خو رسۍ له ډبرې سره هېڅکله نه غوټه کېږي.

د لیکوالۍ په ډګر کې ؛ هېڅکله اقتصادي نثر او متن له هنري- ادبي متن او نثر سره نشو یو ځای کولی ، صرف یوازې په ادبي او ژورنالیستکي رپوټونو کې ...

همدارنګه متلونه او نور مطالبو اصلي خپره راوړو ؛ لکه: متلونه: د اوبښ په شا سپو وخورم؛ نه دا چې د اوبښ په شا چرګانو وخورم. یا ( داسې ممیز نشته ، چې خلې پورې نشته ) نه دا چې ( داسې ممیز نشته چې کلی ورپورې نشته )، چې د متل د اصلیت، هویت او منطق له پلوه هم درست نه دی.

ز- هغه لیکوال چې غواړي د لیکوالۍ په بېلابېلو څانګو کې له ځانه وړتیا وښیي، لومړی خو ورته لازمه ده، په هماغه برخه یا څانګه او آن مضمون کې ډېره ډېره مطالعه او تجربه وکړي؛ مثال: ( ادبپوهنه که ژبپوهنه ) ادبپوهنې مضامین که د ژبپوهنې او بیا دواړو برخې پوره مطالعه کړي. په دواړو برخو کې لیکنه او تالیف وکړي، خو د دې لپاره، چې دغه دواړه برخې نه جلا کېدونکې خصوصیات لري، نو باید تخصیصي لیکنې او تالیف وکړي، لکه: د لیکوالۍ په برخه کې.

س– که موږ غواړو د اجتماعي علومو په یوه برخه کې تالیف کوو ، ښه به دا وي ، چې په قرآن مجید ، حدیث شریف، تاریخ، اروا پوهنې، فولکلور ، معاصرو او نړیوالو ادبیاتو په برخه کې مطالعه وکړو.

د خواجه حافظ شیرازي په وینا :

((با علم وفضل و دانش داد سخن توان زد

چون جمع شد معانی ګوی بیان

توان زد ...))

(۱۲: ۷۷)

ش- د تالیفي اثر لیکوالي تصادفي او سرسري کار نه دی، تالیفي اثر د ډېرو پوهونو ، مطالعو ، درسونو ، راټولونو ، پوره پوره تجربو ، اوږدو مسلکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



منزلونو ، لنډ ، خو قوي مزل دی، يعني تاليف کره کول دی، نه سره کول، ځکه سره کول ( ښه او بد کول ) د نقد او کره کولو او کره کوونکي دنده ده، خو د مؤلف دنده تاليف، رديف کول او برابرول دي، البته په ښه، لنډ او کره ډول.(د ډېرو قوده، د يوه ګيډۍ ) متل ؟؟

ص – که يو مؤلف غواړي تاليف وکړي نو ښه او په زړه پورې اثر وړاندې کړي، لازمه ده د باتجربه او پخوانو مؤلفينو له کار او کړنو ګټه پورته کړي.

په تاليف کې مهمه دا ده رانقل شوي مطالب او خپل نظريات بايد سره جلا او د تفکيک وړ او روښانه وي، په دې معنې چې کومه برخه د تاليف يې خپله او کمه د نورو ده.

ض – په تاليف کې د مطالبو تنوع ( رنګارنګي ) او يو له بل سره يې اړيکې لومړی او اساسي شرط دی. همدا رنګه په ياداشت کې دقت بايد له ياده ونه باسو. په بله وينا کله چې يو شعر يا يو مطلب له يوه کتاب رانقلوو ، له ليکلو وروسته هغه ولولئ او له اصل سره سرمون ورکړئ ، نه ويل کېږي د اثر په ليکلو کې بېړه شوې وي؛ کم او يا زيات شيان بايد ترې لرې شي.

د نورو د مطالبو د رانقلولو په صورت کې د ليکوال او د هغه د کتاب نوم سره له نورو مشخصاتو راوړل ضرور دي؛ لکه:

(( ليکوال( تخلص او نوم)، کال، کتاب، خويم چاپ، ځای، ښار او چاپخونه او مخ )) ذکر شي او نقل شوي شيان په ګيومه (( )) کې ونيول شي ، خو د ده له خپلو خبرو سره يې توپير وشي. وګورئ ( ۲: ۲۲ – ۲۳ )

**۱– د تاليفي اثر ځانګړنې:**

د تاليفي او تصنيفي اثر ترمنځ ښکاره توپير موجود دی؛ هماغسې چې نور ادبي- اجتماعي صنفونه د فن له پلوه سره توپير لري، د ليکنې په ډګر کې د تاليف او تصفنيف ډېر توپير موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د تالیفي اثر برابرول د یو مشخص تدریسي هدف لپاره وي. باید ډېر واضح او ځرګند وي؛ د لیکوال لازمه پوهه، تجربه او انتظام ور کې صراحت ولري.
- د تالیفي اثر ځانګړنې تر ډېره بریده د مؤلف په مهارت او تجربه پورې اړه لري. د نورو له تجربو یې باید تجربې خپلې کړې وي او خپل کتاب یا اثر یې داسې ردیف کړی وي، چې د لوستونکو لپاره د موضوع په اړوند ښکاره معلومات په لاس ورکړي.
- په تالیف کې یا د تالیف کولو په وخت کې لیکوال ته خپله پوهه یا کتابي پوهه کافي او پوره نه ده، بلکې لازمه ده د هېواد په مذهبي او ملي روحیه پوه او سمبال وي، ځکه تالیف کول د لیکوال یو اجتماعي مکلفیت دی، چې پوه، اخلاص، ښه نیت او له موضوع څخه لازم درک باید په کې موجود وي. ده ته لازمه ده د هېواد په تاریخ، قرآن کریم، حدیث، ټولنپوهنې، دودونو او نورو علومو کې معلومات ولري. له دې امله تالیف نه یوازې د لیکوال خپل نظریات دي، بلکې د نورو د قول څلول هم دي.
- تالیف بله ځانګړنه دا ده، چې لیکوال له خپله ځانه لار نه باسي، نو موړی د ضرورت له مخې د سترو لیکوالو د سبک پیروي کوي او دا متل ورته مخکښ فورمول وي، چې (مخکینې د وروستیو پل وي.) (۴ : ۷۷)

مؤلف هم د نورو پر لار (سبک) پل ږدي او خپل تالیف بشپړوي.

- د تالیفي اثر عمده ځانګړنه دا ده، چې ډېر ځله تدریسي هویت لري، چې لوی اهداف یې روزنیز وي. دغه آثار (تالیفي) په پوهنتونو او د لوړو زده کړو علمي مؤسسو کې د استفادې وړ وي.
- د تالیفي اثر د لیکلو یو له عمده ځانګړنو دا ده، چې باید د ډېر تمرین او ممارثت له لارې ترسره شوی وي، د لیکلو تمرین د تالیفي اثر کره هویت څرګندوي، ځکه نو د تالیف پرمهال ډېر تمرین اړتیا ده او دغه اړتیا د ضرورت د رفع کولو آسانه او ډاډه لار په لاس راکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پـه تـاليفي اثـارو كـې د اقتبـاس ترڅنـګ، ماخذونـه بايـد ښـکاره او پـه پـوره امانتدارۍ وکارول شي. هر ماخذ هم د کتاب پـه منځ او هم د کتـاب پـه پـای کـې د وخت له معياري دود (علمي مؤسسې يا پوهنتون) له دود سره سم وکـارول شـي. د ماخذونو دقيقه کارونه د تاليفي اثر لا کره کول او بها زياتول دي.
- د تاليفي اثر له ځانګړنو دا هم ده، چې په اثر کې د هرې بلې نظريې راوړل د يو علت د (سپيناوي) لپاره بايد وي؛ يعنې د هر علت لپاره يو معلول راوړل شي؛ د مثال په ډول يو تدريسي کتاب که د يو سمستر لپاره ليکل کېږي، يا دوو، نو بايد ( اړتيا، علت، مفردات او د ځانګې تدريسي غوښتنې منعکسې کړي.( همدارنګه د هر علت، معلول د هماغه قضيې د داخلي منطق انعکاس دی؛ د بېلګې په ډول: (که غرلوړ دی، پر سرلار لري ) نه دا چې وويل شي: (که غرلوړ دی، زه ورختلای نشم. (
- د تـاليفي اثـر لـه ځـانګړنو دا هـم ده، چـې وو ايـو: ( پـه تـاليف کـه د مطـالبو تنـوع ( جلاوالی ) (رنګارنګي ) ډېره اړينه ده. او آخر دا، چې د تاليفي اثر په رامنځته کولو کې نسبت تصنيف ته دقت او ځيرتيا ډېره لازمه او حتمي ده.
- يو تاليفي اثر بايد له مخکې نه ( نوی، لنډ، کره، مردف، مرتب، منظم، عـام فهمـه او بالاخره تدريسي هويت ولري؛ له يوه پياوړي سبک نه کار ورکې اخيستل شوی وي؛ د ليکوال او د نورو د لازمو پوهنو شيره او ثمره وي. ) لنډوي په کنډه برابـر او له مثالونو ډک وي. يو ښه تاليفي ا ثر د منې يوې ښې پياوړې، قوي او ښـانګوري ونې ته پاتې کېږي، چې هم ميوه لري، او هم ښايست ! ! !

**۲- د څېړنيزو او تاليفي آثارو د برابروالو ځيني مېتودونه:**

اول: د تاليفي اثر مېتودونه: تاليفي آثار منظم او لنډ ميتودونه لري، چې پـر پـوره پوهه، علمي واکمنۍ او ډېرو تجربو ولاړ وي او ليکوال يې پرمضمون برلاسـی او قابل صلاحيت وي، لازمه ده لومړی ځيني لنډو ښکاره او کره ټکي وړاندې کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱) دغه کار د ليکوال د کلونو تجربو او علمي صلاحيتونو محصول دی، چې په پوره مهارت ترسره کېږي.
۲) هغه څوک (ليکوال) چې يو تاليف کوي، لازمه ده، د تاليف کولو له لارو-چارو (شيوو) سره بلد او روږدی وي او له دې سره د ماخذونو له او نورو فني ميتودونو سره آشنا وي.
۳) څنګه چې د علومو هره څانګه يو ټاکلي ميتود لري، نو د تحقيق يا تاليف لارې يې هم جلا دي؛ دغه ميتودونه تاريخي، سياسي، علمي، ادبي او نور ډولونه لري.
الف- تاريخي ميتود؛ د پېښو يا واقعو د پېښېدو عوامل بيانوي؛ دغه ميتود پخواني جريانونه په علمي او پر له پسې ډول تعقيبوي او د اسې لارې چارې کاروي، چې مؤلف د خپل کار جريان تاريخي او پخوانيو پېښو جريان ته وقفوي. البته کار ور توکي يې په پوره مهارت او علمي ډول ترسره کېږي.
ب–سياسي ميتود؛ دا هم د تاليف او تاليفي آثارو يو ډول او کار لاره (شيوه) ده، چې ټول سياسي جريانونه که تېر او يا اوس اوس په ټولنه کې روان دي، رانغاړي. دغه ميتود توليدي او تنظيمي بڼه لري او له هر ډول قضاوت څخه ځان ساتي.
ج- علمي ميتود: د دغه ميتود ساحه خورا پراخه او وسيعه ده، ټول طبيعي او اجتماعي علوم رانغاړي. د دغه ميتود چلند د انکشاف او مهارت پر شيوه استوار دی او فکري وړتيا ته په کې زيات ارزښت ورکول کېږي. کابو ټول اجتماعي ارکان د دغه ميتود له لارې رهبري کېږي. دغه ميتود پراختيا او انکشاف ارزښتونو ته ليواله دی.
د- ادبي ميتود: دغه تاليف پر ښکلاييزو موازينو هم اتکا لري؛ فکري او خيالي معياورنه هم په کې ارزښت لري. د تخليق او تحقيق شيوه يې د انکشاف او پر مختګ اصل جوړوي، ځکه تاليف د تحقيق راټول شوي او مردف شوي بڼه ده. ادبي ميتود پر فکري نبوغ زور لګوي او د معنوي ارزښتونو پله يې ډېره درنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه او نورو تاليفونو کې د فن مهارت (رديفول، تنظيم، تفکر، نقل قول، اقتباس، پوهې او پوره پوره تجربه ) عمده اصل جوړوي.
د تاليفي کتاب د ليکلو ميتود کې د لاندې موارد و وړاندېز داسې شوي دي: په پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو کې تاليف د پوهنوالۍ او پوهاندۍ رتبې ته کېدای شي او لاندې موارد په پام کې نيول ضروري دي:

۱) درسي مفردات، فصلونه او عنوانونه بايد د رشتې ( څانګې ) د اړتيا له مخې وي او د ټولنې د ورځيني انکشاف له مخې ترسره شي.
۲) د کتاب درسي مفردات بايد د اکاډميکو نورمونو له مخې وي او تاليف لږ ترلږه د يوه سمستر او همدارنګه د دوو سمسترونو لپاره وي، چې د کميت او کيفيت له پلوه مواد نوي وي.
۳) د تاليفي اثر مفردات بايد مخکې له مخکې څانګې، علمي شورا او نورو مربوطه څانګو کې ثبت شوي وي.
٤) تاليف يو تدريسي کتاب دي، له پنځو کلونو وروسته کېدای شي، بل تاليف وشي.
٥) د درسي کتاب تاليف د هغو محصلانو لپاره ضروري دی، چې له دې مخکې کتاب نه لري.
٦) يو تاليفي اثر که د يوه سمستر لپاره وي، بايد ساعتونه او کرېډېټونه يې معلوم وي.
۷) د کتاب د صفحو شمېر بايد معلوم وي، بايد په يوه ساعت کې له (۵ – ۸) صفحې درس ورکړ شي. د تاليفي کتاب هر صفحه بايد (۲۵۰) کلمې وي.
۸) تاليفي کتاب د داسې ميتودونو مجموعه ده، چې ټولې درسي آسانتياوې په کې برابرې شوې وي او د ليکوال د پوره پوهې، تجربې، راټولونو، اقتباسونو او ماخذونو مجموعه ده. )) (۲۲ : ۲۳۵ – ۳۲ – ۲۳۷ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶-۲- څېړنه (تحقیق)

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، لویه څښتنه ! موږ د دې ورېو ګرځوه، چې شیان لکه څنګه چې دي، هغسې وپېژنو.

څېړنه؛ بیالټونه، ښه پلټنه او ښکاره کول دي. څېړنه (تحقیق) محقق کول او برجسته کول دي.

((د حقیقت او ربښتینوالي لټون ته تحقیق ویلی شي، تحقیق د وخت، حالاتو او شواهدو پابند وي. )) (۲۴: ۱۲۱)

د همدې لیکوال خبره ؛ د متن په باب څېړنو، ګروېږنو ته متني تحقیق وایي؛ تحقیق یو نازک فن دی. د تحقیق لپاره خاص مزاج، خاص علمي پسمنظر او خاص علمي صلاحیت په کار دی.

هو؛ په اوسنۍ علمي او فرهنګي نړۍ کې تحقیق او څېړنو د ژوند ټولو ډګرونو ته لار ویستلې او ټول طبعیت او کاینات یې رانغاړلي دي؛ له همدې امله (تحقیق نوی شی نه دی، بلکې په زړو کې د نویو لټول دي) که دغه لټونې په هر څه پسې وي او یا هره ساحه کې وي، ریسرچ، څېړنه او تحقیق ګڼل کېږي.

اوسنۍ پراخه څېړنې د پخوانیو او لرغونو (نویو موندنو) پر غولې د غزېدو او خوځېدو امکان پیدا کوي. هر څه لرغونو انسانانو په ابتدا بې تفکره په ساده ډول او د فولکلوري (ولسي) آندونو په شیوه رامنځته کړل او اوسني متفکر بشریت هغوی ته په پراخه ډول پراختیا ورکړه، ځکه نو په ولسي پوهه کې راغلی دي، چې : ((مخکني د وروستیو پل وي. )) (متل)

د اوسني تکنالوژیکي عصري او چټک پرمختګ هم د پخوانیو پنځونو پر غولي د انکشاف پلوه اوچتوي او دوام مومي، اوسني غوږۍ (ټیلفون)، ننی کمپیوټر د پرون عادي ټآیپ او اورلګېدو ډبلي او نور پورنیو پرمختګونو پر دوام دي. (

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحقيق د تېرو پلټنه، دوام او انکشاف ته ويلي کېږي، که دغه دوام، پلټنه او انکشاف په هره برخه کې وي؛ تحقيق، څېړنه او ريسرچ ورته ويل کېږي.(
زاهد پښتو – پښتو سيند کې راځي: (( تحقيق نر. م (ج. تحقيقونه، تحقيقات )، پلټنه، حقيقت معلومونه، څېړنه، ريسرچ، تتبع، رښتيا ، حقيقت او :(tahqiqi) ص. نسيب. د تحقيق، د څېړنې، د لټون، علمي ( د څېړنې پر موازينو برابر. )) (۲۰ : ۲۱۲ )
همدارنګه: (( تحقيق (tahqiq) نر. م، Research, Investigation, ingisition، تحقيقات Investigations ؛ تحقيقي (tahqiqi) Investigatory ؛ Investigative. Pertainging )) ته وايي، خو پر پښتو –انګليسي قاموس برسيره په( انګليسي-پښتو ) قاموس کې هم تحقيق داسې معرفي شوی دی:
(( څېړنه، پلټنه ، Research, N، تحقيق؛ ورته والی. Resemblance, n. مشابهت، يو ډولوالی... ښوول شوی دی. )) ( ۳ : ۵۹۳ )
تحقيق؛ برجسته کول دی، څېړنه ( تحقيق ) او پژوهش پراخه مفهوم لرلای شي.
تحقيق د علومو په برخو کې په بېل بېل ډول ترسره کېږي. همدارنګه چې هره څېړنه په شکل او محتوا کې له بل تحقيق څخه توپير لري؛ ځکه نو څېړنه بېلابېل ډولونه هم لري.
د تحقيق کلمه د ( حق ) له مادې اخېستل شوې ده، د رښتيا ، درست، د باطل ضد ، ثابت او واجب معنی ورکوي. همدارنګه: (( تحقيق په لغت کې د څېړنې، پلټنې، د حقايقو ترلاسه کولو او يو امر ته د رسېدلو معنی ورکوي؛... تحقيق عربي کلمه ده، په فارسي = درسي کې ورته پژوهش او په پښتو کې ( څېړنه، پلټنه ) بلل کېږي. )) ( ۱۸ : ۱ )
دهخدا مشهوره لغتنامه (قاموس ) کې د تحقيق په برخه کې داسې تشريح او وضاحت شوی دی: (( د تحقيق (څېړنې ) کلمه د عربي ژبې کلمه ده، چې په فارسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه کې معادل يې ( پژوهش ) دی؛ يعني تحقيق او پژوهش زموږ د ژبې په اصطلاح کې يو له بل سره مرادف دي. نو له دې امله ( پژوهش ) هم له تحقيق سره ورته معنی افاده کوي. لکه: چې په يو شمېر لغتنامو کې څرګنده شوې ، چې د پژوهش د مصدر ماده له پژوهېدن او د لټوني، بيا پلټنې، څېړنې ، سوال او پوښتنې، تحقيق او استفسار معنی رسوي. خو په عربي کې د تحقيق او پژوهش لپاره، د تحقيق کلمه نه ده کارېدلې، بلکې د ( بحث) اصطلاح کارېدلې ده او په اصطلاح کې هغه هڅه او کوښښ ته وايي، چې نوی لټول کېږي؛ دلته د لټونه او پلټنه د خلکو لپاره نوی مفهوم ولري، خو د علم او فن د اهلو په اصطلاح کې د حقيقت د موندلو لپاره د يوې نقشې له مخې ځينې چلندونه دي. يا د حقيقت تعريف او مطالعه ده او دعلمي روشونو له مخې د نويو او حقيقي پوهنو ترلاسه کول دي. ))
(۱۳: ۲۹۲)

په هر ډول؛ تحقيق په علمي روشونو سره د نويو او حقيقي پوهنو د ترلاسه کولو لپاره پلټنه ده.

څېړنه يا تحقيق ډېر تعريفونه لري او ساحه يې خورا ډېره پراخه ده. د تحقيق په برخه کې نظريات ډېر دي، چې لنډيز يې راوړو:

(( تحقيق؛ هدفمندو پوښتنو ته د يو منظم فعاليت په توګه ځواب ورکول دي. محقق هغه څوک دی، چې تحقيق ته اقدام کوي او د تحقيق انګېزه هغه وخت د محققانو لپاره پيدا کېږي، چې له يوې نوې پوښتنې سره مخامخ شي. په حقيقت کې هر تحقيق يا ريسرچ يو ټاکلی او معين هدف لري ))
(۲: ۲۱-۲۲)

څېړنه؛ د درست او راسته کولو په معنی هم ده. اکسفورډ انګليسي فرهنګ کې راغلي: ( د مواردو او منابعو پرله پسې او سيستماتيکه مطالعه ده؛ هغه مطالعه چې نوې پايلې ( نتيجې ) ترې لاسته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امـريکن هيـرتيج کـاليج ډکشـنري American Heritage college dictionary کې ويل شوي دي: (( تحقيق يوه څېړنه ده، يوه علمي او اکاډميکه پلټنه ده او د نويو پلټنو په برخه کې دقيقه مطالعه ده. ))، نو تحقيق د نويو پلټنو په برخه کې يوه منظمه او سيستماتيکه بهير دی، چې يو څه نوی وربانديې مومو، يو څه پيدا کوو او يو څه (له زړونو نوي پيدا کوو او له تيارو ګوټونو څخه يوه نوې پرده پورته کوو.) هر نوی تحقيق که په هره برخه کې وي، يوه بريا او لاسته راوړنه ده.
په شعر کې هم خينو شاعرانو د تحقيق په برخه کې نظر ورکړی، چې راوړل يې يو ډول (نوې موندنه) ده.
حافظ الپوري وايي:

حافظه مکړه واويلا فقيري لوی کمال دی
حب د دنيا مې په تحقيق سره خطا وليده

يونس خيبري نظر لري:

يو زمان د خدای په ياد تر شاهۍ به دی
په باور سره کړه دا نکته تحقيق

حافظ شيرازي فکر کوي:

جهان وکار جهان جمله هيچ در هيچ است
هزار بار من اين نکته کرده ام تحقيق

اميدوار يو وياري ته عمارت به مو بلند شي
د تحقيق توفيق يې راکې واړه لوتې به مو قند شي... ( ۲۳ : الف–ب )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱- د څېړنې (تحقیق) مېتودونه:**

لکه چې مخکې مو وویل؛ د علومو هره څانګه یو ټاکلی میتود تعقیبوي او د څېړنې تکتیکونه یې یو له بله توپیر لري، خو سره نږدې هم وي.

د پښتو ژبې تکړه محقق او مبتکر لیکوال (سرمحقق زلمی هېوادمل) چې د څېړنې (تحقیق) په برخه کې څو څو ابتکاري آثار لري، د څېړنې میتودونو ته داسې اشاره کوي:

((د څېړنې د میتودونو تفصیل ځانته جلا بحث غواړي... سره له دې دلته به د هرې څېړنې عمده ځانګړتیاوې بیان کړو:

أ. تاریخي میتود، چې د پېښو د وقوع عوامل جریان او نتیجه د مستندو او باوري معلوماتو په ذریعه څرګندوي... په تاریخي څېړنه کې د معلوماتو ارزیابې او کره کول خاص اهمیت لري.

ب. سروې؛ د ځینو علمي مقصدونو لپاره د سم تکتیک څخه په استفادې سره د اړوندو معلوماتو راغونډولو، ترکیبونو او تفسیرونو ته ویل کېږي. سروې د ستونزو (پرابلمونو له حل سره مرسته کوي، خو زیاتره د فرضیې بڼه لري. په سروې کې د سامپل انتخاب او د سم تکتیک استعمال ته زیاته پاملرنه کېږي.

ت. تجربي میتود؛ چې تر ټولو زیات د ډاډ وړ دی (د کنټرول شویو شرایطو لاندې د پېښو ترمنځ روابط رابرسېره کوي... د تجربې میتود عمده ځانګړتیا دا ده، چې له اندازه کولو څخه په کې کار اخیستل کېږي. شخصي عقاید او عندي (نفسي- ځاني) تمایلات (غوښتنې) په دغه میتود کې نقش لري.

ث. کمپوزیټ میتود؛ د ټولنیزو پوهنو لپاره یو په زړه پورې میتود دی. چې مشخصات یې مخکې بیان شول. )) (۱۰: ۱۴-۱۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه میتودونه تخلیقي او هنري نه دي، بلکې علمي، تحقیقي او تشریحي دي او د تحقیقي لیکنو امتیاز په دې کې، چې لیکوال یې هنري تخلیق کړ نه دی، خو مسلکي سړی دی او تحقیقي لیکنې له مسلک پرته نه ترسره کېږي.

**۲- د څېړنې (تحقیق) مفهوم، ارزښتونه او موخې:**

کله او سنی بشري ټولنه خپلې تېرې کړنې ونه پلټي، ترمیم یې نه کړي، د روښانو او لا تابیا یې ونه کړي، نو نوې موندنې به هم ترلاسه نه کړي؛ هغه وخت (څېړنه مفهوم پیدا کوي، چې یوې پوښتنې ته اړتیا پیدا شي او د ارزښت وړ وګرځي او محقق یو ټولنیز ارمان او هدف ولري، زموږ نوي ارمانونه د نویو هدفونو د لاسته راوړلو ارزښت لا زیاتوي. )

څېړنه د تفکر او تمرکز محصول ده، هغه وخت بشري تفکر غوړېدلای شي، چې په شیانو کې تمرکز وکړي او په نویو پلټنو لاس پورې کړي. همدا د تحقیق مفهوم، ارزښتونه او هدفونه لا برجسته او ډاګیزه کوي.

د تحقیق په وخت کې لازمه ده له ځانه دا وپوښتو ولې تحقیق کوم؟ په څه پسې څېړنه او تحقیق کوم؟، ځکه (څېړنه هدفمنده، مفهوم لرونکې با ارزښته او دوباره موندنه ده؛ هغه وخت د څېړنې مفهوم او ارزښتونه لوړېږي، چې ستر اهداف ولري، هدف د څېړنې د دوام عامل او لامل کېدای شي. )

تحقیق او څېړنه څکه مفهوم او ارزښت لري، چې د (حق) له مادې اخیستل شوې ده او حق تل ځلانده او ښکاره مفهوم لري.

ایراني معاصر محقق (علي قاسمي) وايي: ((د تحقیق کلمه له حق نه اخیستل شوې ده او د حق لپاره ډول ډول معنی راغلي دي؛ لکه: سیده، درست، د باطل ضد؛ ثابت او واجب هم معنی ورکوي او له همدې امله د الله تعالی یو له نومونو او صفتونو څخه هم دی. )) (۱۹: ۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



که وغواړو د ژوند په هره برخه په تېره علمي-ادبي برخو کې د یوې څېړنې ( مفهوم، ارزښمندي او هدفونه ) لا محقق او برجسته کړو لازمه ده لاندې ټکو ته پاملرنه وکړو او دغو پوښتنو ته ځواب ووایو:

أ. ولې تحقیق کوم؟

ب. د څه په باره کې تحقیق کوم؟

ت. زما څېړنه یا تحقیق کومه علمي ارزښمندي لري او که ؟

ث. زما تحقیق د لاینحله پوښتنو ځواب ورکولای شي او کنه؟

ج. کوم تحقیق چې زه کوم، آیا د څېړنې او تېرو معلوماتو ارزښمندي زیاتولای شي؟

ح. زما په څېړنه کې کوم ارزښتونه پراته دي؟

خ. کوم هدفونه لري؟

پورته پوښتنو ته دا ډول ځواب ویلای شو:

الف - د دې لپاره تحقیق کوم، چې د خپل کار ساحه پراخه کړم او نوې تجربې وکړم، ځکه هره نوې تجربه د یو حرکت او تحول مولود ده؛ که تجربه نه وي د علومو انکشاف به په ټپه ودرېږي؛ ځکه وایي: ( تجربه د علومو مورده. ) نه یوازې د علومو مورده، بلکې د علومو د پرمختګ او انکشاف سبب هم ګرځي. د مثال په ډول: پایلیک (مونوګراف) لیکنه د تحقیقي مقالو د لیکلو په برخه کې لومړۍ تجربه ده، چې وروسته بیا د سترو تحقیقيٍ آثارو درامنځته کېدو لارې برابروي.

ب- د هغه (شی) یا (څه) یا ( ورک هدف ) په برخه کې څېړنه کوم، چې ما ته د علمي –ادبي کار یا د ژوند په نورو برخو کې وړتیا لري. د هغه څه په باره کې تحقیق کوم، چې باید هغه مونده کړم او دغه ( موندنه په زړو کې د نویو شیانو یا ارزښتونو ) برجسته کول دي. د هغه څه په باره کې څېړنه کوم، چې زما د خپلو اهدافو په لور ورنږدې کړي او زه په دغو برخو کې څېړنو ته دوام ورکړم.

ج – که څېړنه (تحقیق ) علمي او ادبي ارزښتمندي ونه لري، د یوه تحقیق کول هېڅ مفهوم نه لري؛ هره څېړنه یو هدف لري، چې همدا یې علمیتوب څرګندوي. تحقیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکی هغه څوک دی، چې د تحقيق موضوع ته د پلټنې په صورت کې دوام ورکوي، له علمي لارې د څېړنې کار ته هويت او ارزښت ورکوي.
د – څېړنه (تحقيق) په پوښتنو پسې پلټنه ده او هم پوښتنو ته ځواب ورکول دي، ځکه (هره څېړنه د يوې پوښتنې د مطرح کېدو په صورت کې ترسره کېږي.) هغه مهال تحقيق بريالی وي، چې د پوښتنې ځواب پيدا کړي او د نورو علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره عملي لارې او ګودرې په نښه شي، دا کار له يوې خوا زموږ د تمرين او کار ساحه پراخوي او له بلې خوا د کنجکاوۍ (پلټنې) حس په څېړونکي کې پياوړی کوي.
ه – که هر نوی تحقيق نوې مونده ده، نو بايد د نويو پلټنو پر دوام د نويو څېړنو ارزښتمندي لا هم زياته شي، که دا کار ترسره نه شو، نو موږ د تېر په نسبت کوم انکشاف او پرمختګ نه دی کړی، د بېلګې په ډول، که د عبدالرحمن بابا د علمي، ديني او عرفاني تفکر په برخه کې څېړنه مخکې شوې وي، نو يو ځل بيا بايد موږ د دغو برخو تيارو ګوټونو ته ورننوځو او نوې موندې د خپلو اهدافو د لا برملا (ښکاره) کولو لپاره ترسره کړو.
ٶ – هغه ارزښتونه، چې په لنډه توګه په تحقيق کې اهداف په لاس راکړي د هرې څېړنې ارزښتونه جوړوي. د څېړنې اهداف په لنډه او اوږده موده کې ترلاسه کېدای شي، هر څومره چې هدفونه علمي وي برياليتوبونه به ورکې ډېر مصتور وي، ځکه (کاميابي او برياليتوب د پلټونکي انسان لپاره د پورته تګ او پرمختګ يو اساسي ارمان دی، دغه ارمان د انسان د غريزې او پلټونکي تفکر محصول وي.)
لنډه دا چې د (څېړنې مفهوم، ارزښتونه او هدفونه) د تحقيق په نوعيت (ډول) پورې اړوند ېږي، څو ليکوال وکولای شي په پوره درايت (فکري، مسلکي پوهې) سره موضوع وڅېړي او په تحقيق کې پټې څنډې او زاويې بربنډې کړي او هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنو ته ځواب ووايي، چې د تحقيق په وخت کې ورسره مخامخ کېږي. د غه کار د څېړنې مفهوم، ارزښتونه او هدفونه لا روښانه کوي.
د يو ليکوال په وينا : (( د څېړنې مفهوم، ارزښتونه او اهداف بايد د علمي تحقيق د روش له مخې ترسره شي، ځکه د علمي تحقيق چلند ، د هغو قواعدو مجموعه ده، چې څېړونکی يې د حقايقو د راټولونې لپاره ترسره کوي، وروسته يې تفسيروي ، بيانوي او ثابتوي. د څېړونکي اصلي هدف د کلي اصولو او قواعدو کشف او ښکاره کول دي. )) (۲:۲۴)
د څېړونکي اصلي هدف، د کلي اصولو او قواعدو کشف او توضيح کول دي.

**۳– څېړونکی ( محقق ) څوک دی؟**
هر محصل او ليکوال يو څېړونکی او محقق دی، دا ځکه د دوامدار مطالعې له مخې غواړي په يوه مضمون او خپل مسلک کې دوامداره لټونه او پلټنه وکړي، څو هغه کشف او نورو ته يې وړاندې کړي او څنګه چې هر تحقيق يو حقيقت دی، د حقيقت د موندلو لپاره بايد څېړونکی د لوړو اخلاقي او علمي ځانګړنو درلودونکی وي. صابر وي، پوه او عالم وي، له خپلې رښتې او مسلک سره مينه ولري او د يو مسلکي په توګه د تحقيق کار ته دوام ورکړي.

د څېړنې اصل:
څېړنه د ( پښتو ) ژباړه ده او څېړونکی (محقق ) اسم فاعل دی؛ دواړه ( څېړنه او څېړونکی ) د عربي له تحقيق او محقق نه اخيستل شوي دي او مصدر يې د تفعيل له بابه دی، ( حقق، يحقق، تحقيقا ، محقق ) تحقيق کوونکی ؛ څېړنکی، محقق ( تحقيق شوی، څېړل شوی؛ لکه چې وايي: (( حقق فلان ) ) چې معني يې ده : ( پلانی څېړنه وکړه ) ، يعنې د اصليت يې معلوم کړ او پلټنه يې وکړه او حقيقت يې جوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، نو د ډاکټر ګيان چند په وينا ( خبرنه د يو پټ يا مبهم حقيقت د لوخولو اصولي عمل دی يا د نا معلوم يا لږ( کم ) معلوم په هکله پوهېد نه ده.
له پورته يادونې زما مطلب دا دی، چې اوسنی تحقيقي چاپيريال نوی او پراخ ديد غواړي. اوس اوس، چې علوم د پرمختګ په حال کې دي، ورسره ورسره لازمه ده، بشري پوهې هم وغواړي د ډېرو پوهنو د ترلاسه کولو په خاطر په هره برخه کې پلټنې ضرور دي.
نن د بېلابېلو علومو په چارو کې د ډېر تحقيق اړتيا له پخوا ډېره محسوسېږي، خو په څېړنه کې کوم شی، چې ډېر اړين دی( ښه نيت، ژورتيا او غوره فکر ) دی، له همدې امله لومړنی علمي څېړنې اسلامي فکري مکتب محصول دی، چې يو هدايتګر دی. آن قرآن پاک په ثورت الحجرات ، ۶آيت کې فرمايي: (( يا يها الذين امنو ان جاءکم فاسق بنبا فتبينو ان تصيبو قوما بجهلة فتصبحو على ما فعلتم ندمين. ) ( ۱: ۷۰۱ ) ؟؟
ژباړه: ( اې مومنانو ! که کوم فاسق تاسې ته درشي او تاسې ته کوم خبر دروړي، نو تاسې تحقيق په کې وکړئ. هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر رسوئ او بيا په خپلو کړو پښېمانه شئ. ) له دې معلومېږي، چې څېړنه دقت او تفکر غواړي او هره څېړنه د غور وړو وي. زموږ په ولسي ادب کې هم د دقت او ژورتيا مثاله طرحه شوې ده؛ لکه: ( په ښو تلوار، په بدو تامل )
( ۴: ۷۲ )
يعنې کېدای شي يو کار يا يوه څېړنه د روغ نيت له مخې نه وي، ترسره شوی، چې د لږ تامل ( غور ) وړ ده.
په کلام الله مجيد کې د حضرت ابراهيم عليه السلام د دعا په برخه کې حکايت راځي: (( اې زما څښتنه ! ما ته حکمت سره سمه پوهه، په قول کې د رښتينوالی او د شيانو معرفت، د حق او حقيقت سم ادراک، د علم بشپړتيا او د پرېکړې قوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوبښه له صالحانو سره مې يو ځای کړه او په وروستيو توکمونو (قومونو) کې رښيتانې نوميالیتوب را په برخه کړه.))
همدارنګه زموږ ستر لارښود حضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم به خپل لوی او عظيم الشانه پروردګار ته دوا ړه لاسونه د دعا او تبرک لپاره لپې لپې کړل او ترې غوښتنه به يې کوله: (ارنا الاشياء کما هی )).
ترجمه: (اې لويه ښتنه! موږ د يې وږ وګرځوه شيان لکه څنګه چې دي، هغسې وپېژنو.)
د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دغه دعا د امت (مسلمه امت) په برخه کې يوه ډېره ستره پېرزوينه ده، چې مسلمانان لا تفکر، غور، تامل او صر ته راکاږي.
مسلمانانو چې کله سيرت النبي (ص) ليکلو او احاديث يې کره کولنو له ډېر غوره يې کار واخيستلو او آن د (آسماء الرجال Biography) ستر فن يې رامنځته کړ، چې ساری يې د نړۍ په بل هېڅ فن او ادب کې نه ليدل کېږي.
له دې امله ډاکټر سپرنګر ليکي: ((نه کوم بل داسې قوم په نړۍ کې تېر شوی دی نه اوس موجود دی، چې د مسلمانانو غوندې دې د اسماء الرجال په څېر ستر او عظيم الشانه فن ايجاد کړی وي، کوم چې د هغه په برکت نن ډېرو شخصيتونو حال معلومېدلای شي.))
هغه زياتوي: (همدغه د تحقيق نوی اسلوب Modern Scientific Critiscism) سره بيخي مطابقت لري...) دا او داسې نور روايتونه ښتنه، چې ښيي څېړنه پوره ژورتيا او ريسرچ ته اړتيا لري او بايد د ټولو علومو د لا پراختيا، پرمختګ او غوړېدو په برخه کې په دقت، صبر، کلک هوډ او پراخه حوصلې سره ګامونه او چټ کړو.
هر څېړونکی ته ښايي د خپل تحقيق په برخه کې لازمه پوهه او تجربه ولري. محقق او څېړونکی ټولو فني اطلاعاتو ته تنظيم ورکوي، راټولوي يې او هغه ته تجلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي، نه یوازې دا چې د څېړنې اصول ورته خپله معلوم وي، بلکې نورو ته هم د دغه ستر څېړنیز علمي- ادبي کار په برخه کې د علمي صلاحیتونو واک ورکوي.

د څېړنې ګټې او موخې:
بشري ټولنې له فرهنګي پلوه لکه د ژوند نورو برخو په څېر دغه څانګې (تحقیق) ته هم ډېر اهمیت ورکوي، دغه کار هغه وخت مورږ او زموږ د ټولنې ته فرهنګي حالت ته ګټه رسولای شي، چې څېړنې ته له مسلکي پلوه اهمیت ورکړو او هغه (تحقیق) له مختلفو اړخونو بشریت ته ګټې ورسوي؛ تحقیق فردي او اجتماعي ګټې لري؛ لکه:

اول: د تحقیق فردي ګټې:
تحقیق او څېړنه د علومو په هره برخه کې کولای شي ژوندي او د ارزښت وړ اغیزې پر محقق ولري او ډېرې ګټې رامنځته کړي، ځکه کنجکاوي (پلټنه) انسان فکر ته هڅوي، انسان د تفکر په لړ کې مضمون آفریني کولای شي.
انسان د فکري کامیابۍ په لور هڅوي او له دې امله هر ډول وده او رشد کولای شي، آن همدغه انسان (محصل) او څېړونکی په رواني لحاظ پیاوړي کېږي، ضمیر یې پیاوړي کېږي، وجداني باور تحرک پیدا کوي. او تمرکز پیاوړی کوي.
یو ارواپوه وایي، ښه محقق ځانته معقول مطلب پیدا کوي، څو هغه وڅېړي او له تعصب آمیزه بیځایه شکونو ځان وساتي. څېړنه استعداد ته وده ورکوي او دغه کار د محقق په سوکاله او هوسا مسلک هم بدلیدلای شي.

دویم - ټولنیزې ګټې:
تحقیق (څېړنه) د علومو په ټولو برخو کې د ټولنې او ملتونو د ودې لامل کېږي. د ملتونو وده او پرمختګ په ټولو (اخلاقي، سیاسي، ټولنیزو، فرهنګي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي ) برخو کې له همدغې لارې محقق کېږي. د څېړنې په وسيله نوښتي مسايل په بېلابېلو برخو رامنځته کېږي او د انساني علومو هدفونه روښانه کېږي.
د انسان او ټولنې ژوند ته رنګ ورکول، اعتبار پيدا کېدل له همدغې لارې (تحقيق ) له لارې شونې دي، ځکه همدغه امر د ملتونو د تدريجي لوړتيا (اعتلا ) لامل کېږي او دژوند په ټولو چارو کې انسان په ځان بسيا کېږي.
بايد وواېو: ( تحقيق يو ډول هدفمند ، تلپاتې او دوامداره کار او هڅې دي، چې د ژوند په هر ډګر، په تېره ادبي ډګر کې د محصل او استاد علمي او فرهنګي ژوند ته لوری ورکوي او لارې ورته هواروي. )
څېړنه د هرې ټولنې په فرهنګي اړخ کې ډېر رول لري. چې انکار ترې نشې کېدلای او آن په فرهنګي برخه کې له نورو اړخونو لا ډاګېزه دي.
په حقيقت کې د څېړنې شته والی او پراختيا ډېر شمېر افکار په ټولنه کې د نقد ( کره کتنې ) او دقت (څېړتيا ) له غربال(غلبيل ) څخه باسي او د ډول ډول افکارو صحت او ارزښت ډول ډول اړخونه ټاکي. څېړنه کولای شي زموږ ادبيات، آداب او رسم او رواجونه له انزوا او ګوښي توب او ناپېژندل شوي حالت څخه راوباسي؛ د ځينو سستو او کم ارزښته او غير حقيقي ارزښتونو بېخ او بنسټ بدل او نوي بنيادونه ورته جوړ کړي او په پايله کې د ټولو لپاره نيکمرغي راوړي او بدمرغي لرې کړي.
د همدغو څېړنو له برکته وو ، چې ډېر شمېر په بشري ټولنو کې او ډېر شمېر بشري ټولنې هم د ځان او هم د نورو خلکو او ټولنو لپاره په بېلابېلو ډګرونو کې نيکمرغۍ رامنځته کړې او د نورو هوسا ينو لپاره څېړنې کوي.
څېړنه او تحقيق؛ ابداعاتو (نويوالی) ، اختراعاتو ، ډول ډول موندنو او نوښتونو لارې-چارې رامنځته کوي؛ هنرونه او انساني ارزښتونه د هغه په څنګ کې د حيات د دوام قابليت او ارزښت ترلاسه کوي او نورو ته هم ورپېژندل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پورته يادونو دا نتيجه اخيستلای شو ، چې څېړنه په انسان کې د پلټنې، شوق او پر حقيقت باندې د برلاسې روحيه پياوړې کوي او په پايله کې علم او پوهه د ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې د حيات ( ژوندکولو ) برخه مومي. د اجتماعي تحقيق ګټې دا سې بيانولای شو:

۱) اجتماعي تحقيق که د هر چا هر جمعيت او ټولنې له خواوې او ترسره شي، ګټې به يې ټولو ته ورسېږي او همدا سې د ځينو تحقيقونو اضرار هم ټولې ټولنې ته ورسېدلای شي. ښه مثال يې زموږ په ټولنه کې د سياست د خينو اړخونو زيانونه زموږ د ټولو خلکو د ټولنيز ژوند لپاره زيانمن دي.

۲) اجتماعي تحقيق اجتماعي هدفونه لري، د مثال په ډول د تيلفون (غوږی) او سنی شکل د ټولو ټولنو او خلکو لپاره ټولنيزې ګټې او زيانونه لري کله کېدای شي مادي موخې (هدفونه) هم د يو تحقيق د ترسره کېدو لامل شي، ځکه ځينې پروژې د خپل محصول تحقيق برخه يوه کتاب يا رسالې په توګه وړاتندې کوي او ټول خلک ورته اړمن وي. د څېړونکو ټولنيز هدفونه که څه هم د ځينو هدفونو په عنوان مطرح دي، خو په هغه حال کې چې د اخلاص له مخې وي، الهي هدفونو او غوره ديانت په لړ کې شمېرل کېږي.

- د تحقيق هدفونه بايد سپېڅلې ، د ارزښت وړ، برخليک ټاکونکي او ټولنې ته ګټور وي، همدغه هدفونه دي، چې د څېړنې او تحقيق ارزښتمندۍ ته توجه کوي. هر تحقيق ښه او غوره دی، چې د محقق د روغ نيت له مخې ترسره شوی وي، ځکه نو تحقيق اجتماعي مفهوم غوره کوي.

توکل په هر يو کار کې او لا حد دی
جوړونکی د هر کار رب الصمد دی

د څېړنې (تحقيق) ډولونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهان د آثارو او طبيعت په ارته غبېز کې د تحقيق له بېلابېلو ډولنو کار اخلي، دغه کار د تحقيق په وخت او ډول پورې اړه لري.

همدارنګه د څېړنې د برخې پوهان په خپلو ليکنو او آثارو په رامنځته کولو کې چې تحقيق څه ډولونه کولای شي ولري، ډول ډول نظرونه وړاندې کړې دي.

د آثارو څېړونکی د تحقيق د بهير په پرمخ بيولو کې ځانته لار لري، چې د شکل او محتوا له پلوه له نورو څېړنو سره توپير لري. کولای شو د يو هر اړخيز طرز تفکر يا لرليد له مخې تحقيق په لاندې ډول وويشو:

١- د موادو او کارې چلند له مخې په لاندې ډول دی:

الف: دا ډول تحقيق په ننداړتونو کې ترسره کېږي او ډېر په تجربي علومو (علمي او عملي) علومو پورې اړه لري. د تجربې علومو پوهان د کيمياوي موادو د خواصو په پېژندلو کې په ننداړتونونو کې د تجربې عمليو په ترسره کولو د تازه او نويو حقايقو او مونونو لاسبرې کېږي، لکه چې د کيميا، بيولوژي، او ډېرو برخو کې دغه چلند عموميت لري. د اړتيا وړ مواد په دا ډول څېړنو کې کيمياوي عناصر دي، چې په لابراتوارونو کې کارول کېږي او په اوسني ژوند کې ډېر مهم دي.

ب - کتابتوني تحقيق:

دا ډول څېړنه ډېر څله په انساني او غير تجربي علومو کې ترسره کېږي. د ادبياتو، اسلامي معارفو، ټولنيزو علومو او ... پوهان د آثارو، نظريو او افکارو په مطالعې او مقايسې سره کره کتنه کوي او د حقايقو د موندلو لپاره نظرونه وړاندې کوي او د ټولنې د موجوده اړتياوو ځوابونه وايي، په دې اساس د دا ډول څېړنو د ترسره کولو ميدان همدا ټولنيز، ادبي او شرعي علوم دي، چې په کتابخانو کې د استفادې وړ ګرځي.

ج - ساحوي څېړنه:

دا ډول څېړنې په کليو او کرنې او زراعت په برخه کې وي. لومړۍ محقق ساحه، سيمه، کلي او ځای ګوري او بيا د انجينرۍ، کرنې، مالدارۍ او آن فولکلوريکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړنو لپاره تابيا کوي او تياري نيسي. د تحقيق دا ډول مواد په ساحه کې موجود وي، چې د فني ګروپ او سيمې د مشرانو او کاربلدو خلکو له خوا ترسره کېږي. دا ډول څېړنې د ژبې او ژبو د لهجو په برخه کې هم د يادولو وړ دی. د د هقانۍ او باغدارۍ مواد په ساحه کې موجود وي، چې د هر فن خلک يې له خپلو مسلکي مهارتونو سره ترسره کوي، د دغه تحقيق ماخذونه په خپله په ساحه کې دي.

د- ګډ ( مختلط ) چلند:

دغه چلند په ځينو علومو کې کولای شي ترسره شي او دا ډول دی چې څېړونکی هم له کتابتوني منابعو له پوهانو له څېړنو او همدارنګه د سيمې له کتنو او پلټنو ګټه پورته کوي. په ادبي علومو کې له نظم او نثر چې په کتابتون او ساحه پورې اړه لري، کار اخيستل کېږي او په نورعملي علومو کې هم له کتابخانې او ساحې مواد اخيستل کېږي. لنډه دا چې د تحقيق مختلط چلند په طبي او فرهنګي علومو کې د کار وړ لري او ماخذونه او منابع يې له کتابتونونو او سيمو څخه برابرېږي.

۲- دا رزښتمندي د درجې ( ميزان ) له پلوه:

پوهېږو ټولې څېړنې او پلټنې، چې په بېلابېلو برخو کې ترسره کېږي، يو ډول نه دي، ځکه د څېړونکو استعداد او پوهې اندازه متفاوته او بيله ده او تحقيق شوي موضوعات هم تازه او نوي وي، چې په هغه برخه کې تراوسه هغه ډول څېړنه نه وي شوي او کله ترسره شوي وي، له همدې امله تحقيق د خپل ارزښت له پلوه په دوه ډوله ويشل کېږي:

اول– نوښتي (ابتکاري) څېړنه:

دغه نوم هغه تحقيق او پلټنې ته ورکول کېږي، چې په بشپړه توګه نوی او تازه وي. په دې ډول، چې محقق د تجربي علومو په نوی کشف چې سابقه نه لري، برلاسی شوی او يا د ټولنيز، ادبي او اسلامي علومو په برخه کې نوی اثر رامنځته کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تر دې دمخه نه و رامنځته شوی. له دې امله هر ابتکاري تحقیق که په هره برخه کې وي، نوې مونده او کشف دی او یو نوی حقیقت ته لاره موندنه ده.

دویم- پراختیایي او تفصیلي څېړنه (تحقیق)
دا ډول څېړنې ته تاییدي تحقیق هم وايي. دا ډول څېړنه په هغو برخو کې ده، چې مخکې ترسره شوې ده، خو بشپړه نه وه او نه په پوره ترتیب سره، له دې امله څېړونکی د موضوع د اکمال لپاره بحث ته داخلېږي او په دغه برخه کې تحقیق پیلوي. په دې ډول، چې د شواهدو او دلایلو په پلټنه پیل کوي. د دغې څېړنې په کار کې محقق باید استعداد ولري، څو اثر د شکل او محتوا له پلوه دقیق او پوره محتوا درلودونکی وي، له تکراري خبرو لرېوالي شوی وي. مونوګراف، د ماستری رسالو ترتیب د همدغو تحقیقاتو له جملې دي، چې د لوړو زده کړو په مؤسسو کې کارول کېږي.

۳ - څېړنه (تحقیق) د پلټونو د شمېر له مخې:
پلټنه او تحقیق له دې لید لوري څخه په دوه ډوله دی:
الف- په دې ډول تحقیق کې یو فرد د پلټنې کار په غاړه اخلي او د موضوع په ټاکلو سره په کار پیل کوي. د دې تحقیق ښېګڼې دا دی، چې د یو فکر له مخې د څېړنې کارونه انسجام پیدا کوي او نیمګړتیاوې په کې لږ لیدل کېږي، خو د تحقیق لمن پراخه او هر اړخیزه نه وي. دا ډول تحقیقونه ډېر مسلکي وي او همدارنګه مسلکي او فني کار ته اړتیا لري او محقق هم باید په خپل کار کې هر اړخیز معلومات ولري.

ب- ډله ایز تحقیق (څېړنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه تحقيق ته ويل کېږي، چې دوه يا څو تنه (افراد) په يوه برخه کې د يوه اجتماعي امر لپاره سر ته رسوي. د بر ځله دا ډول څېړنې نبي، کره او پوره وي. ځکه يو جمعيت وربانديې کار کړی وي، څو نيمګړتياوې دا ده، چې کله دا کار د غير فني اشخاصو له خوا ترسره شوي وي او دا کار د څېړنې د ترسره کولو په کار کې کمښتونه رامنځته کېږي. په هر ډول ټولنيز تحقيق ډېرې ښېګڼې لري، چې د يو ستر کار د ترسره کولو لپاره رامنځته کېږي، چې د فرد له خوا ميسر نه وي. په دغه کار کې ډله ايز باور او پوهه لوړ مقام لري.

د بر ځله دايرة المعارف، ډکشنرۍ او ډېر تاليفات د ډله ايز تحقيق ساحه رانغاړي، ډېر کار، زيار او مشوره او پوهو ته اړمن کار دی او له يوې پياوړي ژمنتيا سره مل وي.

۴- څېړنه د حجم او کيفيت له پلوه:

هغه څېړنې او پلټنې، چې په علمي مرکزونه کې د محصلانو لپاره ترسره کېږي، له هر پلوه متفاوتې دي، په دې معنی، چې هم د ترتيب د کيفيت او هم د حجم او کميت له پلوه فرق او توپير لري. له داسې طرز تفکر سره آثار په لاندې ډول ويشل کېږي:

الف- مقاله ب= رساله ، چې هر يو به په خپل وار سره به معرفي او وڅېړل شي.

**۴- څلورم: د څېړونکي (محقق) ځانګړتياوې:**

څېړونکي او محقق د ټولنې فعال فکره انسانان دي، محقق پخوانيو پېښو ته يو ځل بيا روح ورکوي. څېړونکی بايد په هغه برخه کې څېړنه وکړي، چې په هغه کې د تخصص څښتن وي او پوره تجربه ولري. څېړنه د وخت په اوږدو کې ترسره کېږي، څېړنه وخت ګېره بهير (پروسه) ده، ځکه نو د څېړنې په کار کې بې وخته او بې ځايه چټکتيا دومره اهميت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څېړونکي عمده ځانګړنه د هغه پوره پوهه، په موضوع کې مسلکي توب او د تحقيق پرمهال صبور والی دی.
بله مثاله دا ده، چې څېړونکی د تحقيق په کار کې له وړاندوينې او شخصي تعصب څخه د ځان وساتي.
محقق پوښتنو ته د ځواب ورکولو لپاره آسانه لارې لټوي او له دوو لارو کار اخلي (بيا پلټنه او د نورو د تجربو نه کار اخيستل، په هر ډول محقق د خپلې پوهې او د نورو د نظريو په رڼا کې خپل فعاليتونه په لاندې ډول ترسره کوي:

- د تحقيق موضوع پېژندل ضروري دي.
- د يوې مسالې د څېړنې لپاره د تعريف طريقه او لاره غوره کړي.
- د خپلې پوښتنې ته د ځواب ويلو لپاره شواهد او مدارک راټول کړي.
- راټول شوي شواهد او مدرکونو ته سر او صورت ورکړي او هغه تحليل کړي.
- له خپل کاره يوه نتيجه ترلاسه کړي.
- د يو ليکوال په نظر: (( د څېړونکي تر ټولو غوره ځانګړنه د عمل نوښت، صبر، پوهه، دقت، په مطالبو برلاسی، نقاد ذهن، د تحقيق له لارو چارو سره بلدتيا، منابع او ماخذ ښوودنه ، له نورو ژبو سره بلدتيا په کمپيوټر اينټرنيټ پوهه او ... ))
- همدارنګه محقق مسؤليتونه او ځانګړنې هم لري، چې په لاندې ډول دي:

الف- د څېړونکی مسووليتونه:

د محقق تر ټولو غوره دنده او د پلټونکي مسوليت، د حقيقت ترلاسه کول او نورو ته د هغه اعلان دی. هغه د خپلو هڅو او کوششونو په سيوري کې هاند کوي يو څه نوي رامنځته کړي او نوې جوړونه وکړي او ټولنې ته نوی او تازه شيان وړاندې کړي. هغه ټولنې او خپل ملت ستر رسالت لري. ځکه ککړ مغزونه بايد له خرافاتو پاک کړي، د خپلې ټولنې په خلکو کې حقاني باورونه راپيدا کړي او هغه د حقيقت په لوري رهنمايي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو محقق مسوولیت د ټولنې د لارښوونې په کار کې ډېر ستر دی، هغه غواړي ستړې موندنې د ژوند په ټولو ډګرونو کې خلکو ته وړاندې کړي.
له پورته خبرو داسې نتیجه اخیستلای شو، محقق باید د څېړنې په کار کې په بشپړه چمتو وي، ډېره مطالعه ولري او په خپله رشته (څانګه یا مسلک) کې پرمخ ولاړ شي، څو وکولای شي په ډېر ښه ډول د خپل کار په برخه کې ټولنې ته ښې کارې پایلې وړاندې کړي.

د څېړونکي صفتونه:
څېړونکی (محقق) عادي سړی (فرد) نه دی او هر څوک نشي کولای د تحقیق او څېړنې کار ترسره کړي او پای ته یې ورسوي، بلکې په علومو کې څېړنه؛ د لرلیدونو اړمنه ده، چې محقق باید هغه صفت ولري او هغه ځانګړنې یې لاس ته راوړې وي؛ له هغه پرته به د تحقیق او پلټنې په کار کې بریالی نه شي.
په ښکاره ډول ویلای شو، چې د تحقیق او پلټنې استعداد او پوهه هغه الهي ورکړه ده، چې د ټولو لپاره میسره نه ده. تحقیق او پلټنه نوښت او نوي لاسته راوړنه ده او دغه پیاوړتیا له ځینو خلکو سره وي او ټول ترې برخمن نه دي.
که د لیسانس دورې او یا له هغې لوړې دورې کې وګورو ډېر لږ شمېر محصلین شته، چې د مقالو د لیکلو د آثارو د پرتلنې، کره کتنې او یا آثارو د پنځونې او څېړنې له کار سره مینه لري او څېړنه خو لا پرله پسې او دوامداره کار ته اړتیا لري.
د تحقیقي کار د پرمخ بیلولو لپاره ځینو ځانګړنو او صفتونو ته اړتیا شته او په لاندې توګه یې تر یوه بریده ښوولی شو:
۱- ذاتي او فطري (خدايي) ذوق او مینه د یو ارواپوه خبره: ((په هر سر کې یو شور شته، سخ د هغه چا، چې دغه شور (مینه) پیدا کړي. ))
له تحقیق یا لیکنو سره مینه هم ذاتي او فطري لوری (جنبه) لرلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- له تحقیق سره مینه کېدای شي (اکتسابي) هم وي، ځکه لیکوالي فن دی او د بر په فن پورې اړه لري. یو شمېر خلک که نسبي پوهه او استعداد هم ولري کولای شي د کسب له لارې د تحقیق په کار کې تر ډېره بریده بریالي شي. تحقیق او بیا په (طبیعي او یا اجتماعي علومو) کې لاسته راوړنې ډېر ویاړلی او پر درآمده دي، هر څوک ورسره بلد ېږي. د تحقیق کار ویاړلی کار دی، هر زیارکښ انسان د تحقیق د ویاړلي بهیر قهرمان دی.
په عام ډول ویلای شو، هغه صفتونه او ځانګړنې، چې یو محقق سره د څېړنې په کار کې مرسته وکړي او هغه بریالي او کامیاب کړي؛ په لاندې ډول دي:

۱- د عمل نوښت (ابتکار)
د محقق تر ټولو غوره صفت د عمل ابتکار دی. د غه ځانګړنه کولای شي محقق د څېړنې په کار کې موفق (بریالی) کړي. یوه پخوانۍ عربي غوره خبره ده: ((العلم هوا لتصنیف))؛ یعنې د علم حقیقت هغه دی، چې یو څوک د تصنیف قوت ولري. شک نشته چې د عمل په نوښت سره کولای شو، موضوعات، معلومات او ذهني معلومات راټول، تنظیم او تصنیف کړو.
نوښت د څېړونکي پراختیا ښيي، دغه نوښت د عنوان، موضوع ټاکلو، څېړلو، د موضوع فرعي او اصلي برخو بېلولو او نورو کارونو کې ګټور دی. د څېړونکي ابتکار په نتیجه کې د تحقیق کارونه د بهترۍ لاره نیسي. د ابتکار د قوي موجودیت که څه هم فطري کار دی، خو د کسب او تمرین له لارې هم پیاوړی کېږي.

۲- صبر او درېدل (پایداري)
د څېړنې په کار کې ګټوره ځانګړنه او ښه صفت ټینګښت (استقامت) او سره سینه (حوصله مندي) لرل دي. صابر او با استقامته انسان په ټولو کارونو کې بریالي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامیاب دی او خپلې لارې ته د رسېدو لپاره له هڅو او کوښښونو څخه نه ستړې کېږي. د تحقیق په کار کې سړه سینه او صبر درلودل خورا زیات اغیز لري.
ډېر خلک د مطالعې نه کول، ماخذ نه درلودلو او حوصلې نه کولو له امله په نیمه لار کې له تحقیق څخه ټکنی کېږي او ذهن یې د تردید لوګي ډکوي او یا دوه زړې کېږي او آن تحقیق پرېږدي.
یو محقق بیا د علومو څېړونکی باید پر ټولو خنډونو متې واړوي، خپله هوښیاري و پوهه د مطالعې له لارې ډېر او د سختیو د حل لارې ولټوي، وایي چې: ( څېړونکی بیا د انساني علومو باید متفکر، پلټونکی صابر، نقاد، پرمخ تلونکی، کامیاب او د لوړو هدفونو خاوند وي، څو د څېړنې کار د بریاوو لوړو څوکو ته ورسوي. )

**۳**- پر موضوع لازمه پوهه درلودل
که غواړو په یو کار بیا د څېړنې په کار کې بریالیتوبونه ترلاسه کړو لازمه ده، ( پر موضوع پوهه ) ولرو.
د موضوع په اړوند لازمه پوهه، د تحقیق په کار کې د پلټونکي کار آسانوي. هغه باید پوه شي، چې کومه موضوع یې ټاکلې ده؟ آیا داسې موضوع ده، چې په رښتیا د ترسره کولو توان یې لري؟
له پوهې او لازمو معلوماتو څخه موخه، مخکینې معلومات دي، چې باید تحقیق د موضوع په اړوند یې ولرو. که موږ د تحقیق لپاره له مخکې چمتو والی و نه لرو، کېدای شي د څېړنې په کار کې لږ بریالي واوسو، په درست ډول موضوع تحلیل او نظرې مقایسه، نقد او داوري کړو.
هغه څېړونکي، چې په غیر تحقیقي (تجارتي، ذوقي، تعلیمي او ...) کې کتابونه لیکي، ډېر ځله خطا او اشتباګاني کوي، ځکه د موضوع په برخه کې د مطالعې پراختیا نه لري او د نظریو صحت ( درست والی نه درست والی ) بیا پېژندلی نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دغه کار د تحقيق له اړتياوو ، دی. له دې امله لازمه او اړينه (ضروري ) ده ، چې خبرونکی خپل د تحقيق موضوع په شا او خوا کې پوره معلومات ولري او په مخينه ( بايکروند ، پيش زمينه ) يې هم وپوهېږي.

۴- د مطالبو په پوهېدنه ( فهم ) کې ژورتيا (دقت)

د نورو خلکو په نظريو پوهېدل او له هغو څخه را اخيستنه (برداشت) يو ځانګړی ارزښت لري. ډېر ځله خبرونکي د نه پوهېدنې له امله د مطالبو په نقل (لېږد ) کې په خطا لار ځي ، چې دغه کار په اثر کې د غير آګاهانه حل لامل کېږي. له دې امله محقق بايد د نورو د مطالبو په پوهېدنه او لېږد کې بشپړه ژورتيا څخه کار واخلي. ( د نورو په نظريو پوهېدنه ، په تحليل کې يې ژورتيا د مطالبو د انتقال مساله د خبرنې غني والی ښيي. )

۵- د نظريو او افکارو په تحليل کې نقاد ذهن درلودل:

خبرونکی بايد نقاد ذهن ولري او هره را په نظريه د وروستۍ خبرې په عنوان و نه مني. ځکه ډېرې رايې او نظرې د ښه او قوي اساس درلودونکی نه دي.
محقق بايد د تحقيق په موده کې د نورو خبرې وڅېړي او نقد يې کړي او د دې پوهه او توانايي ولري. چې د مستندو دليلونه په درلودلو سره د نظريو ښه او بد (کره او ناکره ) بيا وپېژني او سره له ناسره بېل کړي يعنې قوي او درست رايې و مني او نادرستي نظرې رد کړي.

۶- د مطالبو د وړاندې کولو لپاره اروايي (روحي) برلاسي:

خبرونکی بايد په خپلې بشپړې تجربې سره راټول کړي مطالب داسې وړاندې کړي ، چې په مخاطبانو (اوريدونکو ) او لوستونکي باندې اغيز وکړي او لوستونکي جذب کړي. د لوستونکو په نظر د اثر منل ، هغه مقصد و نه دي ، چې خبرونکی يې بايد تل په لټه کې وي. د په زړه پورې موضوع په ټاکلو کې دقت ، د ښه او جامع عنوان ټاکل ، د موضوعاتو او مطالبو د ترتيب ډول ، درست او پرځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



استدلال، د کلمو ښه کارول، د جملو غوره ترتيبول او له غه ښه نتيجه اخيستل هغه مطالب دی، چې د يو اثر د منلو په کار کې ګټور دی او په نورو رواني اغيزې ډېري وي.

۷- د تحقيق له لارو- چارو سره بلدتيا:
د تحقيق له اصولو سره بلدتيا او د څېړنې لارې-چارې د يو څېړونکي غوره ځانګړنې دي.
محقق بايد د تحقيق له منل شويو اصولو سره بلدتيا ولري، ځکه له دغه کاره پرته نشي کولای يو ښه څېړنيز اثر وړاندې کړي، داسې اثر، چې د پوهې او تحقيق د پوهانو د منلو وړ وګرځي.
ډېر شمېر پوهان چې د تحقيق له لارو-چارو سره بلد نه دی او يا لږ تر لږه د تحقيق شکل او فني چارو ته پاملرنه نه کوي، ليدل شوي، چې رسالې او مقالې يې تل نقد شوي او نه منل کېږي او ناچار دی، چې يو ځل بيا هغه وګوري؛ د دې لپاره چې د تحقيق له لارو-چارو سره موږ ښه بلدتيا حاصله کړي وي. بايد ( پراخه مطالعه، د تحقيق نوې لارې، نوي وسايل سره بلدتيا حاصله کړو. موضوعات داسې محقق کړو ، چې شکلي او معنايي نوښتونه او خوندونه ولري؛ نوې لار نوی هوش او فکر لوستونکی ته پيدا کول دي. )

۸- له منابعو او ماخذونو سره روږديتوب
د نظر وړ موضوع له منابعو او ماخذونو سره بلدتيا ، د څېړونکو مهمې ځانګړنې دي. ډېر موضوعات دي، چې د هغو په برخه کې ماخذونه يا منابع نشته. ( د څېړنې د ثقه (لاښه منلو ) او معلومولو په کار کې منابع او ماخذ د لاس او پښو مثال لري )

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړونکي بايد له منابعو او ماخذونو سره بلدتيا ولري؛ هغه څه چې نوموړی په دې کار له لاسه نيسي او ورسره مرسته کوي، ډېره مطالعه ده.
(هغه څوک چې له نورو ډېره مطالعه وکړي، پوهېږي چې کومه موضوع کې کومو آثارو او کتابونو ته مراجعه وکړي او د پام وړ موضوع او يا تر کار لاندې موضوع په برخه کې ماخذ ترلاسه کړي. ) ځکه موضوعات هغه وخت زموږ په حافظه کې دوباره را ژوندي کېږي، چې زموږ ورسره سر و کار شي. څېړونکی بايد تل مطالعه وکړي د ماخذونو او منابعو غنا هم د مطالعې له وجې ده.

۹- په بهرنيو ژبو پوهېدل
له بهرنيو ژبو سره بلدتيا هغه ځانګړنې دي، چې محقق سره په نويوالي کې مرسته کوي او تحقيق نوی، باارزښته او پياوړی کوي. د غه ځانګړنې د محقق لاس د مطالبو په موندلو کې خلاصوي. يوه عربي مقوله ده: ((کل لسان فی الحقيقة انسان)) (هره ژبه په حقيقت کې انسان دی)
له ډېرو ژبو سره بلدتيا دې ته ورته دی، چې محقق د څېړنې پرمهال په فن پوه خلک په واک کې لري.
په نورو ژبو پوهېدنه د دې معنی لري، چې اوس اوس د علوم پرمختيا نړۍ په مهمو او ډېرو ژبو کې پوره پرمختيا کړې ده، که محقق په نورو ژبو پوه شي، خپله ژبه به د نورو ژبو له علمي پرمختګونو په هره برخه کې برخمنه کړي. د غه کار د ادب پوهانو لپاره ډېر ضرور او اړين دی.

۱۰- له کمپيوټر او اينټرنيټ څخه د ګټې اخيستنې مهارت
په کمپيوټر باندې پوهه او د انټرنيټ له شبکې نه ګټه اخيستنه د تحقيق او محقق هغه ځانګړنې دي، چې کولای شي ډېر امکانات د څېړونکي په واک کې ورکړي او د تحقيق کار آسانه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ نن د یو کلي مثال لري او دا ټول د نویو تخنیکي بریاوو له برکته دي. موږ د نویو تخنیکي توکو په درلودلو سره کولای شو د معاصرو پوهانو نظرې خپلې کړو او آن د پخوانیو افکار له همدې لارې مطالعه کړو.

د تخنیکي مسایلو له برکته کېدای شي ستر کتابتونونه زموږ د استفادې وړ وګرځي. په ښه ډول ترې ګټه واخلو او د څېړنو پّ کار کې خپل معلومات زیات کړو او مهارتونه خپل کړو او د ښه تحقیق لارې-چارې برابرې کړو.

۱۱- د لیکوالۍ له اصولو سره بلدتیا

لیکنه او لیکوالي د هرې څېړنې د غوړېدو او پوره ودې غوره بستر دی. د لیکوالۍ له اصولو سره بلدتیا او د ژبې د ګرامر قواعد چې رسالې او تحقیقي آثار ورباندې تالیفېږي ، دیو څېړونکي لپاره لازم خصوصیتونه دي. که څه هم دغه ځانګړنه فرعي ده او د تحقیق پروژې اصل ته بنیادي زیان نه شي پېښولای، خو د تحقیقي اثر په سلامت او کمال کې د غلطیو د مخنیوي لپاره مرسته کوي او د ټایپ او سمون چارې اسانوي. که چېرې څېړونکي له دې لارې سره بلدتیا ولري، نو د اثر د دست نویس (لومړۍ نسخې) پرمهال به اثر برابر کړي او آن د ټایپ په کار کې به مرسته وکړي او همدارنګه د لیک نښو د اصلاح په وخت کې به اسانتیاوې رامنځته شي. یو اثر چې د چا له خوا لیکل کېږي، که اېډېټ یې هم خپله وکړي درسته به وي، ځکه دا کار ډېر په لاړښود استاد پورې اړه نه لري.

۱۲- د محقق نور شمېر ځانګړنې:

د یو ښه محقق ډېر شمېر صفتونه او ځانګړنې په لنډ ډول داسې ګڼلای شو:

أ. مخکې له مخکې مطالب راټول کړي، هغه ترتیب او تنظیم کړي، سلیقه خپله جوړه کړي، دا کار کولای شي د تحقیق کار ته رونق ورکړي، له کار سره مینه نه درلودل کاغز بې نتیجې پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب. امانت داري هم د څېړونکي یو صفت دی، چې باید د غه کار د موضوعاتو په نقل کې په پوره ډول، په نظر کې ونیسي. باید په مستقیم او غیر مستقیم ډول امانت په پام کې ونیسي.

ت. محقق باید پراخ فکر او د خپلواک فکر څښتن وي او د تحقیق په ترسره کولو کې هېڅ ډول تنګ نظري په پام کې و نه نیسي.

ث. محقق باید له کار سره علاقه ولري او په پرله پسې ډول خپل کار ته دوام ورکړي. ځکه کار د ده او تحقیق ترمنځ فوري پل جوړوي.

ج. محقق باید علمي روح ولري، یعنې له څه لیکلو او تحقیق څخه یې مقصد علمي او فرهنګي بډاینه وي. یوازې مادي مطلب درلودل د تحقیق کار بې خونده کوي.

لنډه دا چې د ښه محقق په صفتونو کې لکه، چې موږ وویل د تحقیق توکي هم رول لري؛ د یو لیکوال په وینا:

(( د محقق د کار اصلي توکي په څېړنو هغه هم په انساني علومو کې کتاب دی، نو باید څېړونکی د خپل کار وسیله، چې کتاب دی، په بشپړه توګه وپېژني او وکولای شي له هغه څخه په ښه ډول ګټه پورته کړي او وګوري د مطالعې وړ کتاب کومه برخه یې د تحقیق لپاره مساعده ده. )) (۹ : ۴۰)

**۵– د څېړنیزو علمي آثارو محتوایي ځانګړني:**

تحقیقي او علمي آثار جلا محتوایي ځانګړني او خصوصیتونه لري. له ډېرو لرغونو زمانو تراوسه د فرهنګ او تمدن په حوزه کې د ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې ډېر آثار تالیف، تدوین او لیکل شوي دي، خو ډېری یې علمي-تحقیقي نه دي او یا اوس داسې څه ترې لاس ته نه راځي، چې د څېړنې په اصولو او معیارونو برابر وي.

علمي-تحقیقي آثار د ځان لپاره جلا ځانګړني لري، چې یادونه یې یو ځل بیا کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف- يو شمېر څرګندوي، چې: (( څېړنيز اثر ګټوره او ښه محتوا لري، مضمون يې بايد منطقي تړاو ولري، مخاطب سره تناسب ضرور دی، ساده او روان وی. لنډ او د موضوع او شکل هم آهنګي موجوده وي. )) (۷: ۱۲)

ب- ځينې نور بيا په دې باور دي، چې: (( تحقيقي اثر بايد تحليل، پرتلنه، تعريف، توصيف، کره کتنه، قضاوت، دليل او اثبات او ... دا ټول راونغاړي. )) (۲: ۱۷)

ج- چا بيا داسې ويلي دي: (( څېړنيز اثر هغه دی، چې يو نوی تحقيق وي او زياتوي چې په ځانګړې ډول ليکل شوی وي. )) (۸: ۴)

له پورته نظرياتو څرګندېږي، چې ځينې په محتوا او ځينې نور په شکل د اثر ټينګار کوي، خو څه شی، چې په ورستيو دوو نظريو کې راغلي دي، هغه په دواړو برخو (مضمون او شکل) پاملرنه کول دي.

محقق بايد د اثر محتوا او شکل ته پاملرنه وکړي او خپل تحقيق په علمي-تحقيقي معيارونو برابر کړي.

هغه څه چې د علمي-تحقيقي مؤسسو د علمي-څېړنيزو فعاليتونو د حق الزحمو په مقرره کې د افغانستان د دولت د رياست د ۱۸، ۱۸، ۱۳۸۲ (۸۲) لمبر فرمان کې راغلی، په دواړه اړخونو( شکل او محتوا ) ټينګار شوی دی.

د هغې مقررې د دويمې مادې په دويم بند کې راغلي دي: (( علمي-تحقيقي اثر، کتاب، رساله يا هغه مقاله ده، چې لاندې شرايط ولري:

۱) د هېواد په کچه (سويه) نوې مفکوره او نظريه وړاندې کړي.

۲) سبک او ليکنه يې معياري وي، له املايي او انشايي غلطيو خالي وي.

۳) په ليکنه کې يې په عمده ډول له معتبرو علمي منابعو او ماخذونو څخه کار اخيستل شوی وي.

٤) د علمي –تحقيقي اثر مقدمه بايد لاندې صفتونه ولري:

❖ د موضوع طرحه په واضح ډول راغلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د تحقيق هدف او اړتيا مشخصه شي.
- په رشتې پورې اړوند، د تحقيق حدود او ساحه ونبودل شي.
- اثر د محتوا لنډ ذکر او همدارنګه د تحقيق د کار د موادو او چلند توضيح کول ضرور دي.
- د ضرورت او لزوم په صورت کې له معيارونو سره سم په مضمون پورې اړوند جدولونه، احصايي، ګرافونه او نقشې وويستل شي.
- د تحقيق له کار څخه علمي نتيجه اخيستنه.
- له معاصر علمي منل شويو معيارونو سره سم د ماخذونو د فهرست برابرول.
- د لزوم( اړتيا ) په صورت کې د اثر په پای کې د اړوندو ضمايمو (توکو ) موجوديت.
- د اصطلاحاتو تعريف او توضيح دې وشي.

له پورته خبرو دا نتيجه اخلو، چې تحقيقي آثار بايد (محتوايي او شکلي ) ښېګڼې او ځانګړنې ولري؛ چې موږ به يې دلته ځينې محتوايي او شکلي ځانګړنې راوړو:

الف: د نوي او تازه مفکورې وړاندې کول.

تحقيقي رساله بايد نوې او تازه مفکورې د لوستونکو لپاره ولري. هغه هدف چې محقق لري ( د تازه او نويو مفاهيمو لټول البته د پخوانيو او نويو معلوماتو په رڼا کې ) بايد خلکو ته وړاندې شي، د دغه په لوستلو د لوستونکي يو څه تنده وربانده ې ماته شي.

ب: د ټولنيز( کلي ) مطلبونو او مفاهيمو تحليل:

محقق بايد د نظريو په رڼا کې پلټنه وکړي، يعنې د پراخه او نويو نظريو عينکې ځانته کېږدي او هغه کلي(هدفي تحليل ) له خپلې څېړنې راوباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل تحقیق کې (ټول اثر معرفي) او توصیف شي، توضیح او بیا یې له اصولو سره سم د ټولو جزیاتو څېړنه وشي.

پ: د پدیدو او مفاهیمو تعریف:
تعریف د یوې ښکارندې(پدېدې) د ماهیت پېژندل دي، په دې ډول، چې (ډېر یې ومنی اولږ شمېر یې نه...) (مانع، اغیار، جامع افراد).
په یوه تحقیقي اثر کې لومړی د موضوع پېژاند وشي او بیا یې مفهوم بیان او توضیح شي.

ت: ستاینه (توصیف) او تمثیل:
د پدیدو توصیف او بیا د هغو د بیان لپاره مثالونه راوړل د علمي تحقیقي اثر ښه خصوصیت دی. توصیف یا ستاینه د یوې پدېدې بیان او سپړل دی، خو باید د اثر ټول غوټه په ستاینه او مثالو کې واضح او څرګنده شي. اثر باید داسې د لوستونکي مخ ته کېښودل شي او توصیف شي، چې ابهام (تیاره) ګوټونه په کې پاتې نه وي، مګر دا د دې معنی نه لري (چې په یوه موضوع کې زما یا ستا یا درېیم شخص تحقیق او او آخر دی، بلکې تر دې دمخه شوی او لا نور به هم وي.)

ث: د رایو او نظریو پرتلنه (مقایسه)
د رسالو او تحقیقي آثارو له ځانګړنو یو هم پرتلنه (مقایسه) ده او هغه د دوو موضوعګانو یا دوو یا ډېرو پدیدو ګډه وجه او بېلوالی دی؛ په هغه ډول، چې په دې کار د نظریو وزن او اعتبار مشخص شي، ارزښتمندي، صحت او سقم یې ښکار شي، د ګډون او بېلتون وجه یې څرګنده شي او په دې ډول د تحلیل لپاره لارې-چارې برابرې شي.
ج: د نظریو نقد (کره کول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلابېلو نظريو کره کول د علمي- تحقيقي رسالو او اثارو ځانګړنه ده. څېړونکی يوازې د خبرو نقلونکی نه دی او همدارنګه د خلکو د نظريو مخالف هم بايد نه وي. هغه بايد د کنجکاوۍ په روحيه او له ډېرې علمي زېرمې (ذخيرې) سره د څېړنې موضوع ته ورننوځي او د تېرو او نويو له پوهانو د نظريو ښېګڼې او بدۍ راوباسي او نوې مفکورې فرهنګي ټولنې ته وړاندې کړي.

ح: دليل او ثبوت

دا د تحقيق يوه بله ځانګړنه ده. څېړونکی بايد په څېړنه کې د شخصي فکر، دودونو، عنعنو او سليقو له مخې کوم حکم ونه کړي، بلکې بايد د هر حکم د اثبات لپاره دليل وړاندې کړي. هر حکم د خپل اثبات لپاره د دليل غوښتونکی دی، ځکه د علومو هره برخه ځانګړي دليلونه لري.
په ادبي او انساني علومو کې دليلونه د روايت او درايت (پوهې) پر بنسټ ولاړه وي. روايتونه يو له بله سره متفاوت وي او توپير لري. په هر ډول د هرې ادعا د اثبات لپاره دليل په کار دی او تحقيقي رسالې بايد دلايل ولري او دغه کار د څېړنې په برخه کې ارزښت لري.

خ: قضاوت او حکم

د څېړنيزو رسالو له محتوايي ځانګړنو څخه يو هم (حکم او داوري)(قضاوت او حکم) دی. بايد څېړونکی له ځانه نظر هم ولري او هغه څرګند کړي او د رايو د اختلاف په حالت کې ( رايه ورکړي، قضاوت وکړي او حکم ورکړي او د منلو وړ خپله خبرې وړاندې کړي. )
په قضاوت کې دا مهمه ده، چې څېړونکی له هر ډول تعصبونو خپلواک وي. محقق بايد له هر ډول ډله ايزو، نژادي او نورو وړو مفکورو څخه خلاص وي او په څرګند ډول حق او باطل خلکو ته ور وپېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د: د ژبې د لیکوالۍ اصولو او قواعدو سره برابري
ټولې مقالې اورسالې، چې لیکل کېږي، باید د لیکوالۍ له ټولو اصولو په تېره ګرامري د ستور سره برابري وي.
که یو څېړنیز اثر په هره برخه (طبي، زراعتي، انجینري، ادبي او هرو نورو علمي برخو کې وي، باید د لیکوالۍ ټول اصول په کې مراعات شي.

ذ: د لغاتو ا و اصطلاحاتو توضیح
د هر تحقیقي اثر له ځانګړنو دا ده، چې د کتاب په پای کې د مضمون اړوند لغات او اصطلاحات معنی او تفسیر کړي.

**۶- د څېړنې د ترسره کولو پړاوونه:**
څېړنه د ترسره کولو پړاوونه لري؛ چې باید په ترتیب سره ترسره شي.
تحقیقي عملیات په ځانګړو علمي حرکتونو سره پیلېږي او هغه پړاوونه لري، چې یو پر بل پسې باید عملي شي. څېړونکی په هره مرحله کې د خپلوا کو عملیاتو د ترسره کولو اړمن دی، چې باید په جلا ، خو په ترتیب او پرله پسې ډول ترسره شي او بیا بل پړاو ته لاړ شي.
هره څېړنه د دې لپاره، چې پوره پایلې ته ورسېږي، څو پړاوونه باید تر شاه پرېږدي او د تحقیق پړاوونه په لاندې دي:

د موضوع ټاکل:
د موضوع ټاکل او انتخاب، د تحقیقي اثر په رامنځته کولو کې مهم او د ارزښت وړ دی. محقق هغه مهال څېړنه پیل کوي، چې له نه پېژندونکې موضوع سره مخامخ کېږي، باید د هغې موضوع څېړل لازمي او ګټور وګڼي. دغه راز په تحقیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې محقق ځان پېژني او نورو ته ځان وپېژني. طبیعي خبره ده، چې د تحقیق په موضوع کې پوښتنه یا پوښتنې د محقق په ذهن کې پیدا کېږي، هغه باید هڅه وکړي د تحقیق موضوع یا مساله له بېلابېلو اړخونو ځانته تعریف کړي ، ځکه موضوع تر څو پورې، چې نوموړي ته ګونګه وي، د څېړنې او پلټنې وړ نه ده.

د تحقیق موضوع باید نوې او غیرتکراري وي او ترسره کول یې باید ګټه رامنځته کړي.

څېړونکی باید د تحقیق د موضوع حد او پوله وټاکي، څو د کار په اوږدو کې له اساسي ستونزو سره مخامخ نه شي، ځکه لویه موضوع د څېړنې او پلټنې وړ نه ده.

د موضوع محدودېدل محقق ته امکان ورکوي، څو د موضوع د بېلابېلو برخو په څېړنه پیل وکړي او په هغه پورې اړوند مسالې وڅېړي، نو له دې امله د موضوع په تعریف او حدودو کې فرعي او لږکي (جزیي) موضوعګانې، چې له اصلي موضوع سره ارتباط لري؛ په پام کې ونیسي.

د موضوع انتخاب آسانه کار دی، خو د هغې محدودول ستونزور کار دی. په دې معنی، چې د څېړنې په برخه کلي موضوع نه شي کېدای د ارزښت وړ وګڼل شي، ځکه هر څومره، چې موضوع لویه (کلي) وي، د ارزښت وړ وبلل شي. باید څېړونکی هڅه وکړي د تحقیق وړ موضوع پراخه وټاکي.

- بل هغه څه، چې د تحقیق په کار کې د محقق لپاره ګټور وي، له موضوع سره مینه والی (علاقمندي) ده. له هغې موضوع سره، چې محقق مینه وال نه وي، هغه په درست ډول څېړلی نه شي. له موضوع سره بلدتیا او مینه د محقق د پلټنې حس پیاوړی کوي او هغه د بریالیتوب لوړو ته پورته کوي، نو که د موضوع ټاکل په محقق پورې اړوند وي، باید داسې موضوع غوره کړي، چې ورسره مینه او علاقه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موضوع په ټاکلو کې باید د ټولنې او فرهنګي چاپېريال پېژندل په پام کې ونیول شي. هر اثر، چې د ټولنې د اړتیا په برخه کې تالیف شي، د فرهنګي ټولنې له ښه راغلاست (استقبال) سره به مخامخ شي.

بله مهمه خبره دا ده، چې د څېړونکي پیاوړتیا او پوهه د تحقیق په کار کې مراعات شي؛ په دې معنی، چې محقق باید هغه موضوع وټاکي، چې په هغه برخه کې تخصص او مخکې له مخکې معلومات ولري، دغه کار د تحقیق په کار کې ډېره مرسته کوي.

لازمه ده محقق د موضوع په ټاکلو کې له کل نه جز ته لاړ شي او هغه د خپل کار عنوان وټاکي. د مثال په ډول که د خوشحال د شعر او آثارو په برخه کې څېړنه کوو ، دا کلي موضوع ده، خو که شعر (د خوشحال په نظر) را اخلو او بیا تحقیق ور کې کوو ، نو دا جزیي موضوع ده.

۲:- د څېړنې د موضوع ثبت او قرارداد:

کله دا سې هم کېدای شي، یو محقق د یوې مؤسسې او یا تحقیقي خاص بنسټ (نهاد )لپاره تحقیق وکړي. همدارنګه هغه څېړنې ، چې د بېلابېلو دورو لپاره تحصیلي پایلیکونه جوړ وي او یا په پوهنتونونو او علمي مؤسسو کې د علمي ترفیعاتو لپاره پایلیکونه جوړوي، ثبت او قرارداد یې یو اړین (ضروري) کار دی.

هغه څېړنې چې محقق یې د یوې مؤسسې لپاره ترسره کوي، په قرارداد کې د کار د ترسره کولو لپاره ضروري دي. محقق د هر کار د ترسره کولو لپاره باید یو وړ (مناسب) وخت (زمان) په نظر کې ونیسي او په هغه موده کې چې قرارداد کوي، باید په هغه اندازه وي، چې په هغه موده کې تحقیق ترسره کړي.

همدارنګه د تحقیق کار لګښت(هزینې) ته اړتیا لري، باید هغه پیسې چې د تحقیق د ترسره کولو په کارې کې لګېږي، وسنجول او برابرې شي، پرته له دې ډېر ځله لیدل شوی، چې د تحقیق کارونه نیمګړي پاتې شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تحقیق په کار کې وړاندوینه او سوچ کول، ځانګړی ارزښت لري، ځکه د کار په اوږدو کې ستونزې کمېږي.

۳:- لومړنۍ فرضیه (سوچ) او وړاندوینه کول (طرحه ریزي):

کله چې یو مهندس د ودانۍ د جوړېدو اراده ولري، لومړی د خپل پام وړ کار په برخه کې یو نقشه برابروي او له هغه وروسته خپل کارونه له نقشې سره سم ترسره کوي.
په هر څېړنیز کار کې باید کړنلاره او د کار اصلي محورونه، چې څېړونکی هغه له سره ترپایه ترسره کوي؛ باید وټاکل شي. دا کار د دې لپاره ښه دی، چې محقق په خپل کار کې نه ناهیلی کېږي.
د تحقیق د طرحې د برابرولو هدف، د ترټولو ښه ټاکل او د تحقیق په کار کې په عملي لاره ده، څوله هغې لارې په مطلوبو معلوماتو برلاسی ومومي. دا د تحقیق خاکه هم ګڼلای شو.
په اجتماعي او ادبي علومو په تحقیقاتي کار کې فرضیه (سوچ) ځانګړی ارزښت لري، زیرکانه حدس کولو هم د تحقیق د نتیجې لپاره ضروري خبره ده.
فرضیې د تحقیق په کار کې روښانه، مشخصې او د درک وړ وي او یوازې په خیال او ګمان او حدس بنا نه وي.

۴:- د منابعو، ماخذونو او کتابونو پېژندنه:

له لومړنۍ برنامې او د کار د خاکې له برابرولو وروسته محقق د خپل کار منابع راپیدا کوي او له پېژندلو وروسته هغه ثبت او راټولوي. د محقق منابع چې هر څومره غني او ډېره وي، په تحقیق کې د حقیقت پیدا کېدل آسانه او د پام وړ وي.
د محقق د استفادې وړ منابع باید اصیل وي، یعنې لاس یې نه وي خوړلي او تحریف شوي نه وي او په انساني علومو کې، چې څومره لرغونتوب ولري د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحقیق ارزښت ډېروي. څېړونکی باید دمنابعو په راټولولو کې پوره پاملرنه او ژورتیا وکړي.

د محقق مطالعه د منابعو په برخه کې رول لري. څومره چې د محقق د پوهې ساحه پراخېږي، په دې معنی ده، چې له منابع او ماخذو یې په پراخه توګه ګټه پورته کړې ده.

له اهل نظر سره مشوره هم د منابعو په کار کې مرسته کوي. محقق باید له پوهانو، صاحب نظرانو سره وګوري، مرکې وکړي او له تجربو یې ګټه پورته کړي.

له کتابخانو څخه د ځینو کتابونو نومونو له ځانه سره یادداشت کړي، نیټ څخه ګټه واخلي.

محقق باید له لومړي لاس موادو ګټه پورته کړي، داسې کتابونه او منابع وي، چې له له پوره ژورتیا، تفکر، نقد او تحلیل څخه په کې کار اخیستل شوی وي. له مورنۍ ژبې پرته که نورې ژبې یې زده وي، د هغې ژبې مجلو، کتابونو، رسالو او مقالو ته دې مراجعه وکړي او دا د تحقیق په کار کې نوې تجربې او پوهې ترلاسه کول دي.

لنډه دا چې محقق باید له کتابونو، مجلو، رسالو، مقالو، انټرنیټ او خپلې مطالعې د یادداشتونو له لارې، د مطالبو د تنظیم، ترتیب، انسجام، تجربو، خاکو، فرضیو، تحلیلونو، بدلونونو، تعدلونو، کارونو، لیکونو او ټولو تجربو او پوهنو څخه ګټه پورته کړي. سره له ناسره بېل او داسې مطالبو په برخه کې تحقیق وکړي، چې د پام وړ وي.

محقق باید خپل کار په پای کې یو ځل بیا اصلاح او وګوري او ګڼه هم بل مسلکي سړي ته وسپاري، چې ایډیټ او سمون په کې وکړي.

د کتاب، رسالې ایډیټ کول دا معنی لري، چې موږ خپل کار د کتاب د تیارولو او چاپولو لپاره چمتو کوو؛ که تصحیح لږ په ځنډ ترسره شي بده خبره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷– د ماخذونو د کارولو او برابرولو ډولونه:**

په تحقيقي اثارو کې د ماخذونو کارولو لارې-چارې ډول ډول دي. په کتابونو او رسالو کې يو ډول ، په تحقيقي مقالو کې بل ډول، به مونوګرافونو کې بل، په ذوقي مقالو او مجلو کې بېلې لارې تعقيبوي.

له دې امله په علمي-تحقيقي او نورو مقالو کې د ماخذونو کارول په لاندې ډول راوړو:

په رسالو او تحقيقي کتابونو کې د ماخذ ورکول په يو ډول نه دی. يا په بله وينا څېړونکی يوه خوله او يو فکر نه دی، ډول، ډول لارې يې غوره کړې او په دغه کار کې پرمخ ځي. کېدای شي دا کار د دوی له ځانې سليقو څخه منشا اخيستې وي، خو بيا هم کېدای شي د تحقيق په کار کې ګټور وي، لږ تر لږه د علمي-تحقيقي آثارو د ماخذونو د چال چلند لارې ډېرې، خو موږ به يې دلته درې راواخلو:

په پاورقۍ يا د پاڼې لاندې برخه کې د ماخذ ورکولو چال چلند:

په دې روش کې که څېړونکی له يوه اثر نه ګټه پورته کړې وي، د خپل کتاب يا رسالې په متن کې شماره راوړي او له هغه وروسته ګڼه (شماره ) يعنې د صفحې په پای کې له افقي خط وروسته خپل د پام وړ ماخذ او منبع لوستونکو ته ورپېژني. په دغه روش (چلند ) کې کله چې د ماخذ نوم د لومړي ځل لپاره په پاورقۍ کې راخي، بايد بشپړې ځانګړنې يې په ترتيب سره ذکر شي؛ يعنې د مؤلف يا محقق (نوم، تخلص، د اثر نوم، مصحح نوم، مترجم نوم، ځای، د چاپ نوبت، کال، د چاپ ځای، خپرونکې مؤسسه او هم جلد (ټوک او مخ ) ونږوول شي.

۱) که محقق غواړي د کتاب يا رسالې په پای کې ماخذ ورکوي، لازمه ده په متن کې شماره ورکړي او بيا د کتاب په پای کې شمارې د الفبا په ترتيب سره ورکړي. البته دغه ټول ډولونه پخواني دي. مهمه مساله دا ده، چې موږ په يو اثر کې له څه شي او کوم ماخذ څخه استفاده کوو. که مو استفاده په کتاب يا تحقيقي مقالې يا رسالې کړې نو لازمه ده په پوره ډول ماخذ ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲) په علمي- تحقيقي مقالو کې ماخذ ورکول: د علمي- تحقيقي کارونو يو ځانګړنه د ماخذونه درلودل دی. کله چې ليکوال په خپله علمي مقاله کې له ماخذونو ګټه پورته کوي، هغو سرچينو ځخه، چې د خپلې مقالې په ليکلو کې ګټه پورته کړي، لوستونکو ته معرفي کړي. د علمي مقالو ماخذونه هم په يو ډول نه کارول کېږي، د وختونو په تېرېدو سره محققينو او ليکوالو له بېلابېلو لاروچارو کار اخيستی، چې د تحقيق او تاليف کار يې يا آسان کړی او يا ستونزمن کړی دی.

په ډېر پخوا وختونو کې زموږ په هېواد کې د ليکنې او څېړنې لپاره هم د ماخذ ورکولو شيوه يو لاس نه وه. په پوهنتونونو او اکاډميو کې کابو يو ډول شيوه موجوده وه او هغه دا چې (ماخذ يو ځل د شمارې په ورکولو په متن کې بيا پاورقۍ کې معرفي کېده او د کتاب په پای کې به بيا راوړل شو، خو اوس په پوهنتونونو کې (شماره بيا شارحه بيا صفحه) او د کتاب په پای کې هماغه ماخذ د الفبا په ترتيب ورکول کېږي او مخ بيا نه راوړل کېږي.

پخوانی ډول: اميل بنونيست ويلي: ((د آسيا په وچه کې د ژبو دوه کورنۍ شته، چې يوه هندي او بله ارياني ده او دواړه يوه ګډه ريښه لري.)) (۱)

۱- اميل بنوست: د اندو اروپايي ژبو کورنۍ. (لومړی چاپ ۱۹۵۸) کابل: کابل پوهنتون نشرات ۱۸ مخ.

اوسنی ډول:

هماغه مطلب، له هغه راوروسته صفحه بندېږي او همدلته د کتاب مخ هم راوړل کېږي؛ په پاورقۍ کې نه راځي. د کتاب په پای کې:

۱- اميل بنونست. ۱۸۵۸. د اندواروپايي ژبو کورنۍ (لومړی چاپ). ځای. مطبعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کـه لـه فارسـي. پښـتو او اردو څخـه مـو ماخذ را اخيسـتی وي، لـه راسـته خوا شمارې په ترتيب او که له هندي يا انګريزي څخه ماخذ راوړی وي، لـه چپ لـوري ماخذ ورکول کېږي او که انټرنيټ وي نو:
www.geocities.com/farraiiv/cearah.html

**٨- د څېړنې (تحقيق) او تحليل ترمنځ توپير :**

تحقيـق د ليکـوالۍ پـه دنيـا او تحليـل د ليکـوالۍ پـه کـار کـې مهـم او د پـام وړ بحثونه دي.
څېړنه د ليکوالۍ په دنيا کې دوامداره او پرله پسې بهير دي، چې ترسره کول يـې ضرور او له تحقيق پرته د ليکوالۍ بهير لـه ډېرو کمښـتونو سره مخامخ کـوي او تحليل (په ليکوالۍ کې د موضوعاتو او مفاهيمو درک او تفسيرول دي. )
که تحقيق ونه شي، ليکوالۍ پراختيا او وسعت نه مومي او که د ليکوالۍ پـه هـره برخه کې تحليل نه وي، دا معنی لري، چې مورږ د موضوع لـه درک پرتـه د هغې پـه څېړنه او تفسير لګيا ي، نو څېړنه له انساني ژوند سره مل هڅه ده، چې په بېلابېلو برخو پورې اړوند پوهې تـه پراختيـا ورکـوي او تحليـل د پـوهې او مسـلک پـه کـار کـې د انسـاني فکـر د سـمبالولو، پراختيـا ورکولـو، هويـت او انکشـاف ورکولـو وسيله ده؛ له دې امله که هر تحقيق که پـه هـره برخـه کې وي، د يـو تحليـل لـه مخـې وي، تحقيق له تحليل پرته مفهوم نه لري. (دواړه يو د بل لازم او ملزوم دي. )
يو تحقيق هغـه وخـت پـه زړه پورې او مـدلل وي، چې لـه تحليـل سره ملګری وي، ځکـه تحليـل د تحقيـق د بشـپړولو او د سـپړلو معنـوي قـوت دی او هـر تحقيـق د تحليل په وسيله هويت مومي. پـه دې اسـاس حسـن عميـد وايـي: ((تحليـل –مـص. [ع] (ت، ل) حلالـول، بنـه شـمېرل، حلـول، پرانسـتل، پـه معـده کـې د خـوړو حـل کېدل.)) (١۵: ۵۴۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګنده شوه، چې تحليل د تحقيق شويو شيانو او مطالبو شمېرل، حلول او ورسره ورسره پرانستل دي.

پښتو انګليسي قاموس کې راځي، چې (تحقيق؛ ريسرچ Research او پلټنه ده او تحليل (Assimilation, decomposition)، Dissolution ته وايي.)) (۳: ۱۰۳)

که تحقيق خلقول، لټول او پيدا کول دي، نو تحليل د هغو موادو باطني راسپړنه ده، آن حلول او تجزيه کول ورپورې اړه لري. په (زاهد پښتو-پښتو سيند) کې راځي: ((تحليل- نر. م (ج- تحليلونه) حلول، تجزيه کول، ويلي کول، يوه موضوع په څو برخو ويشل او د دغو اجزاوو ترمنځ د اړيکو بيانونه ده.)) (۲۰: ۲۱۲)

اوس څرګنده شوه که تحليل له تحقيق سره مل نه وي، موضوع په پوره ډول وضاحت نه موي؛ تحليل که يوې خوا د تحقيقي موادو سپړنه او تجزيه ده له بلې خوا د تحقيقي موادو د سپړلو تيوري هم ده.

که تحقيق د بشر د اړتيا او کنجکاوۍ (پلټنې) نتيجه ده، خو تحليل د غه کار ته مفکوره او ايډيا پيدا کول دي او د همدغې ايډيا په وسيله د يوې موضوع ښه سپړنه ده. د تهران پوهنتون استاد دکتر علی فاخر د دوکتور اثر کې داسې راغلي دي: (( تحقيق يو نظامنده کار او بهير دی، چې د يو سنجول شوي منطق له مخې ترسره کېږي، خو تحليل د تحقيق د ترسره کېدو عامل او هدف ښکاره کول؛ هغه وخت تحقيق ښايسته ده، چې د تحليل له مخې وي، بې تحليله تحقيق بې بارانه او بې اوبو کرونده ده.)) (۱۴: ۲)

په تحقيق کې هدف نغښتی وي او په تحليل کې فکر؛ نو په دې اساس (هر هدف د يو فکر محصول دی او يو فکر د ستر مرام په درلودلو ښکلی کېږي او د بري پړاو ته رسېږي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶–۳– دشپږم څپرکي د مطالبو لنډیز:

- ❖ تالیف او څېړنه او د لیکوالۍ نورې برخې د معاصرې لیکوالۍ مهمې، علمي، ادبي او آن تدریسي برخې جوړوي.
- ❖ لومړی؛ تالیف، ردیفول، جوړول او منظمول دي، یعنې لیکنو ته داسې سر او صورت او سامان ورکول چې په هماغه فني برخه کې انسجام رامنځته کړي. د اوسنۍ لیکوالۍ ډګر له تخلیق ، تصنیف او تحقیق مالامال دی. هر علمي او ادبي او هنري تحقیق یوه غزونه او آن پنځونه ده، چې تالیف او تحقیق هم د لیکوالۍ په ډګر کې مهم رول لوبوي.
- ❖ ځینې خلک چې د شهرت د خیال تږي وي، عادت لري، چې ډېر ژر د کتاب په تالیف لاس پورې کړي. همدا چې یوه مقاله او اثر یې ولیکه، نو سمدلاسه د کتاب په خپرولو هم لاس پورې کوي او دا خولا پرېږده د نورو لیکوالو د آثارو په نقد کولو پیل کوي.
- ❖ په دریاب قاموس کې راځي: تالیف واحد مرکز جمع، یوځای کونه او کتاب لیکنه ده، خو فرهنګ عمید کې وایي: (( تالیف؛ یو ځای کونه، راټولول، د هغو ټکو راټولول، چې په بېلابېلو ټوټو پورې اړه ولري. همدا رنګه زیاتوي: دوستي کول، الفت ورکول، راټولول، خواره واره شیان سره راټولول، دهغه کتاب راټولول، چې مطالب یې له نورو کتابونو اقتباس شوي وي. عربي قاموس: تالیف ګرد آوري شده، کمپوزشن، کمپوزنګ، اېډېټینګ ته هم وایي.
- ❖ تالیف ډېر په اقتباس ولاړ وي، خو په دې شرې چې ټول اقتباس نه وي او که وي راټولول یې د اړتیا او فني تجزیې پر اساس وي، دغه کار دېر تمرین ته اړتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ❖ په اکاډميکو او علمي مؤسسو کې ممکن ځيني ليکوال وغواړي په ببره يو تاليف وکړي؛ تاليف د تجربو او ډېرو مکررو پوهنو لاسته راوړنه او مجموعه ده، نه د ببرې او تلوار.
- ❖ د کابل پوليتخنيک او د لوړو زده کړو وزارت د انسجام او تحقيق رياست علمي غړی، ښاغلی استاد پوهاند نورمحمد همتا نظر لري: به نظر من: [در تاليف آثار ضمن رهنمود های مقرره مطالب ذيل بايد در نظر گرفته شود:

- عناوين، فصول و مفردات طبق خواست زمان، انکشافات علمي و جامعه بهتر است.. فهرست شوند.
- تاريخچه موضوع يا عنوان طرح شده، اثار کتبی و تاريخی در اثار کتبی و تاريخی و اثار علمی مرور طور فشرده بصورت مشخص و موجز با ذکر نام مؤلف گفته شود.
- نقد يا تاييد اثار قبلی بشکل مستند و منطقي اگر ضرورت باشد؛ صورت گيرد.
- داشته ها و يافته های مؤلف به زبان و ادبيات و شيوه مربوط نحو، باتفصيل و مستند به اثار علمی قبلی در آشکال، تعارف... و اظهارات بيان گردد...

همدارنگه د نورو څېړنو، مرکو او پوښتنو ترڅنګ چې د ځانګې او نورو استادانو څخه د تاليف په برخه کې کړې دا دی يوه ژوندی مرکه لرو، چې لنډيز يې راوړو:
د کابل پوهنتون، د ژورناليزم پوهنځی حقدار استاد او د لوړو زده کړو وزارت د انسجام او تحقيق رياست علمي غړی ښاغلی پوهاند وفا ليکي:
[برای تاليف يک اثر علمي مراتب آتی بايد درنظر گرفته شود:
موضوع تحقيق و تاليف يافته های تحقيق از جمله مسايل عمده در پيشرفت و تکامل جامعه انساني است. زيرا انسانها از زمان طفوليت تا مراحل کهولت ضرورت دارند که برمعلومات و جانبينی خود بيفزايد.
همچنان کشف رازهای خلقت و طبيعت از جمله خواسته های انسانی می باشد.
البته تجربه، جستجو و کنجکاوی پايه و اساس تحقيق را تشکيل ميدهد...

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید گفت که داشته های علمی بدون تحلیل و تحقیق بدست نمی اید. لذا برای آنگه یک اثر دارای محتوای عالی باشد، باید میتودلوژی و یا اصول تحقیق را مراعت کرد و ...

❖ د کتاب په تالیف کې لازمه ده: د یو چا د سبک پیروي وشي.
په تالیف کې هڅه وشي، چې رانقل شوي مطالب ښکاره او مشخص وي... نور ارقام دې له کتابه وویل شي.

❖ د تالیفي او تصنیفي اثر ترمنځ ښکاره توپیر موجود دی؛ هماغسې چې نور ادبي-اجتماعي صنفونه د فن له پلوه سره توپیر لري، د لیکنې په ډگر کې هم پراخه توپیرونه لري.

❖ د تالیفي اثر برابرول د یو مشخص تدریسي هدف لپاره وي. باید ډېر واضح او څرگند وي؛ د لیکوال لازمه پوهه، تجربه او انتظام ور کې صراحت ولري. د تالیفي اثر ځانگړنې تر ډېره بریده د مؤلف په مهارت او تجربه پورې اړه لري.

❖ په تالیف کې یا د تالیف کولو په وخت کې لیکوال ته خپله پوهه یا کتابي پوهه کافي او پوره نه ده، بلکې لازمه ده د هېواد په مذهبي او ملي روحیه پوه او سمبال وي، ځکه تالیف کول د لیکوال یو اجتماعي مکلفیت دی، چې پوه، اخلاص، ښه نیت او له موضوع څخه لازم درک باید په کې موجود وي.

❖ قرآن کریم، حدیث، ټولنپوهنې، دودونو او نورو علومو کې معلومات ولري. له دې امله تالیف نه یوازې د لیکوال خپل نظریات دي، بلکې د نورو د قول څلول هم دي. تالیف بله ځانگړنه دا ده، چې لیکوال له خپله ځانه لار نه باسي، نوموړی د ضرورت له مخې د سترو لیکوالو د سبک پیروي کوي.

❖ تالیفي اثر ډېر ځله تدریسي هویت لري او اهداف یې روزنیز وي. دغه آثار (تالیفي) په پوهنتونونو او د لوړو زده کړو علمي مؤسسو کې د استفادې وړ وي؛ همدا اړتیا ده، چې د لیسانس دورې محصلین باید په پوره او عمومي ډول، د ماسترۍ او دوکتورا محصلین په خصوصي او مسلکي ډول د لیکوالۍ په ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډولونو وپوهېږي، اهداف یې وپېژني او د لیکوالۍ او لیکوال کېدو هڅه د لیسانس له دورې پیل کړي.

- ❖ د تالیفي اثارو د لیکلو بله ځانګړنه دا ده، چې ډېر تمرین او ممارشت غواړي ، د لیکلو تمرین د تالیفي اثر کره هویت لا ځلولی شي، ځکه نو د تالیف کولو پرمهال ډېر تمرین ته اړتیا ده، اړتیا زموږ د ضرورتونو د رفع کولو آسانه او ډاډه لار په لاس راکوي.
- ❖ په تالیفي اثارو کې د اقتباس ترڅنګ، ماخذونه باید ښکاره او په پوره امانتدارۍ و کارول شي. هر ماخذ د کتاب په منځ او د کتاب په پای کې د معیاري طریقې له رویه استعمال شي، یعنې د پوهنتونونو له دود سره. ځینې وختونه یوه کلمه، اصطلاح او مطلب د صفحې په پای کې هم توضیح کېدای شي.
- ❖ د تالیفي اثر له ځانګړنو دا هم ده، چې په اثر کې د هرې بلې نظریې راوړل د یو علت د (سپیناوي) لپاره باید وي؛ یعنې د هر علت لپاره یو معلول راوړل شي؛ مثلاً که یو اثر د یو سمستر لپاره لیکل کېږي، یا دوو، باید (اړتیا، علت، مفردات او د ځانګې تدریسي غوښتنې منعکسې کړي.
- ❖ په تالیفي اثر کې رنګارنګي ډېره اړینه ده. تالیفي اثر نسبت تصنیفي اثر ته ډېر دقیق وي. یو تالیفي اثر باید (نوی، لنډ، کره، مردف، مرتب، منظم، عام فهمه او بالاخره تدریسي هویت ولري.
- ❖ د څېړنیزو او تالیفي آثارو د برابرولو میتودونه:

باید په پوره پوهه، علمي واکمنۍ او ډېرو تجربو ولاړ وي او لیکوال یې په لیکلو کې قابل صلاحیت وي؛ د لیکوال د کلونو تجربو محصول وي؛ د تالیف له لارو-چارو سره بلد وي، څنګه چې د علومو ځانګې بېلې دي، نو د تحقیق او تالیف لارې چارې هم جلا دي او دغه میتودونه، تاریخي، سیاسي، علمي، ادبي او نور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ ميتودونه په (تاريخي، سياسي، علمي او ادبي-هنري باندې ويشل کېږي. تاريخي ميتود د پېښو د پېښېدو عوامل بيانوي، سياسي ميتود سياسي لارې-چارې په ميتوديک ډول راښيي، د علمي ميتود شيوه د انکشاف او مهارت پر شيوه استواره ده. ادبي-هنري ميتود پر ښکلاييزو موازينو اتکا لري. فکري او خيالي مهارتونه او معيارونه هم په کې ارزښت لري.

❖ تاليفي کتابونه د ځان لپاره ميتودونه لري لکه: درسي مفردات، ليک لړه فصلونه، د فصلونو لنډيز، سوالونه او ماخذونه لري.

مفردات يې په ځانګه کې ثبتېږي؛ له پنځو کلونو وروسته کېدای شي تغير شي؛ د محصلانو لپاره ضرور دی؛ درسي کتاب د ساعتونو او کرېډېټونو له مخې او په سمستر کې څو ساعته او څو اونۍ ويل کېږي.

❖ تحقيقي اثر هم ميتودونه لري؛ لکه: تاريخي ميتود، د سروې ميتود، تجربې ميتود او ...

❖ تحقيق؛ څېړنه او ښکاره کول، محقق کول، برجسته کول او په ډاګه کولو ته وايي. ريسرچ، بيا لټونه او پلټنه هم ده. تحقيق په مختلفو ډکشنريو کې بېلابېل نومونه اخيستل شوي، چې متن ته دې مراجعه وشي.

❖ د تحقيق کلمه د ((حق) له مادې اخيستل شوې، رښتيا، درست، د باطل ضد، ثابت او واجب معنی ورکوي. دهخدا لغتنامه کې راخي: د تحقيق کلمه عربي ده، په فارسي ژبه کې معادل يې (پژوهش) او د پژوهش ماده د پژوهيدن له مصدره يعني لټون او پلټنه او ښکاره کونه ده؛ اخيستل شوې ده.

❖ که غواړو د تحقيق ارزښت وپېژنو او د ژوند په ټولو (علمي، ادبي، فرهنګي او ... برخو کې تحقيق وکړو، لازمه ده لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړو:

۱) ولې تحقيق کوم؟

۲) د څه په باره کې څېړنه کوم؟

۳) زما څېړنه کومه ارزښتمندې لري او کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤) کوم تحقيق چې زه کوم د نورو (مخکينو) څېړنو ارزښتمندي زياتوي او معلومات پرې ورزياتېږي کنه ؟

٥) زما تحقيق د لاينحله پوښتنو ځواب ورکولای شي کنه ؟

٦) زما په څېړنه کې کوم ارزښتونه پراته دي؟

٧) او کوم هدفونه لري؟

بايد پورته پوښتنو ته ځوابونه ومومو. اصلي متن ته دې مراجعه وشي، پوره ځوابونه ورکول شوي دي.

❖ څېړونکی (محقق) څوک دی؟

هر محصل او ليکوال يو څېړونکی او محقق دی، دا ځکه غواړي د دوامدار مطالعې له مخې ليکنه وکړي، د لا زيات تحقيق احساس کوي. څنګه چې هر تحقيق يو حقيقت دی، د حقيقت د موندلو لپاره بايد څېړونکی د لوړو اخلاقي او علمي ځانګړنو درلودونکی وي. صابر وي، پوه او عالم وي، له خپلې رشتې او مسلک سره مينه ولري او د يو مسلکي په توګه د تحقيق کار ته دوام ورکړي.

❖ د تحقيق اصل ؛ څېړنه ورته وايو او څېړونکی (محقق) دی؛ دواړه (څېړنه او څېړونکی) د عربي له تحقيق او محقق نه اخيستل شوي دي او مصدر يې د تفعيل له بابه دی، (حقق، يحقق، تحقيقا ، محقق ...) څېړل شوی دی.

❖ د تحقيق يوه معنی غوره کول دی، آن په دود او فولکلور کې راغلي: (په ښو تلوار په بدو تامل) او همدارنګه الله تعالی په قرآن مجيد کې فرمايلي دي: ژباړه: (اې مومنانو ! که کوم فاسق تاسې ته درشي او تاسې ته کوم خبر در وړي، نو تاسې تحقيق په کې وکړئ. هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر رسوئ او بيا په خپلو کړو پښېمانه شئ.) له دې معلومېږي، چې غور او دقت غواړي، هره څېړنه د غور او تحقيق په لړ کې هويت مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د تحقيق د ارزښت په برخه کې په (قرآنکريم) کې د حضرت ابراهيم ع او حضرت پيغمبر ص رسول برحق حکايتونه راغلي دي. همدارنګه د سيرت نبي ص او نورو احاديثو د محقق کولو په برخه کې مسلمانانو ډېر غور او تحقيق کړی دی، چې زموږ لپاره د تحقيق ارزښتمندي لا زياتوي.
- هر تحقيق فردي او ټولنيزې ګټې لري؛ فردي ګټه يې دا ده، چې هر انسان د کاميابۍ په لور هڅه کوي ؛ اول محقق په رواني لحاظ پياوړی کوي، د فکري کاميابۍ په لور هڅه کوي او له دې امله هر ډول وده او رشد کولای شي. آن همدغه انسان (محصل) او څېړونکی په رواني لحاظ پياوړی کېږي، څېړنه پياوړې کېږي، وجداني باور تحرک پيدا کوي او تمرکز پياوړې کوي.
- ټولنيزې ګټې يې دا دي، چې د ملتونو وده او پرمختګ په ټولو اخلاقي، سياسي، ټولنيزو، فرهنګي او اقتصادي، برخو کې له همدغې لارې محقق کېږي. د انسان او ټولنې ژوند ته رنګ ورکول کېږي، اعتبار پيدا کوي او ډېره کاميابي حاصلېږي.
- تحقيق ډېر ډولونه هم لري؛ الف: په نندارتونونو کې کتابتوني تحقيق، ساحوي تحقيق، ګډ(مختلط) تحقيق، او تحقيق د ارزښتمندۍ (ميزان) له پلوه، چې په ابتکاري، پراختيايي(تفصيلي) د پلټونکو د شمېر، حجم او کيفيت له پلوه د کتلو وړ دي.
- محقق ځانګړتياوې هم لري، محقق د ټولنې فعال غړی دی، محقق پخوانيو پېښو ته يو ځل بيا تازه روح ورکوي، څېړنه د وخت په اوږدو کې ترسره کېږي. د څېړونکي عمده ځانګړنه د هغه پوره پوهه په موضوع کې مسلکي توب او د تحقيق پر مهال صبر کول دي، له تعصب ځان ساتل ضرور دي.
- محقق د خپلې پوهې او د نورو نظريو په رڼا کې بآيد پوه شي، چې د تحقيق موضوع پېژندل ضرور دي. د يوې مسالې د څېړنې لپاره تعريف طريقه غوره کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو پوښتنو ته شواهد بايد راوړي، راټول شويو مدارکونو ته سر او صورت ورکړي.

- ❖ محقق مسوولیتونه هم لري؛ لکه:

۱) تر ټولو مهمه د حقيقت ترلاسه کول دي او نورو ته اعلانول دي. هغه بايد ککړ مغزونه له خرافاتو پاک کړي او نوي جوړونه وکړي او په خلکو کې حقاني باورونه پيدا کړي. د يو محقق مسوليت د ټولنې په ټولو ډګرونو کې خدمت کول دي.

- ❖ ښېرونکی يا محقق صفتونه هم لري؛ ښېرونکی عادي سړی نه دی او هر څوک نه شي کولای د خپل علم، قلم، ليکوالۍ او ښېرنې له لارې خدمتونه وړاندې کړي. د محقق صفت دا نه دی، چې د ټولنې خلک يې د ليکوال په توګه وپېژني، بلکې د يو روڼ آند په توګه او صفت خلکو ته د ټولنې حقايق بيانوي.
- ❖ که چېرې يو محقق غواړي، چې کامياب شي لاندې ټکي په نظر کې نيسي: ( د عمل نوښت، صبر او پايداري، پر موضوع لازمه پوهه درلودل، د مطالبو په پوهېدو کې ژورتيا درلودل، د نظريو او افکارو په تحليل کې نقاد ذهن درلودل، د مطالبو د وړاندې کولو لپاره روحي برلاسي درلودل، د تحقيق له لارو چارو سره بلدتيا ، له منابع او ماخذونو سره روږدېوالی، په بهرنيو ژبو پوهېدل، له کمپيوټر او انټرنېټ څخه ګټه اخيستنه، د ليکوالۍ له اصولو سره بلدتيا ، دا ټول د محقق صفتونه دي.

تحقيق بايد نوې مفکوره ولري.
په ليکنه کې له معتبرو منابعو کار اخيستل شوی وي او دغه راز تحقيقي اثر مقدمه غواړي؛ د موضوع طرحه په واضح ډول ور کې راغلي وي، د تحقيق اهداف ور کې مشخص شي؛ د اثر د محتوا لنډ ذکر په کې وشي، د ضرورت په صورت کې له معيار سره سم جدولونه، احصايي، ګرافونه او نقشې وښودل شي، ماخذونه، اصطلاحات او نور وښودل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ❖ تحقيق او تحليل ترمنځ توپير هم شته؛ څېړنه د ليکوالۍ په دنيا کې دوامداره بهير دی او تحليل په ليکوالۍ کې د موضوعاتو او مفاهيمو درک او تفسيرول دی. که تحقيق ونه شي، ليکوالۍ پراختيا او وسعت نه مومي او که د ليکوالۍ په هره برخه کې تحليل نه وی، په تېره په تحقيق کېږي نو دا معنی لري، چې مورږ د موضوع له درکه پرته تحقيق کوو.
- ❖ يو تحقيق هغه وخت په زړه پورې او مدلل وي، چې له تحليل سره ملګری وي، ځکه تحليل د تحقيق د بشپړولو او د سپړلو معنوي قوت دی او هر تحقيق د تحليل په وسيله هويت مومي. د حسن عميد په وينا ، تحليل، حلالول، ښه شمېرل، حلول، پرانستل...
- ❖ پښتو-انګليسي قاموس کې راځي: که تخليق خلقول، لټول او پيدا کول دی، نو تحليل د هغو موادو باطني را سپړنه ده.
- ❖ که تحقيق د بشر اړتيا او کنجکاوي ده، خو تحليل د غه کار ته ايديا او مفکوره پيدا کوي او د همدغې ايډيا په وسيله د يوې موضوع ښه سپړنه کېږي.
- ❖ تحقيق يو نظامنده کار او بهير دی، چې د يو سنجول شوي منطق له مخې ترسره کېږي، خو تحليل د تحقيق د ترسره کېدو عامل او هدف ښکاره کوي؛ هغه وخت تحقيق ښايسته ده، چې د تحليل له مخې وي، بې تحليله تحقيق بې بارانه او بې اوبو کرونده ده. په تحقيق کې هدف نغښتی وي او په تحليل کې فکر؛ نو هر هدف د يو فکر محصول دی او يو فکر د ستر مرام په درلودلو سره ښکلی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶-۴- د شپږم څپرکي پوښتنې:

١) ولې تحقيق يو نظامنده کار دی او تحليل هدف ښکاره کوي؟ لنډ او جامع ځواب راکړئ
٢) د تاليف درې تعريفونه را واخلئ.
٣) يو تاليفي اثر ډېر په اقتباس ولاړ دی، که په تحقيق؟
٤) د تاليفي اثر په برابرولو کې څو ضروري يادونې کومې دي؟
٥) آيا په تاليفي اثر کې خپل مطالب او رانقل شوي مطالب سره ګډ که جلا ښوول کېږي؟
٦) د تاليفي اثر ځانګړنې په کره ډول په ګوته کړئ.
٧) د تاليفي او تصنيفي اثر توپيرونه په واضح ډول سره وکړئ.
٨) د تاليفي او تصنيفي آثارو د برابرولو ځينې ميتودونه په نښه کړئ.
٩) د سياسي، علمي او ادبي ميتودونو ځينې ځانګړي معيارونه په ګوته کړئ.
١٠) د تاليفي کتاب د تاليفولو په کار کې کوم ميتودونه په نظر کې نيول کېږي؟
١١) سرمحقق زلمی هېوادمل د څېړنې ميتودونو ته څه ډول اشاره کوي؟
١٢) څېړنه (تحقيق) څه ته ويل کېږي؟
١٣) تحقيق د څه شي له مادې اخيستل شوې ده؟
١٤) په بېلابېلو ډکشنريو کې تحقيق څه ډول تعريف شوی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵) د تحقیق دري نوي او په زړه پوري تعریفونه راوړئ.
۱٦) حافظ الپوري، یونس خیبري، حافظ شیرازي د تحقیق په برخه کې کوم شعرونه لري؟
۱۷) د څېړنې پر مهال لازمه ده کومې پوښتنې له ځانه وکړو؟
۱۸) څېړونکی (محقق) چا ته ویل کېږي؟
۱۹) د څېړنې (تحقیق) په برخه کې خپل معلومات په کره ډول ولیکئ.
۲۰) په قرآنکریم کې د تحقیق په برخه کې کوم ډول نظر ښکاره شوی دی؟
۲۱) د حضرت محمد ص نظر او دعا د تحقیق په برخه کې څه وه؟
۲۲) ډاکټر سری نګر د مسلمانانو د تحقیقاتو په برخه کې څه نظر لري؟
۲۳) د څېړنې فردي او ټولنیزې ګټې کومې دي؟
۲٤) څېړنه په انسان په تېره په لیکوال او محقق کې څه شی راژوندی کولای شي؟
۲۵) ولې وایي، چې د یو تحقیق هدفونه سپېڅلي دي؟
۲٦) تحقیق څومره ډولونه لري؟
۲۷) د یو څېړونکي (محقق) ځانګړنې په ګوته کړئ؟
۲۸) د محقق مسوولیتونه کوم دي؟
۲۹) د څېړونکي عمده صفتونه کوم دي؟
۳۰) د څېړنیزو علمي آثارو محتوایي ځانګړنې په ګوته کړئ.
۳۱) د افغانستان د دولت د ریاست د ۱۸، ۸، ۱۳۸۲، ګڼه فرمان کې د علمي-تحقیقي مؤسسو د حق الزحمو په (۸۱) نمبر کې د علمي-تحقیقي کتاب یا رسالې شرایط کوم ښوولي دي؟
۳۲) د تحقیقي اثارو محتوایي او شکلي ښېګڼې او ځانګړنې په ګوته کړئ.
۳۳) د څېړنې د ترسره کولو پړاوونه کوم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳٤ ) په تحقیقي آثارو کې ماخذونه څنګه کاروو ؟

۳۵ ) د تحقیق او تحلیل ترمنځ خپل کره، بشپړ او هر اړخیز معلومات ولیکئ.

۳٦ ) پوهاند همتا تالیفي اثر په برخه کې څه نظر لري؟

۳۷ ) د کابل پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځی استاد پوهاند وفا د یو علمي اثر د تالیفولو لپاره کوم لاندې مطالب په پام کې نیسي؟

۳۸ ) د یو کتاب په تالیف کې کوم مطالب په یاد کې نیسو ؟

۳۹ ) د یو تالیفي اثر کره او عمده ځانګړنې ووایاست.

٤۰ ) د تحقیقي اثر کره او عمده خصوصیتونه په ګوته کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶–۵– د شپږم څپرکي ماخذونه:**


۱- قرآنکريم. ثورات الحجرات. (۲) آيت.

۲- احمدي جاويد. ۱۳۸۹. روش تحقيق کتابخانه يي و اجتماعي. کابل: شهرنو. رسالت انتشارات.

۳- انګليسي – پښتو قاموس. (محمد عارف) ۱۳۸۳. پاکستان. پېښور: دهکی نعلبندي. قصه خوانی.

۴- بېنوا عبدالروف.کال. پښتو متلونه.

۵- پښتو-انګليسي قاموس. ۱۳۸۸. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي. الازهر خپرندويه ټولنه.

۶- دواني، علي. ۱۳۷۷. هنر نويسنده گی و نامه نگاری(دويم چاپ). پېښور: کتاب خپرونه. قصه خوانی.

۷- دهنوي، حسين. ۱۳۸۱. د تحقيق روش(شپږم چاپ) ايران: قم. دارالصادقين.

۸- رشيق، محمد حسين. ۱۳۸۴ه. د علمي –تحقيقي اثر د ليکلو ډول، روش. کابل: کابل پوهنتون. د کابل پوهنتون د علمي تحقيقاتو مرکز.

۹- رنجبر، دکتراحمد. ۱۳۷۸. روش تحقيق و ماخذ شناسي: ايران: تهران. انتشارات امير کبير. د پيشگام مطبعې خپرونه.

۱۰- زلمی هېوادمل. ۱۳۸۸. د څېړنې بنسټونه او ډولونه. (ټولونه او تدوين). د افغانستان د علومو اکاډمی د سيمه ايزو مطالعاتو مرکز.

۱۱- سياح،احمد. ۱۳۸۳. فرهنگ دانش آموز (عربي به فارسی، فارسی به عربي). تهران: خيابان انقلاب. چاپخانه رهنما.

۱۲- شيرازی، حافظ. ۱۳۸۲. متن کامل فالنامه حافظ شيرازی. ايران: تهران. کتابخانه ملی ايران. انتشارات هنرور.

۱۳- علي اکبر، دهخدا. ۱۳۷۷. لغتنامه دهخدا(دويم چاپ). تهران: د تهران پوهنتون خپرونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴- علي فاخر، دکتر. ۱۳۸۰ کال (دويم چاپ). ابزار عمومي تحقيق. ايران. تهران:
تهران پوهنتون. د ايران ملي کتابتون.
۱۵- عميد، حسن. ۱۳۸۲. فرهنګ فارسي عميد. (دويم چاپ) تهران. ميدان
استقلال. مؤسسه انتشارات اميرکبير.
۱۲- فرهنګ فارسی به انګليسی. ۱۳۸۱. (لومړی چاپ) تهران: ميدان انقلاب.
خيابان اردبهشت.
۱۷- فرهنګ، غلام يحيي. ۱۳۸۲. د تحقيق اصولو رساله. هرات: مطبعه خواجه
عبدالله انصار.
۱۸- فقيهي، فضل الرحمن. ۱۳۸۷ ه. راهکارهای پژوهش (دويم چاپ). هرات:
هرات دولتي مطبعه.
۱۹- قايمي، علی. ۱۳۷۵. پر مکتب پېژندنې د ټينګارلارې-چارې. تهران: خيابان
شهر. قطره خپرونه.
۲۰- مشـواني، عبدالقيوم. ۱۳۸۵. زاهد پښتو-پښتو سيند. پېښور: دانش
خپرندويه ټولنه تخنيکي خانګه.
۲۱- مومند، قلندر. ۱۹۹۴م. درياب. پېښور، اين ډبليو ايف-پي. ټيکسټ بک
بورډ.
۲۲- مقرره ها، لوايح و طرزالعمل های تحصيلات عالی (۱۳۹۰. (دويم چاپ). کابل
د لوړو زده کړو علمي معينيت. د لوړو زده کړو مطبعه.
۲۳- همت، عبدالمالک. ۱۳۸۵. د مقالې ليکلو اصول (ژباړه). کوټه: يونايټيډ
پريس. صحاف نشراتي مؤسسه.
۲۴- هېوادمل، زلمی. ۱۳۲۷. د متن څېړنې ميتودولوژي. کابل. د افغانستان د
علومو اکاډمي. د ژبو او ادبياتو مرکز. پښتو ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی

## ۷– مقاله یا مقاله لیکنه

**پیلیزه ( مدخل):**

مقاله؛ عربی کلمه ده، د قول، ویلو په معنی ده او په اصطلاح کې د یوې ځانګړنې موضوع په برخه کې هغه لیکنه ده، چې علمي، ادبي، تحقیقي، مذهبي او ... مضمون ولري.

مقاله ډېر ډولونه لري؛ نن سبا د مقاله لیکلو بازار ښه تود دی، چې په خبرېزو، اخلاقي، دیني، روزنیزو، سیاسي، اقتصادي او .... او ډېرو ډولونو ویشل کېږي.

مقاله هر ډول مضمون لرلای شي. د شکل له پلوه هم توپیرونه سره لري.

په دې څپرکي کې (مقاله یا مقاله لیکنه، مقاله او رساله څه توپیر لري؟، د مقالو ډولونه، د مطبوعاتو اړوندې مقالې او دهغو ځانګړنې (ورځپاڼو، انټرنېټ، مجلې، علمي-خبرنېزې او تحلیلي، ادبي، علمي مقالې ا و ځانګړنې یې او همدارنګه انتقادي-قضايي، اقتصادي، تبلیغي، طنزیه، ټولنیزې، اخلاقي، دیني، روزنیزې او ... مقالې او ځانګړنې یې او دغه راز د دې فصل د مطالبو لنډیز، پوښتنې او ماخذونه په ترتیب سره ښوول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۷–۱– مقاله ( Article. Essay. (Maqala

مقاله؛ د ليكوالۍ يو غوره او عمده ډول دى، چې د ليكوالۍ په دنيا كې له ډېر پخوا تر اوسه رواج لري او نن سبا يې اخبارونو، اوونيزو، مجلو، كتابونو نيټ، فيس بوک او يوټيوب او بلاخره ټولو رسنيو ته لار پرانيستې ده.

(( په پښتو – انګليسي قاموس كې ( مقاله يا مقالې ) ته . Essay يا ( Article ) ويل شوى او سر مقاله ( Editorial ) وايي.)) ( ۱۰ : ۴۳۷ )

په انګليسي –پښتو قاموس ، الازهر خپرندويه ټولنه (۵۱ ) ماده، بېله فقره، بېله اصطلاح، جلا موضوع ( د مجلې، ورځپاڼې انسايكلو پيډيا (ګر) هم ورته وايي.)) (۹ : ۵۱)

زاهد پښتو-پښتو سيند ، ۱۳۸۵ كال چاپ، ۹۷۳ مخ كې ليكي: (( maqala- ښځ-م-ا ) لوظ، لوز: ۲ ). ليكلى مضمون؛ ۳ . د كتاب ... برخه.)) (۲۰: ۹۷۳ )

فرهنګ فارسي عميد ، دويم ټوک. ۱۳۸۱. ۱۸۳۵ مخ كې راځي:

(( مقاله – مص-[ع] مقاله ( م. ل ) سخن ګفتن [[ ګفتار ، سخن]] يک قطعه يا فصل از كتاب، يک مطلب كه تحت عنوان معينى نوشته شده باشد ، مقالات جمع.)) (۲۸ : ۱۸۳۵–۱۸۳۶)

په پښتو ژبه كې ( ليكنه لويه يا وړه )، جمع يې ليكنې او مغيره ليكنو ) يا هغه ليكنه چې تر يو ټاكلي سرليک لاندې په يوه برخه كې ليكل شوې وي. مقاله (مفرد ) ډول او جمع يې (مقالې ) هم راځي. مقاله لويه او وړه وي او كېداى شي هر ډول مضمون ولري. مقاله ليكنه د ليكوال كار دى او دا كار يو پياوړى مسلک دى.

مقاله (Thesis ) له مقاله (Essay ) يا مونوګراف (Monograhph ) يا پايليک او يا رسالې (Treatise ) سره توپير لري؛ دلته زموږ هدف (Essay ) يا هغه مقاله ده، چې د ليكوالۍ په ډګر كې لرغوني تاريخ لري؛ د شكل او مضمون له پلوه ( وړه يا لويه ) وي؛ مضمون يې په نثر وي، غوره او اسانه اسلوب يې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، چې د يوې ځانګړې موضوع څخه بحث کوي او يو فکر تبليغوي. د غه ډول مقالې ( تر يوه عنوان لاندې يوه وړه يا لويه موضوع رانغاړي. )

د ادبي مسالو معاصر ليکوال ډاکټر سيروس شميسا په خپل معتبر اثر ( انواع ادبی، ۲۵۸ ) مخ کې د (Monograhph)، (Thesis)، (Essay) او تريټيس (Treatise) تر منځ توپير کړی، چې لنديز يې دلته راوړل کېږي: (( مونوګراف يا پايليک ) هغې رسالې ته ويل کېږي، چې يوازې پر يوه موضوع په مفصله او مشرحه توګه وليکل شي او يا خبرې کوي.

مقاله (Thesis) په ځانګړې توګه هغه ليکنې ته وايي، چې د يوه علمي سند په توګه يې د علمي سند هيله من ليکي، مګر په عام ډول نه ليکل کېږي.

په عامه توګه مقاله (Essay) په نثر ليکل کېږي. لنډه يا اوږده وي او د يو ځانګړې موضوع څخه خبرې کوي او يو فکر په کې انعکاس مومي او يا موندلی وي؛ ډېر ځله لنډه وی.

د مقالې او رسالې (Treatise) ترمنځ فرق دی، په دې معنی چې حتمی نه ده، مقاله دې جامع او بشپړه وي او په هغې کې د خبرو وړ موضوع له ټولو اړخونو څخه وڅېړل شي. مقاله خاصو ډلو ته نه، بلکې ډېر ځله عامو وګړو ته ليکل کېږي. له دې امله دومره فني نه وي، خو هله بيا فني وي، چې تخصيصي مجلو ته، چې خاص لوستونکي لري، ليکل شوې وي. )) (۲۵ : ۲۵۸)

مګر ډاکتر احمد شلبي په خپل اثر ( کيف تکتب بحثاً او رسالة، ۵ مخ ) د آرتورکول (Arthuracole) په حواله د مقالې تعريف داسې راوړی: (( مقاله هغه بشپړ رپورټ ته وايي، چې کوم څېړونکی يې د خپل بريالي څېړنيز کار ترسرته رسېدو وروسته وړاندې کوي. په دې شرط، چې د غه رپورټ د مطالعې ټول پړاوونه احاطه کړي، يعنې د موضوع په اړه د لومړني فکر کولو څخه بيا له څېړنې څخه د ترلاسه شويو پايلو پورې د دلايلو او اسنادو په رڼا کې هغه ترتيب، تدوين او وړاندې کړي. )) (۲۴ : ۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مقالې او رسالې توپیر عبدالمالک همت په خپل کتاب (د مقالې لیکلو اصول) .. په ۴۲ مخ کې داسې راوړي: ((د لغاتو په کتابونو کې د مقالې تعریف داسې کوي، مقاله لیکي مضمون، د معلوماتو مفصل مضمون، د کتاب یوه برخه، د کتاب باب یا فصل ته وایي او ... رساله ، وړه مجموعه، وړوکی کتاب، چې دریاب او فیروزاللغات په اردو ژبه کې مجلې ته رساله وایي. او ... د څو تنو لیکوالو د مضمونونو ټولګه چې پر ټاکلي مهال خپرېږي. )) (۴۰ : ۴۲)

قلندر مومند په دریاب ډکشنرۍ کې لیکي: ((مقاله- مه- قاله-اسم-واحد-مؤنث-(۱) قول-(۲) لیکلی مضمون (۳) کتاب حصه. (۴) د معلوماتو مفصل مضمون. (عربي) رساله (ر-سا-له) اسم. واحد ، مؤنث (۱) وړه مجموعه، وړوکی کتاب، (۲) لیک –مکتوب (۳) د سورو یوه ډله یا یوه قطعه– جمع رسالې ...)) (۳۳ : ۱۲۰ او ۱۲۰۲) مخونه.

استاد عبدالحق بیتاب ملک الشعرا ، د ثروت جریده په ۴ مخ کې وایي: ((مقاله –منظم کلام دی، چې د لیکوال په فکر پورې اړه لري... نوموړی زیاتوي؛ مقالې د موضوع له پلوه په درې ډوله دی: (قصیصه، وصفیه او فکریه ...) لکه تاریخو حربیه، مشاهیرو او ...)

۱- قصیصه مقالې: په کیسو (قصو پورې اړوند وي او کیسه د هغه څه حکایت دی، کېدای شي رښتیني وي او یا نه وي.

۲-وصفیه مقالې: هغه بیان دی، چې د یو شي په برخه کې ښوونه کوي لکه حیواناتو ، نباتاتو ، قصرونو ، ښارونو ، منظرو ، لباس، اخلاق ...)

۳- فکریه مقالې: چې معاني یې په فکر پورې اړه لري او مصنوعیت رانغاړي لکه : عادات، صداقت، سخاوت، پېښې، د کور شیان، د شخص ګفتار او کردار...)) (۸: ۷۰۲۰۵)

اوس اوس مقاله د لیکنې یو مهم ډول دی.

مقال –مص [ع] (م) خبرې کول، خبرې اترې او وینا ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقاله –مص- [ع] (( مقاله )) ٩ ( م-ل ) خبرې کول ( وينا ، خبرې، د کتاب يوه برخه يا يو فصل، يو مطلب، چې له يو ټاکلي سرليک لاندې ليکل کېږي. مقالات يا مقالې يې جمع ده.

مقاله هغه ليکنه ده، چې نه کتاب وي او نه کتابچه (رساله ) له دې امله بايد په څو پاڼو کې خلاصه شي ؛ له هغه وخته ، چې ورځپاڼې او مجلې پيدا شوي، دا ډول ليکنې د مقالې په نامه يادې شوي. مقاله کله لنډه او کله هم اوږده وي، کله تفصيل لري، کله نه، خو بايد ووايو ، چې د مقالې ډېر اوږدوالی دومره ور کار نه دی.

## د مقالو اغېزې:

هماغسې، چې سترګې په ليدلو ا و غوږونه په اورېدو متاثر کېږي، مقاله هم يو قول او يوه وينا ده، چې د انسان پر افکارو اغيزې ښندي. د مقالو اغيزې ډېرې دي. که مقاله لنډه وي، په ورځپاڼو ، مجلو او يا اوونيزو کې د خپرېدو وي، دا ډول مقالې او ليکنې ژر په ژره يا انې (سمدلاسه ) پر انسان اغيزې کوي.

د مقالې ليکوال بايد پاملرنه وکړي که ليکنه يې وړه يا لويه وي، بايد د ليکوال تيزس په پوره ډول بيان کړي. مقاله بايد داسې وليکل شي، چې د مطلب حق ادا کړای شي او څه شی ور کې ناسپړلي پاتې نه شي؛ په دې معنی، چې د پام وړ مطلب راوسپړي. له پر له پسې او تکراري کلمو له راوړلو ډډه وکړي. په مقاله ليکنه کې هدف په پيل کې ويل کېږي، ليکوال بايد خپل هدف د پوره استدلال پر بنسټ بيان کړي، که د بل چا له مقالې يا کتابه ګټه هم اخلي، لازمه ده پوره برلاسی وي او امانتداري له مخې يې ترسره کړي.

مقاله لکه ګزارش (رپورټ ) کېدای شي خطابي لوری ولري. په دې وخت کې لازمه ده ليکوال د خپل قلم د ځواک او نوښت له برکته نوموړی يا د پام وړ موضوع ښه راوسپړی، يعنې داسې يې وليکي، چې په پای کې ترې مفهوم واخلي. د مقالې په پيل کې بآيد ليکوال په داسې ډول خپل هدف ووايي، چې لوستونکی په مقاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لاره ورکه نه کړي. مقاله لیکونکي ته ښایي چې ګام پر ګام لوستونکی له ځانه سره ولېږدوي او کله چې لوستونکی د مقالې له لوستلو خلاصېږي باید د دې خبرې درک وکړي، چې ما یو څه نوي زده کړي دي. (هغه وخت یوه مقاله پر لوستونکو اغیز کولای شي، چې د موضوع له پلوه غني وي او اصلي مطلب یې په نوي ډول بیان کړی وي. )

### ۷–۲– مقاله او رساله څه توپیر لري؟

مقاله مو مخکې معرفي کړه؛ رساله هم مقالې ته ورته ده او د شکل له اړخه څه ناڅه توپیر سره لري.

رساله د شکل له پلوه له مقالې لویه وي، مقاله یو قول دی، یوه لنډه لیکنه هم احتوا کوي، خو رساله د مقالې تفسیر شوې بڼه او شکل دی؛ آن مونوګراف رساله بللای شو.

په اصل کې ( دا ټول د مقاله لیکنې په بحث پورې اړه لري، یعني هر څه چې په نثر کې یوه لنډه یا وړه موضوع بیان کړي، مقاله ده. مګر رساله تر یوه عنوان لاندې د وړو او نورو عنوانونو تفسیر ته هم ویل کېږي. )

رساله(Treatise)–ا. [ع] ((رسالة)) (ر-یا-ر.ل) نامه، نوشته، کتاب، کوچنی کتاب، پیغام، جمع یې رسایل او رسالات.)) (۲۷: ۱۰۴۱)

دا حتمي نه ده، چې مقاله دې بشپړ رپوټ وي، او په هغې کې دې د بحث وړ موضوع باندې هر اړخیزه څېړنه شوې وي. د شمیسا په وینا مقاله خاصو خلکو ته نه، بلکې ډېر ځله عوامو وګړو ته لیکل کېږي.

بله مهمه خبره دا ده، چې مقاله ممکن ډېره فني لیکنه نه وي، خو چې فني او مسلکي مجلو ته ولیکل شي، نو بیا خاص لوستونکي لري؛ لکه د علومو اکاډمیو او پوهنتونونو مجلې، چې ځانګړي علمي، مسلکي او فني مقالې خپروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقالې کېدای شي د راډیو او تلویزیون یا په اخبارونو کې د ټولو لپاره خپرې شي، چې یو پیغام لري، په دې صورت کې رساله هم کېدای شي، ځکه رساله له رسولو رسول، لېږدونکی، پیام یا پیغام لېږدونکی شخه هم مراد دی.
رساله د لوی پیغام درلودونکې ده. په اردو ژبه کې مجلې ته (رساله) وایي.
فیروزاللغات د رسالې تعریف داسې کوي: ((د څو تنو لیکوالو د مضمونونو له مجموعې څخه عبارت ده، چې پر ټاکلې موضوع خپرېږي؛ لکه د ادبیاتو هدف څه دی؟
رساله د شکل له پلوه هم له مقالې لویه وي؛ لکه: پایلیک (مونوګراف)

- مقاله Essay لنډه لیکنه ده.
- رساله لویه لیکنه ده.
- مقاله جامع لیکنه وي او یا نه وي، خو رساله یوه بشپړه او پوره موضوع رانغاړي.
- مقاله کېدای شي رسمي Formal او غیر رسمي Informal وي.
- رساله په رسمي مجلو او مقاله په شخصي او رسمي مجلو کې خپرېږي.
- رساله کېدای شي پیغام لېږدونکی، ځکه پیغمبر ص هم د الله تعالی رسول و.
- مقاله او رساله د تحقیق یا ریسرچ مهم ډولونه دي، خو مقاله ډېر ځله تحقیقي بڼه لري. رساله د رسالت سره هم ارتباط لري؛ رسول مقبول ص ځکه په رسالت مبعوث شوی و، چې خپلو امتیانو ته یې د الله تعالی پیغام لېږداوه.
- رساله تر یو لوی عنوان لاندې واړه عنوانونه هم لري او د توضیح وړ وي.
- رساله لکه مونوګراف تدویني بڼه هم لري؛ په سلو کې څلویښت تحقیق او شپیته سلنه تدوین (راټولونه) ده.
- رساله هرومرو کتاب وي او یا کتاب ته ورته وي، لکه مونوګراف.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲: مونوګراف يا پاپليک:**

مونو (يو – يوه) ګراف (موضوع) يعني مونوګراف يوه موضوع؛ هغه موضوع چې تر يوه عنوان لاندې ليکل کېږي. موضوع عموماً هدف لري او بې هدفه نه وي؛ لکه زموږ په هېواد کې، چې ليسانس له دورې يا (B.B.A) وروسته مونوګراف يا پاپليک ليکل کېږي.

تر يوه عنوان لاندې (راټولونه او تحقيق) کېږي. مونوګراف له يوې مخې تحقيق نه دی، بلکې تدوين او راټولونه هم ده. (تدوين+ تحقيق= مونوګراف)

د تدوين برخه ډېره ده او د څېړنې لږه...

زاهد ، پښتو - پښتو سيند ، **۵۰۳** مخ کې راځي: ((رساله Rasala) –ښځ. م. ا) وړوکې مجموعه، کوچنی کتاب (۲) د سپرو يوه قطعه.)) دغه راز اوسني مونوګراف ليکنه لږه منظمه شوې او فارغ محصلان په نويو موضوعګانو کې تحقيق کوي او خپل مونوګرافونه ليکي.

پوهنوال احمد شاه زغم په هغه کوچنی رساله کې ناچاپ اثر، چې د ځلورمو ټولګيو محصلينو لپاره يې ليکلی دی، راوړي:

((يو مونوګراف له دغو عمده برخو جوړېږي: (عنوان، سريزه، متن، نتيجه او ماخذونه... همدارنګه ځينې نور واړه عنوانونه هم شته، چې فرعي بڼه لري. د مونوګراف ماخذونه بايد کتابتونې، مرکې، ساحوي او سايټونه وي. لږ تر لږه د ماخذونو شمېر بايد له (**۵** يا **۸**) کم نه وي او تر **۱۲** يا ډېرو پورې هم وي.)) (**۵:۲۲**)

د پښتو ژبې وتلی معاصر ليکوال عبدالمالک همت د خپل اثر (د مقالې ليکلو اصول او د مطالعې او څېړنې لارښود)، **۴۱** مخ کې ليکلي دي: ((مونوګراف (monograph)؛ هغې رسالې ته وايي، چې يوازې پر يوه موضوع په مفصله شرح وليکل شي.)) يعنې مونوګراف او رساله يوه معنی لري (مونوګراف هغه رساله ده، چې د مفهوم له پلوه بشپړه معنی افاده کړي او تر يو عنوان لاندې کېدای شي څو بېلابېلې واړه عنوانه هم راشي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولنيزو علومو په پوهنځيو کې مونوګراف ليکنه مروجه ده، خو په ډېر شمېر نورو پوهنتونونو او د کابل پوهنتون په نورو پوهنځيو کې سيمنارونه د محصلينو له خوا برابرېږي او په عملي ډول د استادانو او محصلينو په مخ کې دفاع ترې کېږي.

په اجتماعي پوهنځيو کې مونوګراف ليکل او په ساينسي علومو پوهنځيو کې له سيميناره دفاع کول ځکه مروج دي، چې ( ادبياتو او .. پوهنځی ټولنې ته ليکوالان او نورو پروژه پوهېدونکي وړاندي کوي )

د مقالې ليکلو لرليد (سوابق):

د نورو علومو ترڅنګ مقاله ليکنه هم اوږد تاريخ لري. مقاله خو يوه عربي کلمه ده، مګر دا کلمه نه په عربي کې پردۍ ده، نه زموږ په ژبه او ادب کې. دغه کلمه له ډېر پخوا څخه هم د کتابونو د بابونو يا فصلونو لپاره مستعمله وه؛ لکه: د اقليدس ته منسوب کتاب پر پنځلسو مقالو ويشلی دی.

د ابن نديم (( الفهرست )) پر لسو مقالو ويشلی دی او د نظامي عروضي سمرقندي ((مجمع النوادر)) پر څلورو مقالو ويشلی دی او د علامه عبدالحی حبيبي (شل مقالې او د پوهاند عبدالشکور رشاد (لس مقالې ) او د اروښاد صديق روهي (ادبي څېړني) د يادولو وړ دي. ؟؟

د مقالې د لرغونتيا په برخه کې ډاکټر عزيزالدين اسماعيل ليکي: (( دمقالې کلمه په عربي ادب کې د غني دلالت له مخې نوې بالـه شي. حقيقت دا دی، چې په عربي ژبه کې د مقالې تاريخ د ورځپاڼې ليکلو په تاريخ پورې اړه لري او دغه تاريخ په عربي ژبه کې تر يوې نيمې پيړۍ زيات اوږدوالی نه لري. کله چې اروپايي ادب په عربي ادب ګډ و ، دغه کلمه زموږ ادب ته راننوتله، په اروپا کې د مقالې د (Essay ) کلمه د لومړي ځل لپاره په ( ۱۸۵۰ م ) کال فرانسوي مدافع

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکيل مونټين Michal Eyguem de mantigne (۱۵۳۳-۱۵۹۲) استعمال کړه.
خو دا کلمه په حقيقت کې هغه څه ته نږدې ده، چې پخواني عربي ادب يې د ((رسالې)) په نامه پېژني (کومه چې يوه موضوع تر څېړنې لاندې په کې نيول کېده، لکه د اخون الصفا رساله. دغسې رسالې به په اوږدوالي لس ګونو مخونو ته رسېدلې، خو د (الادب و فنون دراسة و نقد رساله، ۱۲۲ مخ کې راځي: ((اوسنۍ فني مقالې د اوسنۍ وضع له مخې لنډې وي، ځکه چې په مقاله کې ټول حقايق او افکار نه وړاندې کېږي. ډاکتر مندور دا خبره نه مني او د (الادب و فنونه)) په (۱۸۰) مخ کې ليکي:
((دا درسته نه ده، چې د مقالې څرګندېده د يوه ادبي فن په څېر د ورځپاڼو او مجلو په څرګندېدو د مخه ډېر بخوا پېژندل شوي وو، دغه فن يو شمېر اديبانو د پخواني يونان له عصره د فني قالب په توګه غوره کړی و، لکه چې ډېرې پخوانۍ مقالې په اخلاقي برخه کې راپاتې دي. په عربي ادب کې دې ته ورته مقالې له جاحظ څخه راپاتې دي.
ډاکتر سيروس شميسا په خپل اثر (انواع ادبي) لسم چاپ ۲۸۱ مخ کې ليکي:
((مقاله نويسي از قديم الايام مرسوم بود، در يونان پلو تارک و دروروم سيروستکا به اين فن معروف بودند.)) خو د مقالې پېژندل د يوه ادبي ډول (ژانر) په توګه په دوو وروستيو پېړيو پورې اړه لري. د لومړي ځل لپاره فرانسوي ليکوال مونټين د مقالو ليکل په رسمي توګه دود کړل او په ۱۰۸۰ م کال يې خپلې مقالې خپرې کړې.
فرانسيس بيکن هم په همدغه پېړۍ کې د مقالو ليکل په انګلستان کې رواج کړل. په نولسمه پېړۍ کې، چې جملې راووتلې مقاله د ادبي انواعو يو ډېر رايج ډول وګرځېده، په لويديزه نړۍ کې د جورج اوريل او ای. ام فورسترا و جميز توربر مقالې ډېرې معروفې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ايران کې هم مقالې له ډېر پخوا رواج درلود، خو هغې ته يې رساله ويله....)) (۲۵۸ م)

په افغانستان کې د فني مقاله ليکنې عمر تر سلو کالو پورې رسېږي او د غه کار د اروښاد علامه محمود طرزي له خوا په ۱۹۰۵–۱۹۱۱ م کلونو کې د سراج الاخبار له خپرېدو را په دې خوا شوی دی. علمي- ادبي مقاله ليکنه خو د شلمې پېړۍ په درېيمه او څلورمه لسيزه کې اوج ته ورسېدې او په ډېر ښه ډول يې په دغه پېړۍ کې دوام وموندو.

کتابي بڼه يې وموندله؛ د علمي مؤسسو له خوا په علمي-ادبي جملو کې د مختلفو ليکوالو او استادانو له خوا وليکل شوې او يو حرفوي فني او مسلکي قوت يې وموند. خو سايټونو او نيټ ته په يويشتمه پېړۍ (۲۰۰۱-۲۰۱۴) کلونو کې هم ميلمه شوې او اوس او وس له ستونزو سره سره لله الحمد د غه علمي دين د ځوانانو، څېړونکو، مسلکي –علمي خلکو، استادانو او ليکوالو له خوا په ښه ډول ترسره کېږي او د الله تعالی د (قلم) پر نامه د سوګند اعجاز لاهوتي ورمې د هرې ورځې په تېرېدو سره لا غوړېږي او دا دی لنډې مقالې (کمپيوټرسايټونو، فيس بوک، يوټيوب، او ...) ته لار پرانيزي. بايد ووايو، چې په ډېر پخوا وخت کې هم مقالې ليکل کېدې، خو په پخوانۍ بڼه وې، چې رساله يې ورته ويلې او په مستقيمه توګه به خپرېدې او يا به څو مقالې د کتاب په بڼه خپرېدې، خو اوس چې د چاپ په کار کې هوسايي او پراختيا راغلې ده، نو د او سمهال د غوښتنو له مخې د مقالو ليکل زيات شول او اوس زياتره لنډې مقالې د ورځپاڼو او مجلو لپاره ليکل کېږي او ځينې ليکوالان دغه مقالې د کتاب په بڼه هم خپروي.

نوټ: زموږ په هېواد او ټوله اسلامي نړۍ کې د غه انقلاب (مقاله ليکنه) د نولسمې پېړۍ له دوهمې نيمايي را په دې خوا د علامه سيد جمال الدين افغان او محمد عبده رحمة الله عليهما او د هغو شاګردانو له خوا رواج وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه: که په عمومي ډول وو ايو مقاله ليکنه له ډېر پخوا مروجه وه، په يونان کې پلوتارک او په روم کې سيسروو ستکا د ليکوالو په نامه يادېده، خو د يو ژانر ( ادبي ډول ) د مقالې تشخيص په وروستيو پيړيو پورې اړه لري.

د لومړي ځل لپاره فرانسوي ليکوال مونتني په رسمي ډول مقاله ليکنه مروجه کړه او په (۱۸۵۰ م ) کال کې يې (Essais ) وليکلې. فرانسيس بيکن هم په همدې پيړۍ کې په انګلستان کې مقاله ليکنه پيل کړه. په نولسمه پيړۍ کې، چې (مجله) منځته راغله؛ د مروجو ادبي ډولونو يا ژانرونو څخه وګڼل شوه. په لويديځ (غرب) کې د جورج اورول (Orwell ) وای. م فورستر ( Forester ) او جِيمز تورېر (Tharber ) مقالې معروفې دي.

## ۷–۳– د مقالې ډولونه :

مقاله د بيان، وړاندې کولو، هدفونو او موضوع له مخې په لاندې ډول دي:

علمي مقاله يا مقالې: علمي موضوعګانې بيانوي؛ پرته له دې، چې په هغه کې ادبي صنعتونه او پېچيلتياوې کارول شوې وي او د احساساتو رول په کې تبارز موندلی وي. د علمي مقالې هدف د علمي حقايقو پراخېدل او د ټولو خلکو ته د هغې لېږدول دي. علمي مقالې په بېلابېلو برخو کې ليکل کېږي او علمي حقايق په بېلابېلو برخو کې بشري ټولنې ته وړاندې کوي.

په علمي مقاله کې د جملو جوړولو په برخه کې ( د معنی د لېږدولو لپاره ) ساده عبارتونه غوره کېږي. په دغو مقالو کې خيال باقي نه وي. علمي مقاله په حتمي ډول نوې او تازه موضوع نه وړاندې کوي او همدغه قيد نه درلودلو سره له علمي-تحقيقي مقالو بېلېږي.

يادښت: مقالې د موضوع او د ليکنې د ډول له مخې بېلابېل ډولونه لري؛ لکه:

((اول: علمي او څېړنيزې مقالې

دويم: ادبي او توصيفي مقالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریېم: د ورځپاڼو او مطبوعاتو مقالې
څلورم: تخیلي مقالې
پنځم: انتقادي مقالې
شپږم: اخلاقي، دیني او روزنیزې مقالې. )) (۲: ۲۲۲- ۲۲۷)

ادبي مقاله یا مقالې:

ادبي مقاله د چا خبره یوه ټوټه منثور شعر دی، چې د لیکوال د ادبي استعداد ښوونکی وي. دغه ډول مقالې د ذهن د تخیلي قوې په مرسته لیکل کېږي. ادبي مقالــه د لیکــوال د ځــانګړي اســلوب، احساســاتو، عواطفــو او خیــالي بخولو(انګیرنو) درلودونکی وي. د ادبي مقالې لیکوال غواړي په خپله لیکنه کې (لفظي او معنوي) ښایستونه (صنعتونه) وکاروي او خپل ادبي استعداد له دې لارې وښیي؛ د ادبي مقالو موضوع ډول ډول هم کېدای شي. لیکوال هره موضوع وړاندې کولای شي، خو شرط دا دی، چې الفاظ یې ادبي وي. په دغو مقالو کې (موضوع+خیالي قوت+ادبي ښایستونه او هنري ترکیبونه) ډېر ضروري دي.

علمي – تحقیقي مقاله:

علمي – څېړنیزې مقاله د تحریر او لیکنې په کار کې لکه علمي مقالو غوندې له وچو ادبي کلمو سره نه وړاندې کېږي. په کې تخیل او احساسات نه ځاییږي. علمي – تحقیقي ابداعي ځانګړنې نه لري. خو تازه او نوې موضوعګانې خلکو ته وړاندې کوي.

علمي – تحقیقي مقاله لکه ډېر شمېر تحقیقي مقالو باید د تعریف، توصیف ( ستاینې)، تمثیل (نندارې)، کره کتنې، تحلیل او ډېر شمېر تحقیقي آثارو غوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، پرته له هغه علمي – تحقيقي مقاله نه ګڼل کېږي. مثالونه، حبيبي، رشاد، وړمه مجله

د علمي – تحقيقي مقالو جوړښتي توکي:
علمي – تحقيقي مقالې د ياد شويو صفتونو سره سره، د جوړښت له پلوه لاندې ځانګړنې لري، چې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

الف- د مقالې سرليک (عنوان)
عنوان د تحقيقي مقالو محتوايي هويت ټاکي. د تحقيقي مقالې سرليک (عنوان) بايد (لنډ، په زړه پورې، جامع، راټول او ګيرا زړه راښکوونکی) وي؛ داسې، چې لوستونکی جذب کړي. عنوان ته د مقالې ټاکندو هويت او روح هم ويلای شو.

ب- لنډيز (چکيده يا خلاصه)
لنډيز (چکيده) د مطلب روح او د مقالې د محتوا خواږه (لب ولواب) بيانوي او معمولاً (ډېر ځله) له (پنځو تراتو) کرښو زيات نه وي. د مقالې لنډيز بايد د شکل (جولې) او د مقالې محتوايي جوړښت بيان کړي او فرعي عنوانونه ياد کړي، بلکې په لنډو عبارتونو او د کلياتو په وړاندې کولو، د مقالې فکري محصول توضيح او وړاندې کړي. د لنډيز (خلاصه) موخه (هدف) دا ده، چې لوستونکی د مقالې له محتوا سره بلد شي او د علاقمندۍ په صورت کې په لوستو يې پيل کوي.

پ- اصلي يا کليدي کلمې (کليد واژه ها)
د مقالې په راټولولو (احتوا) کې جوړونکي توکي کلي مفهمونو ته وايي. يا په بله وينا کليدي کلمې (آزادې کلمې) هغه عبارتونه دي، چې د مقالې ترکيب

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جوړښت) وربانديږ چورلي. د دغو کلمو او عبارتونو يادول د مقالې کليات د لوستونکي په ذهن کې رسموي او د مقالې د مطالبو د فهم جوړونکی دی.

ت- سريزه (مقدمه)

د مقالې سريزه د ليکوال او څېړونکي لومړنۍ خبرې دي، چې له متن څخه د مخه وړاندې کېږي؛ هغه خبرې، چې د مقالې د متن له بحث څخه تر پيل کېدو د مخه ضروري دي. په مقاله کې مهمه خبره د مقالې د موضوع د ارزښتونو بيان دی، چې بايد په استدلال او قناعت بښونکي توګه وړاندې شي. د موضوع ټاکل او غوره کول، د اسې کار دی، چې په مقدمه کې بيانېږي. هدفونه، د موضوع تاريخچه او د کار چلند په مقدمه کې وړاندې کېږي.

ټ- د مقالې متن:

د مقالې متن د تحقي مقالې د جوړېدو اصلي برخه ده؛ نو په دې اساس په ښو، متينو او وړ عبارتونو، د ګرامر له اصولو سره سم او د ورځې په ژبه بايد وليکل شي. له لفظي او معنوي تا ويلو ما ويلو (تعقيداتو) پاک وي. د مقالې متن بايد د محتوا له پلوه تحقيقي وي؛ يعنې د نورو خبرې-اترې، مناقشې او څېړنې راونغاړي. د ياد شوي محتوا ځانګړنې د تحقيقي مقالې لپاره د علمي-تحقيقي کتابونو او رسالو په بحث کې هم ضروري ده. د مقالې متن ډېر ځله له ګڼو متعددو سرليکونو جوړېږي.

د عنوانونو زياتوالی (تعدد)، مقاله له سترې کوونکي حالت (يو ډول والي) ژغوري او د مطلبونو فهم (پوهېدنه) د لوستونکي لپاره آسانوي. د مقالې د عنوانونو ترتيب، ترکيب او هغه مطلبونه، چې تر هر سرليک لاندې راځي بايد يو له بل سره منطقي او معقوله رابطه ولري، څو د لوستونکي ذهن له نظريو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



استدلالونو نتيجې ته رهبري کړي او همدارنګه مقالې د عنوانونو تعدد او شمېر سره متناسب وي.

ث- پايله (نتيجه ګيري)
د مقالې په دغه برخه کې ليکوال او محقق خپل فکري محصول راټولوي. د مقالې عمده او برجسته ټکي د لنډيز په توګه راوړي. د مقالې نتيجه اخيستنه په حقيقت کې د هغو غوښتنو ځواب دی، چې په مقدمه کې طرحه شوي دي؛ يعنې د هغه مطلب کشف او هغه مطلب بيان، چې هلته طرحه کېږي او عملي مصداق پيدا کوي.
پايله بايد لنډه او جامع وي، په دې معنی چې د تحقيقي مقالې محصول په ساده او راکاږلې ژبه لوستونکو ته وړاندې کوي. البته د مقالې د نتيجه اخيستنې حجم، د ټولې مقالې په حجم پورې تړلې ده؛ يعنې بايد مقالې له متن سره مناسب وليکل شي.

ج- د ماخذونو فهرست:
تحقيقي مقالې هم لکه تحقيقي رسالو غوندې ماخذونه او سرچينې لري، چې ليکوال او محقق د تحقيق پرمهال له هغو ګټه اخلي. ماخذونه د مقالې په پای کې راوړل کېږي. د مقاې دغه برخه دومره مهمه ده، چې تحقيقي مقالې له نورو مقالو بېلوي. ماخذونه اوس په دوه درې ډوله برابرېږي.

۱) متن او لمن ليک
۲) پوازې کتاب، ليکوال او مخ
۳) په متن او پای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمحقق سید محی الدین هاشمي، د لیکوالۍ فن کتاب په **۵۲** مخ کې لیکي: ((د یوې بشپړې علمي-تحقیقي معیاري مقالې په لیکنې چوکاټ کې دا لاندې درې برخې شاملې دي: ( سریزه، اصلي مطلب (متن) لنډیز او نتیجه)...
نوموړی زیاتوي: سریزه (مقدمه) د لیکنې لومړۍ خو اساسي برخه ده... سریزه د لیکنې د روح د محتوا او معنی د هنداري مثال لري... په اصلي برخه کې باید ټول پروګرامونه څنګزن عنوانونه یو له بل سره معنوي او فکري رابطه ولري... او لنډیز په دغه برخه کې لیکوال لومړی د ځینو هغو مهمو مسایلو چې د اصلي موضوع د روښانتیا او ثبوت لپاره په بېلابېلو پروګرامونو کې راغلي په ډېر لنډیز سره یادونه کوي.)) ( **۳۹: ۵۳-۵۴** )
یادونه: د مقاله لیکنې پړاوونه په لاندې ډول دي:
(( الف- د لیکوال فکري لاري او مخکنۍ اطلاعات؛ د لیکوال د ټولو او ختصاصي اطلاعاتو لپاره سرچینه ده، چې د لیکوالۍ اصول، د مطلب د ادا طرز او نور په کې راځي.
ب- په یوه موضوع تمرکز؛ د مطلب شرح، د فهرست لیکل، اطلاعاتي منابعو پورې اړونده ستونزې، چې باید لاسرسی ورته پیدا کړي.
ج- د مطلب راټولول؛ یادداشت اخیستل، هغه څه چې په ذهن کې دي، د هغو سنجول، د تجربو، مرکو، د افکارو تبادله، مطالعه او فکر په دې کار کې رول لري.
د- ارزونه او ټاکنه؛ د منتخب اطلاعاتي واحد برابرول.
ه-د مقالې طرحه؛ جزییات او ټول مطالب ترتیب، وړاندې او وروسته شي.
و- لیکل؛ د مسودې برابرول.
ز- بیا کتنه؛ په مطلب کې ضروري بدلونونه.
ح- د اصلي نسخې پاک نویس؛ د مقالې له بشپړولو وروسته وکتل شي او د یو استاد نظر وربانديې واخیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ط- د چاپ لپاره چمتو کول؛ له اېډېټ وروسته، نظرونه واخیستل شي او بیا چاپ ته ورکړل شي. ) ) (۲۲: ۲۵، ۲۲)

**۷-۴- د مطبوعاتو اړوند مقالې او د هغو ځانګړنې:**

مطبوعات په یوه هېواد کې په عمومي ډول فکري ستون بلل کېږي او په خصوصي ډول د ژورنالیزم په مسلک پورې اړوند دي.

د ورځپاڼو، جریدو او مطبوعاتو مقالې د یو هېواد د خلکو ورځني علمي، ادبي، سیاسي، نظامي، ژوند ګڼ اړخونه انعکاسوي او د چا خبره په خپل هېواد او نورو هېوادونو پورې اړوند مطالبو باندې تنده ماتوي.

دغه مقالې په ورځپاڼو، جرېدو او په عمومي ډول مطبوعاتو پورې اړوند بېږي. ډېر ځله د ورځې اړوندې خبرې خپروي. موضوعات یې نوي او تازه وي؛ خو کله مبتذل هم وي.

د شکل له پلوه لنډې او اوږدې وي؛ معمولاً د اخبارونو، ورځپاڼو، جرېدو، مجلو، راډیوګانو، تلویزیونونو، سایټونو، فیس بوکونو، یوټیوبونو او ... له لارې خپرېږي. کله دغه مقالې فني وي، ځکه د مسلکي لیکوالو له خوا لیکل کېږي او خپرېږي،خو کله هم غیر فني او غیر مسلکي بڼه او مضمونونه لري، علت یې دا دی، چې کله کله د غیر مسلکي لیکوالو له خوا په ذوقي او احساساتي ډول لیکل کېږي.

دا کار هغه وخت خپل اعتدالي حالت موندلی شي، چې ټول خلک مطبوعاتو ته لاسرسی ولري. لیکوالي او ژورنالیزم د ټولنې د ډېرو خلکو په ورځني ژوند کې د دودیز او فرهنګي عادت په توګه قبول شي، لږ ترلږه خلک اخبار مطالعه کړي او که مطالعه د خپل ژوند ملګری وګرځوي نو په ریښتیا کلتوري دنده یې ترسره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مطبوعاتو اړونده مقالې د ژبې له پلوه ساده، رواني، د زده کړې او فهم وړ وي، خلک وربانديې پوهېږي او مطالعه کولای يې شي.

ځانګړنې:

أ. د دغو مقالو عمده ځانګړنې دا دي، چې ورځني مطالب خپروي، بايد تازه او بکر موضوعات ولري. د نشر وړ موضوعګانې يې د ژوند د بېلابېلو اړخونو انعکاس وي؛ کېدای شي دغه موضوعات مثبت او يا منفي وي.

ب. بله عمده ځانګړنه يې دا ده، چې ادبي صنايع او لفظي پيچلتيا په کې نه وي، ساده ګي لري، اصلي مطلب په لنډو او ساده الفاظو کې وړاندې کوي، او له ادبي غوټو خلاص وي.

ت. همدا رنګه مطالب او موضوع په مستقيمه توګه انعکاسوي. بنه مطبوعاتي مقاله هغه ده، چې له ادبي پيچلتيا او سياسي فکره خلاص وي او د ورځې او نوې موضوعګانې انعکاس کړي.

ث. بل خصوصيت يې دا دی، چې ورځينې پېښې يو له بله تړلې او د يوې موضوع بېلابېلې برخې تحليلوي. (۸۱۷)

- د مطبوعاتي ورځپاڼو د مقالو نمونه په لاندې ډول دي:

اول: اساسي مقالې:

دغه مقالې د ورځپاڼې، جريدې يا مياشتنۍ اساسي او فکري مقالې وي، چې تيوريکي او ګذارشي موضوعات په کې وړاندې کېږي؛ له تحليل او تفصيل سره مل وي. تحليل يې عمده اصل دی. مثالونه په ثبوت سره وړاندې کوي. معمولاً په لومړيو مخونو کې خپرېږي. د ورځپاڼې او جريدو د شکلي توان په اندازه د اوږده او لنډ مضمون درلودونکې وي. هر ډول مضمون لرلای شي.

ه - بله ځانګړنه يې دا ده، چې مطلق واقعيتونه په کې انعکاسېږي او له هر ډول احساساتو پاکې وي. شخصي او عاطفي افکار په کې ځای نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه رنګه حربي، تنظيمي او نور شخصي روابط ور کې ځای نشي پيدا کولای او که چېرې دا کار او دغه فکر لار په کې پيدا کړي د مطبوعاتو اصليت او اصالت تر پوښتنې لاندې راولي.
ی- دغه مقالې ساده او روانه ژبه لري، څو هر لوستونکی ورباندې پوه شي.
له نقل قول او علمي –تحقيقي مصطلحاتو لږ کار اخيستل کېږي او تحليلونه تر ډېره برېده د ليکوال پر تفکر ولاړ وي؛ مراجعوي مدرکونه په کې کم وي.
په عمومي او خصوصي ډول تشبه، استعاره، کنايه او نور صنايع په کې لږ وي.

**۲: دويم: سرليکنه (سرمقاله):**

سرليکنه (سرمقاله) د ورځپاڼو او جريدو هويت ټاکي، ځکه له نورو مقالو لنډې، مهمې او د ورځپاڼو او جريدو پاليسي ټاکونکې هم وي.
له نظري او اصولي پلوه سرليکنه د ورځپاڼې روح او د سرليکنې مخ د هغې د ارزښت ښکارندوی دی. له دې امله سرليکنه داسې يو مسؤليت دی، چې ژورناليزم د پاتې ټولو څانګو له مسؤليتونو څخه ډېر مهم او ستونزمن دی. د ورځپاڼو او رسالو په ادارو کې د سرليکنې د ليکلو دنده تکړه او تجربه کارو کسانو ته سپارل کېږي.
مسکين علي حجازي ليکي: (( دا مهال د لويو ورځپاڼو په اداره کې هغه څوک د سرليکنې ليکلو ته ګمارل کېږي، چې پر بېلابېلو علومو پوه وي، خو کېدای شي په هرو سلو کسانو کې يو تن دې دا کار وکړای شي.
ډاکټر مسکين علي حجازي سرليکنه په مدير پورې اړونده ګڼي. نوموړی ليکي:
((د سرليکنې لغوي معنی د مدير ليکنه يا د مدير د نظر ښکندول دي، خو په عامه توګه له دې څخه موخه هغه ليکنه ده، چې د سرليکنې پرمخ د ورځپاڼې يا رسالې ترنامه لاندې چاپېږي. ښايي هغه مدير، د ادارې کوم غړی يا بل چا ليکلې وي. ))
(۱۲:۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرمقالې په تعريف کې يو معاصر امريکايي ليکوال په خپل اثر (ابډ بټهور او ليکوال) کې ليکي:
(( سرليکنه په شعوري او اړوند شکل کې د ورځپاڼې د غوښتنو د وړاندې کولو نوم دی. يا سرليکنه پر روانو پېښو د ورځپاڼې نظر دی. )) (١ : ۴٧)
که څه هم دغه تعريف د پخوانيو مطبوعاتو لپاره کافي و او اړخ يې ورسره لګاوه، خو د نويو لپاره ممکن تواميت ونه لري.
نن سبا د دولتي ژورناليزم ترڅنګ شخصي ژورناليزم او مطبوعات هم رامنځته شوي دي. ډېر انکشاف يې هم کړی دی؛ له بده مرغه تر اوسه زموږ په هېواد کې معياري حد (پولې) ته نه دي رسيدلي، خو کېدای شي په راتلونکې وغوړېږي؛ مهمه خبره دا ده، چې شخصي او دولتي ميډيا په (متوازن، دقيق، بېطرفانه، ملي، اسلامي او وطني روحيه...) وده او انکشاف وکړي او د روزګار له طوفانونو ګوښه انکشاف وکړي او د سمسورتيا وزرونه وغوړوي.
سرليکنه د لوستونکو د اغېزمنولو يا ساتلو لپاره په لنډ، ښکلي او منطقي انداز د حقايقو او نظر د حقايقو او نظر وړاندې کولو ته وايي؛ يا خبرو ته داسې توجه کول، چې عام لوستونکي پرې ځرګند پوه شي.
کارل، جي ملر (Carl G. Miller) چې د (مډرن ژورناليزم) ليکوال دی، وايي: (( سرليکنه هغه مضمون دی، چې په کومه ځانګړې موضوع ليکل شوې وي او په هغه کې د لوستونکو فکر هغه لور ته وراوښتی وي، چې د ليکوال په آند سم وي. ))
او دغه راز د ميکس لرنر (Max Lerner) په وينا: (( سرليکنه پر مهمو ورځينيو پېښو د تبصري کولو نوم دی. ))
يا: سرليکنه د هغې ژورناليستکي ليکنې نوم دی، چې په هغه کې د اداري له لوري د لوستونکو د لارښوونې په موخه چارې، مسايل روښانه شوي وي. (ډاکټر مسکين علي حجازي، د اميرجان وحيد احمدزی، ژباړه ١٣ او ١۴ مخونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي؛ بايد څرګند کړو اوس اوس ټولې غير ژورناليستکي مجلې په تېره علمي-تحقيقي او ادبي مجلې هم د خپلې مجلې د رواني پاليسۍ او منځپانګې ښوونې لپاره په مجلو کې سرمقالې ليکي او په ډېر علمي او خوندور ډول خپله څلا او بقا لا ډېروي.

د سرليکنې د مخ موضوعات څه شی وي؟

پر دې مخ له مقالې؛ پيلامې او شذرات (يادښت) سربېره نور شيان هم چاپېږي او سني نظروالان نظر لري. د سرليکنې د مخ موضوعات عموماً په درې ډوله دي:

- سرليکنه او شذرات
- راغلي ليکونه
- پر مهمو پېښو يوه يا له يوې ډېرې ليکنې له دې سربېره پر دې مخ د ورځپاڼې نوم (Mast head) هم چاپېږي.

مګر امريکايي ليکوال (ډبليو، ډبليوو ويمک (W.W. Waymack) وايي، چې: ((زموږ د ورځپاڼو د سرليکونو مخونه څلور بنسټيزې برخې لري:

- سرليکنې
- پر روانو پېښو تبصرې (د يو ليکوال – يا لينډيکيټ) امريکايي ليکوال.
- راغلي ليکونه
- د منتخبو لنډيزونو، کتابونو، رسالو يا نورو ورځپاڼو اقتباسونه او نور... خو د ورځپاڼې پر مخ (سرليکنه او شذرات، ځانګړې ليکنه، راغلي ليکونه، کارتون، تصويرونه) هم راځي.

د ورځپاڼې موخې (اهداف):

هغه موخې که په لنډ ډول وواييو دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- پر خبرونو تبصره کول، يعنې پر روانو پېښو خپل نظر ورکول، د خلکو لارښوونه، عامه نظر او روزنه. د سرليکنې ځانګړنې داسې دي.

د سرليکنې خصوصيات (ځانګړنې)

۱) ژبه يې ساده او روانه وي، داسې، چې هر لوستونکی ترې ګټه واخلي.
۲) له نقل قول او علمي مصطلحاتو څخه لږه فايده اخيستل کېږي.
۳) تحليلونه ډېر ځله د ليکوال د تفکر محصول وي او يا د ليکوال پر تفکر ولاړ وي، خو دغه تحليل له ورسره مخ شويو پېښو څخه کوي.
٤) ورځپاڼې د مقالې اندازه ښه ده، چې له يوه مخه ډېره نه وي.
٥) علمي او ادبي اصطلاحات په کې لږ راځي. (۱۱ : ۱۳۸)

**۳**: درېيم: اقتصادي مقالې او د هغو ځانګړنې:
د اقتصادي مفهوم او مضمون درلودونکې وي. ډېرې وچې، خو مسلکي مقالې دي.
ډېر ځله اقتصادي مقالې د اقتصاد اصول د متخصص او مسلکي شخص له خوا ليکل کېږي. په ورځپاڼو او جريدو کې دغه مقالې لکه د نورو برخو غوندې جلا او ځانګړي ليکوالان لري، اقتصادي مقالې کېدای شي په هره ورځپاڼه او جريده کې جلا ستون ولري.
د دغو مقالو د مضمون کيفيت په ارقامو کې نغښتی وي. ارقام بايد دقيق او له اصلي منبع سره کتل شوي وي. اوس اوس زموږ د هېواد په ځينو راډيوګانو او په تېره تلويزيونونو کې اقتصادي مقالې خپرېږي.
په هغو هېوادونو کې چې اقتصادي پرمختګونه يې ډېر وي، د ليکوالۍ دغه برخه ډېره پياوړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ په هېواد کې هغه ورځپاڼې، چې په مستقل ډول اقتصادي پرمختګونه په مسلکي او دقيق ډول انعکاس کړې او آن (پنځه، لس، پنځه ويشت او پنځوس کلن) پلانونه د هېواد د ښېرازۍ لپاره پيشبيني کړې او وړانديزونه يې کړي. ډېرې لږ او آن په هېڅ حساب دي.

تر ډېره بريده د بانکونو د مجلو مخونه هم له (ادبي، سياسي، فرهنګي او کله اقصادي) مضمونونو ډکې وي.

نن سبا د غه مجلې او ورځپاڼې سوداګري اعلانونه او بروشرونه خپروي.

دا سې مستقلې اقتصادي ورځپاڼې او مجلې نشته، چې د هېواد اقتصادي بېلابېل سيستمونه يو پر بل پسې تشريح او توضيح کړي. يوازې (هميانۍ) يوه ښايسته، معلوماتي، اقتصادي آزاده ورځپاڼه ده، چې په کابل او دوبۍ کې له (۱۳۹۲ه) را په دې خوا خپرېږي او زمونږ د هېواد او نورو هېوادونو او اشخاصو په اقتصادي حالت باندې لږې او ډېرې خبرې کوي او تراوسه يې (۱۳۹۳) کاله پورې له (۲۵۰) ګڼه ډېرې ګڼې خپرې شوي دي. (۴۱ : ۱۵)

په پخوا وخت کابل پوهنتون کې د (اقتصادي څېړنې) په نامه مجلې شتون درلود، چې له هر پلوه اختصاصي او مسلکي مضمونونه ورکې خپرېدل. د امتياز خاوند يې خپله د اقتصاد پوهنځی و، مسوول مدير يې (م. امين فرهنګ، معاون او مهتمم يې محمد نعيم اشرفي او د تحرير کمېټې تر نظر لاندې خپرېده، چې د تحرير هيات کې يې (دکتور اشرف، محمد عارف غوثي، عنايت انور، سيد امين بها، م. انور، م. امين فرهنګ. ښاغلي پوهندوی محمد يوسف ايوبي) استادانو ګډون درلود، يعنې دغه مجله په بشپړه توګه (علمي، تحقيقي او مسلکي) مجله وه، چې اوس نه خپرېږي. وګورئ: (۴ : لومړی مخ)

نور بانکونه (پښتني، ملي، افغانستان... او شخصي لکه کابل، ميوند، عزيزي، افغان يونايټيډ ... بانکونه او دغه راز اقتصادي، مالي، کانونو او نورو وزارتونه هم مجلې لري، چې کله اقتصادي مطالب خپروي، خو دا ټول ارګانونه دا سې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجلې نه لري، چې پوره مسلکي خلک ورکې کار وکړي. ليکوال وي او په اقتصادي مسايلو کې پوه وي، دا زموږ د هېواد د اقتصادي کلتور په وده کې يوه تشه ده او دغه خلاووې په ټولو ټولنيزو برخو کې محسوسې دي.

---

يادښت: د يوالي(ديواري) جريدې هم د وړو مقالو د خپرونو استعداد لري. دغه جريدې (اوونيزې) له هغو خپرونو عبارت دی، چې د يوې اداري داخلي پاليسي خپروي او کېدای شي ځينې نور د ورځې او نور معلومات هم خپاره کړي.
دغه جريده يو سرمقاله لري او نورې وړې مقالې لري او معلومات په کې راځي د مثال په ډول اديبانو جريده کې ادبياتو مقالې راځي. مدير مسؤل، چلوونکې ډله هم لري، خو د امتياز خاوند يې هماغه مؤسسه ، ځانګه او يا رياست وي.

په مطبوعاتو پورې اړوندو مقالو د خپرېدو ځای:

**الف– ورځپاڼې او جريدې:**
ورځپاڼې او جريدې د يو ارګان اړوندې (مربوطې) وي؛ کېدای شي دغه ارګان ( مؤسسه) دولتي او يا شخصي وي.
په ورځپاڼو کې لنډې او اوږدې مقالې خپرېږي او کېدای شي مختلف مضمونونه ولري، لکه سياسي، اجتماعي، اقتصادي، ذوقي، اسلامي، ادبي او ... نوري.
ورځپاڼې په يوه هېواد کې د ټولنې خلکو پورې اړوند ورځينې مطلبونه خپروي، ځو کېدای شي ځينې ژورناليستکي رپوټونه (ګزارشونه) ، مرکې او لنډ معلوماتي مطالب هم خپاره کړي، مګر ګزارشونه او مرکې هم په مهمو ورخينو پېښو پورې تړلي وي، ډېر زاړه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورځپاڼو او جريدو کې خپاره شوي مطالب يو لاس نه وي او يو ډول مفهوم نشي لرلای. سرمقاله په مدير مسؤل او نورې مقالې په نورو خلکو پورې هم کېدای شي مربوطې وي.
ممکن د امتياز خاوند او مدير مسؤل يو شخص او يوه مؤسسه وي، شخص او يا دولتي بيخ او بيس ولري، مګر کوم مطالب چې خپروي، پاليسي يې په هماغه ورځپاڼه پورې اړه ولري.
ورځپاڼې او جريدې زموږ په هېواد کې اوږد تاريخ لري، چې لنډيز يې وړاندې کوو:

**ب – انټرنيټ ( Internet)**

انټرنيټ په نړيوالو، خو په تېره زموږ په مطبوعاتو کې نوې خپرنيزه ښکارنده (پديده) ده. ډېر لږ کلونه کېږي، چې زموږ په هېواد کې خلک له کمپيوټر Computer انټرنيټ او په نيټ کې له سايټونو ( Sites) سره بلد شوِ وِ او بلدِيت ترلاسه کوي.
دغه تخنيکي توکي (وسايل) له(۱۳۸۰ ه ) کلونو را په دې خوا زموږ په هېواد کې د استعمال وړ ګرځي او خلک ورسره روږدي کېږي؛ که څه هم عام سهولتونه ( آسانتياوې) يې تر اوسه محسوسې نه دي، خو بيا هم په کابل او نورو ولايتونو مرکزونو کې د خلکو په تېره د ځوان پښت لاسرسی ورته نشته او که الله تعالی کول ورځ تربلې پراختيا مومي.
نن، سبا علمي او تحصيلي مؤسسې دومره ډېرې شوي، چې د دولتي پوهنتونونو او مؤسسو ترڅنګ شخصي پوهنتونونو او مؤسسو کې د کمپيوټر ساينس پوهنځي جوړ شوي او له دې لارې ځوانان روزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل پوهنتون کې په (۱۳۸۸ه ش) کابل کمپیوټر ساینس پوهنځی نوې جوړ شوی دی، چې کېدای شي (په لسګونه) فارغین ورکړي او اوس ماسټري پروګرام هم لري.
زموږ مطلب دا دی، چې د لیکوالۍ فن د قلم ترڅنګ د کمپیوټر لوری هم خپلوي او نوې نوې انټرنیټي ویبسایټونه (Websites) پیدا کوي. هغه ویبسایټونه یا ویبپاڼې، چې اوس خپرېږي لاندې به یې مشهور په ترتیب سره معرفي شي.
د افغانستان د انټرنیټي ویبپاڼو لارښود (رهنمود صفحات انترنیتي افغانستان، Afghanistan Website Guide:۲۰۱۳-
د وحیدالله ببرکزي څدراڼ لیکنه، د ۲۰۱۳ م کال چاپ کې تر ډېره بریده ویبپاڼې معرفي کړې دي او همدارنګه د (کمپیوټر نړیوالې رهبرۍ)
مجله (مهارت هفتم، اطلاعات او ارتباط یا (ICDL) په ۵۱ مخ) د سایټونو د لټونې د موتورنا - کل راغلی دی: هغه لیکي: ((امروزه موتورهای جستجوی فراوانی (سایت های جستجوگر) به منظور جستجو در انترنیت وجود دارد و هر روز به تعدا آنها آفزوده می شود که در ذیل نشان داده می شود. به منظور ورد به این سایت ها، پس از اتصال به شبکه انترنیت آدرس یکی از موتورهای جستجو را در کادر آدرس مروګر وارد کرده و کلید (Enter) صفحه کلید را فشار دهید.
))
(۳۲:۵۱)
دلته به د انټرنیټ عمومي او مهمې شبکې د یو جدول په ډول معرفي کړو کومې چې بیا سایټونه په کې موندل کېږي، دغه عمومي انجنونه دي، چې په ټولو، خو په ځینو کې یې برجسته رایې، تحقیقي، علمي، سیاسي، اجتماعي، ذوقي، فکاهي... مقالې او هر ډول معلومات موندل کېږي او هغه دا دي:

د معروف د لټونې موتورونه -۱-۳ لښتلیک (جدول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | د لټونې د موتور نوم | د لټونې د موتور آدرس |
|---|---|---|
| ۱ | د کابل پوهنتون ویب پاڼه | www.ku.edu.af |
| ۲ | Altavista | www.Altavista.com |
| ۳ | Excite | www.excite.com |
| ۴ | Google | www.google.com |
| ۵ | Go to | www.goto.com |
| ۶ | HOTBOT | www.hotbot.com |
| ۷ | Lycos | www.lycos.com |
| ۸ | Webcrawler | www.webcrawler.com |
| ۹ | Yahoo | www.yahoo.com |
| ۱۰ | Ask jeeves | www.ask.com |
| ۱۱ | MSN | www.msn.com |

(وګورئ: مهارت هفتم، ۵۱ مخ )

پورته عمومي د لټونې موتورونه وښودل شول، چې نړیوال شهرت لري، خو د افغانستان ځینې سایتونه (ویبپاڼې ) به هم معرفي کړو، چې ډول ډول (مسلکي او غیرمسلکي(؟)) مقالې په کې خپرېږي او هغه دا سې معرفي کوو:

دلته د افغانستان دولتي ویبپاڼې، سفارتونه، په افغانستان کې نړیوالو سفارتونو، د افغانستان اداري دولتي نهادونو، ټولنو، سازمانونو، سیالي شخصیتونو، د افغانستان دري او پښتو خپرونو ویبپاڼې، کلتوري ټولنې، پوهنتونونو، مؤسسو اونورو ویبپاڼو آدرسونه راغلي دي، چې د مثال په ډول به يې زموږ په مسلک پورې د لږو ویبپاڼو امیل آدرس په پوره ډول راوړو او دا وښیو، چې له ډېرو (ویبپاڼو ) سره سره دغه سایتونه پښتو ډول ډول مقالې خپروي؛ د دغو ویبپاڼو ځینې يې په لاندې توګه راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



| د اداري نوم | ويب سايټ | کتنه |
|---|---|---|
| د اطلاعـــاتو او فرهنـــګ وزارت | www.moci.goc.af | |
| د اروښـاد پوهانـد علامـه عبدالحی حبيبي | www.alamahabibi.com | |
| ښاغلی سليمان لايق | www.spinta.de | |
| ښاغلی عبدالباري جهاني | www.jahanionline.com | |
| انجمـن فرهنګـي افغانهـا مقيم در سويس | www.sham.se | |
| نشـريه اجتمـاعی افغانهـا مقيم در سويس | www.afghanistan.swiss.com | |
| نشـريه چـاپي افغـان هـای مقيم کاناډا | www.afghanpost.com | |
| روزنامه افغانستان | www.dailyafghanistan.com | |
| روزنامه هشت صبح | www.۸am.af | |
| روزنامه ماندګار | www.mandegardaily.com | |
| روزنامه آرمان ملی | www.armanemill.af | |
| روهي پښتو خبري ويب پاڼه | www.rohi.af | |
| خبريال خبري ويب پاڼه | www.khabarial.info | |
| نـن آزاده او خپلواکـه خبـري ويب پاڼه | www.nunn.asia | |
| ګـران افغانسـتان خپلواکـه ملي ويب پاڼه | www.granafgahnistan.com | |
| د آزادۍ راډيـو خبـري ويـب | www.azadiradio.org | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| پاڼه | | |
| د کلید راډیو خبري ویب پاڼه | www.tkg.af | |
| د سپوږمۍ راډیو خبري ویب پاڼه | www.spogmainews.com | |
| د پژواک خبري آژانس | www.pajhwok.com | |
| د وخت خبري آژانس | www.wakht.af | |
| د باختر خبري آژانس | www.bakhtarnews.com.af | |
| ویسا خپلواکه ملي ورځپاڼه | www.dailyweesa.com | |
| خدمتګار خپلواکه ملي ورځپاڼه | www.khedmatgar.com | |
| تاند خبري ویب پاڼه | www.taand.com | |
| روزنامه افغانستان تایمز | www.afghanistantimes.af | |

(۱۳: ۴۰، ۴۱، ۴۲، ۴۸)

نوري او پښتو ډېري ویبپاڼې شته چې خبري بڼه لري، لکه بینوا او نوري په لسګوني ورځپاڼې او جریدې، چې ژورنالیستي، سیاسي، ادبي او اجتماعي مقالې په کې خپرېږي. (رهنمود صفحات انترنتی افغانستان)

**۱– علمي – څېړنیزې او تحلیلي مقالې:**

علمي- تحقیقي او تحلیلي مقالې، په ورځپاڼو، د اکاډمیکو مؤسسو په نشراتي مجلو او سایټونو کې خپرېږي.

علمي-څېړنیزې او تحلیلي مقالې د یو فرد- افراد مسلکي او علمي ټولنو تحلیل او څېړنه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علمي – تحلیلي مقالې په تحقیقي او څېړنیزه روحیه لیکل کېږي، وخت ګیره او اوږدې وي او ډېر ځله ماخذونه او منابع لري. دغه مقالې د یوې پخوانۍ او زړې موضوع په برخه کې نوي مدرکونه او پوهې راسپړل او رامنځته کول وي.
تخلیقي روحیه په کې کمزوري وي او یا په بله معنی تخلیق په کې وي، خو تخلیق نه وي. نوی شی او کشف د خارق العاده ذوق او پوهې د یو چا له خوا نه رامنځته کېږي، خو په زړو شیانو کې په تخلیقي روحیه، تحقیق او پلټنه کېږي او د تحلیل د اصولو له مخې ډول ډول فکري غزونې په کې وي، دغه غزونې کېدای شي د ( ټولنیزو او طبیعي علومو ) په برخه کې وي.
دغه مقالې له څېړنې (تحقیق) وروسته په علمي ډول برابرېږي او د اهمیت وړ، نوي او په زړه پورې مطالب لري او لوستونکو ته نوي فکر ورپیدا کوي او له هغوی سره د نوموړی مسلک د کمبود په رفع کولو کې مرسته کوي.

= د علمي- څېړنیزو او تحلیلي مقالو ځانګړنې:
دا ډول مقالې له استدلال او څېړنې سره وي، یعنې دا چې د څېړنې طبیعت لري، د څېړنې پوهه او روحیه لري. په یوه او کله له یوې ډېر موضوعاتو باندې تمرکز لري او داسې موضوعات راسپړي، چې له نوموړی لیکوال او څېړونکي څخه د مخه بل لیکوال او څېړونکي په هماغه موضوع کې نه وي رابرسیره کړي.
بله مهمه ځانګړنه یې دا ده، چې څېړنه او دویمه څېړنه (دویم تحقیق) بیا کتنه ده او د کره کتنې(نقد) په روحیه برابره وي، یعنې ( د سره او ناسره ) چې کره کتنې روحیه ده؛ استواره وي.
د کره کتنې دغه روحیه په (تحلیلي) کره کتنه کې موجوده وي. څېړونکی کره کتنې نه دی او نه څېړنه کره کتنه ده، خو کولای شي د تحلیلي کره کتنې ترازو (تله) په لاس کې ولري او په خپل تحلیل کې د کره او لا سره وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳) په يوه علمي مقاله کې پېچلې ټکي او اصطلاحات د ليکوال له خوا توضيح کېږي او ستونزور اصطلاحات د تحليل له زربين څخه تېرېږي.

يوه علمي – تحقيقي او تحليلي مقاله ممکن په مياشتو او يا اونيو کې وليکل شي او د ورځپاڼو د مقالو پرخلاف په ډېره ژوره توګه ليکل کېږي، نو له دې امله دغه کار هغه څوک کولای شي، چې په يوه موضوع کې ژور او بنسټيز معلومات ولري.

علمي مقاله ليکونکي بايد په پراخه حوصله، په توضيحي او تحليلي ډول د خپل کار موضوع مخکې له مخکې کور دينه (په نښه) کړي، د راټولو شويو معلوماتو او کار توکو په وسيله د اړېنټ او خپرېدو تر مرحلې مقاله تعقيب او بيا نشر کړي.

د علمي- تحقيقي او تحليلي مقالو د ليکلو لپاره لاندې ټکي په نظر کې نيول کېږي.

۱) نوې موضوع څنګه راپيدا کړي؟

۲) څنګه يوه نوې موضوع انتخاب کړي؛ ځکه د پيدا کولو او انتخاب ترمنځ ارتباط او توپير موجود دی.

۳) د راپيدا کړې موضوع راسپړلو اړتيا شته او کنه؟

٤) اول د نوې او ناسپړلې موضوع په برخه کې ژوره څېړنه او بيا علمي او عملي کار.

٥) د مقالې لپاره د ماخذونو او منابعو او د اطلاعاتو د راټولولو علمي لارې- چارې.

٦) ياداشت نيونه، مرکې، ليدنه، پوښتنليکونه او نور شيان، چې د منابعو سرليک ګڼل کېږي.

۷) د استدلال او منطق له لارو چارو ګټه اخستنه هم ضروري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸) په مقاله کې د مسلو د طرحه کولو لومړيتوبونه په پام کې نيول کېږي.
۹) له مقالې د غير ضروري ټکو حذفول مقاله په زړه پورې کوي.
۱۰) د نورو له نظره ګټه اخستنه او د مطالبو د انتقال، تحقيق په برخه کې د امانتدارۍ روحيه په پام کې درلودل کار آسانوي.

د علمي –تحقيقي او تحليلي مقالې د پوهنتونونو او تحقيقي مؤسسو، اکاډميو په هغو مجلو کې خپرېدلای شي، چې د تحرير باصلاحيته هيات ولري او د لوړو علمي رتبو او عملي تجربو څخه برخمن وي او د علمي ډګريو (درجو) ماستري او (دوکتورا) خاوندان وي.

د علمي-تحقيقي او تحليلي مقالې بېلګه:
عنوان: د امنيت په مثاله کې د عدالت رول:
د اسلام له نظره، عدالت د ټولو د پايښت د بقا رمز دی. الله تعالی په خپل معتبر کلام کې فرمايلي دي، چې: (اعدلو هو اقرب للتقوی) ژباړه: (پر خلکو او خلکو عدل کول تقوا ته نژدې دی.)
عدل په يوه ټولنه کې د ټولنې د ترقۍ او پرمختګ عامل او د سياسي نظام د ټينګښت او پايښت ستر عامل کېدای شي.
د هر حکومت د کارونو په سر کې بايد ټولنيز عدالت موجود وي او آن کاري برنامې او پروګرامونه د الهي عدل له مخې برابر کړي. پيغمبر ص به ويل، زما امتيان بايد له کورنو نيولې تر ټولنې عدل وکړي.
که موږ په ټولنو کې عادل زمامداران ولرو (څه چې ځان ته غواړي، نوور ته وغواړي) هېڅکله به د دوی د واکمنۍ په کار کې کمښتونه احساس نشي. عدل کول د زمامدارۍ د دوام د تظمين پياوړي وسيله او وسله ده. که زمامداران غواړي لويو انساني او اسلامي موخو (هدفونو) ته ورسېږي او د برياليتوبونو لوړو پوړيو ته ورسېږي ورته لازمه ده، عدل پيشه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که وغواړي څوک د زمامدارانو په توګه او د خلفای راشدینو په څېر د سرلوړۍ ژوند وکړي باید د عدالت او عدالت غوښتنې توره او تله په لاس کې ولري.
ټولنیز عدالت هغه توره ده، چې ظالم عدالت ته رابولي او هغه استواره تله ده، چې د ظالم او مظلوم اعمال په کې تلل کېږي، څکه الله رب الحکیم فرمایلي، چې ( واقیم الوزن باالقسط... ) تاسو په وزن کې کمې مه کوئ.
په دې اساس هېڅ شي د عدالت په اندازه نشي کولای خلک اصلاح کړي او امنیت تامین کړي. په حدیث شریف کې راځي چې: ( د عدالت اجرا (ترسره کول) (مخالفتونه له منځه وړي او دوستي او محبت رامنځته کوي. ) او د هېواد په عمران( اقتصادي او صنعتي پراختیا ) کې ډېرې اغیزې لري. که عدالت په ټولنه کې ترسره نشي، ظلم او ستم به یې ځای ونیسي او بیا به خلک د بدامنۍ، اجباري کوچېدو، ترکود وظیفې او ډېرو نورو تاوتریخوالي ته مجبور شي.
په حدیث مبارک کې راځي: ( کار په عدالت وکړه، له ستم او ظلم پرهیز او لرېوالی وکړه، چې ستم، رعیت آوارګي (مهاجرت) ته واداره کوي او بیداد (ظلم) توره او وسله رامنځته کوي. )
د قرآن منطق همدغه دی، چې باید انسانان په عدالت کې ژوند وکړي، څکه نو حدیث شریف کې راځي، قرآن د عدالت ویاند دی. (۳۲ : ۷۲)
پورته مقاله د یو سبک تحقیق بېلګه ده، کولای شو د پوره تحقیقي مقالو نومونې په (افغان یاد ) د عبدالرحمن بابا یاد. د الفت یاد، امیر کروړ یاد او د پوهنتون مجلو کې مطالعه کړو.

**۲- ادبي –توصیفي ،تحقیقي او علمي مقالې او ځانګړنې:**

باید ووایو، چې هر علم یا ټول علوم ( طبیعي او اجتماعي ) پراخه ادبي، تحقیقي او علمي برخې لري؛ زموږ له دغو مقالو څخه مطلب ادبي، تحقیقي مقالې دي، چې کېدای شي توصیفي (وصفي ) هویت ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبي مقالې وچې او مبتذلې لیکنې نه دی، بلکې د ادبي پېښو، ادبي دورو، ادبي روایتونو، ادبي ډولونو، ادبي پنځونو او ... په برخه کې پراخه څېړنې او تحقیق دی، چې د ادبي محقق له خوا په علمي – ادبي او آن خیالي ډول تحلیل او توصیفېږي.

ادبي – توصیفي یا ادبي –تحقیقي او علمي مقالې پراخ مضمونونه لري، چې د ادبي محققینو له خوا له پراخه مضمون سره وړاندې کېږي.

د ادبي – علمي مقالو سبک د شکل او محتوا له پلوه له علمي- تحقیقي مقالو بېل دی. ادبي مقالې ډېر ځله پراخه اجتماعي مضمونونه انعکاسوي، هغه مضامین چې له فکري، فرهنګي او معنوي افکارو څخه يې سرچینه اخیستې وي. که لنډ وواېو، چې ادبي مقالود ټولنیزو پېښو ژور عاطفي او فکري انعکاس دی.

د ادبي- تحقیقي او علمي مقالو توپیر له (ادبي-توصیفي) مقالو سره دا دی، چې لومړی يې د تحقیق او ریسرچ برخه جوړوي او ادبي توصیفي مقالې له خیال او ظرافتونو سره ملګري وي.

ادبي – توصیفي مقالې په زړه پورې او خیال پارونکو جملو په کالب کې، چې د کلام (خبرو) ښکلې ټکې ورسره وي؛ برابرېږي. ډېرځله د دغو مقالو لیکوال پرته له دې، چې مسلې وڅېړي او وستایي، خپل مقصد څرګندوي. په ځینو ادبي مقالو کې د مقالې ښکلا او بډرنګي د اتلانو روحي حالاتو د ستاینې داسې انځور ویشل کېږي، چې لوستونکی د هغې صحنې په خپل ذهن کې مجسموي، یعنې په مقاله کې موضوع دومره برجسته کوي، چې د لوستونکي د ذهن برخه شي.

تحقیقي مقاله باید پیغام او بیان ولري. ژبه يې ساده وي، د تحقیقي مقالې ارزښت دا دی، چې تازه لاره پرانیزي او موجوده لار اواره کړه او یا هغې ته دوام ورکړي او نوي افقونه پرانیزي.))

(۱۲: ۲۷۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې: ((د ادبي مقالې اساسي موخه په ادبي مقاله کې د عواطفو او احساساتو بیان او سپړل دي. د پیغامونو لېږدول یوازې د لیکوال غوښتنه نه وي، بلکې لیکوال غواړي سره له دې، چې خپل پیغام انتقال کړي، لوستونکي هم په احساساتو کې شریکوي؛ داسې صحنې توصیفوي، چې لوستونکی یې ښکلاوو ته حیرانېږي او له رامنځته شویو پېښو متاثره (اغیزمن) کېږي، له دې امله د ادبي مقالې لیکل د مقالې له نورو ډولونو سخت کار دی..) (۲۱: ۱۳۸)

په ادبي مقاله کې لیکوال سره له دې، چې نورو ته ابدي- توصیفي معلومات لېږدوي، نور به لکه ځان غوندې متاثروي هم، خو په تحقیقي مقالو کې یوازې د کره معلوماتو لېږد مطرح دی. د ادبي مقالو توصیف عاطفي لوری لري او د وجدان د احساس تومنه په کې وي.

د ادبي –توصیفي مقالو ځانګړنې:

۱:- د کلمو ژوره (دقیقه) ټاکنه:

کلمې یا کلمه په دغو مقالو کې اساسي رول لري. هره کلمه د لسګونو معناوو ننښه ده. یوه کلمه له ډېرو محتویاتو سره کار لري، له دې امله هره کلمه په ادبي مقاله کې نشو کارولای.

زما په نظر په ادبي –توصیفي مقالو کې (کلمې پریوالې او ښایسته وي. د کلمو یا خبرو ارزښت له دورو بهتر او لوړ دی.)

کلمې په ادبي مقالو کې ځای لري، خو هره کلمه جلا معنی ښندي. که (چا ته په نېغه او ستغه توګه وواېو، چې ته مې نه خوښېږې، ډېر ژر د هغه په سلوک کې هم بدلون راځي، او که ورته وواېو، چې زما دوست ملګری او راباندې ګران یې نو دخوند او دوستۍ احساس کوي.)

له همدې امله ددې لپاره، چې ادبي مقالې ښایسته لیکل کېږي، د ښو احساساتو لېږدونکې وي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوې کلمې د دقيق انتخاب لپاره موږ بايد دغو ټکو ته پاملرنه وکړو:
الف: پياوړي ترکيبونه رامنځته کړو او په ليکنه کې يې وکاروو.
ب: معنا يې په ليکنه کې وکارېږي.
ج: لفظي او معنوي صنايع په ليکنه کې کار ځای لري.
۲: د کلمو خوش آهنګی؛ يعنې کلمې او عبارت ځانګړی آهنګ لري. آهنګ او تون کلمو ته وزن او ښکلا ورکوي؛ لکه: په پښتو شعر ويلو کې آهنګ شعر ته نوې هوا ورکوي؛ مثال په ډول:
توره چې تېرېږي خو ګوزار لره کنه
زلفې چې ولول شي خو خپل يار لره کنه...
۳: د لفظ او معنی يووال (هم آهنګي): د دې لپاره چې په ادبي ليکنو کې ادبي استعاري او تشبه ډېره کارول کېږي، ليکوال بايد په خپلو تعبيرونو کې دقت وکړي، څو د مشبه او مشبه به يا مستعار او مستعارمنه ترمنځ تناسب موجودوي.
د مثال په ډول کې زلفې له سروې سره تشبه کړو اشتباه ده، خو که غاښونو له مرغلرو سره ورته وبولو خوند کوي.
۴: د جملو خوش آهنګي: په جمله کې دوه شيان مهم دي:
اول – فصاحت (د لفظ او معنی ورته والی)، چې فصيحه جمله په لاندې ډول لاسته راځي:

أ. د ليکنې قواعد په کې مراعات شوي وي.
ب. د املايي قواعدو مراعتول.
ت. د ګرامري قواعدو په پام کې نيول.
ث. د تاليف د کمزورۍ نشتوالی.
ج. د لفظي او معنوي صنايعو نشتوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم – بلاغت ، بليغه جمله هغه ده ، چې لازمه رسايي ( لنډوالی ) ولري او په لاندې ډول دي:

الف- ايجاز ( لنډولی ) ولري.

ب- د خوشاهنګۍ درلودونکی وي، آهنګ يې رسا وي.

۵: ترکيب ټاکنه: ترکيبونه بېلابېل حالات لري، ځينې يې ډېره ښکلا او توانمندي لري. هغه معيارونه، چې کولای شي موږ سره د غوره او ښو ترکيبونو په پېژندنه کې مرسته وکړي؛ دا دي:

۵:۱- منځپانګه (پرمايګي) (تومنه): تومنه په دې معنی، چې اندروني قوت په کې وي او له بلې خوا ترکيب، ژوروالی، صلابت (رواني) او مفهوم ولري.

۵:۲- ټينګوالی (استواري)؛ بايد ترکيب د دستور (ګرامر) (پښويه) له پلوه غلط نه وي.

۵:۳- ښکلا (شادابي) (خوشحالي) ؛ په دې معنی کله چې د ترکيب نوم اورو د خوشحالۍ او خوښۍ احساس کوو ؛ لکه:

... د زړه د ښتو للمي کاره زما
باران، باران د حسن غواړي له تا
څو په قطغن وي زما د هيلو په ملک
پيروز رحمت کړه د ښکلاوو الله
لوېږي مې سترګې چې هر ښکلې ګورم
ډوب سر ترپای شم په سيلاب د حيا (۲ : ۲۸)

۵:۴- رساوالی (رسايي)؛ يعنې ترکيب وکولای شي، مخاطب ته اصلي مفهوم ورولېږدوي.

۵:۵- د کاروني ځای (کاربرد ) ؛ بايد هر ترکيب په اصلي ځای کې له عرف سره سم وکارېږي؛ لکه: ( د توري برښنا ) نه دا چې د (توري حيا...)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲.۵- د فضا یووالی؛ یعني یوه لیکنه یو لاس وي، متضاد ترکیبونه پـه کـې نـه وي راغلي.
۷.۵- د قت، لنډون، د خیال د عناصرو پر ځای کارول، د صنایعو پـه اسـتعمال کـې افراط نه کول، لذت او خوند اخیستل هم اساسي شرطونه دي.

د ادبي –تحقیقي او ادبي –توصیفي مقالو ځینې بېلګې:
لومړۍ د ادبي –تحقیقي مقالو بېلګه:
۱) په پښتو معاصر ادب کې د اجمل خټک دریځ:
د پښتو په معاصر ادب کې، چې کله خبرې کوو نو ددې دورې په څو سرلارو کې یو هم اجمل خټـک دی، چـې د زیـاتو صـلاحیتونو خاونـد دی او بنسـټیز کارونـه یـې سرته رسولي دي. له همدې امله د اجمل خټک دریځ د پښتو په معاصر ادب کې یو جوت او ژور دریځ بولو. د ادب په بېلابېلو صنفونو کې کـه شـعر دي، کـه داسـتان، که تکل، که ډرامه که راپورتاژ، که ادبي سفر او که نور، خو پـه وده او پـخېـدو کـې یې اجمل خټک د پاملرنې وړ کارونه سرته رسولي دي. د دې خبرې ثبوت په پښـتو نثر او نظم کـې د ده هغـه ارزښـتمن آثـار دي، چـې زمـوږ پـه ادب کـې ځـانګړې ځـای لري. خو بیا هم اجمل خټک د یو شاعر په توګه د ډېر شهرت خاونـد دی او دا ځکـه چې د معاصر شعر په بدلون، جوړښت او وده کې دده ونډه زیاته جوته ده.
اجمـل خټـک (۱۹۲۵ م )، چـې پـه شـعر ویلـو پیـل کـاوه نـو دغـه وخـت پـه کـوزه پښتونخوا کې د باچا خان تر مشرۍ لاندې د (( خدایي خدمتګارۍ )) غورځنګ ښه په شور او درز کې روان و. دغه غورځنګ پښتو ادب ته تربل هر څه زیات پښتو شعر ورکړ، چې د شاعرانو د نومونو فهرست یې ډېر اوږد دی. د دغـه وخـت زیاتـه شاعري د نظم په بڼه کې وه، چې مقصد یې د ولس وېښول او د انګریـزي ښـکېلاک نه د خلاصون پر لور د خلکو راپاڅول وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجمل خټک په دغه وخت کې نوی زلمی و. تر همدغه اغيز لاندې يې شعر ويل پيل کړل، خو په دومره توپير، چې ملي او قومي محتوا ته يې هنري جامه وروا غوستله او د شعر هنري اړخ او لوري ته يې بدلون ورکړ او هم يې دغې خبرې ته د نورو شاعرانو پاملرنه راوګرځوله.

د اجمل د شاعرۍ يو لوی خصوصيت او انفراديت دا دی، چې د هغه د نظمونو فضا روماني ده. يا په داسې ووايو، چې بوده يې که د حقيقت پسندۍ د شډلو، سپېسونه ده نو تنسه يې د رومانيت له رنګينو، مهينو او پستو وربښمينو نه جوړه ده.

همدارنګه د هند د نيمې وچې ځينو ملي مترقي ادبي تنظيمونو هم د اجمل خټک په ذهن او ادبی تګلاره باندې اغيز وکړ او د دغه اغيز له کبله د ده په سياسي ژوند او ادبي لاره کې نوي ځرکونه په بلېدو شول، چې بيا نو يو ځلميانو د ده دغه لاره هم په سياسي لحاظ او هم له ادبي پلوه ښه وباله. سياست پوه او ليکوال افراسياب خټک په دې هکله وايي: ((کله چې د هند په نيمه وچه کې په (۱۹۳۲ م) کال کې د (انجمن ترقي پسند مصنفين) په نوم يو تنظيم جوړ شو، نو په دغه تنظيم کې جمهوري او مترقي خوا عناصر شامل شول، چې دا دسته د هند په نيمه وچه کې د نوي ذهني فضا د آګاه او باشعورو جوړونکو باندې مشتمله وه.

په دې فيض احمد فيض، فراق ګورکپوري، ساحر لديانوي، جوش مليح ابادي، منشي پريم چند، حسرت موهاي، اسرار الحق، حجاز؛ جګر مراد آبادي، احمد نديم قاسمي او نور ډېر ـــ

نومونه شامل وو. دغه تحريک دنړۍ دټولو آزادي غوښتونکو مترقي او جمهوري خواهانو او منورينو سره خپل غږ يو کړی و. دغه تحريک په کوزه پښتونخوا کې په ادبي شعور(؟) هم ژور اغيز وکړ او د کاکاجي صنوبر حسين، فارغ بخاري، سيف الرحمن سليم، اجمل خټک، قلندر مومند او لطيف وهمي غوندې انقلابي او مترقي شاعرانو هم د دغې څپې برخې وبلل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه تحريک نه په اغيز اجمل ختټک د خپل شعر په محتوا نورهم څه ور زيات کړ، چې د وخت او زمان غوښتنه وه او هغه د انسان د آزادۍ او برابرۍ خبره وه او يا په بله معنا مترقي نظريو او افکارو يې د شعر غېږه ونيوله. د اجمل ختټک شعر د نوي سياست غوښتني له ځان سره ملي کړې او شعر و سياست يې سره يو ځای کړل؛ د هغه وخت ځوان کول د غه لاره ډېر زر ومنله او په دغه لاره روان شول.

بيا هم د اياز داودزي وينا را اخلم، چې وايي: ((د هغه تخليقي او شاعرانه دماغ پښتو ادب ته يو نوی خيال او نوی جهان ور وبښلو. د اجمل ختټک شاعرۍ د ژوند قافلې را ويښې کړې، د منزل احساس يې ور په ګوته کړ او د هغو په رفتار کې يې لکه د رواني ميني ګرمي او تيزي راوسته.

ويل کيږي، چې د اجمل ختټک شاعري په پښتو کې هم د شاعرۍ لوری بدل کړ او هم د سياست؛ په دواړو کې يې نوی بدلون راوست او پلويان او لارويان يې هم ډېر زيات شول.

- ښاغلی سليم راز وايي، د اجمل ختټک شاعري د شلمې پيړۍ وروستۍ نيمايي پښتون سياست او پښتو ادب متأثر کړی.

په سياست او ادب يې يو شان اثرات مرتب کړي او په عامو خلکو کې يې د انقلابي يون او سماجي بدلون جذبه، ولوله او حوصله پيدا کړې ده.

اجمل ختټک او د ((غيرت چيغه)) يو له بله سره تړلی دوه نومونه دي. د ختټک د کومي شاعرۍ ذکر چې ما وکړ په غيرت چيغه کې را منځته شوه، چې لاس په لاس به ګرځيدله او د هغه وخت جلوسونه او لاريونونه به په همدغي چيغې بدرګه کېدل. د دغې چيغې ډېر شعرونه د ځوانانو په ذهنونو کې نقش وو او د مثالونو په توګه به ويل کېدل. د غيرت چيغې شعرونه د هغه وخت په سياسي او ادبي حلقو کې خوځښت راوست او د سليم راز په قول، چې په سياست او ادب کې بدلون تر ستر ګو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد عبدالله بختاني وايي چې: ((ځوانانو به هڅه کوله چې خپل شعرونه په دې لاره روان کړي.))
همدارنګه سليم راز هم دغه خبره لږ په تفصيل کوي او وايي: ((د غيرت چيغه ځلمو د لارښوونې صفحه ګرځولې او تاويز (تعويذ) کړې وه، ځکه پرې حکومت پابندي ولګوله، خو د پابندۍ باوجود د پښتون سياست لاره همدې کتاب وښوده او د پښتو د عصري مقدي شاعرۍ د فکري روح يقين هم دې کتاب وکړ.)) (... دغه مقاله نوره هم اوږده ده، چې د ادبي تحقيقي مقالو په اصولو برابره ده. او يوه څېړنيزه مقاله هم بلل کيږي.
دويم- د ادبي- توصيفي مقالو مثال:
د ناظر هم ستر ګې پټې شوې
هسې نه اجله ! چې يو تا ته فکر وړی يم
هر ځلې يوې نوې ادا ته فکر وړی يم
بيا مې ومونده په فکر رامه شئ په ما پسې
زه در نه ملګرو داسې خوا ته فکر وړی يم
د دوه زرم کال د جولای په لومړۍ نيټه د لعل زاده ناظر سترګې د تل لپاره پټې شوې او پښتو ژبه او ادب له يو خوږ ژبي شاعر نه بې برخې شو.
لعل زاده ناظر د پښتو غزل د پلار امير حمزه شينواري له نامه وروسته د خيبر په سيمه کې دويم نوم دی، چې د خيبر د ځلمو شاعرانو په روزلو کې يې تل زيار ګاللی دی او زيار يې بې ثمره هم نه دی پاتې شوی.
لعل زاده ناظر په ۱۹۴۰م کال په شعر ويلو پيل وکړ او په اغلب ګمان، چې د ژوند تر ورستيو شيبو يې هم شعر وواېه، د حمزه صاحب په لومړيو شاګردانو کې دی تر ټولو مشر دی او د ده د استعداد او صلاحيتونه خبره وه، چې حمزه صاحب د ځوانانو شاعرانو روزنه ده ته وسپارله او ناظر هم په ډېر صداقت دغه خدمت سر ته ورساوه. د ده په شاګردانو کې مصري خان خاطر او خيبرافريدی د پښتو ژبې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامتو شاعران وو، چې شهرت او آوازې یې تر لرې ځایونو ورسیدې او اوس هم د نامتو شاعرانو کې راځي.
لعل زاده ناظر کوم مکتب او یا کومه مدرسه نه وه ویلې. د لیک لوست په زده کړه کې یې کوم استاد هم نه لاره، خو په خپله یې لیک لوست زده کړي و. لیک لوست یې کولای شول او د ځانګړې مطالعې په برکت په ډیر څه پوهېده.
مراد شینواري د لعل زاده ناظر شینواري په پېژندګلوۍ کې یو ځای لیکي: ((لعل زاده ناظر په ختـه د لـوارګي شـینواری دی؛ د پلار نوم یې عمراخان دی. په کال (۱۹۱۹م) کې زیږدلی دی؛ د پښتو عظیم شاعرحمزه شینواری خوریې دی او د شعر و شاعرۍ په میدان کې یې هغوی ترتیب کړی دي. د ناظر د ځلمیتوب په زمانه کې نه خو په لوارګي کې مکتبونه وو او نه عامو خلکو د انګریزانو په سکولونو کې تعلیم حاصلول ښه خبره ګڼله. د لوارګي د نورو زلمو په شان ناظر هم د تعلیم د نعمت نه محروم پاتې شو.
ما د دنیا مدرسه لوستې نه وه
امتحانونو دې په ما ولوست
لعل زاده ناظر په ۱۹۵۰م کال کې د خیبر د ځلمو لیکوالو د ټولنې مشر شو، چې د ټولنې په غړو کې مراد شینواری، ځیګراپریدی، خیبراپریدی او قیوم کوثراپریدی شامل وو.
همدارنګه په (۱۹۵۳م) کې، چې د ولسي ادبي جرګې کومه څانګه په لنډي کوتل کې جوړه شوه ناظر یې مشر و...
د ناظر د شاعرۍ مجموعه د (مزل، په نامه دري کاله وړاندې په (۱۹۹۷م) کال په پېښور کې چاپ شوه. په دغه مجموعه باندې امیر حمزه شینواري، قلندر مومند، راج ولي شاه خټک، اقبال نسیم، خټک، مراد شینواري او کلیم شینواري د شاعرۍ سریزې لیکلي دي....

(c) ketabton.com: The Digital Library



... قلندر مومند وايي، چې د ناظر شينواري د شاعرۍ اهمه موضوع هم لکه د حمزه صاحب دی، خو فرق يې صرف دا دی، چې حمزه صاحب تصوف علمي طور سره خپل کړی و او ناظر ور سره تر نظرياتي حده تړون لري.

ناظر تر ډيره وخته خپل کلام نه چاپاوه او په دې نظر و ، چې څومره په شاعرۍ وخت تېرېږي هغومره پخېږي، همدغه وجه وه، چې په وروستي عمر کې يې خپل کلام په کتابي شکل چاپ کړ، په داسې حال کې، چې زيات شميرشاګردانو يې خپل ديوانونه چاپ کړي وو.

د ناظر په کلام کې د پښتونولي، تصوف او انساني مينه غوټه شوي، چې بيان يې ساده، خوږ او تشبهات يې ډيرعالي دي.

تنکی سوال مې له مودو په انتظار و
چې مې نن تر شونډو راغی اسويلی شو
دا په سترګو کې راخور څنګه پيکی شو
لکه پوی وی، چې نظر مې غلچکی شو

يا:

د مارانو قـــــــــرار کله په انګار شي
زه د يار په مخ د زلـــــــفو قرار وينم

دا بل بيت:

لاس يې په تکل د غزونې څه او چت کړ
ما وې چې زيړ زرغونه را باندې راغله...

ناظر يو وخت د پېښور راډيو لپاره ډيرې ډرامې ليکلې وې. ځينې مضامين يې هم په مختلفو مجلو کې خپاره شوي دي. کيدای شي، چې د ناظر د نثر برخه څوک را ټوله کړي او په راتلونکې کې يې چاپ کړي. د ناظر دوه زامن (شفيق) او (کليم) د پښتو ښه شاعران دي، چې د ځانګړو مجموعه لرونکي دي. د پښتو ادب تاريخ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لعل زاده ناظر ادبي شخصيت، شاعري او پښتو ادب ته د ده خدمتونه هېر نه کړي. دا به په تاريخونو کې ثبت وي او راتلونکي نسلونه به يې په درناوي يادوي.
پوهندوی استاد برياليی باجوړی (د ادبياتو په لړ کې، ۱۹۸)
= ادبي - توصيفي مقاله کې لازمه نه ده ماخذ نيغ په نيغه راوړل شي، خو د ليکوال د مطالعې محصول وي. ادبي - توصيفي مقالې کې دای شی لوېږي يا وړې وي او دهنري نثر انداز په کې برجسته هم وي. په ادبي تحقيقی مقالو کې ماخذونه او د تحقيق اصول مراعاتيږي.

**۳- انتقادي مقالې او د هغو ځانګړنې:**

انتقادي مقالې د سمون او اصلاح لپاره ليکل کېږي او خپرېږي او د اصلاحاتو علمي علمبرداري کوي.
دغه مقالې د کره کتنې پر اصولو بنا وي، يعنې (سره او ناسره) سره بيلوي.
انتقادي مقالې که په هره برخه کې ليکل کېږي د ځينو ارزښتونو د ايجاد (رامنځته کولو) او ارزښتونو د ساتلو ضمانت کوي.
د دغو مقالو ليکوال ته ښايي، چې د پوهې او انصاف تله په لاس ولري او په ټولنه کې موجود ارزښتونه په مسلکي ډول وتلي؛ پوهه، انصاف او په مسلک کې وارد والی د انتقادي مقالو آر (اصل) جوړوي. دغه مقاله که تحقيقي وي او که غير تحقيقي (خبرنيزي) که په ورځپانو کې خپرېږي، که په جريدو يا مجلو کې د ارقامو او مسلکي ارزښتونو صلاحيت ولري)
د دغو مقالو ليکوال بايد د پوره ليکوالۍ مهارت او زيرکي ولري، ځکه چې اقتصادي ارزښتونه د هر چا لپاره مهم او په زړه پورې وي.
يو متل دی، چې وايي: ((د دنيا مور نشته او د عقل ورې))
له دې امله (د هر چا ګېډه د هغه د ژوند ارزښت ټاکي.) دا ډول مقالې د کره کتنې برخه احتوا کوي. او کره کتنه د خبرو او ټولنيزو ښکارندو (پديدو) تلل او خېړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. د ادبي او یا نورو آثارو د ارزښتونو سپړنه، هغه تفسیر دی څو څرګنده کړي، چې د اثر غوره والی او بدوالی څه ته وایي؟

انتقادي مقالې د (سپړنې او نقد) د روحیې پر اساس آثار معرفي کوي او کره کوي، خو هو بهو یې نه کره کوي، بلکې د څېړنې اصولو له مخې یې څېړي.

((ادبي نقاد د یو ادبي اثر د ژورې کتنې او مطالعې په لړ کې د هغې تشریح او توضیح کوي او د اثر د محتوا په اصلي روح، د لیکوال په پیغام او د اثر د رامنځته کولو په غرض لوستونکی پوهوي او د نقد د ټاکلو کلي اصولو په رڼا کې د هغې ادبي ښکلا، ښېګڼه، عیبونه او نیمګړتیاوې بیانوي.

نو د انتقادي مقالو لیکوال ته ښایي په خپله هره لیکنه کې پیغام ولري؛ پیغام د پوهولو او بعدي (راتلونکو) پوهنو زیري ورکوي.

انتقادي مقاله لیکنه په نړۍ کې ډېره پخوانۍ لرغونتیا لري، د لیکنې د دغه ډول پیل هم د فرانسې په معاصرو ادبیاتو په تېره بیا کره کتنې پورې تړي. مګر دا خبره د ختیځ په برخه کې د تائید او تصدیق وړ نه ده، په تیره بیا د هغو تاریخي آثارو او تذکرو په باب، چې د هغو په ترخ کې د ادبي آثارو او ادبي خیرو په باب لیکنې شوې دي، ځکه نو د مقالې او په تېره بیا د ادبي مقالې لېکنې لري.

د یو لیکوال په نظر: ((اوسنۍ انتقادي مقالې د روانې میلادي پیړۍ له لومړۍ نیمایي را پدېخوا په نړۍ کې دودې او پرمختګ په لور مخه کړه او په ډېره چټکتیا سره پرمخ لاړه.

د کره کتنې مقالې لیکوال باید د نقد په کار کې ډېر صادق وي، جرئت ولري او په عمل کې په خپل قضاوت کې انصاف، صراحت، قضاوت په پام کې ونیسي او بې طرفي له پامه و نه غورځوي.

د دغو مقالو لیکوال د معناوو په پالنه، د اخلاقو په سینګارولو، د عمومي افکارو په روښانولو، هیواد سره د مینې پیدا کولو او نورو سیاسي او ټولنیزو مسلو د څېړنو په برخه کې ډېر فعال او زړه خوږي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کره کتنه، چې په ټولنيزو او ادبي مسلو کې يو اصل جوړوي، بايد ناقد د ټولنيز مسوووليت او بشپړې بې طرفۍ په درلودلو سره دغه کار پرمخ بوځي.
دکره کتوني مقالې ځانګړني: له ډيرو مهمو ځانګړنو څخه دا ده چې په دغه ژانر کې کره کتونکی غواړي د ليکوال ايجادي او زماني چال چلند او له دغه چال چلند څخه را منځته شوی حالت او بهير بيان کړي. د پورتنيو دواړو ځانګړنو څرګندونه او تشريح هم په خپله په کره کتونکي او د هغه په پوهه، ځيرکۍ او ذوق پورې تړلې ده.
بله ډيره مهمه ځانګړنه د ټاکلي اثر يا آثارو ليکوال او ټاکلي ادبي بهير په اړوند د کره کتونکي د ذوق او ځيرکۍ څرګندونه ده. پوهان په دې اړه نظر لري، چې کره کتونکی په خپله د يوه نوښتي اثر تل ته ننوزي، داسې لکه په خپله د نوښتګر او هنرمند په شان. دغه حالت او د دغه حالت اغېزه د دې سبب کېږي، چې کره کتونکی د نوموړی حالت او د نوموړي حالت اغېزه په خپل اثر (مقاله) کې پداسې ډول وړاندې کړي، چې په لوستونکي کې هم د هغه ورته احساس او اغيز را وپاروي. د يوې بشپړې انتقادي مقالې لپاره تر هر څه د مخه دا مهمه ده:
الف- په هغه کې د ژوند څېره چې په هنري اثر کې د واقعيت د انعکاس څرګندويه وي؛ انځورشي.
ب- ادبي مسألې او ښکلائيزې وړتياوې چې زياتره د اثر په نري اړخونو او د هنرمند په هنري مهارت پورې اړه ولري؛ را ونغاړل شي.
برسيره پر دې يوه بشپړه ادبي- انتقادي مقاله کولای شي په نوموړو دوو ځانګړنو برسېره د يوی ټولنې او يوه ځانګړي ادبي بهير، معنوي او اخلاقي تګلارې هم په ګوته کړي.
د ډاکتر خالق رشيد په وينا: (د انتقادي مقالې جوړښت.... په خپله په کره کتونکي او د ده په مهارت، تجربه او په موضوع باندې په برلاسي پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کره کتونکی باید دا ټکی په پام کې ونیسي، چې کله غواړي په یوه ادبي موضوع باندې خپله څېړنه پیل کړي )

په انتقادي مقالو کې دا خبره دوه خبرې، چې د مقالې په شکلي او شخصیتي نظام کې ارزښت لري؛ په پام کې ونیسو:

اول- لیکوال باید خپله لیکنه له جز نه د کل په لور پیل کړي او کله له کل نه د جز پر خوا ځي. د انتقادي مقالې په لیکلو کې دواړه تګلارې دود دي. د خدای بښلی استاد عبدالشکور رشاد د انتقادي مقالو تګلاره ډېر ځله له جز نه د کل په لور تللې وه او پراختیا یې موندلې وه. د خدای بښلی روهي د انتقادي مقالو تګلاره زیاتره له کل نه جز طرف ته وه.

په هر ډول مورږ به د اصلاحي، انتقادي او معلوماتي مقالو یوه په زړه پورې بېلګه د ارواښاد حضرت علامه عبدالحی حبیبي له یوه ولسمه برخه (شل مقالې څخه راواخلو وبه ګورو، چې څومره د اصلاحی او معلوماتي انتقادي مقالو مواد لري.

احمدشاهي

په احمدشاهي دوره کې د توپ جوړوني صنعت کله چې اعلیحضرت احمد شاه بابا په ۱۱۲۰هـ ش کې د افغاني سلطنت بنسټ په کندهار کې کېښود، افغانستان د پراخه تشکیلاتو اړمن (محتاج) و، چې باید په ملکي او لښکري چارو کې نیول شوی وای. د هغو له جملې د دولتي اردو تشکیل و، چې د هغه عصر په وسله سمبال وي. له دې مخکې یعني احمد شاهي غونډو وړاندې زموږ هیواد د ایران صفوی شاهنشاهي او هند د تیموریانو له دورو سره مخامخ و؛ له دې امله ډېرو او پراخه ملکي او پوځي تشکیلاتو ته اړمن و او د توپ استعمال او کارونه د بابدیانو په عصر (۹۰۰هـ) کې په افغانستان کې رواج شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد شاه بابا د دې لپاره، چې له سلطنت وړاندې يو تجربه کار شخص او د خپل عصر له پوځي جنرالانو څخه و، د شاهانه عسکرو لپاره يې توپ او ناريه وسله (توپ) برابر کړې وه، چې د هغو له ډلې به يې ځينې در وپېژندل شي.
وايي د پاني پت په مشهوره جګړه کې يو لک (سل زره) افغاني لښکر له لس لکو (يو ميليون) جنوبي هند مرهټه وو سره مخامخ و. د مراته توپچي قوماندان ابراهيم خان يو شمير ستر قلعه کوب او دوه سوه صحرايي توپونه درلول، خو د احمد شاه قوا يوازې د پرش توپونه درلودل، چې په لاندې ډول دي:
= د زمزمې توپ: مشهور توپ دی، چې د اعليحضرت احمد شاه بابا لښکرو د پاني پت په جګړه کې کارا وه. دغه توپ په ۱۱۲۴هـ ۱۷۵۰م) په لا هورکې د وزيرشاه ولي خان د شاه نظير توپ جوړونکی په وسيله جوړ کړی و او يو بل توپ هم هغه ته ورته و، چې د پاني پت له فتح وروسته افغانستان ته را لېږد پر مهال په چناب رود کې ډوب شو.
د زمزمې توپ د مس او رويې له يو ځايو الی جوړ شوی و او اوږدوالی يې ۱۴ فټه او ۱۴ انچه او د خولې قطر (اوږدوالی) ۹ نيم اينچ و.
توپ زمزمه بعد از فتح پاني پت در لاهور بدست خواجه عبيد حکمدار افغاني ماند که در سال ۱۷۶۲م بدست.
هری سنګهـ افتاد وتا (۱۷۶۴م) در شاه برج قلعه لاهور بود. در همين سال سردار چرت سنګهـ که از اسلاف رنجيت سنګهـ بوده، زمزمه را به ګوجرانوله برد و از آنجا بدست سردار امحد راجپوت به احمد نګر پنجاب آورده شد و به تصرف ګوجر سنګهـ درآمد.
در سال (۱۷۷۲م) باز بدست احمد خان بطرف رسولنګر برده شد و به سال (۱۷۷۲م) جهندا سنګهـ آنرا به امرتسر آورد، تا در ۱۸۲۰م حسين فتح امرتسر بدست رنجيت سنګهـ افتاد و در جنګهای دسکه، قصور، سجانپور، وزير آباد، ملتان ازين توپ کار ميګرفت، درمحاصره ملتان به اين توپ خساراتی وارد آمد و به دروازه دهلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهر لاهور رسانیده شد تا که در سال (۱۸۷۰م) انگلستان آنرا دربین پوهنتون وموزیم لاهور بر صفه یي نصب کردند وتاکنون همانجا ست، بردهان توپ منقوش است:

بامر در دوران شاه ولیخان وزیر
ساخت توپ زمزمه نام قالعه گیر (عمل شاه نظیر)
برپشت توپ نوشته اند:
درزمان شه فریدون فر
داور دادبخش عدل شعار
خسرو تخت گیروجم مقدار
شدبد ستور اشرف الوزرا
امرسدازسده ء سپهرمدار
که برزدبه اهتمام تمام
توپ شعبان شکوه کوه وقار
خانه زاد شه سپهرسریر
شه ولیخان وزیر اکثر کار
بهرتقریم آن مهم سترگ...
سال تاریخش ازخرد جستم
کردباوحشت آنچنان اظهار
که اگرنقدجان کنی تسلیم
رازپنهان بتوکنم تکرار
بعدتسلیم اوبگفتاتوپ
پیکراژدهای آتشبار

ازتوپهای دیگران عصردواطلاع دردست است. درکتابخانه فاضل سخندان نباغلی گویااعتمادی جنگی نهایت گرانبها موجود است که مملو ازاطلاعات

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسیار مغتنم ونادر تاریخي استو نویسنده آن متخلص به (هراتی) نواسه عبدالله ابن ابوسعیدالهروی بود، که غالباً درعصر احمدشاهی وتیمورشاهی بارجان دیوان انشای شهنشاهی محشوربوده، مطالب تاریخی ابن مجموعه گرانبها درخورمقاله علیحده ایست، ولی درین جابه اجازت دانشمند موصوف کابا امکان مهربانی وروا داری این مجموعه نفیس رابدسترس نوبینده گذاشته اند، تاریخ ساختن دوتوپ دیگر رامینویسم:

درسنهء (۱۱۸۵هـ) که شهزاده تیمور درهرات حکمرانی داشت. به امروی توب رادرآنجابه وسیله صنعت گران آن شهرریخته بودند، تاریخ ساختن آنرا میرزاخان هادی خان متخلص به عشرت بن میرزاعبدالله متخلص به میرزاعبدالله متخلص به سرور (به دوضمه) که از منشیان وشعرای دربار بوده، چنین گفت: وله دام غره درتاریخ توپ که بحسب فرمایش تیمورشاه درهرات ریخته شده.

تیمور شهر که شاهی ازوی
شدسکه بزرچونقش شاهی
ازلنگراوعجب نباشد
خم گردداگرکه پشت شاهی...
جسمتم زتلطف ونوازش
شدرهبرمابه عذرخواهی
کفتاکه زغیب شداشارات
سوزنده حضم پادشاهی

ازمصراع اخیر سنه (۱۱۸۵هـ) که دراصل هم به خط سرخ نوشته شده برمی آیدوازمضمون قطعه است که درین اوقات توپهای معتددرادرهرات ساخته بودند، اماتوپ دیگربه امرهمین شهزاده درسنه (۱۱۷۰هـ) درلاهورتوجه دستوراووکارحسن خان (یکی ازتوپ سازان) ساخته شده بود که همان شاعر ومنشی تاریخ ساختن آنرا چنین منظوم داشت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنواب همایون شاه تیمور آنکه ازبیمش
نگیرد سربه ملک وکشوراوگردن اعدا
زیس دست ستم ازعدل اوکوته بود شاید
کشدگرغمزه دلبربه عهدش دست ازیغما
چوازجادررودطبع همایونش، بلکین خواهی
زندبرهم زچین ابروان چین رابیک ایما...

شعر ډیر لوی دی. له مطالعې یې داسې ښکاري، چې نورتوپونه هم ددغه شاه په وخت کې جوړشو. بل توپ دهمدغه شهزاده په وخت کې جوړشو. لومړی توپ دتیمورشاه چې دلاهوردارالسلطنت و، نقشه شواوجوړشواوله لیکنې یې ښکاري کېدای شي په (۱۱۲۹هـ) کې جوړشوی وي. داسې ښکاري، چې په هغه وخت کې ډیرتوپونه په لاهورکې جوړشواوددغوتوپونوجوړونکی حسن خان و، چې داستادشاه نظیرشاګردو. ښاغلی عزیزالدین پوپلزی وایي په ۱۲۱۲ کې حسن کابل ته داعلیحضرت زمان په امرراوغوښتل شواودلته یې د ((زبرزنګ)) په نامه بل توپ په ۱۲۱۲ کال جوړکړ.

ښاغلی پوپلزی د (زبرزنګ) په تاریخچه کې زیاتوي، چې دغه توپ دکابل خیابان دچهلستون دقصرمخکې نصب و، خوسردارمحمدعظیم خان هغه خپل وردوست محمد خان ته وباښه اوهغه یې دغزني حکمرانۍ ته ولیږه. که دښاغلی پوپلزی دغه مدارک مستند وي، کیدای شي سرداردوست محمد خان زبرزنګ غزنی ته لیږدولی وی، هغه وایي:

درسال ۱۸۳۹ هم چون لشکر معرو اندوس برافغانستان تجاوز کردوسردارغلام حیدرخان بن امیر دوست محمد خان ازغزنه دفاع میکردتوپی بزر دردسترس مجاهدین ملی بود ، که نقش آن درهمان ۱۸۳۹م به قلم جنرالان لشکری انګلیس ساخته شد ، ودرګلیسون تاریخی لشکراندوس به ریس وهیات مدیره است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندیا کمپني از طرف جوزف فورویل والترتقدیم گردیدو این کللسیون به سعی سرکیت ای جیکسن طبع ونشرشد.(۱۵: ۱۰۱، ۱۰۲)
پورته مقاله چې یو انتقادی متن دی، ډیر نور مطالب هم لري؛ په دغه مقاله کې له ډیرو نویو او معتبرو ماخذونو څخه خدای بښلي لوی استاد علامه حبیبي ګټه پورته کړې، چې په حقه کره مقالو جملې ګڼل کېږي لنډه دا چې:
- د انتقادي مقالو لیکونی باید د نقد په کار کې ډیر بلد، رښتنی او صادق وي، باجرئته او په عمل کې خپل قضاوت کې انصاف، صراحت او قضاوت په پام کې ونسی او بې زرفي له پامه ونه غورځوي دغه لیکوال باید د معنویت په پالنه، د اخلاقو په سمبالولو، د عمومی افکارو په روښانولو، هیواد سره د مینې پیدا کولو او نورو سیاسی او ټولنیزو مثالو د خیرلو په برخه کې ډیر فعال او زړه خوږي وي او کره کتنه چې په ټولنیزو او ادبي مثالو کې یو اصل جوړوي، باید ناقد د ټولنیز مسولیت او بشري بیطرفۍ په درلودلو سره دغه کار مخکې بوځي.

=د انتقادي مقالو بله بېلګه:
په تیاره کې مزل
(د نثر لیکلو هنر کتاب) د تاند او وزین قلم لیکوال ښاغلی اسدالله غضنفر لیکي:
((څو ورځې د مخه په کابل کې د افغان ادبي بهیر په غونډه کې په یوه لیکنه باندې اوږدې خبرې وشوې او ګڼو کسانو په کره کتنه کې برخه واخیسته، خو بحث راټول نه شو او نتیجې ته سره ونه رسیده.
د بحث د تیت او پرک والی وجهه دا وه، چې ځینو کسانو لیکنې ته د مقالې په سترګه کتلې وو، ځینو نورو لنډه کیسه ګڼلې وه او په آخر کې خو د یوې خاطرې په حیث هم تبصره ورباندې وشوه.
د لیکنې موضوع یا کانکورکې د کامیابۍ لپاره د کورسونو له اهمیته څرخیدله هغو، چې لیکنې ته د مقالې په سترګه کتلې وو، ډیر بحث د کورسونو د ضرورت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتون او نه شتون کاوه، يو شمېر نوروته، چې ليکنه لنډه کيسه ورښکاريدله، دپلاټ، تلوسې او کترکټرايزيشن په باب خبرې وکړي. ليکوال ماته نژدې اوورته وامې وريدل، چې خاطره يې ليکلې ده، خود خاطرې په حيث ماته پکې دامشکل پيښ و، چې دبل چاړزه او ذهن ته يې نوځنګه پکې لاره کوله او اوږدې مکالمې يې څنګه په يادپاتيدلې.
پوره درې کاله پخوا د ۱۳۸۲هـ کال په سنبله کې هم دکابل په يوه ادبي غونډه کې برخه والوته دغسې مشکل ښېښ شو. غونډه په قلم ټولنه کې وه. دالحاج حسام ددريوتازه چاپ شويو آثارو مخکتنه وه. دده يواثرته ځينودناول په سترګه کتل اويوډول بحث يې وربانډې کاوه، خوځينو نورو ورته دواقعي رپوټ له عينکوکتل او بحث يې بل ډول و. دغودووپيښو ته مې ددې لپاره اشاره وکړه، چې لوستونکی په ادبي اثر باندې دپوهيدو او قضاوت په وخت دهغه (ژانر ) په نظر کې نيسي.
دادپوهنې په ترټولو پخوانې او مشهور کتاب يعنې (بوطيقا ) کې ارسطو دآثارو په ژانرونوخبرې کوي او دژانرونود ځانګړنوپه رڼا کې په اثربانډې دقضاوت معيارونه راښيي.
البته کره کتنه ډيرډولونه لري، چې دژانرپربنياد کره کتنه يې يوډول دی، خودکره کتنې په نوروډولونوکې هم په اثر باندې دپوهېدلو او قضاوت کولولپاره دهغه ژانرپه اړه څه ناڅه معلوماتوته اړيو ؛ لوستونکی د هر ژانر له اثره بېله توقع لري.
ليکوال که دخپل اثردليکلو په وخت دژانرپه اړه هيڅ تصويرنه وي کړی، دانودا سې ده لکه چاچې په تياره کې بې خراغه مزل کړی وي. ځينې ليکوال دتواضع په خاطر دخپل اثرژانرنه ښيي. زماپه ګومان تردې ډول تواضع يوڅه کبر بهتره دی. ) ) (۳۰: ۲۰۰ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- تبليغي مقالې او د هغوځانګړنې:**

تبليغ، وعظ، نصيحت او پند په ټولنه کې د منورو او پوهو انسانانو له خوا د عامه اذهانو د روښانولو او منورکولو يوه غوره وسيله ده.

د تبليغ او نصيحت لارد مؤدب کولو، کله ناکله د تنبه کولو (ګوت څنډنو) له لارې امکان لرلای شي. د تبليغي مقالې هغه مقالې دی، چې ډېر ځله د ټولنيزو، سياسي فرهنګي، ديني او...

بيلابيلو موخو (هدفونو) لپاره د عمومي افکارو او د احساساتو، تنګريو او عواطفو په پارولو کې مهم رول لري.

دغه مقالې عادي مقالې نه دي، مسلکي مقالې دي، بايد د مسلکي خلکو له خوا ليکل شي، ځکه په نيغه توګه د خلکو له احساساتو سره سروکار لري. د دغو مقالو ليکوونکي، جوړونکي وی، مؤدبونکی او لارښودونکي وي. خلک د ټولنې د جوړونې هيواد پالنې په لور هڅوي. په سوداګری برخه کې په تبليغاتي مقالو کې د (عاطفې، احساس او زور، د هيجان توکي (عناصر) فوق العاده ډير او اهميت لري، له دې امله که چيرې ليکوال د خلکو احساسات په ښه ډول را ونه پاروي په ټولنه کې به د بدو خلکو د سوا استفادې (ناوړه ګټې) اخستنې لارې چارې برابرې شي.

هدف؛ د تبليغاتي مقالو ستر هدف دا دی، چې څنګه ليکوال وکولای شي د وخت مهم موضوعات ديو رسأ (غوره) غږ په توګه خلکو ته ورسوي؛ دی تبليغاتي مقالې روحيه ورکوونکي وي. تبليغي مقالې له تبلغاتي مقالو سره توپير لري او توپيريې داسې په ګوته کوو:

الف- تبليغ؛ وعظ، نصيحت او پند، چې هدف يې اصلاح او فکري سمون دی. ديني، فرهنګي، عرفاني او...

هدفونه لري او په مجموعي ډول اجتماعي (ټولنيزه) اصلاح غواړي. د شکل له پلوه لنډې وي او د منځپانګې له اړخه د اصلاحي فکر درلودونکی او تبلغونکې وي. دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقالې غوره هدفونه لري؛ په ماخذونو او اکثراً (ډېرځله) په اقتباسونو متکي (ولاړې) وي.
ډېرځله د علمي بنسټونو، شرعياتو پوهنځيو او نورو ديني او...مؤسسو له خوا خپرېږي. د غه مقالې چاپي او غير چاپي بڼه لري. د ليکوال په وينا:
((د دغو مقالو مواد، يوازې مطالعې او تحقيق له لارې لاسته راځي. خو په هغو مقالو کې، چې يوه نوې نظريه مطرح شي، په دې حال کې درست استدلال او منطق د کار اساس جوړوي.)) (۱۷ : ۲۹)
= د دغو مقالو ځانګړنې: د شکل له پوله لنډې خو دلاس په لاس مطالعې مولودوي؛ استدلال او علمي منطق ورکې پياوړي وي؛ د مستندو او باوري منابعو له روحيه وړاندې کېږي؛ تر ټولو دا چې هر اوريدونکی ته د يوې موضوع په برخه کې فکر احساس ورکوي؛ پند، نصيحت ديني، مذهبي عرفاني (او معرفتي برخه يې پياوړې وي. وچ تبليغ نه وي.
ب- تبليغاتي مقالې: کېدای شي تبلغي هويت ولري، او همدا رنګه سياسي او اجتماعي مضمونونه ولري. سوداګرۍ په برخه کې هم رول لري. بروشورونه، سوداګري اعلانونه هم په دې برخه پورې اړه لري.
تبليغاتي مقالې هرډول مادي او معنوي مواد رانغاړي. يوډول تجارتي هويت لري؛ په فيشن، مود... پورې اړوند مطالب خپروي. لنډې وي او ورځني مطالب خپروي. ژبه يې لکه د تبليغي او ادبي مقالو خوږه نه وي؛ په مجردو الفاظو لوبې کول يې يوډول ارمان جوړوي.
مهم خصوصيت يې د يوې (تجارتي، سياسي او اجتماعي، مثالو او شيانو په برخه کې خلکو ته خبرداری ورکوی؛ لکه:
((بنا بر تصميم فوق العاده و وثايق تجارتی و (چک) در امريکا و انګلستان و هولاند معاملات پراګنده و خورد و ريزه هم بذريعه (چک بانک) تسويه مې شود، يا از روی تشکيالت مالي ممالک مذکور و يا بنا بر حمل و نقل ندادن کيسه های پول

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبانکنوت خواه به مودو خواه به فیشن په هرطوریکه تغیر نمایم این شکل دراساسات تجارتی درمیان خلق صورت احتیاجی حیاتی راداراشده است...))
(۲۱۲:۳۵)
لنډه داچې تبلیغی مقالې په استدلال اوعلمي پوهې بنأوي اودیومرام (اسلامي) لپاره خلکو ته ذهنیت ورکوي او روا مجادله پرمخ وړي.
دلته به د تبلیغي مقالو ځینې بېلګې د (کبریت احمر) له کتابه راواخلو اوله بېلګه (نمونه):
پرلاره د پیغمبر (ص) تګ په (جامع السعادت) کې نراقي اول روایت کړی دی:
کله چې رسول الله (ص) له اصحاب کرامو سره پرلارتللو، هغوی ته به امرکاوه، چې مخکې لاړشئ او دهغوی په منځ کې به روان و، او هم یې روایت کړی دی؛ له خدای (ج) څخه دلریوالی سبب کیږي هغه خلک، چې ترشاه یې خلک روان وي اویاڅوک ورته په پښو دریږي. امیر المنین ویلي، (من اراد ان ینظرالی رجل من اهل النارفلینضرالی رجل قاعدوبین یدیه قوم قائم) اوهمدارنګه د پیغمبر (ص) مجلس ته یو سړی رادننه شو ټول بدن یې پولۍ (ټناکې) وې اوله هغواوبه تویدلې اودهرچاترخنګ، چې کېناسته، هغه به له ځایه پورته کېده.
حضرت پیغمبر (ص) هغه په خپل څنګ کې کیناوه.
یوه ورځ حضرت محمد (ص) له نورو اصحابو سره ډوډۍ خوره، چې یوبل کرغیږن مخ اوناروغه رادننوت اودمجلس غړوله هغه کرکه وکړه، پیغمبر (ص) نوموړی په زنګانه کیناوه اوورته یې وویل: ((ډوډۍ وخوره))، یوقریشی چې له هغه کرکه درلوده نابیره دهماغه په بیماری ګرفتارشواو ترې مړشو.
یوه ورځ حضرت زین العابدین (رح)، چې په خره سپوررودمجذومینو پریوه واړه جمعیت برابرشو، هغو ورته دډوډۍ خوړلو سلا (ست) وکړ، حضرت ورته وویل که مې روژه نه وای، نومې ډوډۍ درسره خوړله، بله وخت یې په خپل کورکې دښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ دپخولو اوبرابرولو ترتيب وکړ، هغوی يې راوغوښتل اوډوډۍ يې ورسره وخوړه. (۱۴۱مخ)

بله بېلګه:
د اسلام د پيغامبر (ص) غوره اخلاق:
بدن يې له سره ترپايه کمال و ؛ ابن عباس وويل، چې: ((اناادیب ربي)) زه دخدای (ج) له خوا تأديب شوی يم اوحضرت علی کرم الله زماله لوري. حق سبحان وتعالی ماته په سخاوت اونيکۍ امرکړی دی او له بخيلۍ اوجفاڅخه يې منع کړی يم.
اودالله تعالی په نزد کله په ، چې پيغمبر (ص) درې ورځ ثوک نه ليده ، نوکه دهغه پوښتنه به يې کوله.
که به چاويل سفرته تللی نوروته دعابه يې کوله اوکه به حاظر و نوليدلوته به يې ورتللو اوکه به بيمارونو دهغه عيادت به يې کاوه.
په يوويشت غزووکې يې ، چې نه يې غوښتل نوروته ددرنښت له امله له نورو دمخه شي اوله ضعيفانو اکمزورو سره به په يوه ليکه کې روان واوله قافلې سره به يوځای رسيدلو. (۷: ۳۳۸)

**۵- قضايي، حقوقي اوجنايي مقالې او دهغوڅانګړنې:**
په دغو مقالوکې قضايي، حقوقي اوجنايي مثألې خپرېږي. ډير ځله دغه مقالې اخباري بڼه لري؛ په ورځپاڼو، جريدواو اوونيزو کې خپرېږي، خوپه مجلوکې هم دخپريدو وړ دي.
دغه مقالې هورومروتحقيق وي. قضايي اوحقوقي مقالې معلوماتي هويت لري اوجنايي مقالې سره له دې، چې څېړنيزې وي، خوپه ارقامو ولاړې وي. دغه مقالې دمسلکي خبريالانو، قاضيانو، حقوق پوهانو، مسلکي پوليسو اوکارپوهو خلکو اودپوهنتونونو استادانوله خوا ليکل کېږي. په دغومقالوکې دمسلک اړوند هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه دلیکنې ډګرته وړاندې کېږي، چې تنبهي، تبلیغي، وعظي مضمون او محتوولري او خلکوته مثالونه وړاندې کړي. مهمه خبره داده، چې دغه مقالې ټولې ټولنې ته عامه پوهاوی ورکوي، ځکه قضأ هغه قانونمنده ټولنیز نظام دی، چې حقوقي هویت لري دغه مقالې دعامه او فردي امنیت په برخه کې هم معلومات وړاندې کوي؛ ادبي او هنري لوری نه لري، خوعلمي او معلوماتي لوړوالی لري.
قضایي، شرعي، جزایي او په عمومي ډول ټول قوانین او متون ددغو مقالو له لارې خپرېږي. د (افغانستان دعدلي او قضایي چاروپروژه، دجزاقانون، مدني قانون تعدیلات او جنایي قوانین دلنډو معلوماتي مقالو په ډول وړاندې کوي. دلته څومثالونه د (افغانستان په اسلامي جمهوریت کې داستنادوبه برخه کې دقوانینوله مجموعې) څخه څومادې دمثال په توګه راواخلو:
دوه سوه اوه لسمه ماده:
((که چېرې تورن په دعوی باندې له غوره پس اودغونډې له پای ته رسیدلونه مخکې حاضرشي، نوپه دعوی باندې غورډده په مخکې بیرته جاروېستل کېږي.)) (۱۸: ۲۸)
ددغو مقالو ځانګړنې:
۱- دغه مقالې معلوماتي دي.
۲- دغه مقالې تحقیقي وي؛ لکه دحقوق، قضأمجلوکې چې تحقیقي مطالب خپرېږي. (۲۳: ۳۱)
۳- پوهنیز لوری او هدف لري، پند، وعظ، نصیحت هم پکې وي.
۴- قوانین دهمدغو مقالوله لارې خپرېږي.
۵- جنایي مقالې له ارقامو سره ملګرې وي او په ارقامو اتکأ لري.
۶- ادبي پیرایه لري، خو ادبي او هنري نه وي.
۷- دقضأ، ټولنې، افرادو په حقوقي هویت پورې اړوند مطالب انعکاسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- علمي مطالب په دغو مقالو کې انعکاسیږي او دغه علمي معلومات هم مسلکي بڼه او مضمون لري.
۹- ژبه یې ساده وای، پیچلتیا او له ابهام نه لري، خو هرومرو فرضیې او شالونه لري.

**۶- اخلاقي، ديني اوروزنيزې مقالې اوځانګړنې:**

بشر د خپل پیدا ښت له هماغه لومړیو شیبو له اخلاقو او دین سره ملګری پورې کړی، خو په راتلونکې کې د هغوی راتلونکې نسلونه وروزل شي. دا دیانو راتګ عمده عامل د اخلاق سمبالتیا وه. پیغمبر (ص) د خلکو د اخلاقو د سمون لپاره رالیږل شوی دی د ږر ځله اخلاقي، ديني او روزنیزې مقالې تعلیمي هویت لري.
کیدای شي، دورځپانو، جریدو او مجلو له لارې وړاندې شي.
د شکل له پلوه لنډې، په ارقامو ولاړې او مثالونه پکې ډیر راغلي وي؛ له بلې خوا پخوانیو کیسو ته هم اشارې پکې کیږي.
دغه مقالې له اساسه تعلیمي مرام لري او دیو (هدف) پربنا د چاپ ډګر ته راوځي.
په تعلیمي او تحقیقی مؤسسو پورې اړوندې یې (څېړنیزې) وي، خو ډیر اصلاحي نهادونه شته، چې هغوی یې د اړتیاووی له مخې چاپ او خپروي.
که چېرې پخوانۍ او د اسلام د مبارک دین راتګ ابتدایې حالات بیانوي او کیسې یې کوي، نو د تحقیق پر اصولو ولاړوې وي، هرومرو ماخذونه او ارقام هم لري، او که داسې نه وي، او تنبهي هدف ولري، نو بیا د لیکوال معلوماتې او مطالعې پورې اړوند مطالب پکې خپریږي.
دغه مقالې د شکل له پلوه هم وړې او هم لويې وي، خو اکثراً (ډیر ځله) د تبلیغي مقالو په څیر لنډې وي.
د اخلاقي، ديني او روزنیزو مقالو موخه (هدف) د انسانانو د اخلاقو روزل، په نفس باندې د باور پیدا کول او د روح ښکلې کول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**داخلاقي، ديني اوروزنيزومقالو ځانګړنې:**

۱- ډير ځله دعامه پوهاوي لپاره وي او کېداى شي په ورځپاڼو، مجلو او جريدو کې خپرې شي.

۲- پوهه ورکوونکى او فکر روزونکې وي.

۳- دنفسيي تزکې او اخلاقي تنبه (ګوت ښندنې) روحيه لري.

۴- انتقادي او لارښوونکې روحيه پکې زياته وي.

۵- د لوستونکي فکري سطحه پکې په نظر کې نيول کېږي.

۶- دلوستونکو دفکري سطحې او دپوهې اندازې ته په دغو مقالو کې ډير پاملرنه کېږي.

۷- دغه مقالې په آيت شريف، مبارکو احاديثو، ديني کيسو، روايتونو، مثالونو او نوروښو خبرو ښکلې کېږي.

۸- دمضمون ليکنې له پوله په زړه پورې اوزړه راښکلونکې مطالب پکې وي او آن دديني اوعرفي تبليغ اډانه په پام کې نيول کېږي.

۹- دغه مقالې باکيفته وي؛ ددغو مقالو څرنګوالى (کيفيت) اوڅومره والى (کميت) دځلميانو، ځوانانو او نسلونو په روزنه کې نغښتى دى.

۱۰- ددا ډول مقالو سترهدف دادى، چې نسلونه په يوه لوړه انساني، ملي، ديني او اسلامي روحيې سره روزي.

۱۱- خلکو او ځوانانو ته اخلاق، دوروري روحيه، خلکو ته دخدمت او کارکولو اصول ورښيي او داخلاقو سطحه لوړوي.

۱۲- دشکل له پلوه وړې او لوېې وي او دمعنا له اړخه درانه، وزين، په مثالونو او پوهه ولاړ مطالب رانغاړي.

۱۳- ديني او اخلاقي مقالې ترروزنيزو لوې او تحقيقى هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴- اخلاقـي او دينـي مقـالې د يرخلـه علمـي او تحقيقـی اولږمعلومـاتي وي، خوروزنيزې مقالې په تيره د مدرسو او ښونځيو شاګردانو لپاره انځوريزي وي او په ارقام برابرې هم وي.
**۱۵**- د روزنيزو مقالو د ليکلو طرز له (کل څخه جز) ته دی، خو د ديني اخلاقي او په تيـره تحقيقـی مقـالو د ليکلو روحيـه لـه (جزڅخـه کـل) تـه ده. پـه دې معنـا، چې پـه (روزنيزو مقـالو) کـې بـه لـه لـوی مطلـب څخـه لنډه، خـو کره برخـه راا خلـو، يعنـې انتخاب به يکې کوو، مګرپه ديني او تحقيقی مقالو کې (کوجنی مطلب) راسپړل کيږي او تفسيريږي.
۱۶- دا ډول مقالې پو هنيز خصوصيات لري. مضامين پوره ادبي هنري او آن مسلکي هم وي.

= د ديني، اخلاقي او روزنيزو مقالو ځينې بېلګې:
۱- الـف- دلتـه بـه د خواجـه عبـدالله انصـاری رحمـت الله د ډيرپـه زړه پـورې مسـجع نثريوه ښايسته، نمونـه چې لـوړاخلاقي، ديـني هويـت او روزنيزپيغـام لـري؛ دلتـه راوړو:
الهي !
نام تو مارا جواز
ومهر تو مارا جهاز
الهي !
شناخت تو مارا امان
ولطف تو مارا عيان
الهي !
ضعيفان را پناهي
قاصدان را برسر راهي (**۵**: ۱۰۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته نثر دديني او عرفاني مقالو او کتونو نه بېلګه ګڼل کېدای شي.

۲- بله بېلګه به د سعدي د ګلستان، چې دا تم ټولګی دری مضمون، په اووم درس، په (۳۵-۳۲ ) مخونو کې راوړل شوې ده؛ راوړ. په دغه مقاله کې په ژوند کې د ښوونې رول ، فضیلت قناعت او د خبرو دادآبو په برخه کې معلومات راټول شوي، چې له دین ، عرفان څخه تومنه اخلي.

مشرف الدین مصلح د عبدالله زوی، چې په سعدي شیرازي مشهور د دري- فارسي ادب داوومې پېړۍ له ډیرو نامتو شاعرانو او لیکوالو څخه ګڼل کېږي.

د کلام نمونه:

د قناعت د ښېګڼې په برخه کې

یو عجمي ملوک (پادشاه) یو طبیب د حضرت محمد (ص) خدمت ته ولېږه، یو کال د عربو په یوه کلی کې اوسیده، هیڅوک د درملنې لپاره ورته رانه غله.

نوموړی پیغمبر(ص) ته راغی او ګله یې وکړه، چې زه یې د خلکو د درملنې (معالجې) لپاره رالیږلی یم، خو په دومره موده کې ماته هیڅوک رانه غله، هغه خدمت، چې په ما پوردی، هغه پرځای کړم. رسول الله (ص) وفرمایل، دغه طایفه یوه طریقه لري، چې څو یې اشتهانه وي راغلې، ډوډۍ نه خوري او چې اشتهایې وي، ډوډۍ بس کوي. حکیم وویل، دا رښتیا د دوی د تندرستۍ لامل کېږي.

دویمه بېلګه:

د خبرو آداب

مال د ښېګڼې او سوکالۍ لپاره دی، نه دا چې عمر د مال د راټولو لپاره. یو هوښیار و پوښتل: نیکمرغه څوک دی او بدمرغي څه شی ده؟ وویل: نیکمرغه هغه ده، چې وخوري او وکري او بدمرغه هغه دی، چې مړشی او ویې نه خوري.

مکن نماز بر آن هیچ کس که هیچ نکرد

که عمر در سر تحصیل مال کرد و نحسورد (دری صنف ۸، ۳۲مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته دواړه نثرونه دروزنيزنثراودينې ، اخلاقي مقالو لنډی خوښايسته بېلګې دي، چې انسانان ښېګڼې ته رابولي.
ب- دروزنيزو (تربيتی) او تعليمي اومعلوماتي مقالويوه لنډه بله بيلګه:

دخپلواکۍ ورځ
افغانستان په آسياکې لومړنی هيوادو ، چې دنړۍ دهغه وخت له ستر ځواک يا انګريزانو څخه يې خپلواکي ترلاسه کړه. افغان ولس په آسياکې دآزادۍ داتل په توګه وپېژندل شو. نوروولسونوهم ترې دآزادۍ الهام واخيست.
انګريزانو درې ځله په افغانستان يرغل کړی دی؛ خو افغانستان يې په بشپړه ډول اشغال نه شو کړای. دهغوله يرغل سره سم افغانانو دخپلواکۍ لپاره مبارزې پيل کړې. له انګريزانو سره يې درې لويې جګړې وکړې، خو هيڅ کله ښکيلاک ته تسليم نه شول. پرله پسې سختو جنګونو دانګريزانو پوځونه ښه وځپل. په ۱۲۹۸هـ، ش کال کې ، چې دافغانانو دغازي امان الله خان په مشرۍ خپله سياسي خپلواکي اعلان کړه؛ نو دزمری په (۲۸ ) نېټه انګريزانو دافغانستان خپلواکي په رسميت وپېژندله.
اوس هرکال دزمري اته ويشتمه د خپلواکۍ د جشن په توګه نمانځل کېږي. په دې ورځ دافغانستان په ټولواداري واحدونو کې جشنونه جوړېږي. په ځانګړې ډول په پلازمينه (پايتخت) کې دلوی جشن ترتيبات نيول کېږي. په دې جشن کې دګڼو نندارچيانو نندارچيانو په وړاندې پوځي پريتونه ترسره کېږي؛ پرپوځ او پولسيو سربېره دټولنې نورې پوري (درجې) لکه زده کوونکی، محصلين، لوبغاړي، اتڼچيان، بزګران اونورهم په خپل وارخپل هنر نندارچيانو ته وړاندې کوي. دوی ټول دلوژله مخې په ځانګو مراسمو سره تېرېږي او خپلو هيوادوالو ته ددرناوې مراتب وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلواکۍ (د پردو تسلط) پر ضد مبارزه د انسان په ختهه کې اغږل شوې ده. له هیوادسره مینه، د خپلواکۍ اوآزادژوند احساس دافغان ولس ستره ځانګړنه ده.
فضل احمد خان غرافغان وايي:

واورئ اې په مخ د ځمکې اوسیدونکو
له آســمانه چې آوازراځي دځه دی؟
دآازدژوند یــو ساعت په حقیقت کې
دغلام دهمیشه ژوندون نه ښه دی

خوشحال بیادآزادی مقام له پادشاهۍ هم لوړګڼي؛ لکه:

آزادي ترپاچاهیه لاتیـــــــــــــــرې کا
چې دبل ترحکم لاندې شي زندان شي

نومیالي لیکوال، سیاستوال او شاعرشهید موسی شفیق بیا وایي:

عشق دخپلواکۍ مې په سینه کې په هاهاوي تل
پاک مې احساســــــات آزادي مې تمناوي تل
ماسره چې نــــښلي بدبختي دهغه چاوي تل

سید شمس الدین مجروح بیابلوسګرګرانبوی او خپل غرور داسې څرګندوي:

ټیټ مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه
زه پدې افتادې افتادګۍ کې لوی ګړنګ یم؟ (۳ : ۵۰، ۵۱)

**۷- طنزیه (فکاهیه) مقالې اودهغوځانګړنې:**

سکوندنې (طنز، هزل، مطایبه اوفکاهیات یوه معنالري. طنزیه یافکاهیه مقالې یو (ټولنیزمطلب په داسې خوندورو الفاظو کې رااخلي، چې هم خندونکې وي اوهم ملنډې وهونکې)

طنز؛ دهجوې له ډولونه څخه دی، خو له هجوې سره یې توپیر په دې کې دی، چې دهجوی تیزی اوصراحت په طنز کې نشته، په طنز کې ډیر ځله اصلاح طلبانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ټولنيز مقصد ونه دی، په داسې حال کې، چې هجو خصوصي لوری لري.
طنز د چا او يا شي د مقام ټيټ راوستل دی، په داسې شکل چې د خندا او سرګرمی وړ وګرځي او کله هم تحقيرپکې وي. هزل ټيټ ټينګ (رکيک) او غير اخلاقي دی او تفريحي جنبه (لوری) لري.
فرهنګي کره کتونکی طنز په دوو ډولونو رسمي (   ) يا مستقيم (   ) او غير رسمي (   ) ويشلی دی.

- په مستقيم طنزکې، لومړی خبرې کوونکی شخص دی، په نيغه توګه له لوستونکي سره خبرې کوي.
- په غير مستقيم طنز کې د اثر رامنځته کوونکی يا قهرمانان، خپل ځان او خپلو باورونو باندې ملنډې وهي.

طنز خندا پارونکې کلمې دی، چې د انساني اروايي حالت سره تړاو لري، د الفاظو هغه ډول آرايش دی، چې لوی تريخ واقعيت په زربفتو کې رانغاړی او په لنډه توګه يې خلکو وړاندې کوي.
ډاکتر سيروس شميسا وايي: ((طنز په فارسي ادبياتو کې د نظم او نثر په توګه موجود دی...))
(۲۵: ۲۵۰)
ترهغه ځايه، چې ماته به شوې او ما مطالعه کړی، د طنز په چوکاټ او دايره کې ټوکې او ملنډې هم راځي. فکاهيه او آن ځينې خندا راوړونکې لنډې کيسې هم پکې راځي.
طنز، ټوکې او ټکالې په عامه توګه سره د تفريح او آرامۍ د احساس او خوندلپاره ويل کېږي، خو اصلاحي جنبه هم لري. ستيفن باور او عقيده درلوده: ((طنز، ټوکې او ټکالې د ژوندانه د لوړ ژور و هنرمندانه شعور دی، چې هنرمندانه ځرګندونه پکې وشي.)) (۳۷ : ۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



طنزته (مزاح) هم وايي. د طنز او ټوکو ښکنه داده، چې هغه د ټولنيز بنسټ په کلکوالي کې مرسته کوي، خو کله طنز ويل خطرناک هم وي او هغه دا چې په توګه واوري او د جانب مقابل د شخصيت کم راوستل يا سپکاوی پکې مطرح وي.
سرمحقق عبدالرحيم ځدران په دغه برخه کې ډيرې زړه پورې مطالب ويلي؛ نوموړی وايي: ((هغه ځوګ، چې منل شوي ارزښتونو ته په بې اعتنايي سره ګوري، نو بيا د ټوکمارو د ټولو او طنز ويونکي ترسکونډونو لاندې راځي. په دې توګه سره وينو، چې ټوکې ټکارلې په آسانۍ سره اجازه نه ورکوي، چې په يوه کلتوري او ژبني ساختمان کې شامل کسان يې د حلقې څخه ووځي او د غه جوړښت ته دې تاوان ورسيږي. په دې برسيره خندا په يوه ټاکلي اجتماعي جوړښت کې د ننه کلتور د پرديو مضرو او نا مطلوبو عناصرو څخه هم تر يوه حده پورې ساتي.
د طنز، ټوکو او ټکالو تاريخ د انسان د تاريخ سره تړلی دی. دا د يوې ورځې او يوه شخص محصول نه دی، د تاريخ په اوږدو کې زيږدلی او وخت په وخت پکې زياتوالی راغلی دی.
دا د ټولنې ګډ مال دی. په ژبه او بيان کې په شعوري او غير شعوري دواړو صورتونو کې کومېډي عناصر پيدا کيږي، چې البته د غه کوميدي عناصر په مختلفو ډولونو سره ويشل کيږي؛ لکه: طنز، کنايه، رمز، تحريف، ظرفيت... او ټوکې.)) (۱۴ : ۳۱)
دلته به د ټوکو يوه بيلګه راوړو:
زه د ده د خدای پامانۍ لپاره تللی وم
يو شاګرد له خپل ټاکلي وخت څخه ناوخته ښوونځی ته راغی، نو په ټولګي کې ترې ښوونکي پوښتنه وکړه. بلانی جانه ! ولې ناوخته راغلې؟ شاګرد په حوصله سره ښوونکی ته ځواب ورکړ، صاحبه ! زه خوب وړی وم او په خوب کې مې ليدل، چې خارج ته روان يم، ځکه ناوخته شوه. په دغه وخت کې يو بل شاګرد هم د ټولګی ته ناوخته راغی، نو کله يې چې د هغه څخه پوښتنه وکړه، چې زلميه ته څه بهانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري؟ هغه ځواب ورکړ صاحب !زه په خوب کې ترهوایی میدانه پورې دده خدای په امانۍ لپاره تللی وم.
دټوکو نثرخوړاوله معناډک وی. په ټولوکې نتیجه په وروستیو کرښوکې نغښتې وي، دټکونتیجه خندونکې وي.
دطنزنثرپه دې وروستیوکې مروج شوی دی اونن سباپه نړیواله کچه طنزویل کیږي اولیکنې ډګرته یې لارموندلې ده. دټوکوتوپیرله طنز سره داده، چې دټوکوموضوع ډیر کرت عیني وي، مخامخ اوخوله په خوله اویا د فکاهي په ډول دبل په آدرس ویل کیږي؛ خوطنز کېدلای شي طبیعي کیسه اوپیښه نه وي، دیولیکوال یاشاعرله خواجوړه شوې وي.
طنزیوه محتواده، چې په یوه کالب کې نغښتل شوې وي. په نړیوالو او زموږ پښتو ادبیاتو کې طنز په منظوم او منثور ډول موجود دی.
دلته به دنړۍ یاترکي ادبیاتودیوطنز لیکونکی لږمعرفي اودکلام یوه برخه راواخلو:
عزیزنسین دترکې اونړۍ یوله مشهورولیکوالو، شاعرانواوطنز لیکونکو څخه دی، چې ډیرلنډ داستانونه یې ویلی دی. عزیزنسین (۳۷) جلده کتابونه لري.
نوموړی لیکي... تاسوکولای شئ زماپه لیونتوب هغه وخت پوه شئ، چې زه دترکې په هیوادکې په لس کلنۍ دلیکنولیوال شوم، هغه وخت زموږ په کورنۍ کې په لیکلواولوستلو قادرنه وو.
کله چې مې پلار زماله کاره خبرشو، نودپلرونوپه خیریې ماته وویل: ((زویه اله همدااوسه کوشش وکړه، چې خپل استعداد له همدا اوسه په کاروا چوی، ځوپه راتلونکې کې ترې یوه مړۍ ډوډۍ وخورې، که له مااورې، شاعري اولیکوالي یوخواپریږده، چې ټول عمرپه زوریږې اوپه ژوندکې به مجروح اوسرګردان وې.
بدبختي داوه چې تراوسه مې لاقلم په لاس کې نه واخیستلای، چې عسکري لسیې ته یې واستولم. دعمرپه اوږدوکې مې چې څه غوښتل هغه مې ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشو کړای او چې څه مې وکول هغه مې وروسته خوښ نه کړل، په داسې حال چې ماغوښتل ليکوال شم، سرباز شوم. علت يې داوه، چې په هغه وخت خوارانو او غريبانو يوازې کولای شواي په عسکري ښوونځيو کې درس ولولي؛ په پای کې يې له ماڅخه يو عسکری افسر جوړ کړ، خوشبېر کاله په هغه زندان کې وم اوترې راووتم او د خپل زړه کار (ليکوالی) مې پيل وکړ.
په پيل کې مې په شاعرۍ پيل وکړ؛ خو د دې لپاره چې شعر ته په ډېر درنښت قايل وم، و مې نه غوښتل هغه خراب کړم، بيا مې د رومان ليکلو باندې پيل وکړ، نو اول مې خپل داستان وليکه، او يوې ټولنې ته مې وسپاره. مسوول مدير د هغه له ويلو وروسته د دې پرځای چې پرنګ پرنګ وژاړي، په کړس کړس وخندل او وويې ويل.
آفرين پرتا بيا هم د غسې داستانونه ماته راوړه...دا ډول نا اميدي او ترهه او س راسره ده او له ياده مې نه ده وتلې. هغه څه مې چې د خلکو د ژړېدلو لپاره ليکلي، هغوی يې وخندول او په دې ډول يې زه فکاهي نويس (ليکونکی) معرفي کړم؛ خو اوس هم، چې ډير کلونو تېرېږي او کېږي، په رښتيا نه پوهېږم، طنز ليکنه څه شی ده؟ (**۵۲**مخ) دری **۸**ټولګې)
((طنز)) عربي کلمه ده، لغوی معنا يې ناز او کرشمه، پيغور، مسخره کول او سرزنش کول او په اصطلاح کې يو ځانګړی ادبي ډول دی، چې د پېژندنې لپاره يې بيلابيلو ادبياتو او څېړونکو بيلابيلې توضيحي او تشريحي څرګندونې کړې دي... او همدارنګه طنز هغه وينا ده، چې ټولنيز فساد او نادودې پکې راځي، يا داچې:
طنز له ادبي پانګو څخه يو ژانر او د ليکنې ځانګړې لاره ده، چې اصلي مقصد پکې انتقاد دی، خو دا انتقاد د شوخۍ، ريشخند او تمسخر په جامه کې نغښتې وي، د وينا لحن او انداز يې په زړه پورې د ټوکو ټکالو په بڼه وي او مسايل پکې زياتره وخت سرچپه او (معکوس) مطرح کېږي. طنز په ادبي اصطلاح هغه نثر يا شعر دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په تمسخر سره په ټوله کې دوګرودنادودو، ناوړه کړنو، اخلاقي فسادونو، نیمګړتیاوو او کمزورۍ ښوونه کوي.)) (۳۸: ۲۷۱، ۲۷۲)
اوس څرګنده شوه، چې (طنز) یو معنایي فورم دی، نه شکلي. طنز لکه کیسه یا مثنوي یا لنډۍ ځانګړی کالب نه لري، بلکې منظوم او منثور وي.
زموږ اصلي موخه د طنز معرفي نه وه، کنه نو لازمه وه، د طنز په تعریفونو، ډولونه، تاریخچې، د طنز په لیکوالو او ځینو بیلګو رڼا اچولې وای. زموږ په (طنزي یا فکاهیه) مقالو غږیږو.
طنز په مقالې د شکل او معنا له پلوه ډیر ډولونه لري؛ اوږدې او وړې، کیسه یې، ډرامې ته ورته، فلمي، ادبي ټوټې، داستان، او رومان ته هم ورته وي.

**د طنزي مقالو ځانګړنې:**

۱- دغه مقالې له لنډو پیلیږي تر اوږدو.
۲- په هر طنز کې یو هدف نغښتی وي.
۳- طنز کله انتقاد ته هم ورته وي.
۴- د طنز معنایي پانګه زیاته وي.
۵- د طنز ژبه ساده، له معنا ډکه، خو سکوندونکې وي.
۶- طنزي مقالې ذوقي لاری لري؛ اروایي اغیزې یې پرنورو زیاتې وي.
۷- طنزي مقالې غیر تحقیقي وي، یعنې هو به هو دبل چا نقل قول نه را اخیستل کیږي.
۸- د طنز مضمون له اجتماع را اخیستل کیږي او بیرته اجتماع ته وړاندې کیږي.
۹- طنزي مقالې لکه (نکل) یو ښه پیل لري.
۱۰- د طنزي مقالې ټوله نتیجه د مقالې یا وینا په پای کې له خندا سره یو ځای ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- طنزي مقالې په الفاظو کې جادو خپروي، پوهه ورکوي او د کار نتیجه اظهاروي دلته به د (طنز) یوه بېلګه راواخلو، چې همدا د نثري طنز (مقالې) نمونه ده. د دغه بېلګه په (ننګيار ناآشنا) پورې اړه لري؛ دا يې هم کلام:

زيارت

تاسو خوبه پوهېږئ، چې زيارت زموږ په هيواد کې د احترام ځای دی، په تيره د ښځو لپاره. زيارت ته د ښځو تګ د ډیرو ديني علماوو په نزد ناروا عمل دی، خو په چا يې منې؟!

زيارت ته ډير خلک د دعا کولو لپاره ځي؛ ځينې بيا د تفريح او ساعترۍ لپاره په هرصورت خلک پوه شه او کاريې. که د دعا لپاره ځي او که د ساعترۍ، زموږ پرې کار نشته خو را به شو اصيلي کيسې ته.

د چهارشنبې ورځ وه، په زيارت کې ښه ګڼه ګونه وه، ښځې او ترټول راغلې وو. زه هم د دعا لپاره نه، بلکې د بد دعا لپاره تللی وم، ترڅو په زيارت کې هغه ډاکټر ته چې زما دزوی په درملنه کې يې هيڅ کوښښ نه وکړی او د همدې ناپوه له امله مړ شو، ورته ښې ډيرې ښېرې او بد دعاوې وکړم او له خدايه د دغسې بې پروا او ناپوه ډاکترانو دورکې خواست وکړم او د غه زيارت ورته شفيع کړم، ترڅو مې دعا ژر قبوله شي.

ما همدا سې وکړل او په ډيرې عاجزۍ د قبر د پښو خواته و دريدم او په زوره زوره مې ښېرې پيل کړې، د خپلو ښېرو په ترڅ کې خبر شوم، چې يو بل څوک هم دعا کوي او داسې وايي: خدايه! ته د دې نازولي په روی دومره ناروغان راولې، چې پسې ونه شم رسيدای! خدايه ته په دې وران هيواد کې داسې ساري ناروغي پيدا کړې، چې نه واړه پريږدي او نه زاړه او له يوې مخې پرې اخته شي.

خدايه ته خو مووينې، چې نه تنخواه شته او نه کوپون او ټول ژوند مو په همدغه فيس پورې تړلی دی. د کور کرايه، د کتنځې کرايه او نور ټول لګښتونه له همدغه فيس نه ورکوم، نو که ناروغان نه وي، دغه د فيسونو پيسې به له کومه کيږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پورته مې وکتل ، ماته مخامخ د قبر سرته هماغه ډاکټر
ترولاړ دی، چې له لاسه يې دلته راغلی وم او بد دعا مې کولې.
نابېره مې يوه چيغه له خولې ووته، وه زيارت بابا ! نيسته يې، همدی دی، هماغه
دی.
هماغه چې تا ته مې شکايت ترې کاوه. مه يې پرېږده... مه يې... (۳۴: ۳۰۸ )
لنډه دا چې طنزي ليکنه د تحقيقي يا نورو مقالو د نثر په څېر څېړنيز جوړښت نه لري،
خو هره ليکنه که لويه وي، يا وړه يو قول او مقاله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷-۵- داووم ځپر کي دمطالبولنډيز:

=مقاله دليکوالۍ يوغوره اوعمده ډول دی، چې دليکوالۍ په دنياکې له ډېر پخوا اتراوسه روا لري اونن سبايي اخبارونو، اونيزو، مجلو، کتابونو، نيټ، فس بوک، يوټيوب، اوواييبر اوبلاخره ټولورسنيوته لار پرانستې ده.

= په پښتو - انګليسی قاموس کې (مقاله يامقالې) ته (Essay) يا (Article) ويل شوی اوسرمقاله (Editorial) وايي.

په انګليسي- پښتو قاموس کې مقاله، بند، بحراني شيبه (Erticle) برخه، ماده، بيله فقره، بيله اصطلاح، جلاموضوع دمجلې، ورځپاڼې انسايکلوپيديا (ګڼ) هم ته ورته وايي.

= فرهنګ عميد، دويم ټوک کې: (مقاله، مص، مقاله م ل سخن ګفتن (ګفتار، سخن) يک قطعه يافضل ازکتاب، يک مطلب که تحت عنوان معيني نوشته شده باشد، مقالات جمع.

= په پښتوژبه کې (ليکنه) (لويه ياوړه) جمع يې ليکنې اومعتبره ليکنويا هغه ليکنه، چې تريوتاکلي سرليک لاندې په يوه برخه کې ليکل شوې وي مقاله (مفرد) اوجمع يې (مقالې) هم راځي. مقاله لويه اووړه وي اوکيدای شي هرډول مضموم ولري. مقاله ليکنه دليکوال کاردی اودا کاريو پياوړی مسلک دی.

= مقاله (Thesis) له (مقاله) (Essay) يا مونوګراف ياپايليک يارسالې (Treatise) سره توپير لري، دلته زموږ هدف (Essay) ياهغه مقاله ده، چې دليکوالۍ په ډګرکې لرغونی تاريخ لري؛ شکل اومضمون له پلوه (وړه يالويه) وي؛ مضمون يې په نثروي؛ غوره اوآسانه اسلوب يې دادی، چې د (يوې ځانګړې موضوع څخه بحث کوي اويوفکرتبلغوي. دغه ډول مقالې (تريوه عنوان لاندې يوه وړه يالويه موضوع رانغاړي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



= ډوکتور سیروس شمسیا په (انواع ادبي) کې د مونوګراف او تیزس توپیر کړی؛ لکه: مونوګراف هغې رسالې ته ویل کېږي، چې یوازې پر یوه موضوع په مفصله او مشرحه توګه ولیکل شي.
مقاله (Thesis) په ځانګړې توګه هغه لیکنې ته وايي، چې د یوه علمي سند په توګه یې د علمي سند هیله من لیکي، مګر په عام ډول نه لیکل کېږي. به عامه توګه مقاله (Essay) په نثر لیکل کېږي.
= ډوکتور احمد شبلي په خپل اثر (کیف تکتب بحثا او رسالة) کې د مقالې تعریف داسې راوړي: مقاله هغه بشپړ رپوټ ته وايي چې کوم څېړونکي یې د خپل بریالی تحقیقی کار تر سرته رسیدو وروسته وړاندې کوي؛ په دې شرط، چې د غه رپوټ د مطالعې ټول پړاوونه احاطه کړي، یعني د موضوع په اړه د لومړنی فکر کولو څخه بیا له څېړنې څخه تر لاسه شویو پایلو پورې د دلایلو او اسنادو په رڼا کې هغه ترتیب، تدوین او وړاندې کړي.
= عبدالمالک همت په خپل کتاب (د مقالې لیکلو اصول (۹ مخ) کې د مقالې او رسالې توپیر داسې کوی.... مقاله لیکلی مضمون، د معلوماتو مفصل مضمون د کتاب یوه برخه، د کتاب باب یا فصل ته وایي او... رساله وړه وړه مجموعه وړوکی کتاب، چې دریاب او فیروز اللغات په اردو ژبه کې مجلې ته رساله وایې او د ځوتنو لیکوالو د مضمونونو ټولګه چې پر ټاکلی مهال خپرېږي.
دریاب قاموس لیکي، قول، لیکی مضمون، کتاب، حصه، د معلومات مفصل مضمون (عربي).
رساله (ر-سا-له) اسم، واحد، مؤنث، وړه مجموعه، وړوکی کتاب ۲ لیک، مکتوب. د سورو (سپړو) یوه ډله، یا یوه قطعه جمع رسالې.
= عبدالحق بیتاب د ثروت جریده کې لیکي: مقاله منظم کلام دی، چې د لیکوال په فکر پورې اړه لري... مقالې د موضوع له پلوه په درې ډوله دی:
(قصیصه وصفیه او فکریه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



= مقاله هغه ليکنه ده، چې نه کتاب وي او نه کتابچه (رساله) بايد په څو پاڼو کې خلاصه شي؛ له هغه وخته چې ورځپاڼې او مجلې پيدا شوې دا ډول ليکنې د مقالې په نامه يادې شوې. مقاله کله اوږده او کله لنډه وي.

= د مقالې ليکوال بايد پاملرنه وکړي که ليکنه يې لويه ياوړه وي بايد د ليکوال تيزس به پوره ډول بيان کړي. مقاله بايد داسې وليکل شي چې د مطلب حق ادا کې او څه شی ورکې ناسپړلي پاتي نشي.

= مقاله لکه ګزارش (رپوټ) کېدای شي خطابي لوری ولري، په دې وخت کې لازمه ده ليکوال د خپل قلم د ځواک او نوښت له برکته نو موړی ياد پام وړ موضوع ښه راوسپړي، يعنې داسې يې وليکي، چې په پای کې ترې مفهوم واخلي.

= هغه وخت يوه مقاله پر لوستونکي اغيزکولای شي، چې د موضوع له پلوه غنی وي او اصلي مطلب يې په نوی ډول بيان کړی وي.

= رساله د شکل له پلوه له مقالې لويه وي، مقاله يو قول دی، يوه لنډه ليکنه هم احتوا کوي، خو رساله د مقالې تفسيرشوې بڼه او شکل دی؛ آن مونوګراف رساله بللای شو.

= فيروز اللغات وايي: رساله؛ د څو تنو ليکوالو د مضمونونو له مجموعې څخه عبارت ده، چې پرتاکلې موضوع خپريږي؛ لکه دادبياتو هدف څه دی؟

= مقاله کېدای شي رسمی او غير رسمي وي؛ رساله په رسمي مجلو او مقاله په شخصي اورسمي مقالوکې.

= مونوګراف؛ مونو (يو- يوه) ګراف موضوع، ليکه (موضوع) يعنې مونوګراف يوه موضوع، چې تريوه عنوان لاندې ليکل کېږي. موضوع عموماً هدف لري او بې هدفه نه وي.

= يو مونوګراف له د غو عمده برخو جوړيږي: (عنوان، سريزه، متن، نتيجه او ماخذونه... همدارنګه ځينې نوروا ړه عنوانونه هم شته... د مونوګراف ماخذونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید کتابونتوني، مرکې، ساحوي او سایټونه وي، لړترلړه د ماخذونو شمیر باید له (۵ یا ۸) کم نه وي او تر ۱۲ یا ډیروپورې هم وي.
= عبدالمالک همت مونوګراف هغې رسالې ته وایې، چې یوازې پر یوه موضوع په مفصله شرح ولیکل شي. یعنې مونوګراف او رساله یوه معنی لري. (مونوګراف هغه رساله ده، چې د مفهوم له پلوه بشپړه معنا افاده کړي او تر یوه عنوان لاندې کېدای شي څو بیلابیل واړه عنوانونه راشي.
= د مقاله لیکلو سوابق له ډیرپخوا مروج و. مقاله خو یوه عربي کلمه ده، مګر نه عربي کې پردۍ ده، نه زموږ په ژبه او ادب کې. دغه کلمه له ډیر پخوا هم د کتابونو د بابونو یا فصلونو لپاره مستعمله وه؛ لکه د اقلیدس ته منسوب کتاب پر (۱۵) مقالو ویشلی دی.
= د ابن ندیم (الفهرست) پر لسو مقالو او د نظامي عروضي سمرقندي (مجمع النوار) پر څلورو مقالو ویشلی دی او د علامه عبدالحی حبیبي، (شل) مقالې، د پوهاند نورشاد (لس مقالې) او د اروا ښاد صدیق روهي (ادبي څېړنې) د یادولو وړ دي.
= د مقالې د لرغونتیا په برخه کې ډکتورعزیز اسماعیل لیکي: د مقالې کلمه په عربي ادب کې د غنې دالالت له مخې نوې بااله شي. حقیقت دا دی، چې په عربي کې د مقالې تاریخ د ورځپاڼې لیکلو په تاریخ اړه لري او د غه تاریخ په عربي ژبه کې تر یوې نیمې پیړۍ زیات او ږد والی نه لري.
کله چې اروپایي ادب په عربي ادب ګډو، دغه کلمه زموږ ادب ته راننوتله.
= (Essay) کلمه د لومړي ځل لپاره په (۱۸۵۰م) کال فرانسوي مدافع وکیل مونتېین... په ۱۵۳۳م- ۱۵۹۲م استعمال کړه.
= سیروس شمسا لیکي؛ مقاله نویسی له ډیر پخوا مروجه وه، په (یونان) کې (پلوتارک) او په (روم) کې (سیروو سنکا) په دغه فن نامتوول خود مقالې پېژندل دیوه ادبي ډول (ژانر) په توګه په دوو وروستیو پېړیو اړه لري. لومړی ځل لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسوي مونتېين د مقالو ليکل په رسمي توګه دود کړل او په (۱۵۸۰م) کال يې خپلې مقالې خپرې کړې.
= په ايران کې هم مقاله ليکنې له ډېر پخوا رواج درلود ، خو هغې ته يې رساله ويلې.
په افغانستان کې د فني مقالې لیکنې عمر تر سلو کالو ممکن ورسيږي. مثال شمس النهار اخبار د امیرشیرعلی خان او سراج الخبار د حبیب الله خان په وخت کې د محمود طرزی په لاس خپرې شوې. علمي او ادبي مقالې ليکنې خود شلمې پېړۍ په دريمه او څلورمه لسيزه کې اوج ته ورسيدې او په ډېرښه ډول يې دوام ومونډ او کتابي بڼه يې وموندله؛ د علمي مؤسسه له خوا په علمي ادبي جملو کې د مختلفو ليکوالو او استادانو له خوا ليکل شوي او فني او مسلکي قوت يې وموند.
= زموږ په هيوادا او ټوله اسلامي نړۍ کې د غه انقلاب (مقاله ليکنه) د نولسمې پېړۍ له دويمي را په دې خوا د علامه سيد جماالدين افغاني او محمد عبده رحمته اله او د هغو شاګردان ول.
= په نړيوال ډګر کې؛ سيسرو سنکا د ليکوالو په نامه يادېده، خو ديوژانر (ادبي ډول ) به د مقالې تشخيص په وروستيو پېړيو پورې اړه لري.
= دلو مړي ځل لپاره فرانسوي ليکوال مونتني، په رسمي ډول مقاله ليکنه مروجه کړه او په (۱۵۸۰م کال کې يې (Essay ) وليکې. فرانسيس بيکن هم په همدې پېړۍ کې په انګلستان کې مقاله ليکنه پيل کړه.
= په نولسمه پېړۍ کې (مجله ) راغله؛ د مروجو ادبي ډولونه ياژانرونو څخه وګڼل شوه.
= په لويديځ (غرب ) کې د جورج اورول، واى، م فورستر او جيمزتور معرفي کړي.
= علمي- تحقيقي مقاله د تحرير او ليکنې په کارکې لکه علمي مقالو غوندې له وچو ادبي کلمو سره نه وړاندې کېږي؛ پکې تخيل او احساسات نه ځاييږي. علمي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحقیقي ابداعي ځانګړنې نه لري، خو تازه او نوې موضوعګانې خلکو ته وړاندې کېږي.
= علمي تحقیقي مقالې جوړښتي توکي (عناصر) هم لري؛ لکه: (عنوان، لنډیز (چکېده)، اصلي یا کلیدي کلمې، سریزه، دمقالې متن نتیجه ګیري او دماخذونو فهرست.)
= لنډیز (چکېده) دمطلب اوج او دمقالې دمحتوا خواږه (لب الباب) بیانوي او دشکل له پوله له پنځو تر اتو کرښو زیات نه وي او د مقالې محتوایی جوړښت بیان کړي او فرعي عنوانونه یاد کړي.
= دمقالې په سریزه کې دمقالې ارزښتونه بیانیږي، چې په استدلال او قناعت بښوونکي توګه وړاندې شي. دموضوع کول او غوره کول داسې کاردی، چې په مقدمه کې بیانیږي، هدفونه، دموضوع تاریخچه او دکارچلند په مقدمه کې کار کېږي.
= دمقالې متن دتحقیقي مقالې دجوړېدو اصلي برخه ده، نو په دې اساس په ښو، متینو او وړ عبارتونو، دګرامرله اصولو او دورځې په ژبه ولیکل شي. دمقالې متن باید دمحتوا له پلوه تحقیقي وي، یعنې دنورو خبرې اترې، مناقشې او څېړنې رانغاړي.
= دمقالې متن ډیر ځله له ګڼو سرلیکنو جوړیږي. دعنوانونو زیاتوالی (تعدد) مقاله له سترې کوونکې حالت له یوډول والی ژغوری.
= دمقابلې پایله باید لنډه، جامع وي، په دې معنا چې دمقالې محصول په ساده او راکاړلې ژبه لوستونکو ته وړاندې کوي. دمقالې دنتیجې اخیستنې، دټولې په حجم پورې تړلې دی.
= ماخذونه په متن او دمقالې په پای کې معرفي کېږي.
ماخذونه اوس په دوه، درې ډوله بابریږي:
۱- متن اولمن لیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- يوازې کتاب، ليکوال او مخ
۳- په متن او پای کې

= د مقاله ليکنې پړاوونه په لاندې ډول دي.

الف- د ليکوال فکري لاري او مخکينۍ اطلاعات. د ليکوال د ټولو اختصاصي اطلاعاتو لپاره سرچينه، چې د ليکوالې اصول د مطلب دا دا طرز او نورېکې راځي.

ب- په يوه موضوع تمرکز، د مطلب شرح، د فهرست ليکل، اطلاعاتي منابعو پورې اړونده ستونزې بايد سرته ورسول شي.

ج- د مطلب راټول، ياداشت اخيستل هغه څه چې په ذهن کې دي د هغو سنجول، د تجربې مرکو، د افکارو تبادله، مطالعه او فکر په دې کارکې رول لري.

د- ارزونه او ټاکنه، د منتخب اطلاعاتي واحد برابرول (يعنې د مقالې د ليکلو لپاره بايد مخکې له مخکې معلومات او ماخذونه راټول شي او مطالعه وشي، آن تجزيې هم ورسره شريکې شي.)

هـ- د مقالې طرحه، جزئيات او ټول مطالب، ترتيب، وړاندې و ليکل شي. او د غسې تر (ط) پورې.

= مطبوعاتي مقالې هم مهمې وي؛ مطبوعات په يوه هيواد کې په عمومي ډول فکري ستون بلل کېږي او په خصوصي ډول د ژورناليزم په مسلک پورې اړوند دي. دورځپاڼو، جريدو او مطبوعاتو مقالې د يوه هيواد د خلکو دورځينې، علمي، ادبي، سياسي نظامي ژوندګڼ اړخونه انعکاسوي.

= د مطبوعاتو مقالې لاندې نومونه لري:

اساسي مقالې؛ دورځپاڼې، جريدې يا مياشتنۍ اساسي او فکري مقالې وي، چې تيوريکې او ګزارشي موضوعات پکې وړاندې کېږي تحليل پکې وي.

= په مطبوعاتي مقالو کې سرليکنه (سرمقاله) دورځپاڼو او جريدو هويت ټاکي، ځکه له نورو مقالو لنډې، مهمې او دورځپاڼو او جريدو پاليسي ټاکوونکي هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



= مسکين علی حجازي ليکی؛ دامهال دلويوورځپاڼو په ادارو کې هغه څوک د سرليکنې ليکلو ته ګمارل کيږي، چې پربيلابيلو علومو پوه وي، خو کېداى شي په هروشلوکسانوکې يوتن دې داکاروکړاى شي.

= مسکين حجازي ليک د سرليکنې لغوي معناء مديرليکنه او د مدير د نظرڅرګندولودى، خو په عامه توګه له دې څخه موخه هغه ليکنه ده، چې د سرليکنې پرمخ دورځپاڼې يارسالې تر نامه لاندې چاپيږي.

= د مطبوعاتي مقالو ځانګړنې دادي، چې دورځې مطالب خپروي بايد تازه او بکرموضوعات ولري. د نشرورو موضوعګانې يې د ژوند د بيلابيلو اړخونو انعکاس وي.

= بله عمده ځانګړنه يې داده، چې ادبي صنايع او لفظي پيچلتيا پکې نه وي، ساده ګې لري. اصلي مطلب په لنډو او ساده الفاظو کې وړاندې کوي.

= بل خصوصيت يې دادی، چې ورځنۍ پېښې يوله بله تړلې او د يوې موضوع بيلابيلې برخې تحليلوی.

= د سرمقالې په تعريف کې يو معاصرامريکائي ليکوال په خپل اثر (ايديتوراوليکوال) کې ليکي: سرليکنه په شعوري او اړوند شکل د ورځپاڼې د غوښتو د وړاندې کولو نوم دی، يا سرليکنه پرروانو پيښو د ورځپاڼې نظردی.

= ميکن لريزپه وينا: سرليکنه پرمهموورځنيو پيښو د تبصرې کولو نوم دی. سرليکنه د هغې ژورنالستيکي ليکنې نوم دی، چې په هغه کې داداري له لوري دلوستونکو د لارښوونې په موخه چارې ، مسايل روښانه شوي وي.

= د سرليکنې د مخ موضوعات (پردې مخ له مقالې پيلامې او يادښت سربيره نورشيان هم چاپيږي. او سنی نظروالان ظنر لري. د سرليکنې د مخ موضوعات په درې ډوله دی:

۱- سرليکنه او شذرات (يادښت)

۲- راغلی ليکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- پرمهمو پيښو يوه يا له يوې ډيرې ليکنې له دې سربيره پردې مخ دورځپاڼې نوم هم چاپيږي.
د سرليکنو مخونه ځلوربنسټيزې برخې لري:
۱- سرليکنې
۲- پر روانو پيښو تبصرې
۳- راغلې ليکونه
۴- د منتخبو لنډيزونو ، کتابونو ، رسالو يا نورو ورځپاڼو اقتباسونو او نور.
= ورځپاڼه موخې هم لري:
۱- د معلوماتو خبرتيا او خبرونو برابرول
۲- پر خبرونو تبصره کول يعنې پرروانو پيښو خپل نظر ورکول
= سرليکنه ځانګړنې هم لري:
۱- ژبه يې ساده او روانه وی، داسې، چې هرلوستونکی پرې پوه شي.
۲- له نقل قول او علمي مصطلحاتو څخه لږه ګټه پورته کېږي.
۳- تحليلونه ډير ځله دليکوال د تفکرمحصول وي، خو دغه تحليل له ور سره مخ شويو پيښو څخه کوي.
۴- سرمقاله بايد له يوه مخه ډيره نه وی.
۵- علمي او ادبي اصطلاحات پکې لږوي.
= اقتصادي مقالې اقتصادی اصول ، برياوې، ناکامۍ او پرمختګونه خپروي.
دغـه مقـالې مسـلکي وي پـه ورځپاڼو او جريـدو کې دغـه مقـالې لکـه دنورو برخوغوندې جلا او ځانګړې ليکوالان لري: ددغو مقالو د مضمون کيفيت پـه ارقامو کې نغښتی وی، ارقام بايد ددقيق او له اصلي منبع سره کتل شوي وي.
= قلم دليکوالۍ په ډګرکې ځای ورو ورو کمپيوټرته پرېږدي.
پـه کمپيوټرکې د سايټونو له لارې پـه انټرنيټ کې مقالې خپريږي او هـرډول لـوی او واړه، علمي ذوقي، ادبي هنري، اقتصادي او معلوماتي مطالب خپريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



= انټرنيټ په نړيوال، خو په تيره زموږ په مطبوعاتو کې نوې خپرنيزه پديده ده... دغه تخنيکي وسايل له (۱۳۸۰ هـ ) کاله را په دې خوا زموږ په هيواد کې د استعمال وړ ګرځي او خلک ورسره روږدي کيږي.
= کابل پوهنتون کې په (۱۳۸۸هـ) کال کابل کمپيوټر ساينس پوهنځی نوی جوړ شو، چې هدف يې هيواد ته د کمپيوټر کارانو تربيه کول و. زموږ مطلب دا دی، چې د ليکوالۍ فن د تعليم تر څنګ د کمپيوټر لوری هم خپلوي او نوي انټرنيټي ويبسايټونه پيدا کوي.
= علمي خبرنيزي او تحليلي مقالې په ورځپاڼو، داکاډميکو مؤسسو په نشراتي مجلو او سايټونو کې خپريږي. علمي خبرنيزی او تحليلی مقالې د يو فرد، افرادو، مسلکي او علمي ټولنو تحليل او څيړنه وي. او دغه مقالې په تحليلي او تحقيقي روحيه ليکل کيږي.
= دغه مقالې (تحيقي او تحليلي مقالې) له استدلال او څيړنې سره وي، يعنې دا چې د څيړنې طبيعت لري؛ د څيړنې پوهه او روحيه لري. په يوه او کله له يوې ډيرې موضوعاتو باندې تمرکز لري او درسي موضوعات راسيړل چې له ده مخکې نورو ليکوال هغه نه وي تحليل کړي.
= بله ځانګړنه؛ د کره کتنې په روحيه برابره وي، سره او ناسره سره بيل کړي. په يوه علمي تحليلي مقاله کې پيچلي ټکي او اصطلاحات د ليکوال له خوا توضيح کيږي او داډول مقالې په مياشتو کې وليکل شي.
په يوه علمي او تحليلي مقاله کې پيچلي ټکي او اصلاحات د ليکوال له خوا توضيح کيږي او ستونزور اصطلاحات د تحليل له څخه تيريږي. يوه علمي تحقيقي مقاله ممکن په مياشتو او يا اونيو کې وليکل شي او د ورځپاڼو د مقالو پرخلاف په ډيره ژوره توګه ليکل کيږي.
= علمي مقاله ليکونکي بايد په پراخه حوصيله په توضيحي ډول او تحليلي ډول د خپل کار موضوع مخکې له مخکې کوردينه کړي دراټولو شويو

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوماتو او کارتو کو پـه وسـیله د (ایـډیټ) او خپریـدو تر مرحلې مقالـه تعقیـب او بیا نشر کړي.

= ادبي مقالې وچې او مبتذلې لیکنې نه دي، بلکې دادبي پېښـو ادبي دورو، ادبي روایتونو، ادبي ډولونو، ادبي پنځونو... په برخه کې پراخه څېړنې او تحقیق دی، چې دادبي محقق له خوا په علمي ادبي او آن خیالي دول تحلیل او توصیفېږي.

= دادبي تحقیقي او علمـي مقالو تو پیر لـه (ادبي توصیفي) مقالو سره دادی، چې لـومړی یـې د تحقیـق او ریسـرچ برخـه جوړوي او ادبـي توصـیفي مقـالې لـه خیـال او ظرفیتونو سره ملګری وی.

= لنــډه دا چــې دادبــي مقــالې اساســي موخــه (هــدف) پــه ادبــي مقالــه کــې دعو اطفو او احساســاتو بیان او ســپړل دي... دادبــي مقــالې لیکــل دمقالو لــه لورو ډولونو سخت کار دی.

= ادبي توصیفي مقالو کې پوره ځانګړنې هم لري، چې به کتاب کې یې وګورئ.

= ادبي توصـیفي مقالـه کـې ضـرورنه ده، چـې ماخذنیغ راوړل شـي مګر دلیکـوال دمطالعې محصول وي.

= انتقـادي مقالـه پـه نـړۍ کـې ډیـره لرغونتیـالري، دلیکنـې ددغـه ډول پیـل هـم دفرانسې په معاصرو ادبیاتو په تېره بیا په کره کتنه پـورې تـړي، خـو دا خبره دختیـځ په برخه کې داسې نه ده.

= دکـره کتنیزو مقالو ځانګړنـه یـوه داده، کـره کتـونکی غـواړي دلیکـوال زمـاني او ایجادي چال چلند او لـه دغـه چال چلند څخـه رامنځتـه شوی حالت او بهیر بیـان کړي.

= بلـه ځانګړنـه؛ دتیـاکلې اثر یا آثـارو لیکوال او تیـاکلی ادبـي بهیـر پـه اړونـد دکـره کتونکی دذوق او ځیر کۍ ځرګندونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



= دښاغلی ډاکتر خالق رشید په وینا ؛ دانتقادي مقالې جوړښت په خپله په کره کتونکی پورې اړه لري، کره کتونکی داټکی په پام کې ونیسي، چې کله غواړي په یوه موضوع باندې خپله څیړنه پیل کړي.
= تبلیغي مقالې هم دمقالو یوډول دي، په دغو مقالو کې، تبلیغ، وعظ، نصیحت اوپند په ټولنه کې دمنورواوپوهوانسانانوله خوادعامه اذهانودروښانولو اومنورکولو یوه غوره وسیله ده.
= په تیلیغاتي مقالوکې دعاطفې، احساس اوهیجان عناصرډیردی، له دې امله که چېرې لیکوال دخلکواحساسات په ښه ډول روانه پاروي په ټولنه مې به دبدوخلکودسوا ستفادې اخیستنې لارې - چارې برابرې شي اوتبلغاتی اوتبلیغي مقالې توپیراوځانګړنې هم لري، چې توپیریې په کتاب واضح دی.
= قضایی، حقوقي اوجنایی مقالې هم دعمومي مقالوله ډولونواوردیف څخه دی، خودمعناله مخې هرومروتوپیر لري. دغه مقالې هرومروتحقیقي وي، قضائی اوحقوقي هویت لري اوجنائی مقالې سره له دې، چې څېړنیزې وي، خوپه ارقامو ولاړې وي.
= اخلاقي، دیني اوروزنیزې مقالې له اساسه تعلیمي مرام لري اودیوهدف پربنادچاپ ډګرته راوځي. په تعلیمي اوتحصیلي مؤسسو پورې اړوندې یې څېړنیزې وي، خوډېر اصلاحي نهادونه شته، چې هغوی یې د اړتیاوو له مخې چاپ اوخپروي اوهمدارنګه ځانګړنې هم لري.
= طنزیه یافکاهیه مقالې هم دعمومي مقالویوډول دی؛ دطنزیه برخه کې معلومات په کتاب کې خوندي دي.
طنزیه مقالې دشکل له پلوه ډیری لنډې، خوډیرډولونه لري اومعنا له پلوه هم مختلف مضمونونه لري.
= طنزیه مقالې څه مخصوصې مقالې نه دی، خو دغه مقالې دکلموپه واسطه کله تمثیلي، کله انتقادي، سیاسي اونورې محتوااوې بیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷–۶– داووم څپرکي پوښتنې:**

۱- مقاله د کومې ژبې کلمه ده؛ په لغت او اصلاح کې څه ته وایي؟
۲- مقاله؛ دلیکوالۍ کوم ډول دی؟
۳- په پښتو- انګلیسي قاموس کې مقالې ته څه او سرمقالې ته څه ویل شوي؛ توپیریې وکړئ.
۴- په زاهد- پښتو- پښتو سیند کې مقاله څه بلل شوې؟
۵- فرهنګ فارسي عمید، دویم ټوک مقاله څنګه راپېژني؟
۶- مقاله (Thesis) (Essay) یا مونوګراف او رساله څه توپیر لري؟
۷- دوکتور شمسیا د مونوګراف او تریتیس ترمنځ توپیر څنګه کوي؟
۸- د مقالې او رسالې ترمنځ فرق څنګه برجسته کولای شئ؟
۹- دکتور احمد شلبي آرتورکول په حواله د مقالې تعریف څنګه راوړي؟
۱۰- د مقالې او رسالې توپیر عبدالمالک همت په خپل اثر ( )په ( ) مخ کې څه ډول راوړي؟
۱۱- په ... دریاب ډکشنرۍ کې څوک ( ) مقاله څه ډول راپېژني؟
۱۲- د استاد عبدالحق بیتاب په څه شي ( )، په (۴) مخ کې د مقالې په برخه کې څه راوړي دي؟
۱۳- مقاله او مقالې لیکنې په نننۍ دنیا کې څه اغېزې لري؟
۱۴- فیروز اللغات د رسالې تعریف څنګه راوړي؟
۱۵- رسمي او غیر رسمي مقاله څه ته وایي او توپیریې څنګه کولای شی؟
۱۶- یو مونوګراف د شکل له پلوه معرفي کړئ؟
۱۷- اقلیدس ته منسوب کتاب په څو کتابونو کې لیکل شوی و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- (دعبدالحی حبیبی دمقالو مجموعه او دپوهاند دمقالو او همدارنګه دصدیق روهي دمقالو مجموعې په کومو نومونو يادې شوې دي؟
۱۹- ډاکترعزيزالدين اسماعيل دمقالې دلرغونتيا په برخه کې څه ويلی دی؟
۲۰- په عربي ژبه کې دمقالې تاريخ.. په تاريخ پورې اړه لري؟
۲۱- په اروپا کې دمقالې(Essay) کلمه دلومړی ځل لپاره په کوم کال (     ) او فرانسوي مدافع وکيل (     ) په کوم کال استعمال کړه؟
۲۲- په (الادب وفنون دراسة ونقد رساله، په (     ) مخ (     ) کې دمقالې په باب څه ليکل شوی دی؟
۲۳- ډاکترشمسيا دمقالې دلرغونوالي په برخه کې څه نظرلري؟
۲۴- فرانسوی ليکوال (     ) خپل مقاله په رسمي توګه په کوم کال (     ) خپره کړې؟
۲۵- په انګلستان کې چا دمقالو ليکل مروج کړل؟
۲۶- په افغانستان کې اوسنی مقاله ليکنه له کومو کلنو پيليږي؟
۲۷- په ايران کې مقاله ليکلو په برخه کې څومره پوهيږې؟
۲۸- سراج النحار جريده په کوم ځای او دکوم پاچا په وخت کې خپريدله؟
۲۹- زمونږ په هيواد کې په کمپيوټر او انترنت کې مقالې خپريدل په کومو کلونو کې پيل شوې؟
۳۰- الله جل جلاله په قلم څنګه سوګند ياد کړی دی؟
۳۱- سيد جمال الدين افغان او محمد عبده له څه وخت څخه راپه دې خوا مقالې ليکلې؟
۳۲- مقاله دبيان، وړاندې کولو ، هدفونو او موضوع له مخې په کوم ډولونو ويشل کيږي؟
۳۳- مقالې دموضوع او دليکنې دډول له مخې کوم ډولونه لري؟
۳۴- ستاسو په نظر علمي تحقيقي څه ډول مقاله وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۵- د علمي تحقیقي مقالو جوړښتي توکي کوم دي په دقیق ډول یې معرفي کړئ؟
۳۶- لنډیز یا چکیده څه ته وایي؟
۳۷- عنوان او سریزې په برخه کې څو مره پوهېږئ؟
۳۸- د مونوګراف ماخذونه په څه ډول برابرېږي؟
۳۹- د مقاله لیکنې پړاوونه په څو ډوله دي؟
۴۰- د مطبوعاتو مقالو په برخه کې څومره پوهېږئ، خپل دقیق او لنډ معلومات ولیکئ؟
۴۱- ورځپاڼه، جریده او مجله معرفي کړئ؟
۴۲- ډاکتر مسکین علي حجازی سرلیکنه څنګه راپېژني؟
۴۳- د لیکنې او سرلیکنې توپیر وکړئ؟
۴۴- کارل جي ملر او میکس لرنرد سرلیکنې په برخه کې کوم نظرونه وړاندې کړې دي؟
۴۵- امریکائی لیکوال (  ) وایي ، چې زموږ د ورځپاڼو د ورځپانو د سرلیکونو مخونه څو (  ) بنسټیزې برخې لري، هره برخه یې معرفي کړئ؟
۴۶- د لسو انترنیتې ویباڼو د سایټو نونومونه واخلئ، چې مقالې ورکې خپرېږي؟
۴۷- د علمي څېړنیزو او تحلیلي مقالو ځانګړنې په لنډه توګه معرفي کړئ؟
۴۸- د علمي تحقیقي او تحلیلي مقالو د لیکلو لپاره کوم ټکي په نظر کې نیولای شو؟ د ادبي توصیفي مقالو دوه ځانګړنې راوړئ؟
۴۹- داستان، تکل ډرامه، راپورتاژ، ځان پیښنی او طنز هریو راوپېژنئ؟
۵۰- انجمن ترقي پسند منصفین) په کوم کال جوړ شو ؟
۵۱- د غیرت چیغه او د وخت چیغه د چا آثار دي؟
۵۲- د ادبي توصیفي مقالو یو لنډ مثال را واخلئ؟
۵۳- انتقادي مقالې کوم ډول مقالې دي؟
۵۴- د انتقادي مقالو درې لنډې ځانګړنې بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۵**- د انتقادي مقالو لیکوال باید په په کوم شی ښه وپوهیږي چې کره کتنیزي مقالې ولیکي؟

**۵۶**- تبلیغي مقالې څه ډول مقالې دی او کوم اهداف لري؟

**۵۷**- د تبلیغي مقالو ستر هدف څه شی دی؟

**۵۸**- د قضایي مقالو یو دوه ځانګړنې راوړئ؟

**۵۹**- د اخلاقي او دیني مقالو ځانګړنې تشریح کړئ.

**۶۰**- د قناعت د ښېګڼې په برخه کې د سعدی شیرازی د کلام نمونه راوړئ.

**۶۱**- طنزیه مقالې څه ډول مقالې دی؟ آیا په خصویات یې پوهیږی؟

**۶۲**- طنز کوم ځانګړی فورم لری کنه؛ په کوموشکلونو کې بیانیدای شی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۷–۷– داووم څپرکي (فصل) ماخذونه:


۱) Waldrop Gayle. ۱۹۴۸. Editor and writer Rinehart and co. Publishers. New york. Toronto.

۲) احمدي، پوهنمل جاويد. ۱۳۸۹. روش تحقيق کتابخانه يي و اجتماعي. کابل: شهرنو، چهارراهي انصاري. انتشارات رسالت.

۳) ارچيوال، حضرت ګل. ۱۳۸۹. پښتو اتم ټولګی، دويمه ژبه. کابل: د پوهنې وزارت، د تعليمي نصاب د ښوونکو مرکز، د کتابونو د تاليف څپرونه.

۴) اقتصاد پوهنځی. ۱۳۲۲. اقتصادي څېړني. (دربيمه او څلورمه ګڼه) کابل: کابل پوهنتون. درې مياشتنۍ مجله. د کابل پوهنتون نشرات.

۵) انصاري، خواجه عبدالله. ۱۳۸۹. زبان و ادبيات دری (صنف ۸). کابل: وزارت تعليم و تربيه. کميسيون تدقيق، تصحيح. نشرات وزارت معارف.

۶) باجوړی، پوهنمل بريالی. ۱۳۸۷. د ادبياتو په لړ کې. کابل: حسام ادبي ټولنه.

۷) بيرجندي، محمد باقر. ۱۳۸۸. کبريت احمر. ايران: تهران. انتشارات صبح پيروزی، چاپخانه سبحان.

۸) بيتاب، استاد عبدالحق. ۱۳۳۵هـ ثروت مجله (انتشارات مقالات (ژباړه). کابل: وزارت ماليه. انتشارات جريده.

۹) پښتو-انګليسي قاموس. ۱۳۸۸. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي. الازهر خپرونديه ټولنه.

۱۰) پښتو-انګليسي قاموس. ۲۰۰۹. کابل: د افغانستان د ساينس اکاډمي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۱) جعفري. محمود. ۱۳۸۲. راهنمای نویسنده گی. کابل: چهارراهي صدارت. کتابخانه سبا.

۱۲) جعفري، محمود. ۱۳۸۲. راهنمای نویسنده گی. کابل: بنگاه انتشارات میوند. چاپ مطعبه میوند.

۱۳) ځدراڼ، ببرکزی وحیدالله. ۲۰۱۳ م. د افغانستان د انټرنیټي ویبپاڼو لارښود. کابل: کمپیوټري خپرونه.

۱۴) ځدراڼ، سرمحقق عبدالرحیم. ۱۳۶۹. ټوکي ټکالي. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمۍ. د ژبو او ادبیاتو مرکز. آریانا مطبعه.

۱۵) حبیبي عبدالحی. ۱۳۸۲. شل مقالي (یوولسمه برخه) (دویم چاپ). کندهار: د علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۱۶) حجازي، ډاکټر مسکین علي. ۱۳۸۲. سرمقاله لیکنه (امیرجان وحید احمدزی. افغانستان. پکتیا. مصور خپرندویه ټولنه.

۱۷) حمیدي، ډاکټر سید جعفر. ۱۳۸۳. آیین نگارش و ویرایش (۱، ۲). ایران: تهران. ارمغان. بوشهر. مرکز انتشارات علمي.

۱۸) د جزايي اجراتو قانون. ۱۳۸۵. کابل: رسمي ګڼه. (۳۲).

۱۹) رشید، عبدالخالق. ۱۳۸۸ هل. کره کتنه په یوه نوي نظر. هندوستان: نوی دهلي. جید پریس. بلیماران.

۲۰) زاهد، ۱۳۸۵. پښتو - پښتو سیند. کابل: دافغانستان دعلومو اکاډمي. د پښتو څېړنو نړیوال مرکز. دانش خپرندویه ټولنه.

۲۱) زغم، احمدشاه. ۱۳۹۱. تاو د سترګو (ناچاپ اثر).

(c) ketabton.com: The Digital Library




۲۲ ) زغم، احمدشاه. ۱۳۹۱. د پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو د فارغینو لپاره د مونوګراف لیکنې لارښود. (د څلورم ټولګي لپاره). د علامه حبیبي علمي- ادبي کارونه. کابل: کابل پوهنتون. د ژبو او ادبیاتو پوهنځی.

۲۳ ) ستانکزی، نصرالله. ۱۳۸۷. حقوق. د حقوقو پوهنځی. کابل: کابل پوهنتون. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی خپرونه. جیحون مطبعه.

۲۴ ) شبلی، ډاکتر احمد. ۱۹۷۲. کیف تکتب بحثاً اورسالتاً دراسة منهجیه. قاهره (اتم چاپ) مکتبته النهفته المصریة.

۲۵ ) شمسا، ډاکترسیروس. ۱۳۸۳. انواع ادبی. ( لسم چاپ ).. تهران: کتابخانه ملي ایران. انتشارات فردوسي.

۲۶ ) طوسي، ډاکتر بهرام. ۱۳۸۸. هنر نوشتن و مهارت های مقاله نویسی. (دوویشتم چاپ). ایران: مشهد، د تابران خپرونه.

۲۷ ) عمید، حسن. ۱۳۸۱. فرهنگ فارسي عمید ( دوجلدي، جلد دوم ) (چاپ بیست و پنجم ) ایران: تهران. مؤسسه انتشارات امیرکبیر. میدان استقلال.

۲۸ ) عمید، ۱۳۸۱. (فرهنگ عمید ). ۱۳۸۱. (دویم ټوک. ایران: تهران. مؤسسه انتشارات امیرکبیر.

۲۹ ) عمید، حسن د. ۱۳۸۱. فرهنگ فارسی عمید (دوجلدی) جلد دوم. ایران: تهران. موسسه انتشارات امیر کبیر.

۳۰ ) غضنفر، اسدالله. ۱۳۸۹. د نثر لیکلو هنر. نیدرلینډ: افغاني کلتوري ټولنه. مومند خپرندویه ټولنه.

۳۱ ) ګیلانی، احمد سمعي. ۱۳۸۲. نگارش و ویرایش. ایران: تهران: سازمان چاپ وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




۳۲ ) محمدي، عبدالحمید. ۱۳۹۰. افغانستان در مسیر صلح و امنیت. کابل: انتشارات-بین المللي الهدی. مطبعه کاروان.

۳۳ ) مومند ، قلندر. ۱۹۹۴م. دریاب. پېښور: امیر پرنټرز.

۳۴ ) نا آشنا ، ننګیار. ۱۳۸۲ . هو صیب نه صیب ( طنزي ټولګه). پېښور: قصه خوانی. دانش خپرندویه ټولنه.

۳۵ ) ناظم، څېړنیار محمد داود. ۱۳۹۲. د انیس ملي جریده. کابل: دافغانستان د علومو اکاډمي، د بشري علومو معاونیت. د ټولنیزو علومو مرکز. د ژورنالیزم انستیتوت.

۳۶ ) نـانګیر، محمدرضـا. ۱۳۸۲. مهـارت هفـتم (ICDI). ایـران: تهـران، انتشارات اطلاعات و ارتباطات. انتشارات خانیران.

۳۷ ) وزیرآغا. ۱۹۸۱م. طنز اور مزاح. هندوستان. نوی ډهلي. سککړو.

۳۸ ) هاشـمي سـید محي الـدین. ۱۳۹۲. د نثـري ادب ډولونـه. کابـل: د علومـو اکاډمی. وحدت خپرندویه ټولنه.

۳۹ ) هاشمي، سید محی الدین. ۱۳۸۳. د لیکوالی فن. (دویم چاپ). پېښـور: بورډ ، ناصرباغ. میرویس مطبعه.

۴۰ ) همـت، عبـدالمالک. ۱۳۸۵. د مقـالي لیکلو اصـول. کوټـه: یونایټـد پرس. صحاف نشراتي موسسه.

۴۱ ) همیـانی. ۱۳۹۳. اقتصـادي ورځپاڼـه. کابـل-دوبـی. سـه شـنبه. ۱۳۹۳. د سلواغي ۱۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لغتونه او اصطلاحات

۱- انځور، تصوير، عکس، څېره، نړم، رسم، کښيده، نقش، نښان، نمونه، علامه (زاهد پښتو – پښتو سيند، ۴۰ مخ)
په شعر کې انځور؛ (د شاعر او طبيعت ترمنځ خيالي او عاطفي غوټې دی.)
؛لکه: په سورولا سوراته شراب راکوي
لکه شراب راته شراب راکوي
۲- احساس، نرم. پوهيدل، حسول، احساسول، څه خبره زړه ته لويدل.
زاهد، پښتو، پښتو قاموس، ۹ مخ)
يا احساس- مص (ع) (۱) حس کول، پيدا کول، درکول، موندل. (فرهنګ فارسی عميد. ۸۹ مخ)
۳- انتقاد (نقد) کره کتنه، کره کول، سره کول، ګوت نيونه
۴- انتقاد، نرم. کره کتنه. ګوت نيونه، د کوم مطلب يا شعر د عيب ښکاره کول.
۵- اسطوره: اسطوره هغه کلمه ده، چې په فرهنګي ژبو کې په دوه بڼو (قصه) او (تاريخ) ليدل کيږي. د اسطورې په برخه کې دوه ډوله فکر کيږي:
ځيني يې افسانه او دورغ او نوريې حقيقت او تاريخ ګڼي.
کله اسطوره، د لرغونو حلکو هماغه منسوخ مذهبونه دي، چې نن خلک په خوداګاه ډول هغوی ته پاملرنه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- ادب:-( نر.م)عزت، خاطره؛ تميز، تذهيب، علم، پوهه، زده کړه، حيا، پرده؛ ترتيب، پالنه اوجمع يې ادبيات ليکلي آثار، ليکني آثار؛ دليکل شويو او چاپ شويو آثارمجموعه.

۷- الهام: نر.م په زړه کې نوې غيبي انديښنه پيدا کيدل، او په زړه کې اچول دي.

۸- انشأ: مص. (ع) ( ! ) پيلول، رامنځته کول، له ځانه څه ويل. او په اصطلاح کې د ادب له فنونويوفن دی، خصوصي يا رسمي ليکونه فرمانونه وربانديې ليکل کيږي. په پخواکې هغه چاچې دغه کارپه غاړه درلود؛ منشي بلل کېده او هغه به په ادبي علوموکې پوهه درلوده. د اسلام د خلفأو په دوره کې د انشأ يا رسالو ديوان دوزاتخاني معنادرلوده.

۱۰- املاء: مص. (ع) ( ! ) ډکول، يو څه ليکل چې بل يې وليکي او هغه مطلب چې معلم يا خپل خبرې په درست ډول ويل او ليکل دي.

۱۱- ارامي ليک: کانسونانټي ليک دی، چې په (يهودی، سوريا ليست(ماني)، ايراني اوعربي) خطونه دي ، چې عربي خط له ارامي نه په مستقيمه توګه نه دی پيدا شوی (نبطی) خط موجودو.

۱۲- ابداع: ښځ. م.- نوې ايستنه ، نوښت، نوچار، ابتکار.

۱۳- اشتهار: نر.م. اعلان- ډنډوره- خپرونه، شهرتورکونه ، څرګندونه، اوځارونه، مشهورونه.

۱۴- ادبي ټوټه: ادبي ټوټې ته ((ادبي پارچه)) هم وايي. لنډ هنري نثردی، چې ټول اجتماعي پېښې په هنري ټوټوکې رانغاړي. په دې ژانرکې په ځانګړی ډول شاعرانه انګېرنې (خيالات، احساسات) عواطف اودليکوونکي ذهني فکري انځورېکېپه خوږه ژبه او مناسبو ښکلوترکيبونوکې څرګنديږي.

۱۵- اعجاز: نر.م. فوق العاده کارکول، معجزه ښوول ښه والی.

۱۶- ايجاز: لنډول، لنډون، هغه موضوع چې په لنډ اوکره ډول وويل شي.

۱۷- استفسار: نر.م. څرګندونه، غوښتنه ، توضيح غوښتنه، پوښتنه، سوال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- اسلوب: نر.م. میتود ، طریقه، لار، طرز.
۱۹- اقلیدس:
۲۰- انترنیت: نام شبکه ئی است که درآن میلیونها کمپیوتر ازسراسر جهان درآن وصل شده اند.
۲۱- وایبر: یک برنامه جدید وروبه گسترش برای مبایل های هوشمند (سمارت) است. و محصول شرکت وایبر جدید است. درسال ۲۰۱۰ برای اولین بار آیفون بکار رفت.
۲۲- سایت: به مکان درانترنت گفته می شود که یک ویازیادصفحات دربردارد.
۲۳- سکایپ: تماس تلیفونی برقرارمی کند ؛ وتوسط نیکلاس سویدنی وجانوس نرس دنمارکی ایجادشد. انتشارابتدائی اگست ۲۰۰۳م.
۲۴- ایډیت: سمون، تنظیم، جوړول ، اصطلاح کول اوایډیشن (چاپ، طبع، انتشار، قسمت (سریال)
۲۵- استعاره: ښځ.م.ا ) سوالی، په پورنی توګه اخیستل ۲- یوه کلیمه داصلي معناووپرځای دنورومعناوو (کنایه اومجاز) باندي استعمالوي. مستعار ( - نر.م.ا ) هغه څه چې په امانت اخیستل شوي وي ۲- بدل ، غیراصلي، پردی. مستعارمنه.
۲۶- مستعارله: داستعاري له ارکانودی. استعاره (په لغت کې دیوشي امانت غوښتل اوپه اصطلاح کې هغه مجازدی، چې علاقه یې تشبه وي. ) اومستعارله چې په تشبه کې مومشبه به باله.
۲۷- ادبي سفر- (دادبي یونلیک: دګزارش یوډول دی، چې دهغی په کالب کې دهغې لیدني- کتني دهغوسیمواوځایونودحالاتوپه اړه، چې سفر یې ورته کړی دی؟ تشریح کوي اودهغوځایونودخلکودودونو ، مذهبی، عنعنوي. ملي ژبو ، تاریخوودانیو... علمي اوفرهنګي مرکزونه، آب وهوا ، جغرافیائي موقعیت او... په باب معلومات ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸-آهنګ: ا (هـ) آهنج، قصد ، عزم، عزيمت، ارداه، روش (چلند )، دآواز يا غږ په معنا ، لحن، غږ او دآواز وزن يا دآواز موزوني.
۲۹-انجمن ترقي پسند: دا يوادبي انجمن و ، دهندوستان ليکوالو چې (چپي ) نظريات درلودل، پدې ټولنه کې سره راټول شول. او اغيزې يې په پښتو شاعرانو هم وې او دغه ډله دصنوبرحسين کاکاجي په ولسي جرګه کې تنظيم شول.
۳۰- ادبيات: (نـ ر.ج.ا ) ليکلـي آثـار. ليکنـې آثـار، دليکـل شـويو او چاپ شويو آثارمجموعه. ټول ليکل ليکل شوي آثار پـه اولـه معنا ادبيات بلل کېږي، خوپـه وييمـه يامحـدوده معنـا (هنـري ادبيـات) دټولنيزشـعور انعکـاس دی دهنـر دمختلفو ډولونه حکاکي، کجسمه جوړونه، خطاطی، رسامي...
۳۱- اشاري ضميرونه (نغتونومنځري ): هغه دی، چې اشخاصو او څيزونو ته اشاره کوي او دنوم پرځای هم استعماليږي. (لنډ، لـرې او لالـرې ويشـل کيږي. لنډ: دغـه، دغه، دغو
لرې: هغه، هغه، هغو
لالرې: هوغه، هوغه، هوغو

ب- بلاغت: دخبروارزونه:
ديوناني ژبې کلمه ده، دخطيب او وينا په معنا هم راغلی ده. ددې فن موخه پـه ټولنـه کې دلوړې وينا په واسطه داوريدونکو هيجاني کولو او يا هم اقناع کول دي.
عربي مصدر يې (بلاغته ) او په لغت کې دفيح والی، دخبرورساوالي پـه معنـا هـم ده، بلاغت پـه دوو برخو ويشـل کيږي. يـو دمتکلم يا وينا وال بلاغـت دی، چې پـه سمه اورساتوګه اوريدونکی اغيزمنوي.دوييم؛ بلاغـت هغـه کـلام يـا وينـاده چې داوريدونکو دحال غوښتنې او امکان سره مطابقت کـوي. داروانبـادالفت پـه وينـا: (بلاغت دلفظ او معناترمنځه تناسب ته وايي. )
۳۲-ب- بابليان: له آسورنه راپاڅيدلی خلک . مطلب ترپخواني يونيانيان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابل-ا- (ب) هغه ونې چې دايران جنوب اويانورې نرۍ په ګرموسيمو کې شنې کيږي دګرمۍ اووچکالۍ په مقابل کې مقاومت لري.
۳۳- ب- بالزاک: دفرانسې دنولسمې پيړۍ دوروستيو ريالست ليکوال دی، چې (انساني کميدی) يې مشهوراثردی. پرريالېزم يې ډېرليکل کړي اوسوسباليزم دده له ريالېزمه اغيزمن دی له ناپليون بناپارت سره يې اندېوالی وه.
۳۴- بلاغت: دلفظ اومعناترمنځ تناسب ته وايي؛ هغه ځوک بليغ دی چې دغه تناسب وساتي.
۳۵- بديع: په دې علم سره دويناغيرواجب ښکلا اودتحسين ښېې اوقسمونه پېژندل کېږي.
ياپه بل عبارت؛ بديع هغه پوهه ده، چې دکلام دښايست اوپه نوي طرز دويناطريقې وربانې معلومېږي. دغه دوه ډوله دی: معنوي ضايع، لفظي ضايع لغتا دنوی په معنادی.
۳۶- بحث- جدل؛ خبرې؛ اترې؛ له مقابل لوری شره په يوه موضوع خبرې کول.
۳۷- بروشور- اعلان، تخته، هغه تخته چې ورځيني يادواونی يادښتونه وربانديې ليکل کېږي.
۳۸- بند: په قطعه ډول شعرکې وي؛ قطعه مطلع نه لری دموضوع له پوله له هرځايه پيل کېږی. دقطعه ايزشعرله څلورونيمو بيتو وروسته (بند ) شروع کېږی؛ لکه:

داحساس دوزخ کې اوسم
په ارمان ديوجنت کې
مساوات دې نړملاشي
شي انسان دې په عزت کې

بند:

په څوډېرشوې ددنيا پريشانه غمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هرزړه دې سياهي پرې ويسته محکمه
دهجران دلمبوتاوله خلکو وخوت
دريغه دريغه دسهار سره شبنمه (خوشحال خټک)

يا: ترکيب بند ترجع بند اونورد شعرډولونه دي.

۳۹- بديع: نوی، تازه. بديع د (ب) په زوراو د (د) په زير دعربو په لغت کې خالق، پيدا کوونکی، عجيبه، نادر، نوی او د ښتن تعالی يوه صفت ته ويل کيږي

اې دکل جهان منيعه
اې دهرآسمان بديعه

۴۰- بديعي اولفظي صنايع: دادبي فنونو موضوع ده. بديعي صنايع (منعوی اولفظی) باندې وشل کېږي، معنوی لکه (طباق) اودهغه ډولونه، مراعات النظير، لف ونشراو ډولونه، عکس اوتبديل، الهام ياتوريه حسن تعليل، رجوع، جمع، تفرق، تقسيم، تنسيق الصفات، عارفانه تجاهل، مراحعه، ياسوال وځواب، مراعات الطلب، مدعاالمثل، ارسال المثل، کسی يالغز، تلميح، محتمل الضدين، تشخيص اوانطاق، اقتباس، الدم بمايشه المدح، المدح بمايشه الذم، زشت وزيبا حسن مطلع، حسن نقطع، مبالغه، مقابله، الهام تضاد. تدبيح، الهام تناسب براعت الاستهلال، نکرارحسن، جمع اوتفريق التفات.

۴۲- لفظي: هغه دی، چې په شعريانثرکې له لفظ سره کارلري؛ لکه: (تجنيس اوډولونه، قلب، ترصيح، دتجنيس سره ترصيح، سجع ډولونه، المريع، توشح، لاندسنی (تحتانيه، پاسنی (فوقانيه، منقوطه، غيرمنقوطه، لزوم مالايلزم، المشجر، ردالمطلع ذوالقوافي، تظمين اوډولونه، مهما،

۴۳- بغداد: يوپخوانی فرهنګي، علمي اوعرفاني عربي هيوړادونو يومرکزو؛ اوس، اوس دعراق مرکز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۵**-؟ ساندې: پرزوی يا مړی د موريا ښځوله خوا ويرکول، خومرثيه ( ) هم ورته ويل شوی. ستاينې هم ورته وايي. مرثيه يوناني کلمې (غم او ويرکول) ورته وايي، اخيستل شوی ده او ساندې زموږ په فرهنګ کې مروجه ده.

**۴۶**-؟ پرسوناژ: کارکوونکی، دغه کلمه فرانسوي ده، هم مفرد او جمع ده؛ په داستان کې دعادي کارکوونکو په معنادی، چې هرپرسوناږ د داستان په يوه مشخصه برخه کې خپل رول لوبوي.

**۴۷**- باندې (بالايش) (له پ مخکې راځي.)

**۴۸**- پوښتنو منځري (استفهامی ضميرونه): چې ديوې پوښتنې لپاره پکاريږي او د (تخص، زمان، ځای... ) څرنګوالی (کيفيت) او څومره والی (کميت) ښيي او د حالت له مخې اوړي؛ لکه:

څوک (چا)، کوم (کومه)، کله، چېرې، څنګه، څو، څومه، څومنه، (څومره)، ولی؟

؟- تمرکز: فکر او ذهنی فعاليت يوې خاصې نقطې يا انګيزی ته متوجه کول له تمرکز څخه عبارت دی.

؟- تفکر: هغه جريان دی چې هدف، عقايدو، رمزونو، غادونو (ښکاره کيدنو) او تداعی کانو سره اړيکه لری، دا جريان يوی مسلی سره په مخامخ کيدو پيل کيږی او په واقعيت متکی يا يلوباندې پای ته رسيږی. کيدای شی چې دا ډول تفکر، تعقل يا استدلال هموبولو. د دی ډول تفکرتو پيرله محض تفکر سره دا دی چې په تعقل کې د فعاليتونو ترمنځ ذهنی اړيکی ډيری او تداعی ګانی يا يادته راوړنی يوله بل سره پوره اړيکی لری، په بی هدفه تفکرکې د تداعی ګانو يا يادته راوړنو ترمنځ اړيکی تصادفی وی.

**۴۹**- تخيل: خيال، د حقيقت سيوری، د نخيل فکر، محل، مواد او چاپيريال مادي وي، خوخپله حقيقت نه وي. دالفت په وينا (د) ابتکارتومنه ده)، څومره چې دی ليکوال يا شاعر تخيل قوی وي، هومره يې د ابتکارقوه زيياته وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهمدغه قوت په مرسته سړی هغه څه په خپل تصورکې را وستل او مجسمولای شي، چې په سترګو یې نه وي لیدلی، په غوږو یې نه وي اوریدلی او کله چې له تخیل سره عقل ملګری شي نو داسې ادبي آثار ترینه پاتې شي، چې زمانه یې نشي محوه کولای. دشعراوادب دنیا یوه خیالی دنیاده او په خیال ودانه ده.

۵۰- تحقیق: عربي کلمه ده؛- [ع] (ت-ق) دیوکار اصل ته رسیدل، پلټنه، بیالتهون، رښتیا، محقق کول اود (حق) له کلمې اخیستل شوی دی.

۵۱- تخلیق: مص [ع] (ت.ل) ښه بوی، خوشبویه کول، خلقول، نوی رامنځته کول اوپه ادبیاتو کې دیواثرنوی رامنځته کول دی.

۵۲- تحقیقی نصر: هغه نثر چې په شواهدو او مثالونو ولاړوي، خیال پکې نه وي، تحقیقی نثر له علمي کتابونو او مقالو نثرته هم وایي. هغه نثرچې دیوشی رښتیاینه په مقالونو او شواهدو پکې ښوول شوې وي.

۵۳- تراجدی یا تراژیدي:- ا. [ف] له غمه ډکه ننداره، قصیده یا غمناکه نمایش. دهغې جدی پیښې ننداره چې انسان غمجن کړي. فاجعه، بدمرغي.دکمیدي هنر یوډول هم دی.

۵۴- ترکیب:- مص [ع] (ت.ک) یوشی په بل شي کینول، سوزول، سره یوځای کول، سره ګډول، ترکیبول. دوه کلمې سره یوځای کول. دوه خپلواکې کلمې ګډیدل؛ لکه: پوهه + تون= پوهنتون.

۵۵- تمثیل: مص [ت]-(م-ت) ښوونه، ننداره، دننداری ښوول، پیښې او کله تقلید هم دی.

۵۶- تیزس- چې تز-ا. [فر] هم ورته وایي. مبحث رساله، دبحث وړموضوع. دا ثبات لپاره دخبرواترو وړموضوع هغه موضوع، چې یوڅوک یې دثبات لپاره دلایل وړاندې کړې کوي. ددفاع وړموضوع هم ورته وایي.

۵۷- ترسل: - مص[ع] (ت، ر-س) رساله لیکل، نامه یالیک لیکل، نامه نګاری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۸**- تصنیف: د تصانیف جمع ده. تصانیف- [ع] (ت- ن۹ ردیف بندی ډله، ډله کوا، صنفبندي. په ډلو ویشل.

**۵۹**- تألیف:- مص. [ع] (ت أ ل) دوستی کول، الفت ورکول، سره نږدې کول، راټولول او سره نښلول. د هغه کتاب لیکل چې مطلوبه یې له نورو کتابونو اقتباس شوي وي. د تصنیف خلاف.


۶۰- تجلی:- مص. [ع] (ت- ج- ل) روښانه کیدل، دمخه کیدل، ښکاره، روښنایي. په عارفانه اصطلاح کې د کشف هغه نور چې د الله تعالی له خوا د عارف زړه ورباندې روښانه کېږي، خو د سولک له مراحلو وروسته فنافی الله مقام ته رسیږی- لکه د طورپرغره د الله ج د نور لګیدل چې موسی (ع) مدهوش شو. د کتاب پوښ. عبدالرحمن باباوایي:

هغه زړه چې خدای روښان کا جام حم شي
په دا زړه کې ورښکاره تمام عالم شي.

۶۱- ټپه: دلنډۍ سندریز حالت دی. ټپه، ټپ (دریدلو، ساه بندیدلو ته وایي. ټپه دیوې نیمګړې اوبلې پوره مصرې نه جوړه وي. رومبۍ مصراع (یې نیمګړی وي اودویمه یې پوره وي. د ټپې ویلو په وخت کې آواز په ټپه دریږی. (دلومړۍ مصراع) لکه: چېرته لندن چېرته هلمند دی بې ننګي زورشوه پرنګیان هلمند ته ځینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library






۲۲- جنس: یونوم له درې اړخونو ګردانیږي: (جنس (نوړی) ، عدد (ګڼه) ، حالت (اکر).

جنس چې یونوم مذکر دی یا مؤنث. لومړی، دویم او دریيم شخص.

۲۳- جریده: اوونیزه هغه اخبار چې په اونۍ کې یووار د اړوندې ادارې له لوري خپریږي.

= جمله: په پښتوکې (غونډله) هم ورته وایي جمله د تشریحي ژبپوهنی یا ګرامر یوه مهمه برخه ده. هغه ده چې د (مفردو کلمو د یوځای کیدو ، په جملوکې د کلمو ترتیب یو له بله اړیکی، د جملې د جوړولو قاعدې ترخیړنې لاندې نیسي.

= چاربیته: د ملی اوازونو یو مهم ډول دی، چې بند یې له څلورو مریو څخه کم نه وی. په چاربیته کې د موضوع تسلسل او هم قافیه او هم ردیفو کلمو راوړل په دورونو کې حتمي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



= حکمي متعدي افعال: هغه ډله افعال دی، چې هيڅ نه تصريفيږی، يا په بله وينا: په حال زمانه کې لکه دلازمي فصل په څير او په تېره (ماضي) زمانه کې نه گردانيږی؛ مثال په ډول:

اسپ و ششنل= اسپې و ششنل

ماوژړل موږ وژړل

تاوژړل تاسو وژړل

ده وژړل دوی وژړل

دې وژړل دوی وژړل

۲۴- حکايت: نر.م (ح. حکايتونه) کيسه.

نکل، داستان، سرگذشت. د کيسې عينې ډول دی، چې په لنډ ادبي ډول وړاندې کيږي.

۲۵- حديث:- ا. ص. [ع] (خ د) نوی، تازه تازه شی، حداث: احداثأجمع د خبر و په معنی، خبر احاديث او حدثان يې جمع. د حديث علم، هغه علم، اخبار او افعال چې له پيغمبر (ص) څخه نقل شوي وي. حديث حسن. ((ح. ثح، س)) غوره حديث، نبوي. هغه جديث چې د پيغمبر (ص) له خولې پاتې وی. حديث نيکو متواتر، قدسی او...

۲۶- حماسه: د (ح) په زور؛ په لغت کې دزړورتيا او شجاعت ته وايي او دادبي ډولونو تر ټولو مهم او پخوانی ډول دی. حماسه په لومړسی سرکې د انسان په ذهن کې د پهلوانۍ، جگړې او ځمکنيوني امرزموږ په ذهن کې تداعي کېوي، خو په هغه کې د هرملت حماسه د هغه ملت بيانونکې ده، چې د هغه ملت د سرلوړۍ او خپلواکۍ ويارونه پکې نغښتی وي.

حماسه لکه فولکلورغوندې (سينه په سينه) او (خوله) له يوه نسله بل ته ليږدی.

۲۸- حقيقي او مجازي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقيقي: (هغه څه چې رښتني او درست وي) ، حقيقت رينښتيا صحيح او سلامت.
حقيقي- ص- ن- [ع] (خ ق ق ی) حقيقت ته منسوب، اصلي او واقعي رښتيا او درست، د مجاز مقابل.

۶۹- مجازي: (هغه څه چې سيوری د حقيقت وي، درست او علمي نه وي.)
خو د مجاز او حقيقت رابطه شته ؛ مګر مستقسمه نه ده. لکه: مينه چې له مجازه شروع کېږي او حقيقت ته رسيوي او دغه کار په عرفان کې ممکن دی.

۷۰- خسوف:- مص. [ع] (خ س) فرورفتن، برزمين فرورفتن و ناپديد شدن و نيز به معنی ګرفتن ماه، له نظر پټيدل د مياشتی. په هغو شپو کې د مياشتې ليدل چې له نظره پټه شي او دغه حالت کې ځمکه د لمر او مياشتې په منځ کې راځي او لمر سپوږمۍ ته نه رسيږي. په پشتو کې (سپوږمۍ نيونه) يا مهتاب ګرفتګي) وايي.

۷۱- خسوف- [ع] (خ س) له او يوډ که ځاه؛ هغه کوهی چې په جغل اداره او شګلند ځمکه کې شکول کيږي او بيانه و چيږي.

۷۲- خطابه:- ص [ع] (خ ط- ب) ځوک مخاطب شي، څوک چې د ښځو او نرو لپاره په ويناکولو کې مبالغه وکي. او خطابت، خطابه، حطبه ويل نورو ته خبرې کول.

۷۴- داستان:- ا. (س) ((پهـ )) افسانه، سرګذشت، ځايسينه قصه، حکايت کول، قصه ويل، افسانه ويل، نامتو يا مشهوريدل، قصه سرايي. په معاصر ادب کې داستان او داستان ليکنه د (هنري ادبياتو) يو مشهور ډول دی. زموږ د ډيرو ليکوالو په آند داستان د شکل له پلوه ترکيبي لوی، ناول او رومان کوچنی دی.
په پشتو ادب کې داستانونه دوه ډوله دی؛ يو فولکلوريک او بل معاصر يا تحريري ادب کې. معاصر داستان کيسه، پلاټ، کرکتنه، مکالمې، منظر نګاری، د بيان طريقه، پيغام او مقصد او پای لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۵- دور: ددور خبره په دیوانی شعرونو کې مطرح کېږي. دلومړی نیم بیتي له پیله بیا ددویم نیم بیتي تر پایه یو دور جوړوي. دزور په شروع، داو و په حرکت او د (ر) په سکون....

دور- ص (د) ((پهـ )) فاصله، زمان؛ هغه څه چې زموږ لاس کې نشته دور- مص [ع] (د) تریوشی ګرد راګرځیدل، عصر وزمان.

۷۶- دبیري: ددبیر (منشی) له کلمې اخیستل شوی دی. دبیر- ا.ص. (دب) ((پهـ )) نویسنده، منشی، هغه څوک، چې په دبیرستان کې شاګردانو ته درس ورکړي. دبیرفلک، دبیرآسمان هم ورته ویل شوی. دعطارد له ستوری کنایه ده. دبیري، لیکوالي، منشی ګری. دمنشی یا دبیر کار، کسب او عمل.

۷۷- دولتي او شخصي ژورنالیزم: ژورنالیست- ا.[فر ] ، ورځپانه لیکوونکی، روزنامه نګار. اوژورنالیزم؛ هغه مسلک چې له ورځپاڼو، اوونیزو لیکنو، تصویری او غیر تصویري رسنیو سره کارلري. دولتي ژورنالیزم ددولت په چوکاټ کې او شخصي ژورنالیزم دافرادو او اشخاصو ترلاربښوونې لاندې دروزنامه نګارۍ او... مسلک تعقیبوي.

۷۸- دستارنامه: دپښتو ژبې دنامتو ادیب او شاعر خوشحال خان خټک اثر دی. خوشحال خټک خپل دغه اثر په (۱۰۷۲ هـ ق) کال تألیف کړی دی، چې لومړی ځل په (۱۹۵۲م) کال دمحمد عبدالشکور په زیار خپره شوه او دویم ځل په (۱۳۴۵ ه، ش) کال دپښتو ټولنې له خوا چاپ او خپره شوې ده. دخوشحال خان په دې اثر کې شل هنرونه او شل حصلتونه بیاند کړی دی. او دیو مشرځانګړنې یې پکې ښوولې ده، په دې اثر کې د (ښوونې او روزنې یوه عظیمه فلسفه وړاندې شوی ده، او دمشرۍ انځوریې کاږلی دی. نوموړی وایي:

چې دستار تړي هزار دي
ددستار سړي په شمار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۹- ذوق: دارو ابناد الفت په وینا (ذوق د ادب په اصطلاح کې هغه قوه ده، چې دلطف او ښکلا ادراک کوي او دهنر خاوندان ورته ډاراړدي..
دفن او صنعت خاوندان ددغه قوت په مرسته په خپلو هنري آثاروکې ښایست او ښکلیتوب پیدا کوي او ډیر ښه هنر هماغه دی، چې له سلیم ذوق څخه پکې کار اخیستل شوی وي.
۸۰- ذهن: دغه فکري زیرمې ته ( ذکا هم وایي. دانسان هغه استعداد دی، چې دعلومو او معانیو ادراک کوي.
دیو لیکوال دغه برخه هم باید نیمگړې نه وي او په دغه وسیله یې له علومو او معارف څخه برخه مو ندلې وي.
دغه راز معنوی قوتونه او استعدادونه که په یوه لیکوال موجودوي او ښه کارترینه واخلي، دهغه لیک او انشاژپه انساني افکرو او احساساتو ډیر اثر کوي او دیوه ملت په زړه او دماغ حاکمیت پیدا کوي.
۸۱- رؤس: په شعر کې منځپانگه؛ هغه څه چې د شعرمحتوا جوړوي. رؤس هغه طرز تفکر ته وایي، چې د شعر اډیا ته قوت وربښي آن دفکر ډول ته هم ویل شوي.
۸۲- رپوټ: نر.م.و.ک. راپور. په ژورنالیزم او ادبیاتو ځانگړی ځای لري. ادبي رپوټ، ژورنالیستیکی رپوټ. په دولتي او امنیتي برخو کې هم دغه کلمه کارول کېږي.
۸۳- رومان: دلاتیني ژبې له ریښې څخه مشتق شوی او فرانسوي کلمه ده. خیالی کیسه ؛ دمینې او محبت کړ کیچن داستان دی؛ په اصطلاح کې دمنشور کیسه ییز (داستاني ) ادب یو ځانگړی ژانر (ډول ) دی.
اکسفورددانگلیسي فرهنگ کې ورته ( نثري کیسه چې نسبتا اوږده وي یارومان هغه اوږده کیسه ده، چې خیال پکې له واقعیت سره گډون موندلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۴- ريتوريکا: دغه کلمه په لرغوني يونان اوروم کې د خطابې د اصولو په معنا ده، خو چې کله غربو ترجمه کړه (ريطوريقا ) يې وبلله، چې معنايې خطابه او د خطابې او ښو خبرو کولو اصول دی، کوم، چې نور وته وړاندې کېږي.
۸۵- زليخا او درليخا قصه: د زليخا او يوسف کيسه د قرآنکريم له ښو برجسته کيسو څخه ده. زليخا د مصر د عزيز پوتيفار ميرمن وه، چې له کلنو وروسته په خپل يوه عبراني غلام حضرت يوسف مينه شوه او د امينه د جنون ترپولې ورو سيده او په پای کې دامينه جاويداني شوه، بعنې زليخا د محازي مينې له لارېحقيقي مينې او آن حقيقت ته ورسيده.
۸۶- ژانر: ا. [فر] ، ګون ، ګونه (ډول )، سبک. اسلوب، جوله (شکل). او د نقاشۍ (انځورګری) په اصطلاح کې، هغه انځورچې نه شخصي تمثال وي، نه لرليد (دورنما )، بلکې موضوع يې دورځينې (روزمره ) ژوند عادي مطالب اوصحنې وي.
۸۷- ژبه: ا. (ژ ب) : د غوښې يوه متحرکه ټوټه، چې د انسان او حيوان په ژبه کې وي او په هغه باندې د شيانو مزه څکې. دخوړو په ژولو او تېرولو کې مرسته کوي او انسان د هغه په وسيله خبرې کولای شي. دلهجې او خبرو د طرز په معنا هم ده.
ژبپوهان وايي: ژبه اجتماعي ښکارنده (پديده ) ده، چې اکتسابی لوری (جنبه( لري يا ژبه په واقعيت کې يوه ټولنيزه اکتسابي او ثقافتي پديده ده، نه عضوي، فطري او طبيعي.
۸۸- سبک: - مص- [ع] (س ب) د اوسپنې ويلې کول او په کالب کې اچول دي. ويلې شوې اوسپنه په کالب کې توېول. په ښه ډول کلمې سره يوځای کول. په ادبي اصطلاح کې ( هغه ځانګړې لاره، چې شاعريا ليکوال يې د خپلو مطالبو او افکارو د اظهار ولو لپاره غوره کوي. سبک کې د يوه اثر محتوا او شکل دواړه راتلای شي. سبک لارهم ده. ديوفون په وينا: (سبک سړی دی. ) په ادبي برخه کې درې سبکونه لکه (خراساني، عذاقي او هندي ) د يادونې وړدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۹- سيمينار: ؛ ، موضوع وړاندې کول هغه ډله فعاليت، چې د يوې ياډېرو موضوعاتو د توضيح لپاره رامنځته کېږي.

۹۱- ښکلا: ښځ.م. (ج. ښکلاوې) ښايست، حسن، ډول ، جمال.

۹۲- شيره: ص. نر.م.ج.ا ، نابالغه، هلک عصاره، جرس؛ د ميوې اوبه. په ژورناليزم کې دخبري موادو مهمه برخه.

۹۳- شکل: جوله، ظاهر خوا. يوادبي اثرله دوو برخو جوړېږي؛ (ظاهری (شکلی) اومعنايي.)

۹۴- صرف؛ عربي کبمه ده. ګردان ته وايي. دګرامر ګړپوهې، (موفولوژي برخې پورې اړوند يېږي. صرف (ګردان) دنوم عدد او حالت.

صراحت: په انشأ کې دبحث وړدی. صراحت دادی، چې په انشأ کې د (تأليف اوترکيب) ضعف نه وي او الفاظ له معقودي معناګانوسره تناسب ولري.

دصراحت اووضاحت فرق دادی، چې هرمرجع واضيح وي، مګرهرواضح صريح نه وي.

وضاحت: په ليک اووينا کې دابهام نشتوالی ته وايي.

۹۵- طنز:- مص- [ع] [ط – ن] افسوس کردن، ريشخندوهل، ملنډې وهل، نازکول، پيغور، ګوتڅنډونه، نازوکرشمه.

طنز؛ اوس اوس دادب يوډول دی، خومعين شکل نه دی؛ طنز منظوم اومنثور دي. ديوفکر اوپيغام انتقالونکي وي.

۹۶- عنوان:- ا. [ع] (ع ياع ن) دکتاب معرفی نامه دکتاب ياليکنې سرليک هغه څه چې دپاکټ ياليک په شاکې ليکل کېږي نشاني، آدرس. پيل؛ هغه هيډلين چې دکتاب هويت ټاکي.

۹۸- علم، جمع علوم؛ علم دشيانو ، انسانانو اوطبيعت په برخه کې پوهې ته وايې علوم په دوو برخو ويشل کېږي: (طبيعي او اجتماعي علوم.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۹- عربي:- ص. ن. [ع] (ع ر ب ی) منسوب به عرب، ازقوم عرب، تازی، زبان تازي. هغه تازي ژبه چې اوس ټول عربي هیوادونه وربانديې خبرې کوي؛ دقرآن (الهي کلام) ژبه ده، ټول مسلمانان يې دقرآن اوپیغمبر (ص) دببې په توګه درناوي کوي. ټول مسلمانان له قاعدې بغدادي نه دژبې دتعليمي زده کړې لپاره پیل کوي.

۱۰۰- عبري خط:- ص- ن [ع] (ع- ر-ئ) عبراني، یهودی، لغت یهود عبري خط له عبراني اویهودی خز څخه عبارت و.

۱۰۱- عدد: جمع اعداد ؛ دحساب پیل اودوام څخه عبارت ده؛ لکه: ۱۰، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶...؛ په عربي کې له راسته خوا پیل کېږي او ترلایتناهي پورې رسیږي.
په ګرامرکي یونوم له دري اړخونو (جنس (مذکر- مؤنث) عدد (مفرد، جمع) او حالت له مخې ګردانيږي.

۱۰۲- عبارت: (      ) نر.م (ج. عبارتونه) بیانونه، شرح کونګ، دالفاظوترکیب، وګ. پراګراف. انشأ.

۱۰۳- عرفاني سندره: عرفان (پیژندنه)، عارف. پوه هوښيار؛ عارفانه سندره هغه سندره او سندرې چې دالله پیژندنې په برخه کې وي. لکه په پښتو ژبه کې دبیټ نیکه (۳۵۰ هـ ق) عرفاني سندره:

لويه خدايه لويه خدايه      ستاپه مينه، په هرځايه
غرولاړدی درناوی کې      ټوله ژوي په زاری کې
دلته دغرولمني      زموږ کېږدې دي پکې پلني
داوګړي ډيرکړی خدايه
لويه خدايه، لويه خدايه....

۱۰۴- عارفانه تفکر: چې دهرڅه په برخه کې دشناخت داصل په حکم فکرکوي؛ په هرڅه کې (کيفيتونه) ته متوجه ګېدل، هرڅه ته په حيرت اوفکر کې کېدل او له هغه نه شناخت حاصلول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۵- عاطفه: ښځ.م. (ج. عاطفي)، دعاطف مؤنث؛ مهربانه ، مهرباني، زړه سوی، دخپلوۍ او قرابت مهر.
۱۰۶- غږپوهه يا فنولوژي دګرامر هغه برخه ده، چې يوازې ارزښتناک غږونه (فونيمونه) ترڅېړنې لاندې نيسي....
دژبپوهنې دغه برخه يوه نوې او تازه موضوع ده، چې دشلمې پېړۍ په پيل کې په دغه برخه کې نوې علمي څېړنې او مطالعات وشول.
۱۰۷- غونډله پوهه: جمله پوهنه. دګرامر درېيمه او عمده برخه ده.
۱۰۸- فيسبوک: (ف-ی)، مخ صفه، په انټرنيټ کې يو اجتماعی صفحه يا مخ دی، چې مختلف خلک بيلابيل نظريات سره شريکوی، البته دشير (شريکول، درد دل، او چټ- ګپ شپ) له لارې. ددغې صفحې پيدا کوونکی مارک زيکربرک په (۱۹۸۴- په (۱۴) مې رامنځته کړه.
۱۰۹- فيساغورث: مشهور رياضی دان او دلرغونی يونان فيلسوف وا و په (۵۳۰ق، م) يې ژوند کاوه او تراوسه ژوند کوي دقايمه حاده، منفرجه زاويو په برخه کې يې نظريات شته
۱۱۰- فن: نر.م. (ج. فنون) صنعت، دتکنيکو، وړتياوا و قاعدو مجموعه؛ هنر؛ آرټ؛ طريقه، چلند، ډول نوع.
۱۱۱- فنون: جمع دفن؛ هغه کمال چې دتمرين له لارې ترسره کېږي. فن او فنون دمهارتونو اووړتياوو له لارې پيدا کېږي.
۱۱۲- فعل: : دوينا ديو عمده جزيه توګه په يوه زمانه کې دکار په کولو او يا ديوې پېښې پرېښېدو دلالت کوي. يا په بله وينا فعل هغه کلمې ته وايي، چې په يوه زمانه کې ديوه کار او پېښې کېده ښيي؛ لکه: احمد خط ليکي. احمد به کورته لاړ شي.
۱۱۳- فولکلور: : فولکلوريا فولکلورانګليسي کلمه ده، چې دلومړی ځل لپاره په ۱۸۴۲ م کال په يوانګريزي متن کې وکارول. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱۴- قیدونه: قید ، جمع یې قیدونه.
قید هغه ژبنی عنصر او یا قیدونه هغه ژبني عناصر دي، چې د یوه فعل د پېښېدنې څرنګوالی ښيي. دا څرنګوالی د فعل د پېښېدلو ځای یا مهال ټاکي. ټینګار او داسې نورې ځانګړتیاوې ښکاره کوي. په پښتو کې قیدونه په دوه ډوله دي: (اصلي یا ګردانیدونکي، غیر اصلي یا نه ګردانیدونکي).
۱۱۵- قابوسنامه: دغه اثر ممکن په (۴۷۵هـ ق) کې امیر عنصر المعاني کیکاوس د خپل زوی ګیلان شاه د روزنې لپاره ولیکه؛ په دغه اثر کې آداب ، عنعنې، دلښکرکشی او مملکت داری وسایل او نور فنون تشریح شوي او له مغولو څخه د مخه ایران پېژندنې فرهنګ په برخه کې اصطلاحات پکې راغلي دي.
۱۱۶- قافیه: دوپشته، چټ، شاه، پس ګردن؛ د یو شي یا بیت آخري توری ته قافیه وایي. عربي کلمه ده، په لغت کې وروسته ته وایي، په اصطلاح کې هغه علم دی، چې د دورونو له وروستیو هم آهنګیو څخه بحث کوی. لکه:

لرم او س هغه سترګې چې جهان پرې وګورم
د ځمکې زورتل او کهـــــــکشان پرې وګورم
انسان یم، دانسان په غم خپه په خوښۍ خوښ یم
نظر همدومره بس دی چې انسان پرې وګورم
تر هغه مې دې سترګې غړېدلې وي په ژوند
چې یو وار عالی دور د افغان پرې وګورم

(جهان، شان، انسان او افغان ) د قافیې کلمې دي.
۱۱۸- کمپیوټر: په (۱۹) پیړۍ کې چارلس بابیج د بریتانیا د کامبرج پوهنتون استاد یو ماشین ډیزاین کړ او کیدای شی هغه ته اولین کمپیوټر وایو difference- engine په نوم یادیده.
خو الکترونیکی کمپیوټر: په ۱۹۴۲- امریکا ویپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱۹- کلاسیک: ص. [فر] پخوانیو خلکو له قواعدو سره سم مسجد او مدرسې درس. هغه لومړنی ادبي سبک، چې په اروپاکې پیدا شو او د یونان او روم د ادبیاتو په پېښتو (تقلید یې پیل کړ، چې همدغو ته یې کلاسیک ادبیات ویل. د لیکلو دلیکنې یا اثر سبک چې د نورو نسلونو لپاره سرلاری وي.

۱۲۰- کلمه: ښځ.م. (ج، کلیمې) کلمه. خبره، معنالرونکی لفظ، ویې مورفیم، د دو یا زیو ګړونو مجموعه. کلمه طیبه.

کلیمه؛ یوروانې واخد دیؤ چې مستقله معنالري. یوه کلمه کېدای شي دوه مورفیمونه وي کلمه په (ساده او ترکیبې) ویشل کېږي؛ لکه:

پوهه- پوهنتون.

۱۲۱- کلتوري بقأ: کلتور د یوناني ژبې له ځمکه، شاړه ځمکه، د ځمکې جوړول، کرل، او ثارنې) ته وایې د یو هیواد ټوله مادي او معنوي شتمنۍ ساتنه په کلتوری بقأ (پایښت) کې راځي.

۱۲۲- کسوف: - مص. [ع] (ک) خسوف او کسوف د جغرافیې اصطلاحات دي. کسوف د لمر نیول (آفتاب ګرفتګي). د لمر د تیکلی تیاره کېدل، هغه وخت چې سیاشت د ځمکې او لمر ترمنځ راشي او نه پرېږدي، چې د لمر وړاند ګې ځمکې ته ورسیږي، که ټول لمر ونیول شی کلی کسوف او که یوه برخه یې ونیول شي (لړیاجزی کسوف) ورته ویل کېږی.

۱۲۳- کالم: - ا.ص. (ل) کالمه، بیوه (کنډه)، هغه ښځه چېمیره یې مړوي هغه ښځه چې له مېړه یې طلاق اخیستلی وي.

کالم ته په پښتو ژبه کې بړیچی (ستون) وایې. او او س د لیکنې یو ډول دی.

۱۲۴- کالم؛ هغه دی چې یوه موضوع باندې په هنري ژبه خبرې کوي.

۱۲۵- کنایه: (   ).م. (ج. کنایې) کنایت، د بیان د علم یوه برخه یا خو: که متکلم یوه معنا په داسې لفظونو کې ذکر کړي، چې د مطلوبې معنالپاره یې وضعي معنا د دلیل حیثیت ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۶- کمپوز: په موسيقۍ کې د غږ لپاره آهنګ او طرز جوړول او په کمپيوټر کې د متن ليکلو او آن جوړولو ته وايي.
۱۲۷- ګزارش:- ا. مص. (ګ. و. ز) ليدنه (نګا) ليکنه کول، پرېوه موضوع رپوټ جوړول. اوس اوس د ژورناليزم يو اصل دی. ګزارش په دوه ډوله دی: (په احتماعي پيښو او ادبي پيښو ګزارش. ګزارشګر هغه څوک چې پرېوه موضوع رپوټ برابروي.
۱۲۸- ګړپوهه، ياګړپوهنه: ياصرف ياګردان د ګرامر هغه برخه ده، چې په هغه کې د يوې ژبې ټاکلي مورفيمونه، د هغوی جوړښت، ترکيب، ګردان او د هغوی ډولونه ترڅېړنې لاندې نيول کېږي.
۱۲۹- ګړمورفيم، ياګړونه، د مورفولوژۍ اساي برخه ده. مورفيم ياګړ هغه کړچنی ژبنی مانيزو احد دی، که تجزيه شي، خپله معنا له لاسه ورکوي او د تجزې قابليت له لاسه ورکوي. يا دا چې (مورفيم) يو نه تجزيه کېدونکی معنالرونکی واحد دی.)
۱۳۰- ګرافيم: ؛ (آواز) ليکل شوې بڼې ته وايي، يا په بله وينا هغه د ليدو وړ رسم دی، چې د يوه آواز ښکارندويي کوي.
۱۳۱- لمن؛ درل، م ن) - دامن، لمنهؤ لمنې - د کميس يوه برخه لمن راچاپيرول، احاطه، تصرف. لمن نيول، سوال کول. لمن نغاړل ځان راټولول. قناعت کول.
۱۳۲- لفظي ښکلا: شکلی خوارانغاړي- لفظي صنايع. يا بله وينا چې په الفاظو کې ښکلا موجوده وي. په خبرو کې دويو نوپياوړتيا.
۱۳۳- لنډه کيسه: حکايه، حکايت؛ هغه کيسه چې د شکل له پلوه لنډه وي. کيسه په لنډه، منځنۍ او اوږده ويشل کېږي. لنډه کيسه هغه ده، چې د ژوند يوه موضوع رانغاړي.
۱۳۴- لطافت: ل- ط. کمزوری. ښايسته، نرم، نرموالی هغه کلام، چې د لفظ له پلوه نرم او پوستوالی ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۵**- لنډۍ: د پښتو ژبې یو ډول شعر دی. لنډۍ شعر توجه داسې ده، چې لنډۍ یو ډول ماردی، تیز زهر لری او لنډۍ پښتو خوندور شعر هم دی. د مار د زهر و تیزوالی او د شعر خوږوالی او لطافت څخه یې معنا را پورته کېږي. دوا ړه اغیزمن دی. خولنډۍ شعر هغه دی چې غیر موزون او غیر مقفی وي.
لنډۍ:

زه دی په ګوته مین نه یم = د سور چارګل رنړا دی روغ لېونی کړمه
ماته پنځه ګوتې د سرو کړه = په دوا ړو لاسه به دې پښې چاپې کومه
ګورتې، بنګړي د دنیا دود دی = زه د نیستیه یاره نه غواړم دودونه
په سینه یو لالی ځائیږی = زه لونګین او لالی دواړه ځایومه
بیګاه مې خوب لید و عالمه = دآشنا بریت مې د نتکۍ تاو شوي وینه
خلک چارګل خونړی بولي = مادنتکۍ په ډنډ ډیروژلی دینه
والئ دغوږ امیل دغاړې = پیزوان د پوزې راته کړي اشارتونه

لید: ، لومړی، اوله برخه، سترګی دخبرو اوله برخه. په کابل پوهنتون کې دلومړی ځل لپاره دهغه پوهنتون درئیس له خوا یو تحقیقی مرکز نن پرانستل شو.
مسجع نثر: سجعه لرونکی، متکلف او غیر منثور نثر. د نثر هغه ډول ، چې غږته وايي. کوکوکو = کوکوکو. دخیر البیان نثر.
**۱۳۶**- مفهوم: - (م.ف) فهم. جاج. د کلمې په معنا پورې اړوند مطالب یا مفهوم د جملي ټولنیز مفهوم را نغاړي.
**۱۳۷**- مثنوي: د شعر یو مهم ډول دی. هغه ډول چې هر مصراع بیت یې په خپل منځ کې سره هم قافیه وي. د شعر په دغه فورم کې لوی لوی موضوعګانی په تېره کسې راځي.
**۱۳۸**- متن: - ا - [ع] (م) شاه، لوړه برخه، د یو شی دننه، د ځمکې لوړه برخه د کتاب د صفحې دننه، د حاشي مقابل لوری، متان او متن یې جمع ده. یا په بله وینا د یوې موضوع څېړل د متن اصلي موضوع جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۹- معرفت: - مص. [ع] معرفة (م.م.ف) دیوشي پیژندل، علم اوپوهه معرفة الاحشاء باطن پیژندنه، معرفة العروق، رګ پېژندنه، معرفة العضلات. مایچه پېژندنه. معرفة المفاصل. بندپېژندنه، معرفا النفس، اروا پوهنه، پسیکولوژي. معرفة الادب، ادب پېژندنه او په تصوف کې معرفت د کشف او شهود له لارې د ځان پېژندنه معرفت بهدې حاصل شي که دې ځانته شولې زیر.
۱۴۰- مقید مورفیمونه: تړلی اوبانډ ( ) هم ورته وایي. په پښتو ژبه کې موفیمونه په دوه ډوله دی: (یوتړلی، بل آزاد ). او تړلی (ساختماني نښې لکه: ( سربلونه اوستربلونه، دربط نښې، دعطف نښې، دغږونونښې) تاړی (وندونه) (صرفي مختاړي، کلمه جوړونکی، صرفی وروستاړی.
۱۴۱- مقاله:- مص. [ع] ((مقاله)) (م.ل) خبرې کول ((خبرې، وینا)) قول؛ دکتاب یوه برخه یا فصل. یومطلب چې تریومعین عنوان لاندې لیکل کېږي. جمع یې مقالې عربي کلمه ده. یا په بله وینا یوه تحقیقي مقاله څوبرخې لري؛ لکه: عنوان، مقدمه متن څېړنه، پایله او ماخذونه. مقالې ډېر ډولونه لري.
۱۴۲- محاسن: (م-ح-س) نیکي، نیکویي، ښېګڼې. په شعر او هنري نثر کې دهغه ملګري محاکات (ښکلاوې) لکه: آهنګ، وزن انځورونه، ترکیبونه، تخیل او...
۱۴۳- متل:- [م-ت-ل) په تول برابر، په په تله یا میزان برابره وینا، متل، جمع یې متلونه. دپښتو شفاهي ادب یوه مهمه برخه ده. دولسي ادب خورادرنه خزانه ده، چې ولسي تفکر په ډېرښه ډول ورکې انعکاس کوي. متل دولسي پوهې له نه وچیدونکی سرچینې منبع الهام اخلی او تل بهانده حالت لري. وایي چې: (بې وطنه واوسه، خوبې متله نه) متل پوهه ده. (مېړه مړه، خومېړانه یې نه. توره سره ښه ده، خونه دورور وینو.)
۱۴۴- مقوله: (م-ق) قول، عهد، لنډه وینا، غوره خبره اووینا. هغه قول چې وفپکې وي. خومقوله درستې ښې اولنډې خبرې ته هم وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴۵- مشبه، مشبه به: مشبه؛ دیوه شي شباهت له بل شي سره. یا یو شی بل شی ته ورته کیدل ؛ لکه: مخ دې لکه ګل صنم = زلفې دی بلبل صنم
مشبه به، چې بل شی ورته شوی وی
۱۴۶- ماهیت: تومنه، منځپانګه؛ هغه پانګه چې ایډیادیوا اثرو راندې کوي.
۱۴۷- مصراع: مسره هم ورته وایي. دوه سره هم وزنه نیم بیتی یوه مصراع جوړوي.
عربي کلمه ده، په شعروشاعري کې کارول کیږي.
۱۴۸- مضمون: ( ) دتدریس موضوع. په شاعرۍ کې دفکرشتون ته وایي.
مضمون دتیزس په موضوع پورې اړوند یږي.
= مقدمه: (م) [ق] مقدم، مخکې، وړاندې، مخکې شوي، مقدم ګڼل دیوشی پیل ،
سریزه دادبي مقالې پیل. مقدمه له دمعرفت، پېژندنې، ماهیت اوهدفونه) څخه
عبارت ده؛ یادمتن لنډیز ته هم وایي.
۱۴۹- متروکې خبرې: مړې خبرې؛ هغه وینا یا ویناوې چې اوس اوس داستعمال
وړنه وي. لکه: دلرغوني دورې لغات ایواد ، لتاړ، بریمن او....
۱۵۰- موضوع: ببره (فرضیه) دتحقیقي لپاره دفریضې لیکنې بنه اونوم ته وایي.
دخبرو اترو ټاکنې ته وایي.
۱۵۱- محاوره: خبرې- اترې. هغه ډیالوګ چې مخامخ وي. دیوې آنې موضوع دحل
لپاره دخبرو تبادله.
۱۵۲- مافي الضمیر: اندروني قوت، داخلي توانمندی. په ادبي اثرکې دلیکنې
لپاره ارادي توان؛هغه توان چې په بڼه ډول وي.
۱۵۳- مرادف: هغه الفاظ چې همردیفه وی او په یو لړکې راشي.
۱۵۴- مصدر : - [ع] (م) جمع یې مصادر. مصدر دخاصدرید لو منبع، ځای اساس،
بیخ، صدور، استخراج، راوتل؛ لکه: تلل چې بیاځم، ځې او ځو تري مصادرکیږي.
۱۵۵- معترضه جمله: هغه جمله چې اصله نه وي. په اصلي متن کې دویم لنډه جمله
راوړل یاول. په لیکنه کې هم امکان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



= محتوا: (محتوی) –۱. فا [ع] (مُ تَ وِ) درونمایه، هغه شی چې بل بل شی رانغاړي. هغه څه چې د یو شي په دننه متن کې موجود وي.
= متعدي: ا. فا. [ع] (مُ تَ دِ) تعدی، تعدی کول، له حده وتل، بیداد کوونکی، چې له اصلي حالته دویم ته ځي. هغه ډله افعال چې د مفعول لپاره صرفیږي په پښتو کې فعلونه په دري ډوله دی: (لازمي، متعدی) لکه: زه په ما، ته په تا، دی په ده او دا په دې بدلیږي.
= نهج بلاغه: هغه اثردی، چې د اسلام په څلورم خلیفه حضرت علی کرم الله وجه پورې اړه لري. ډیر اخلاقي مثایل بیانوي.
= نکل: داستان، کیسه. هغه کیسه چې لنډه وي او فولکلوریکه وي نکل او نکلونه په پښتو ادب کې خوراډیردی. نکل دولسي ادب ستره بره ده.
= نوښت: ابتکار هغه څه چې نویوالی ولري. د یوې پوهې له مخې په یوه موضوع داسې څه رامنځته کول، چې نوې پوهه وړاندې کړي، نوی معلومات.
= نظم: مص. [ع] (نَ) پییل، ترتیبول، آراستن، د مرغلرو پییل، امیلول. هغه کلام چې موزون او مقفی وي او د نثر خلاف وي. نظم له شعر سره توپیر لري.
= نثر: مص. [ع] (نَ ث) خورول، تیتول او پاشل. د نظم ضد هغه کلام، چې موزون او مقفی نه وي. نثر ډیر ډولونه لري.
= نسخ لیک: وایي چې د غه لیک ابن مقله (۸۸۸-۹۴۰م) رامنځته کړی، داسې هم ویل کېده چې ایرانیانو رامنځته کړی دی نسخ خط له راسته خوا لیکل کېږي او له نورو لیکونو ښه دی. د دې لپاره د غه خط ډیر رشد کړی و، چې: ابن مقله په بغداد کې وزیر وو او په دې لیک پوهیده او دویم دا چې په ساده ډول لوستل کېږي. نسخ خط د ټولو خطونو تاکوونکی دی.
= ناول: (      ) نر. م. یوه اوږده لیکل شوی کیسه. هغه کیسه چې د فورم له پلوه له کیسې، داستان څخه لوی او له رومانه کوچنی وي. خود موضوع له لوري عشقي، حماسي، ټولنیز... مضمونونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



= نستعليق: دغه خط فارسي ژبورامنځته کړ. دغه خط د (۱۴م او ۸هـ) پېړۍ په پای کې رامنځته شو. ټول تذکره ليکونکي پدې باوردي چې دغه خط ميرعلی خوش نويس رامنځته کړی دی او چاپه (۱۵م) کې سلطان علی مشهدي ښوولی دی. لکه:
نسخ تعليق گرخفی وجلی است
واضح الاصل خواجه ميرعلی است...

= نومونه: نوم مفرد او جمع يې نومونه. د مورفولوژيوه برخه ده. نوم؛ ديوشي اوشيانو څرګندونه کوي. نومونه، صفتونه، قيدونه او... دخپلواکو مورفيمونه له ډلې دی.

=نسکوهيرم:

= نګه هنر: دغه مفکوره (۱۹) پېړۍ په نيمائي کې راپيدا شوه. داسې چې (هنردهنر) لپاره وي. يعني هنراوادب يوازې دهنرلپاره کارول کېږي، نه دژوندپه خاطر.

= ويې پوهنه: علم الغلة، چې په ژبپوهنه پورې اړوندېږي. دهرعلم لغتونه جلااوبيل وي.

= وضاحت: وضوح، عربی کلمه ده. دښې انشأيوښه صفت وضاحت دی ښکاره، ښکاره والی. په ليک اووينا کې بايدهيڅ ډول ابهام نه وي اوداکارهله کېږي چې دکلمودلالت په خپله معنی باندواضح اوروښانه وي په جمله کې بايداداتو ډيررانشي؛ دجملوسبک جلي وي.

= وزن: دشعريومهم رکن دی. نر.م جاج، تول، اندازه، شيره، دعروضو په علم دشعربحر.

= وياړنه: ښځ. م. دوياړشعر، پرتم، شان وشوکت په ادب کې وياړنه فخريه هم بلل کېږي. لکه په پښتو ادب کې داميرکروړوياړونه. په ځان، پلار، نيکه، کورنۍ اونوروويارکول زه يم زمری پردي نړۍ له ماتل نشته...

= هيجان: دانسان په احساسي طبيعت پورې اړه لري، هغه حس دی، چې انسان دناخودآگاه پيښې په مقابل کې حساس ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



= هنري نثر: هغه نثردی، چې هنري مخاکات، (صنايع) اونورتلازمات پکې ډيرکاريدلي وي. هنري نثرمسلکي نثردی، چې (کيسه، داستان، ناول، رومان ادبي ټوټه، تکل اونورډولونه رانغاړي. )
= هنري ترکيب: هغه دی چې په هنري ډول دکلموترکيب اويوځايوالی ښيي. هنري ترکيب دښکلوالفاظ مجموعه ده. دطبيعت لطافت په الفاظوکې راوړل دی؛ لکه: دزلفوتال...
= هنر: دټولنيزشعورمجموعه ده. هنرته فن هم وايي. هنردانسان د فکرتر ټولو لوړ عالي تفکرته وايي. آرت، فن اودتعقل ښايسته ډول ته وايي.
= فکر: دعيني جهان ذهني تصويرته فکروايي. ياما دی شی ياشيان چې دانسان په مغزوکې ځای نيسی اوپه معنوی صورت اوړی فکربلل کيږي.
= تعقل: (عقل) دحسی اومنطقي پوهې دمجموعې لوړې مرحلی ته عقل وايي.
= حسی پوهه: داحساس تصوراوادراک مجموعې مرحلې ته حسی پوهه وايي.
= منطقي پوهه: دمفهوم اوحکم منطقی نتيجه ګيری مجموعی مرحلې ته منطقې ياانتزاعی پوهه وايي.
= حکم: دفکرهغه حالت دی چې پرهغه کې يوشی تصديق کيږي.
= شعور: دتکامل يافته ژوندموجوداتوهغه استعداد دی چې خارجی نړۍ په معنوي تصورکې نقش کوی اوهڅه کوی چې دبشردخارجی چاپيريال قوانين وپيژني اودمقصدسره سم خپل عملی فعاليتونه مرتب کړی.
شعور: دواقعيت دانعکاس عالی ترين شکل اودا وږده اجتماعی تکامل حصول دی. ياپه بل عبارت، دخارجي واقعيت دزده کړی اوپيژندګلوی له پاره دانسان دمعنوی انعکاس خاص شکل دي.
= اجتماعی شعور: دنظريو، انديښنواوتيوريوداسې مجموعه ده چې دهغې په واسطه دطبيعت اودټولنې دمادی ژونداوپه عمومي ډول سره داجتماعی مناسباتوسيستم انعکاس مومی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (عبدالجبار نعیمي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# معاصره ليکوالي

پوهنوال احمد شاه زغم

۱۳۹۴ لمریز کال

د افغانستان ملي تحريک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ٦٣

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library